د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبان ها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

په دې ګڼه کې:

- د کیسه ییزو ادبیاتو روانپوهنیزه څېړنه
- په پښتو ولسي نکلونو کې د ساینسفیکشن څېړنه
- د ګل محمد مالګیري د دیوان شننه او انتقادي څېړنه
- د پشه یي ژبې د الفباء بهیر ته لنډه تحلیلي کتنه
- د باراني په شعر کې هنري رنګونه
- پښتو ژبې او ادب ته د جرس مجلې بخښنې

او نور...




- دري میاشتنۍ
- درېیمه دوره
- کال: ۱۴۰۳ لمریز
- د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
- کابل - افغانستان

۱

ژبني، ادبي او فولکلوري دري میاشتنۍ څېړنیزه مجله
کابل
۱۴۰۳ لمریز کال، ۱ ګڼه


# Kabul

## Quartely Journal


Establishment: 1931
Research and Scientific Publication of
Afghanistan Science Academy



Address:
Afghanistan Science Academy
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shahr-e-Now, Kabul, Afghanistan.
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

معاونیت بخش علوم بشری

مرکز زبانها و ادبیات

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

ژبنۍ، ادبي او فولکلوري درې میاشتنۍ څېړنیزه مجله

د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز

د ۱۴۰۳ ل کال لومړۍ ګڼه

## یادونه

✓ مقاله دې له یوې رسمې پتې څخه چې په هغې کې د لیکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټیلیفون شمېره او برېښنالیک پته وي، د علومو اکاډمي ادارې ته را ولېږل شي.

✓ رالېږل شوې مقاله باید پوهنیزه ـ څېړنیزه، بکره او له منل شوو علمي معیارونو سره برابره وي.

✓ رالېږل شوې مقاله، باید په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرلیک، باید لنډ او له منځپانگې سره سمون ولري.

✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډیز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کړای شي. همدغه راز، لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقاله باید د سریزې، اهمیت، مبرمیت، موخې، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې روش، پایلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل یې ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونه وي، د فونټ سایز ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله باید (Single) وي او ادارې ته دې سافت او هارد کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمي د نشراتي لایحې له مخې د یوې مقالې د تائید او رد واک لري.

✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسئولیت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له مأخذه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته لیکوال ته نه ورکول کېږي.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**خپرندوی:** د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسئول مدیر:** څېړندوی خالد تکل

**مهتمم:** نوماند څېړندوی محمد اتل انګار

**کتنپلاوی:**

څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي

څېړنپوه دوکتور عبدالظاهر شکیب

څېړنوال دوکتور رفیع الله نیازی

څېړنپوه محمد اصف احمدزی

**چاپ ځای:** ستاره همت مطبعه. کابل ـ افغانستان

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، توره باس خان واټ،

کابل، شهر نو، د شاه بوبو جان کوڅه

**د اړیکو شمېرې:**

۰۷۸۵۳۳٤۷۷٦ -۰۷۴۵۲۸۸۱۵۸ - ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹

**د مجلې برېښنالیک:** magazinekabul@gmail.com او info@asa.gov.af

**کلنۍ ګډون بيې:**

په کابل کې: ۹٦۰ افغانۍ

په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| گڼه | سرلیک | لیکوال | مخگڼه |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | د کیسه ییزو ادبیاتو روانپوهنیزه څېړنه | څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي | ۱ |
| ۲ | د محمد ایاز ملنگیار تصوف او ملکوتي زمزمې | پوهنمل عبیدالله اغبز | ۲۳ |
| ۳ | د پشه‌يي ژبې د الفباء بهیر ته لنډه تحلیلي کتنه | څېړندوی فریدالله فرحان | ۴۷ |
| ۴ | په پښتو ولسي نکلونو کې د ساینس‌فیشکن څېړنه | څېړندوی احسان الحق کبیر | ٦۵ |
| ۵ | د باراني په شعر کې هنري رنگونه | څېړنوال دوکتور محمد داود عربزی | ۸۵ |
| ٦ | پښتو ژبې او ادب ته د جرس مجلې بخښنې | څېړنوال رحیم الله حریفال | ۱۰۰ |
| ۷ | د اووم ټولگي په پښتو مضمون کې ښوونیزو ادبیاتو ته کتنه | څېړندوی خالد تکل | ۱۱۳ |
| ۸ | د گل محمد مالگیري دیوان شننه او انتقادي څېړنه | څېړندوی محمد اسحاق مومند | ۱۲۹ |
| ۹ | د پوهنتون چاپېریال کې د ادبي او فرهنگي فعالیتونو ... | پوهنمل گل رحمن رحماني | ۱۴۸ |
| ۱۰ | حمید بابا؛ د فردي اصلاح او اخلاقي درسونو لارښود | څېړندوی فضل الرحمن علیزی | ۱٦۳ |
| ۱۱ | د ماشومانو د فولکلوري ادبیاتو د پنځېدلو موخې | څېړندوی مطیع الله ساحل | ۱۷٦ |

څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي

# د کیسه ییزو ادبیاتو رواناپوهنیزه څېړنه

# Psychological research of fictional literature

Prof. Phd. Sayed Nazim sayedy

## Abstract

Any word that has artistic value is considered literature, but if it does not have artistic value, it is not literature, and this adverb distinguishes literature from other sciences.

Psychology is the scientific study of mental processes, conduct, ways and behavior by which we can know ourselves and others, so that sometimes the consciousness and subconsciousness of other people share with us that our information about them It becomes more accurate, but its general recognition takes time.

It was said that literature is an artistic value and psychology is the understanding of human behavior and ways and methods, which in fictional literature is the focus of human issues and human behavior, and a study of it from the point of view of psychology reveals all aspects of the story, but if it is studied from the point of view of literature , it is obvious that its investigation and in-depth study is considerable, but if I study it in an abstract form, it is possible that all its dimensions will not

be revealed, therefore, in the contemporary era, most of the literature is not studied in an abstract way, and it is studied in a psycho-cognitive way. It is considered certain.

## لنډیز

هره وینا چې هنري ارزښت ولري ادبيات دي، خو که هنري ارزښت يې نه لاره، نو ادبيات ورته ويلای نه شو، چې همدغه قيد ادب له نورو علومو څخه جلا کوي.

روانپوهنه د انسان د سلوک، چال چلند او ذهني عمليو علمي مطالعې ته وايي چې په وسيله يې هم ځان پېژندلای شې او هم بل، داسې چې کله ناکله د بل انسان شعور او تحت الشعور هم درته په مخ کې ږدي چې د هغې په اړه دې پېژندنه لږه ژوره کېږي، خو په ټوله معنا پېژندل يې وخت ته اړتيا لري.

موږ وويل چې ادبيات هنري ارزښت دی او روانپوهنه د انسان د سلوک او چلند پېژندنه ده، چې په داستاني ادبياتو کې بيا ټوله کيسه پر انسان او انساني سلوک څرخي، چې له رواني ليده مطالعه کول يې د کيسې څرګند او ناڅرګند اړخونه په اسانۍ سره رابرسېره کولای شي، خو که يوازې يې د ادبياتو له ليده مطالعه کوو، نو شونې ده چې د کيسې سم درک او سپړنه ونه شي، اوس ادبيات په يوازې او تجريدي ډول ډېر نه مطالعه کېږي، نو ځکه يې رواني څېړنه اړينه ده.

## سريزه

ډېر خلک دا پوښتنه کوي چې داستاني ادبيات موږ ته څه راکوي؟ ولې بايد داستاني ادبيات ولولو او ولې پرې خپل وخت ضايع کاندو؟

رښتيا هم دا مهمې پوښتنې دي او بايد ځواب شي، خو ادبپوهان وايي ژوند يوازې مادي ارزښتونه نه دي او نه هم انسان ماشين يا ريبوټ دی چې تر کومه کار ورکوي، ګټنه دې ترې وشي او چې کله استهلاک شو، نو د زړو په زېرمتون کې يې ور واچاوه او يا يې هم هډونه وشيپلوه او خطا يې کړه.

که چېرې موږ ژوند ته له همدغه ليده ګورو، نو بيا رښتيا هم موږ وروسته پاتې او لا د ژوند په حقيقي معنا پوه نه يوو او که ژوند ځينې مهم او معنوي ارزښتونه لري، نو د هغې پالل او غځول بيا هم خرما ده او هم ثواب.

په ادبیاتو کې تر هر څه وړاندې مهم بحث لومړی د انسان د غریزې اشباع کول دي یا یې د خوند حس پارول او ډکول دي. انسان باید له ژونده خوند واخلي، وګرځي، چکر ووهي او لطافتونه درک کړي، بیا همدغو لطافتونو ته د هنر ژبه ورکاندي، که هغه د شعر اډانه وي او یا هم د نثر، خو داسې یې واوډي چې لومړی ترې خپله خوند واخلي؛ ځکه که چېرې لیکوال له خپلو الفاظو او مطلب څخه خوند وانخلي، نو لوستونکی خو یې ترې په هېڅ صورت نه شي اخیستلای، خو که خپله یې خوند واخیست، نو د بل غریزه هم اشباع کوي.

د داستاني ادبیاتو دویمه دنده د ټولنې ناخوالې په ادبي او لطیف انداز کې بیانول دي، داسې چې نور ادبي ځېلونه یې یا بیانولای نه شي او یا هم پر ټولنې او چارواکو لکه څنګه چې باید اغېز وښندي، نه ښندي او ګټه یې هم ډېره د پام وړ نه وي، نو په داسې حالاتو کې داستاني ادبیات دا هر څه په داسې جرئت سره بیانوي چې هم ستونزه ځیرل کېږي او هم یې د خلاصون لارې چارې پلټل کېږي، لکه استاد شپون چې په خپلو داستاني ادبیاتو کې پر ځینو مهمو څېرو داسې په جرئت نیوکې کوي او د شخصیت انځور یې داسې وړاندې کوي چې په بل ژانر کې بیانول یې پرته له شکه د لیکوال پر مړینه تمامېده، خو شپون دا هنر او کمال درلود چې په دې ژبه یې بیان کاندي او ستر لامل یې هم د ټولنې د رواني حالاتو پېژندل او په سمه توګه درکول وو، معنا دا چې شپون نه یوازې ادب لیکوال و، بلکې روان لیکوال هم و او د خپلې ټولنې رواني حالات او وګړنیز چاپېرچل یې تر نورو ښه درک کړی و.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې ارزښت او اهمیت په دې کې دی چې د داستاني ادبیاتو رواني څېړنې په کې په تطبیقي توګه مطرح کېږي او په دې برخه کې د نورو څېړنو لپاره ور پرانیزي؛ معنا دا چې موږ د روانپوهنې د منځپانګې ځینې برخې په ادبیاتو کې پلټلې، خو دلته د روانپوهنې د نوي تجربې او پوهې په توګه په ادبیاتو کې او هغه هم په داستاني ادبیاتو کې را برسېره او تطبیقېږي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه د داستاني ادبیاتو د بېلابېلو روانپوهیزو اړخونو څېړل او په داستاني ادب کې یې په ارزښت پوهېدل دي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنې کې تر ډېره لاندې پوښتنې مطرح شوې دي:

- ✍ ادبيات څه ته وايي؟
- ✍ ارواپوهنه سمه ده او که رواںپوهنه؟
- ✍ ادبيات او رواںپوهنه څه اړيکې لري؟
- ✍ په داستاني ادبياتو کې هم رواںپوهنه شته؟

او داسې نورې کوچنۍ پوښتنې هم په کې ځواب شوې دي.

## د څېړنې میتود

د دې څېړنې میتود کمپوزيت يا تشريحي، توضيحي او د اړتيا له مخې انتقادي دی.

## د مقالې متن

### د داستان رواںپوهنه

اروا‌پوهنه د انسان د سلوک، چال چلند او ذهني عمليو علمي مطالعه ده، معنا دا چې هم ځان دربانديې پېژني او هم بل؛ خو داسې چې له خوښې او ناخوښې يې واخله، تر ذوق او فرهنګي ټکرونو پورې ټول يې درته په مخ کېږي او همدا مسايل انسان د ځينو موضوعاتو په اړه په خپل ذهن کې قضاوتونو ته اړ باسي، چې ښايي ډېر ځله سم هم وي، خو سل په سله زباتونه يې د تأمل وړ ده.

نن سبا د نړۍ ادبپوهان د ادبياتو پر هغو نوو او مهمو موضوعاتو کار کوي چې تر دې دمه يا يې ورته پام نه وو او يا يې هم چنداني ارزښت نه ورکاوه، خو ډېر کارېدنګ او په ورځنيو چارو کې نبغ په نبغه تړښت يې د دې لامل شو چې ادبپوهان او څېړونکي يې د ارزښت تومنه په ادبياتو کې هم زېرمه کړي او بې له شکه، پايله يې هم خوږه را ووته. په دې معنا اوسمهال ادبيات يوازې د ادبياتو له ليده نه، بلکې د ټولنپوهنې، ارواح يا رواںپوهنې، سياست او آن وګړپوهنې له ليده مطالعه او څېړل کېږي چې ډېر ځله يې ځينې څېړونکي د پرمخيون لامل همدا چار بولي.

د دې لپاره چې زموږ ادبيات هم په دغه پارسنګ معلوم شي، نو په دغه مقاله کې يې پر ارزښت او اړيکو خبرې کوو او دا جوتوو چې که داستاني ادبيات د رواںپوهنې

له لیده مطالعه شي، نو د داستان په سپړنه کې ښه اغېزه ښندلای شي، خو وړاندې تر هغې د ادب او روانپوهنې پېژندنه او لنډه غونډې مخینه یې اړینه بولم.

د ادب چې جمع یې ادبیات دي په ګڼو پېژندنو کې یې یو پېژند دا هم دی چې: "ادب یو ژبنی هنر دی چې واقعیتونه په انځورونو کې وړاندې کوي. د انځور (تصویر یا ایماژ) څخه مقصد دا دی چې ادب واقعیت کټ مټ او په مستقیمه توګه نه بیانوي، بلکې د ادبي اثر د لیکونکي له خوا په ښکلي او احساس پاروونکي شکل وړاندې کېږي. یا په بله ژبه، نوښتګر (شاعر یا کیسه لیکونکی) له واقعیت څخه خپله انطباع او برداشت په عاطفي بڼه انځوروي. د همدې مفکورې په اساس ویل کېږي چې بیا جوړونه (باز آفریني) د ادب په عام ډول د هنر یوه مهمه ځانګړنه ده." (۱)

کاندید اکاډمیسین روهي په دغه پېژند کې د ادب څو اړخونه بیان کړي، یو هنري اړخ چې واقعیتونه پرې بیانېږي، دویم د لیکوال ښکلی او پارونکی احساس او دریم هم په واقعیت کې د عاطفې او احساس شتون، معنا دا واقعیت لکه څنګه چې دی هغسې نه بیانېږي، بلکې د لیکوال له پیغام او تخنونې سره سم وړاندې کېږي، چې ډېر ځله نامنونکې خبرې هم منونکې کېږي او پر لوستونکي نغوړل کېږي او که ووایو چې کله ناکله د ډېرو فزیکي بریاوو او سوبو لامل هم همدغه احساسات او عواطف دي، نو ډېره مبالغه به نه وي.

ځینې ادبپوهان بیا په دې نظر دي: هره وینا/ متن چې هنري ارزښت ولري ادب دی. دلته خبره نوره هم ساده شوې، خو په ورته وخت کې تخصصي هم ده، ځکه اقتصادي، ټولنیز، رواني او وګړپوهنیز متون د هنر تومنه نه لري، ځکه هغه د هنر نه، بلکې د ځانګه والۍ موخې لپاره لیکل شوي او شونې ده چې هنر یې د واقعیت مراندې څه نا څه سستې هم کاندي، نو ځکه یې په ساده خو دقیقو الفاظو جلا کوي.

که د ادب پر همدغه لنډ غونډې پېژند بسنده شو، نو بل بحث د روانپوهنې یا ارواپوهنې دی چې ځانګه وال یې داسې را پېژني: "د ارواپوهنې یا Psychology کلمه په مستقیمه توګه له یوې یوناني اصطلاح څخه اخیستل شوې ده، دغه اصطلاح له دوو کلمو څخه چې انګلیسي بڼه یې Psyche او Logos ده، جوړه شوې ده چې د (روح مطالعې) یا په انګلیسي کې (Study of Soul) معنا ورکوي... ارواپوهنه د انسان د سلوک، رفتار، چال چلند او ذهني عملیو علمي او تحلیلي

مطالعه ده. ارواپوهنه د ځان پېژندنې، بل پېژندنې او له ټولنې او چاپېریال سره د جوړ جاړي یوه داسې مهمه کیلي ده، چې له موږ سره د خپلو فعالیتونو په سمون، د ناخوښو او ناسمو غبرګونونو په بدلون او د یوه سالم او متوازن شخصیت په وده کې مرسته کوي." (۲)

اروا‌پوهنه د انسان د سلوک، چال چلند او ذهني عملیو علمي مطالعه ده، معنا دا چې هم ځان درباندې پېژني او هم بل؛ خو داسې چې له خوښې او ناخوښې یې واخله تر ذوق او فرهنګي ټکرونو پورې ټول یې درته په مخ کېږي او همدا مسایل انسان د ځینو موضوعاتو په اړه په خپل ذهن کې قضاوتونو ته اړ باسي، چې ښایي ډېر ځله سم هم وي، خو سل په سله زباتونه یې د تأمل وړ ده.

که چېرې د اروا‌پوهنې همدغه سپیناوی ونغوړو، نو بیا یې د نومونې په اړه ځینې مسایل لږ دقت غواړي او دا خبره به بیا ډېره منطقي نه وي چې اروا‌پوهنه د انسان د روح مطالعې یا له روح سره تړښت ته وایي، ځکه لومړی خو انساني ټولنه په دې حد کې نه ده چې د یو چا د روح په اړه څېړنه او سپړنه وکړي او دویم د روح واک او ځواک له موږ سره نه دی، نو ځکه موږ د انسان روح نه، بلکې روان یا چال او چلند مطالعه کوو او بیا یې د شخصیتي برید پولې ټاکو.

همدې موضوع ته مصطفی صفا هم ځیر شوی او وایي: "دا چې د اوسنۍ اروا‌پوهنې د مطالعې ساحه «روح» نه، بلکې «ذهن» یا په انګلیسي (Mind) دی، نو په دې اساس د غلطې مشهورېدنې پر اساس په انګلیسي کې د یوناني د Psyche کلمه تقریباً د (Mind) معادل نیول کېږي. هېره دې نه وي چې دغه لغوي تېروتنه وروسته له انګلیسي څخه په عربي، پارسي او پښتو ژبو کې هم را تکرار شوې او مشهوره شوې ده. په دې بنسټ اروا‌پوهنه د روح څېړنه نه ده، د ذهن او کړو وړو څېړنه ده. الله (جل جلاله) هم په خپل عظیم الشان کلام کې فرمایلي، چې د روح پر بشپړ ماهیت له الله (ج) څخه پرته بل څوک نه پوهېږي." (۳)

د نړۍ پر ګڼو ژبو سربېره دا ناسم پوهاوی په پښتو ژبه کې هم عام شوی دی چې اروا‌پوهنه د روح څېړنې ته وایي په داسې حال کې چې د الله پاک د وینا له مخې د روح بشپړ ماهیت د هغه ذات په واک کې دی او زموږ په څېر کمزوري موجودات یې درک او

روښانه کولای نه شي، نو ځکه لومړی خو باید دا ناسم پوهاوی سم شي چې دا روان پوهنه ده نه ارواپوهنه، خو دا چې غلط مشهور و، نو تر اوسه پورې همداسې راغلی.

اوس موضوع ته په کتلو سره د روانپوهنې او ادبیاتو پر اړیکې غږېږو چې دغه اړیکه کله رامنځته شوه یا ادبیاتو په تجریدي ډول له مطالعې څخه کله خلاصی وموند او ولې نن سبا ادبیات د روانپوهنې او ټولنپوهنې له لیده مطالعه کېږي او بیا په داستاني ادبیاتو کې ولې دغې برخې ته زیاته پاملرنه کېږي یا کېدونکې ده؟

د دې پوښتنې تفصیلي ځواب ښایي زموږ د لیکنې له حوصلې څخه وتلی وي، خو په لنډون سره ویلای شو چې د روانپوهنې او ادبیاتو او په ټوله کې د روانپوهنې او نورو علومو اړیکې له ډېر پخوا څخه پیل شوې دي. د عبدالغفور لېوال په وینا که روانپوهنه له تاریخي لیده مطالعه کېږي، نو نوې پوهنه ده، خو که په دغې پوهنې پورې اړوند بحثونه وکتل شي، نو ریښه یې په فلسفه، ادبیات او طب کې مونده کېږي او دا ځکه چې په زاړه یونان کې د انسانانو د چلند او شخصیتي ودې په اړه ځینې مهم موضوعات موجود وو. آن تر یونان وړاندې پېرونو کې هم د روانپوهنې او ادبیاتو اړیکې یا د انسان دروني حالات موندلای شو، لکه د نړۍ تر ټولو زړې حماسې ګېل ګمېش کې هم وینو چې د انسان د وجود دروني پټ احساس را برسېره کېږي او غواړي چې د دایمي ژوند خواږه پیدا او ویې خوري.

تر ګېل ګمېش وروسته د یونان په سترو ډرامو کې وینو چې د ادیپ پاچا او زوی ترمنځ یې د ناسمو عقُدو پرده پورته کېږي او رواني موضوعات یې ټول په ډاګه کېږي او همداسې په نورو ډرامو کې هم د انسان رواني حالات در واخله، خو د ځینو پوهانو په اند بې له شکه د ادبیاتو او روانپوهنې دغه اړیکه تر دې هم پخوانۍ ده، خو د نوې پوهنې په توګه نه، بلکې د دودیزې منځپانګې په توګه، خو نوې روانپوهنه بیا خپلې ځانګړنې او تاریخچه لري، چې پوهان یې د خپلواکې پوهنې په توګه ریښه په جرمني ویلهم وونټ پورې تړي او وایي چې نوموړي د روانپوهنې لومړنی ازمېښتځای په ۱۸۷۹ م کال د لایپزیک په پوهنتون کې رامنځته کړ. تر ده وروسته جي. استنلي او ویلیام جیمز په امریکا کې د اروپوهنې نوي مباحث پیل کړل او د جیمز روانپوهنې آرونو په نامه یو کتاب یې په ۱۸۹۰ م کال کې خپور کړ چې دغه ډول بحثونو ته یې لار پرانیسته، خو په روانپوهنه کې زموږ موخن بحث اتریشـي

روانپوه زیگموند فروید او کارل گوستاویونگ په جدي توگه مطرح کړل چې د نننۍ روانپوهنې تومنه هم همدوی گڼل کېدلای شي. فروید له خپلو علمي نظریاتو سره پر معاصرو ادبیاتو ژور اغېز درلود، ده د خود اگاه او ناخوداگاه یا شعور او تحت الشعور پر څرنگوالي کار وکړ، له بلې خوا یې د انسان د شخصیت پر تکامل د جنسي غریزو اغېز وڅېړه. دغه نامتو روانپوه د خپلو تیزسونو د بیان لپاره اروپا او امریکا ته سفرونه وکړل او په خپلو بیانونو کې یې خپل نظریات او رواني مسایل ټول بیان کړل چې دغه چار یې د نړۍ نور پوهان هم دې موضوع ته ځیر کړل. (۴)

که د نړۍ له تاریخچې یې د پښتو ادب تاریخچې ته راشو، نو دلته هم د ادبیاتو او رواني مسایلو څېړل ډېره پخوانۍ مخینه لري، آن د ادبیاتو په لومړۍ دوره او لومړۍ موندل شوې ویاړنه کې هم دا تومنه موندلای شو، خو دا چې څرگندې نښې یې د خوشحال او رحمن بابا په شعرونو کې موندل کېږي، نو په نننۍ تله یې په پښتو ادب کې پیلامه خوشحال بابا او رحمن ته منسوبو، خو خوشحال خټک ځکه د ځانگړې پاملرنې وړ دی چې د ده کلام له داخلي کشمکشونو څخه مالامال دی او په یو وخت کې یې روان په څو ډوله موندلای شو.

خو که په نثري برخه کې د ادبیاتو او روانپوهنې مخینه وپلټو، نو بیا یې هم سر په فولکلوري نکلونو کې موندل کېږي چې پر گڼو فولکلوري نکلونو سربېره د محمدگل نوري ملي هینداري درې واړه ټوکونو ځینې یا کابو ټول نکلونه یې غوره بېلگې دي، چې انسان ته په کې خارق العاده قوت، ځواک او جوړښت ورکول شوی دی او دا هغه څه دي چې تر ننه پورې یې انسان غواړي، په دې معنا اوسنی انسان هم د یو داسې ځواک غوښتونکی دی چې په وسیله یې کوچنی ښامار یا هم تور، سور او شین ښامار ووژني. له لسگونو پهلوانانو او جنگیالیو سره په یوازې ځان وجنگېږي، خارق العاده کارونه وکړي، هوښیار مرغه، آس، سپی او یا هم یو بل ژوی ولري، ونې یې له داسې کمال لرونکو مېوو ډکې وي، چې هم خلکو ته شفا ورکړي او هم اولاد، د آب حیات څاڅکي وموندلای شي، د مرگ مخنیوی وکړي، طلسمونه پیدا او مات کړای شي او حکمت لرونکو بوټو او ونو ته لاس رسی ولري او یا یې به بڼ کې موجود وي، چې دا ټول مسایل د انسان له روان سره نېغ په نېغه اړیکې لري، خو څوک یې وایي او چا هم په زړه کې د بل له ملنډو څخه د ساتنې په پار

کابو دفن کړي دي، خو هېرېدل یې ناشوني بوله، نو ځکه وایو چې په نثر کې یې هم مخیېنه سوونو کلونو ته رسېږي.

که د مخیېنې بحث ته یې لږه نوره ځیرنه هم وکړو، نو ویلای شو چې ادبیات او روانپوهنه په اکثریتو مواردو کې یو د بل لازم او ملزوم دي یا په ساده وینا یو د بل بشپړونکي دي، دا ځکه چې روانپوهنه د انسان د شعور دریځې پرانیزي او د شخصیت هغه اړخونه یې را برسېره کوي چې کله ناکله یې د ځینو ټولنیزو ناخوالو له امله پټ ساتلي وي، لکه پورته چې ورته نغوته وشوه؛ خو په داستاني ادبیاتو کې د اذهانو پټې دریځې او شخصیت د داستان پر منځپانګې نبغ په نېغه اغېزه پرېباسي، په دې معنا د داستان د داخلي جوړښت ټول توکي د ادبیاتو له جنسه دي او د داستان شخصیتونه له خپل رواني تحلیل سره هم په داستان کې سپړل کېږي چې لیکوال په ځانګړي درایت او ادراک سره هغې ته احساس، عواطف او خیال ورکوي او داسې یې انځوروي چې ته وا زه یې پر خپلو سترګو وینم، کرکټرونه زما په مخ کې کښته پورته کېږي او د خپل شخصیت او ظرفیت ننداره راته وړاندې کوي، نو همدا لامل دی چې ادبځېړونکي د کیسه ییزو ادبیاتو او روانپوهنې مرکزي ټکی یا د اتصال کړۍ شخصیت جوړونه ګڼي او په وینا یې دغه شخصیت جوړونه د ادبیاتو او روانپوهنې مزي مضبوطوي، یعنې شخصیت جوړونه په حقیقت کې شخصیت پېژندنې، شخصیت معلومونې او روانپوهنې ته وایي، ځکه د روانپوهنې علم پر شخص یا انسان پورې څرخي، کړنې او ویناوې یې ځیري او بیا یې په ذهني بټۍ کې پخوي، چې په ادبیاتو کې یې رابرسېرونه هم شونې ده او هم په زړه پورې. (۵)

همدا لامل دی چې متجرب کیسه لیکوال داستاني کرکټرونه یا شخصیتونه په الفاظو نه، بلکې پر کړنو را پېژني او سم له واره یې را معلوموي چې دا شخص څه کاره دی او په ټولنه کې یې ارزښت څه دی، لکه د ایمل پسرلي په مفسد ناول کې چې لولو: "لا مې د پښو پلې نه وې کش شوې چې لالا حفیظ مخ لوڅ کړ، لکه برق چې نیولی یم، دستي سره ټول شوم، کښناستم. ده وویل:

- مه کوه سړیه، سم غځېدلی وې، پرېوځه.

د ده مخته غځېدا نه کېده. د ده لکه چې له وسه نه کېدل. ککرۍ یې لوڅه وه، ور پاتې څو تاره یې تک سپین و، سر یې وګراوه، راته ویې ویل:

- خبره کوم ځای ته ورسېده؟

د خبرې ذکر يې نه و کړی، خو دواړه پوهېدو چې د سناتور دلور کيسه روانه ده. ورته ومې ويل:

هغه ستا خبره شوه، معين دوی دسيسه جوړه وه چې سناتور صاحب ته به د لور د ورکېدو مشکل جوړوي، ولسمشر به يې وزارت ته نه نوموي او که يې دا غلطي وکړه، نو پارلمان به رايه نه ورکوي.

- خو سړی يې ونوماوه.

- هو نوماند شو، د وزارت سرپرست دی، خو دې خلکو په فېسبوک کې د ده د لور کيسه گرمه کړه بيا يې مطبوعاتو ته يووړه، نو وايي نن په ارگ کې ولسمشر ور غوښتی و، په همدې اړه يې ورسره خبرې کولې.

- دا خلک خبر دي چې ولسمشر د اينټرنيټ فشار ته سلامي دی، خو بې غمه اوسه سناتور هم پرون نه دی پيدا شوی، په هر حال پوهېږي وبه گورې داسې څه به وکړي چې ما او تا به هم حيرانه کړي.

ورېنداري د قاضي صاحب توک داني راوړه، تود روغبړ يې وکړ، لالا ورته وويل چې د چايو غم وخوري. هغه چې لاړه لالا ته مې وويل:

- سناتور چارصدوبيست دی، منمه يې، هغه ورکه شوې لور يې اوس په فېسبوک کې په خپل نوم حساب لري.

- پخوا يې نه درلود؟

- صديق وايي پخوا يې په مستعار نوم و، پلار يې اجازه نه ورکوله اوس يې لکه چې اجازه ورکړې ده.

- سناتور له قام او ټبره ډارېږي که د هغوی مشکل نه وای، د لور له ورکېدو به يې بل رقم ځان ته کمپاين کړی و، دا د سياست خلک په تاوان کې هم گټې ته فکر کوي، له تاوانه هم د گټې برخه راباسي.

- لالا، يو خبريال دی، شفيع الله حرکت، هغه سخت په دې سناتور پسې دی، نه پوهېږم د هغه ورسره څه دلچسپي ده.

- حرکت نورې کړې لارې لري، بله خبره پکې نه وينم، هو د سناتور دښمنان هم حرکت ته نژدې دي، د هغوی لپاره هم شايد دی ډېر پورته پورته وغورځي. دا ځای

دې نخښه وي که مشفق وزير شو بيا به دغه حرکت د مشفق د خوښې کارونه هم کوي، خو له زړه به يې ورسره دښمني هم وي.

- ته حرکت پېژنې؟

لالا حفيظ په ځای کې کېناست، موسک و، داسې يې راته وکتل، لکه زه چې په خاورو نه يم خبر:

- ښه يې پېژنم، دغه د نن هلکان ما لا پرون پېژندل، زموږ لوی غم دا دی چې مطبوعات مو هم له جنگسالارانو ډک دي. جنگسالار يوازې په ټوپک نه دي جنگسالار، دوی په واک مين دي، د واک ساتلو ته له هرې حربې کار اخلي. مطبوعات ور خپلوي چې د خلکو ذهنونه بدل کړي، ټوپک کاروي چې خلک وډار کړي، د فساد له لارې پيسې گټي، چې په پيسو ځينې ورمات کړي.

- نو دوی او سناتور دوی د يوه خره دوه غوږونه دي؟" (٦)

دغه ډيالوگ پر ځو کسانو څرخي او د هر يو په اړه بلا خبرې کېدای شي، خو دلته زموږ موخن کس حفيظ لالا دی او د هغه په کرکټر غږېږو. په دغو خبرو اترو کې لوستونکی له ورايه پوهېږي چې حفيظ لالا يو داسې پخوانی متجرب مامور [قاضي] دی چې له گڼو کسانو سره يې مخه وه، هم يې اهل او هم يې نااهل مراجعين او د هغوی دوسيې لرلې. د وخت له پاکو او مفسدو چارواکو سره يې هم مخه وه او د هر يوه په دوکو، چلونو او سرزوريو تر هر چا ښه پوهېږي، چې دا پوهه ورته وخت او تجربو ورکړې ده او همدا لامل دی چې ورور يې په دې برخه کې نوی او لا يې په دغو مسايلو سر نه دی خلاص.

د دې ترڅنگ په دغو ډيالوگونو کې د وخت ټولنيز حالت او رواني وضعيت هم وينو چې تر ډېره پر ځان واکمنېدو [چارواکي کېدلو] څرخي، چې دغه ځان واکمنول ډېر ځله د پرېوتو آرونو له مخې دي، لکه زورواکي، فساد، غصب، دوکه، يو بل ته کندې کېندل، ناموسي سپکاوی اړول او داسې نور، لکه معين چې سناتور ته کنده کيندي او بيا سناتور ترې داسې کسات اخلي چې آن د معين تر سکرټره پورې کسان په کې دل کېږي.

د ځينو ژورناليستانو له ځبرو هم پرده پورته کوي، داسې چې هم د پيسو په مقابل کې او هم د فکري دښمنيو په مقابل کې ځينې انسانان ښکنځي او بد يې معرفي

کوي. شونې ده چې ځينې شخصيتونه به پاک او مخلص شخصيتونه نه وي، خو معنا يې دا نه ده چې ژورناليست دې د قاضي يا څارنوال چار ترسره کاندي او هغه دې ولس ته په شخصيتي لحاظ دومره سپک کړي چې په ژوند کې يې ښه کارونه هم تر سيوري لاندې راولي.

په دغه بېلګه کې ګورو چې د وخت حکومت څومره په فساد او خپلسريو کې ښکېل شوی و، آن د وکيل، سناتور او معين کېدلو معيارونه تر کومې کچې پرېوتي وو چې دا چار ښايي په بل حکومت يا وخت کې د تأمل څه چې د منلو وړ هم نه وي، نو د داستاني ادبياتو يوه دنده هم همدا ده چې د وخت رواني حالات هم را په ګوته کړي او هم په هغه حالت کې د ښو انسانانو حالت را جوت کاندي چې له څومره ناخوالو، ربړو او رواني ځورونو سره مخامخېږي، که فاسدېږي او د وخت له چارواکو سره سم او د هغوی په خوښه چلېږي، نو ايمان او وجدان يې لاړ او که په خپل حال پاتېږي، نو بايد څومره قربانۍ ورکړي او دا چې شخصيت يې ولس ته څنګه ور معرفي کېږي همدا ناول يې ښه بېلګه ده؛ نو دا بېلګه که له يوې خوا د ناول شخصيت د هغه د کړنو او فعاليتونو له مخې را پېژني، نو له بلې خوا د وخت د ادبياتو رواني حالت هم راته انځوروي چې دغه انځور يا حالاتو پر سياسي فعاليتونو ډېره لګولې وه.

که تر دغه بحثه را تېر شو، د داستان په روانپوهنه کې بل مهم بحث د ثابتو عناصرو يا توکو موجوديت دی چې شتون يې د داستان د اډانې او انسجام لپاره اړين بالله شي، په دې معنا هر عنصر يا کرکټر له ځينو توکو سره ذهني مشترکات او توپيرونه لري چې ډېر ځله دغه مشترکات او توپيرونه د ذهن او روان ترمنځ همغږي نه لري، چې له امله يې رواني اختلالات يا ستونزې زېږي او دغه ستونزې د انسان پر روان سربېره د هغه پر کرکټر او شخصيت هم منفي اغېز ښندلای شي، په داسې حال کې چې دا اړيکه به ډېره عادي او آن باريکه وي او که تشخيص شي، په اسانه حل کېدلای شي. د دې لپاره چې دا موضوع مو دقيقه څيرلې وي، لومړی به د علت او معلول پر اړيکو خبرې وکړو او بيا به د شخصيت جوړونې بحث ورسره مل کړو.

ادبپوهان وايي چې په کيسه ييز ادب کې د علت او معلول اړيکه ډېر مهم رول لري او دا ځکه چې د علت او معلول اړيکه يا د شخصيت جوړونې بحث ډېرې

پوښتنې او ګروېږنې ځوابوي او دغه ځوابونه د منطق پر ستنې ولاړ وي چې منښته یې د روانپوهنې پر بنسټ شونې ده، د ساري په ډول: که چېرې موږ وغواړو چې د خپل کیسه ییز خپه، له ژونده ستړي او بېزاره کرکټر لپاره یو کور انځور کړو، نو روان پوهنه راته وایي چې د کور دېوالونه باید تېز، سره، توربخن، شنه، نسواري، رشقه یي او زړه نیوونکي رنګونه ولري. فضا یې هم تیاره او داسې خړه وي چې لږمون په کې پرسېږي، ځکه روښانه، سکون لرونکي او خوښي راوړونکي رنګونه د خپه او نیولي انسان له روان سره جوړښت نه لري او نه هم مناسب برېښي، نو په کار ده چې پېښې او حالات هم همداسې بیان شي، د ډار پر مهال کرکټر وډار شي او د خپګان په حالت کې یې له مخ او سترګو غم وڅاځي، لکه د مفرور ناول د ډار په یوې پېښې کې چې لولو: "ما له ورتلو سره دوی باندې سلام واچولو او په مسکۍ خوله مې سړي ته ووې:

کاکا معافي غواړم، ستا خوب مې خراب کړو، خو زه تندې په مخه اخیستی یم او چې د اوبو دا چینه مې په نظر راغله، نو د اوبو څښلو دپاره دېخوا راوګرځېدم.

سړي نه زما د سلام څه ځواب راکړو، نه یې څه بل څه غږ وکړو، خو د سر نه پښو پورې یې یو نظر ماته وکتل او بیا لږ په قلاره شو، لکه چې تسلي یې شوې وي، چې ګوندې زه ده پسې نه یم راغلی، بلکې په توکل مې پېښه کړې ده، یو ساعت پس زما ملګری هم په ما پسې را ورسېدو، هغه چې سړي طرف ته وکتل نو رنګ یې تګ زېړ لاړو او ډېر سخت ورخطا شو او په سترګو سترګو کښې یې ماته څه ووې، خو زه پرې هېڅ پوه نه شوم چې ګنې زمونږ په وړاندې څوک خطرناک سړی ولاړ دی، ما ځان ناغرضه شان کړو او انځرګل ته مې ووې...مونږ چې څه ټوټه مزل وکړو، نو ما د مېلمه نه د حال معلومولو په غرض د مفرورانو او ډاکې مارو قصې شروع کړې او د دوی د زړه ور توب او بهادرۍ او ښه ځوان توب په صفتونو مې ښه زور ورکړو، بیا مې د عمري د زړه ورتوب او ښه ځوانتوب داستان را وسپړدو او د هغه مې ډېر صفتونه او تعریفونه وکړل، ما چې خبرې بس کړې، نو مېلمه ماته په ترخ نظر بد بد وکتل او غلی شان یې ووې.

عمری ښه سړی نه دی، بې نکاح ښځې ساتي...." (۷)

په کیسه کې څلور کرکټرونه دي، خو دا یو یې د ډار صحنه ډېره ښه انځوروي، اوبو ته را رسي، خو کله یې چې مفرورانو او داړه مارو ته پام کېږي او په ذهن کې یې

د سیمې د خلکو خبرې راګرځي، نو ورسره وېره پیدا کېږي، سره له دې چې له ځان سره ډېرې لارې ګودرې سنجوي او نسبي د تسکین لار مومي، خو بیا یې هم په الفاظو کې ډار له ورایه سترګکونه وهي، سم له واره په سړي سلام کوي، خو سړی ورته نه ارزښت ورکوي او نه یې ځواب، بیا هم خبرې کوي، د سیمې او د اوبو صفت کوي، ځان ورته ناخاپي په دې سیمه پېښ شوی ښیي، خو لا هم پرې د سړي باور نه دی راغلی او بد بد ورته ګوري؛ خو جالبه په کې دا ده، عملیان یا نشه یان یوه قاعده لري او هغه دا، کله یې چې هم پر چا شک راشي چې ګواکې دا نشه یي دی، نو په مخ کې یې سګرېټ څکوي یا خپله نشه کوي چې دا کار پر مخامخ لوري هم خمار راولي او د هغه هم ورته زړه کېږي او چې کله له ده سره نشه وکړي، نو بیا یې ملګرتیا او وروري شي، چې په هېڅ صورت بیا خپله وروري نه خرابوي؛ نو دلته هم همدا روانپوهنه تشخیص شوې ده. سړی د ځان له ډاره او د هغه د راجذبولو لپاره سګرېټ بلوي چې دغه کار مفرور هم نشې ته اړباسي او په دې توګه د موخن کرکټر د زړه مراندې مضبوطېږي او په ډار کې یې څه نا څه کمښت راځي، خو کله چې خپله راوړې ډوډۍ ورسره شریکوي او په ګډه یې خوري، نو بیا یې پوره ډاډ کېږي چې نور نو دا مفروران ده او ملګري ته یې څه نه وایي، ځکه هم پښتانه دي او هم سره مالګې او اوبه شول، نمک خواره یې شول او پښتانه په هېڅ صورت د بل نمک نه هېروي او نه یې پلوري، خو کله ناکله په ټولنې کې هم د ځنګل قانون واکمن وي، ځواکمن او زورور خلک ډېر ځله نه قانون ته ګوري او نه پښتو ته، بس د ځان ګټې د جهان ګټې بولي او چې څه ورته ښه او مناسب ښکاره شي، هماغه کوي چې بېلګې یې هم زیاتې دي، نو همدغې ننګونې او ستونزې دوی هم ډار کړي وي او لا یې هم د مفرورانو ډار له زړه کډه نه وي کړي؛ نو ځکه د ځان د خلاصون لپاره داسې الفاظ وایي او داسې ناخوالو او ټولنیزو ټکرونو ته جواز ورکوي چې ښايي یو عمر یې د همدغو مسایلو د سمون لپاره مبارزه کړې وي، لکه عمری ښه انسان دی، مفروران غیرتیان دي، د خلکو د ناموس او عزت ساتنه کوي او داسې نور چې دا مسایل هم له فکري پلوه د دوی خوښ نه دي او هم یې په خپله خوښه نه وایي، خو ډار دا هر څه په انسان کړي او هاغه عاقل او مبارز انسان نن د ډار له امله په داسې الفاظو سر شوی دی؛ نو که چېرې اوس موږ دغه ضد او نقیض کرکټرونه سره یو

ځای کوو او یو د بل پر ضد یې غړوو، ښکاره خبره ده چې نه د داستان روانپوهنه دا مني او نه هم متجرب لیکوال دا کار کوي، ځکه انسان چې هر څومره پیاوړی شي بیا هم د ډار په نامه یو څه لري او کله ناکله ډار پرې دومره واکمن شي چې د څو شېبو لپاره یې د ژوند له موخنې لارې باسي، نو دا بېلګه دا او دې ته ورته ډېرې رواني خبرې لري چې جوړښت یې داستان ته ځانګړې ښکلا او زړه را ښکون ورکړی دی.

د داستان په روانپوهنه کې بله مهمه مسئله د شخصیتونو یا کرکټرونو په دقیقه توګه پېژندل او د لیکوال له خوا ډلبندي ده، په دې معنا لیکوال باید په دې پوه شي چې د ده کرکټر مرکزي دی او که فرعي او په فرعي کې هم څومره فرعي دی؟

ځکه ډېر ځله داسې هم شوي چې زموږ کرکټرونه فرعي وي، خو کار یې د اصلي کرکټر وي یا پر عکس کرکټر اتل وي، خو شخصیت او کړنې یې ماشومانه او آن د عادي انسان په څېر وي چې لوستونکی له هماغه پیله زړه توری کوي. موږ چې کله وایو مرکزي کرکټر یا اتل، نو کړنې او چارې یې هم باید د اتلانو وي، تر نورو انسانانو یو څه متفاوت او خارق العاده توب ولري، د لوستونکي او مینه والو په زړه کې ځای پیدا کړي او یا هم په ټوله معنا کرکجن معرفي شي او حساسیتونه را وپاروي.

ښایي ډېرو لوستونکو هم دا خبره تجربه کړې وي، په ټولنیز ژوند کې به یې ځینې انسانان خوښ نه وي یا به خوند نه ورکوي، خو که پوښتنه ترې وکړې، نو یادو کسانو به ورته هېڅ هم نه وي ویلي، آن سلام کلام به هم ورسره نه لري، خو د دوی به بد ایسي او هسې به ترې ځان ساتي، خو که چېرې ورسره مخامخ شي، خبرې یې ونغوړي، د دوی پر وړاندې یې احترام او درناوی وګوري، ټولنیزو نزاکتونو ته یې ځیر شي، نو بیا ښایي له خپل کاره پښېمان شي او ځان ورته یو ډول بې انصافه ښکاره شي، ځکه یاد کس به ورته هېڅ هم نه وي ویلي او نه به یې کله هم له ده سره ناسته شوې وي، خو ده ته به بد ایسي او خوند به نه ورکوي، نو روانپوهنه وایي د دغسې کړنو یو لامل دا دی چې ښایي دغه انسان په تحت الشعور کې له دې ته ورته څېرو سره کومه ستونزه یا ټکر پیدا کړی وي یا په کوم ځای کې دې ته مشابې څېرې له ده یا بل چا سره کومه ستونزه یا ناخواله پیدا کړې وي او هغه د ده په ذهن کې ناسته وي، خو دلته له ډېر فکر سره سره هغه پېښه یې ذهن ته نه راځي، خو په لاشعور کې یې شته او ترې یې کرکه کېږي، نو ځکه ترې واټن نیسي او هڅه کوي

چې ځان ورسره مخامخ نه کړي؛ نو په داستاني ادب کې هم کله ناکله داسې کېږي، ځینې کرکټرونه زموږ نه وي خوښ، یا مو بې هېڅه خوښ وي، خو که لیکوال یې سم ونه لوبوي، یوه ته بې اړتیا زیات وخت ورکړي او بل د اړتیا له مخې ونه غږوي، نو دا ستونزه پیدا کوي او کله ناکله لوستونکی نه غواړي چې د یو چا په اړه حساس شي، خو لیکوال یې حساس کړي او آن سم کرکټر هم ترې منفي ښېره شوې وي.

د روانپوهنې په اساساتو کې یو اصل د یوازېتوب حس دی. هاري او بوناروواوراستېریټ په خپل اروایي روغتیا اثر کې وایي: "اروایي ناروغي زیات ډولونه لري، یو یې چې په ټولو ناروغانو کې شته د پردیتوب او بېزارۍ حس دی. ناروغ کس په خلکو کې ځان یوازې او پردی ګڼي، د ټولو وسایلو پر شتوالي سربېره له ژوند څخه بېزاره وي.

کله کله دغه رنځ د غوسې او قهر بڼه خپله کړي او کله هم د کهالۍ او تنبلۍ بڼه. دغه حالتونه په روغو کسانو کې هم لیدل شوي، لکه څنګه چې ځینې وخت وایو: پلانی له کینې اړخه پاڅېدلی، له ده او هغه سره شخړه کوي او بېځایه ځوابونه ورکوي، خو بله ورځ بیا وینو چې هماغه کس روغ او خوشحاله وي.

له نېکه مرغه دغه کس سره له دې چې حالت یې تغییر کوي، بیا هم ځینې دوستان لري او له هغو سره ژوند کوي، له هغو او خپل ژوند سره مینه کوي، خو که د پردیتوب حس دایمي او ژور شو، نو پایله یې خطرناکه ده او کله خو د لېونتوب تر حده رسېږي." (۸)

خبرې واضح دي، د رواني ناروغیو ډولونه زیات دي، خو موږ یې له پردیتوب او بېزارۍ سره کار لرو او دغه چار په داستاني ادبیاتو کې زښت زیات دی. ځینې له خپلو مېرمنو، ځینې له زامنو، ځینې له ټولو بچیانو، ځینې له کورنۍ او ځینې هم له ملګرو او همکارانو څخه ځان څنګ ته کوي او داسې فکر کوي چې په یوازېتوب او پردیتوب سره کولای شي له موضوع یا له ستونزو تېښته وکړي، په داسې حال کې چې دا تېښته نه بلکې ځان ځورونه او کله ناکله ځان وژنه هم ده. خلک هم پرې د لېونیو او بل ډول انسانانو فکر کوي او که هر څومره پوهه ولري، هغه یې هم په سیند لاهو کوي، په داسې حال کې چې دا د رواني ناروغۍ ډول دی، نه پر موضوعاتو برې یا واکمنېدل. په همدې اړه د نصیر احمد احمدي« بوډا او د لېوانو

پلونه» ناول کې لولو: "جومات کور ته نږدې و او د کلي د هلکانو چیغې په اسانۍ سره اورېدل کېدلې.

لېونیه! ای لېونیه، لېونیه...!

ګامونه مې ګړندي کړل، د جومات وره وازه خوله نیولې وه او له دهلېز نه یې د هلکانو شور او زوږ راته... وره ته په رسېدو سره ناڅاپه د پښو دربی شو. پر دېوال څه شی ولګېد، پر ځمکه ولوېد او له غږ نه یې پوه شوم چې د لرګي وار و... اوږد بالاپوښ یې په تن و، په ښي لاس کې یې د بوټ جوړه نیولې وه او داسې راته وایسید، لکه ځمکې ته چې ګوري.

ورو مې وویل: سلام علیکم!

سړي کوم غبرګون ونه ښود. دوهم ځل مې یو څه په زوره د سلام ټکی له خولې را وایست، هغه یوه جټکه وخوړه، په تېزۍ سره یې مخ راواړاه، د څراغ رڼا یې پر نیمایي څېره ولګېده او د څېرې په روښانه برخه کې یې د ژورو ګونځو سیوري ښکاره شول، سړی بوډا و، خړه لونګۍ یې تر سر تاو وه او د ږیرې د ښي اړخ سپین وېښته یې د لاټین رڼا ته ځلېدل.

په لړزانده ګامونو رانږدې شو، بوټ ته مې وکتل، د وار په بڼه یې نیولی و. په بیړه مې وویل:

خوا مه بدوه، هلکان دي!

ده هېڅ ونه ویل، بوټ یې د خپلې جوړې ترڅنګ کېښود او د کوټې په بر سر کې د تاوخانې پر تاوده ځای کېناست، سر یې وځړېد او په فکر کې ډوب شو.

پوه شوم چې سړی بې ازاره دی، ور مخته شوم، ورو مې وویل: زه به ډوډۍ درته راوړم!." (۹)

دا یو ډېر پیاوړی، عالي، با مسئولیته او له مهربانۍ ډک پلار دی چې وخت، یوازېتوب او د پردیتوب حس دې حد ته را رسولی او اوس پرې هر سړی د لېوني ګومان کوي او آن د لېوني نارې هم ورته وهي او دی هم فکر کوي چې ګواکې په همدې لارې له خپلو ستونزو او ربړو څخه خلاصون مومي، خو حقیقت داسې نه دی، دغه کار یې ده ته بله څېره او نوم ورکړی چې هغه د ده شخصیت، مهرباني، اتلولي او قرباني په سیند لاهو کوي او ټول مسایل یې په صفر ضربوي؛ خو دا د

پردیتوب احساس ورکړی چا دی او ولې يې دا ناروغي يا د ده په اصطلاح د خلاصون لار غوره کړې ده، چې دا ځواب هم د یاد کتاب په دې برخه کې لولو: "د برق کتابچه مې پر نوبت کېښوده او د ورځې پر یوولسو بجو وار را ورسېد، خو کله چې بېرته کور ته راغلم، په دهلېز کې مې د سگرېټ لوگی په سپږمو ننووت. وروسته مې یوه نارینه خندا واورېده، بدن مې زېړ شو او په بیړه مې د کوټې دروازه خلاصه کړه. د سگرېټ په لوگي کې مې پر سویتا او یوه ښایسته ځوان سترگې ولگېدې، دوی ځنگ پر ځنگ دومره نږدې سره ناست وو چې ورنونه يې له یو بل سره لگېدل. دواړو پر غولي یوه اوار لوری کاغذ ته چې د انسان ککرۍ او هډوکي په کې رسم شوي وو، وچې سترگې نیولې وې. زما په ورتلو يې سرونه هسک کړل. ځوان اوږدې ځنې درلودې او له رنگه سپین و.

سویتا وویل:

دی نسیم نومېږي، موږ سره همکاران یو.

وروسته يې ځوان ته مخ ور واړاوه موسکه شوه او ډکې شونډې يې وخوځېدې:

د انور پلار دی. بیا يې په بې پروایۍ راته وکتل او ورو يې وویل:

کېدای شي یو څو دقیقې مو یوازې پرېږدې، کار لرو!؟

د هغې لوڅې غاړې او پر سینو پرتو گڼو ژېړو ویښتو ته مې وکتل، زړه مې جوش وکړ او په خشکه مې وویل:

نه!

دواړو رډ ـ رډ راته وکتل.

ما زیاته کړه:

څنگه دې له پردي سړي سره یوازې پرېږدم؟

له دې سره د ځوان شونډې وځړېدې، ورو ولاړ شو، خو سویتا تر مټ ونیو، په خشکه يې سترگې راواړولې او چیغه يې کړه!

ووځه بې ادبه!

ځوان مسک شو:

خیر دی، اوس به لاړ شم، بل وخت به بیا سره گورو.

ما لار ورکړه او ځوان له کوټې ووت، د هغه په تلو سره پر سویتا اور ولګېد او چیغه یې کړه: ته یو احمق او له تمدنه لېرې کلیوال یې...!" (۱۰)

ښایي د ډېرو افغانانو ژوند له داسې ناخوالو څخه ډک وي، د لوستو او نالوستو ترمنځ داسې نانډرۍ ډېرې پېښې شوې وي او ډېرو همداسې ژوند ترک کړی وي، خو پوښتنه دا ده چې ایا دغه ډول ژوند پرېښودل او هر څه صفر کول مناسب چار دی؟

دا سمه ده چې ژوند لوړې او ځوړې لري، د ډېرو به ژوند هغسې نه وي لکه څنګه یې چې خوښ دی یا یې خوبونهویني، خو په دومره اسانۍ یوې داسې ناروغۍ ته د عقُدې یا کینې له مخې ځان تسلیمول هم مناسب عمل نه دی او نه د ژوند کولو طریقه ده. په داسې حالت کې سړی بیا د اسلامي عقایدو او ارزښتونو په معنا پوهېږي. د مشر، کشر، نر او ښځې حقونه، درنښت، عزت او شفقت ورته معلومېږي او په داسې حالاتو کې بیا اسلامي ارزښتونه مشکل لرونکي انسان ته سرې کرښې ښکاره شي، خو په عادي حالت کې کله ناکله ورته ډېر ژمن نه وي.

دا هم سمه ده چې تمدنیت او ښاري ژوند خپلې ګټې لري، خو که مدیریت نه شي او عقیدوي ارزښتونه یې په جدي توګه په پام کې ونه نیول شي، نو داسې زیانونه او ستونزې هم پیدا کولای شي، چې هم ورته رواني ناروغي او هم ورته د عقیدوي کمزورتیا نوم ورکولای شو.

نو که د داستاني ادبیاتو دغه ډول رواني حالاتو ته ځیر شو، په هر ناول او کیسه کې به په لسګونو داسې بېلګې پیدا کړو چې زموږ د ټولنې له نبض څخه راوتلي او لا هم دوام لري، نه یوازې دا بلکې د دود پالنې او نوښت پالنې ستونزې یې هم په دومره اوج کې دي چې مه یې کوه پوښتنه. ځینې ادبپوهان کلیوالي ژوند او ادبیات د ژوند ډېره اړتیا نه بولي او د وروسته پاتې ټولنې زېږنده یې بولي، ځینې بیا ښاري ژوند له داسې ناخوالو او ربړو څخه ډک بولي او ژوند کول په کې یو ډول ګناه ورته برېښي او ځینې بیا د دواړ په دفاع کې افراط کوي او یو ډول نورې رواني ناروغۍ پیدا کوي، په داسې حال کې چې په ژوند کې هم کلیوالي او هم ښاري ژوند ته اړتیا شته، دواړه یې خپلې ګټې او زیانونه لري او په کار ده چې د تمدنیت او پرمختګ په ترلاسه کولو سره د هرې ربړې ستونزې مهار شي، پوهه او عقیدت باید د هرې بې باورۍ، بې فکرۍ او بې مذهبۍ

مخه ونیسي. کلي او ښارونه سره پخلا کاندي، مشترکې برید پولې او گټې یې خوندي کړي او بالاخره د ژوند خوړلني په کې پیدا کړي.

**پایله**

په دې کې شک نه شته چې هر لیکلی متن چې هنري ارزښت ولري ادبیات دي او نن سبا ادبیات له ټولنپوهنې او روانپوهنې سره داسې اغړل شوي چې په هېڅ صورت یې بېلتون شونی نه دی، خو روانپوهنه او ټولنپوهنه بیا ځانته آرونه لري چې کله ناکله ټول یې په ادبیاتو کې تطبیقېږي هم نه، خو کوم یې چې د تطبیق وړ دي هغه باید په جدي توگه په پام کې ونیول شي.

روانپوهنه راته وایي چې د داستاني ادبیاتو کرکټر باید له شخصیت سره سم را معرفي شي. دا سمه ده چې د ده شخصیت به عالي او غوره وي، خو دا هم په کې مهمه ده چې داستان لیکوال ده ته کوم رول یا شخصیت ورکړی دی، ډلبندي یې ځکه مهمه ده چې د ټولنې د عیني واقعیتونو انځور وړاندې کوي. ډېر ځله داسې شوي چې زموږ ځینې داستان لیکوال ځینو منفي شخصیتونو ته داسې مثبت فعالیتونه ورکړي وي چې هغه عیني نه وي او په ټولنه کې یې بېلگې په ندرت سره موندل کېږي چې دغه چار لوستونکي ته هم یوه رواني ستونزه پیدا کوي او کله ناکله د هغوی تقلید د دې لامل کېږي چې ځینې خلک په نرگیست یا میینېدلو باندې ککړ کړي. سره له دې چې ځېره به یې منفوره او استفراق شوې وي، خو ځان به ورته لوی اتل او افلاطون ښکاري او په ټولنه کې به داسې تیوری او نظریې وړاندې کوي چې مبتدي لیکوال یې هم بې لارې ته سوق کړی وي، خو روانپوهنه وایي چې دغه ډول بې مسئولیتي کولای شي د ټولنې دیني او اخلاقي برید پولې هم ماتې کړي او آن داسې ناخواله پیدا کړي چې په درملنه به یې خپله لیکوال هم نه پوهېږي، لکه د جمهوریت پر مهال خپرېدونکي بې سربوله سریالونه، ډرامې او ځینې آثار چې نه په عقیدوي لحاظ او نه په فکري لحاظ زموږ له ټولنې سره جوړ وو، خو خپرېدل او عامه افکار یې زیانمنول.

د روانپوهنې د پوهانو په وینا که چېرې موږ د خپگان پر ناروغۍ د اخته کس انځور وړاندې کوو، نو لومړی یې باید د کور دېوالونه، توشکونه او غالۍ داسې ډېزاین کړو چې هغه په عادي او نارمل انسان باندې هم بده اغېزه وکړي، لکه تېز شین، سور،

جیګري، تور، رشقه يي او داسې نور رنګونه، هغه رنګونه دي چې په عادي حالت کې هم د سړي زړه تنګوي او د یو ډول خپګان لامل کېږي. یا پر دېوالونو يې د داسې انځورونو ځړول چې په لیدلو يې د انسان کرکه او ویره پیدا شي، لکه وحشتناکې څېرې، د جګړو د قربانیانو انځورونه، د مسخه شوو ته ورته انسانانو څېرې او داسې انځورونه چې هر ځل لیدل يې پرته له دې چې انسان وځوروي، په تکلیف يې کړي او ځینې بدې پېښې ور په یاد کړي، نور څه ونه کړي، نو دا ډول کرکټرونه باید همداسې مسایل او ځانګړنې ولري چې هم يې تشخیص اسانه وي او هم لوستونکی پرې پوه شي چې دی ولې داسې شوی او د ده شخصیت څه ډول شخصیت دی.

نو که خبره را ټوله کړم دا هغه عمومي مسایل دي چې په داستاني ادبیاتو کې نېغ په نېغه له رواني مسایلو سره سر او کار لري، خو که داخلي او جزيي مسایلو ته يې ورشو، نو زموږ داستاني ادبیات په لسګونو او سلګونو داسې بېلګې لري چې له امله يې زموږ ادبیاتو لا هم خپل اصلي لوری ورک کړی او که دقیق وځېرل شي، نو آن زموږ د سالم تمدنیت پرمخیون هم له پوښتنې او ننګونې سره مخامخوي، لکه د پنځوس کالو یا تر هغې هم د پخوانیو کالونو د ژوند خوښول چې له ستونزو، ربړو او کړاوونو ځخه په کافي اندازې ډک و، خو موږ ته يې یوازې سکون او ساده ګي خوند راکوي او فکر کوو چې د هغې وخت ژوند له سکونه ډک و، دا چې زموږ تعلیمي او تحصیلي کچه په کوم حد کې وه، زموږ اقتصادي فقر په کوم برید کې و، زموږ صحي ستونزې او معاذیر څومره ول، زموږ نظامي پرمخیون او خپلواکي په کوم حد کې وه او همداسې د هېواد فرهنګي، ادبي او اقتصادي ارزښتونه په څه ډول وو، د هغې خو مه کوه پوښتنه، خو یوازې سکون او ارامتیا يې په ټوله معنا د تائید وړ ده او بس.

## مأخذونه


۱. روهي، محمد صدیق. د پښتو ادبیاتو تاریخ (معاصره دوره)، دویم ټوک، د محمد صدیق روهي فرهنګي ټولنه، د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه: پېښور، ۱۳۷۸ لمریز کال، ۹ مخ.

۲. صفا، مصطفی. د اروپوهنې لنډ تاریخ، د انتشارات جهان اسلام خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۳ لمریز کال، ۵ مخ.

۳. همدا اثر، ۵ مخ.

٤. لېــوال، عبــدالغفور. کتـــابتون ډاټ کـــام، ۱۳۸۷ لمريـــز کـــال، ۹ مـــخ. www.ketabton.com را اخيستنه، ۱۹/ ۹/ ۱۴۰۲ لمريز کال.

۵. دارکولي، محمد رضا نظري. روانشناسی در داستان، خبر گزاری کتاب ايران، را اخيســـــــــتنه ۲۰/ ۷/ ۱۴۰۲ لمريـــــــــــــز کـــــــــــــال. https://www.ibna.ir/fa/shortint/۷۳۱٤۹/ ۱۳۸۹ لمريز کال.

٦. پسرلی، ايمـل. مفسد (نـاول)، اکسـوس کتـابپلورنځي، وايگـل مطبعـه: کابـل، ۱۳۹۹ لمريز کال، ۱۴۴- ۱۴٦ مخونه.

۷. رسا، ميا سيدرسول. مفرور (ناول)، دويم چاپ، يونيورسټي بُک ايجنسي، دانـش خپرندويه ټولنه: پېښور، ۲۰۱۰ زيږديز کال، ۹- ۱۱ مخونه.

۸. هاري او بوناروااوراسټريټ. د صـالح محمـد صـالح پښـتو ژبـاړه، اروايـي روغتيـا، کتـــابتون ډاټ کـــام، ۱۴ مـــخ. www.ketabton.com را اخيســـــتنه ۲۳/ ۲/ ۱۴۰۰لمريز کال.

۹. احمدي، نصير احمـد. بـوډا او د لېوانـو پلونـه (نـاول)، کتـابتون ډاټ کـام، ۴-۵ مخونه. www.ketabton.com ۲۷/ ۷/ ۱۴۰۱ لمريز کال.

۱۰. همدا اثر، ۷۴- ۷۵ مخونه.

پوهنمل عبیدالله اغیز

# د محمد ایاز ملنگیار تصوف او ملکوتي زمزمې

# Mohammad Ayaz Malangyar's Sufism and heavenly whispers

Assistant Prof. Obaidullah Aghez

## Abstract

Mohammad Ayaz Malangyar was a contemporary Pashto poet and a jihadi writer who had a deep understanding of Sufism. He practiced practical Sufism and was a spiritual guide in gatherings. He had great respect and devotion towards his elders, which is reflected in his poetry. He immersed himself in the love and teachings of Allah and Prophet Muhammad (peace be upon him) and rejected his own desires and greed. He was drawn towards the real essence of love and was at peace with his soul.

His love for the real beloved and his spiritual experiences were not limited to virtual platforms, but he also expressed them through his poetry. If one delves into his Sufi terminologies, they will find both common and unique paths, practices, and beliefs.

Mohammad Ayaz Malangyar was a strict follower of Sufism and practiced it in his daily life. He would often participate in gatherings where people would come together to remember Allah and engage in spiritual

practices. He was not just a spiritual guide but also a disciplined person who followed the path of righteousness and jihad. He was always there for his friends and companions, and he never hesitated to help them.

## لنډیز

محمد ایاز ملنګیار د پښتو معاصر او جهادي ادب یو تکړه شاعر و او په خپله د تصوف د طریقت په کړیو او مجلسونو کې په یو عملي صوفي او عارف پېژندوی و. خپلو پیرانو ته ډېر عقیدتمن او ارادتمن و چې دغه اغېزې یې په شاعرۍ کې په ښکارې. ده د طریقت په وجدي کړیو او مجلسونو کې په عملي توګه برخه اخیستله، نو د الله تعالی او د هغه پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په حقیقي مینه او عشق کې ډوب و. د نفسـي هوسونو او لالچـونو نه راوتی و، په زړه کې یې د یوې حقیقي مینې لېونۍ جذبه په ځپو وه، خپل حقیقي محبوب به یې هره شېبه یاداوه او د هغه په ذکر یې شپې رڼولې او بیا به یې روحاني سکون او ارامښت ترلاسه کاوه. ده د حقیقي مینې او عشق پر خوا ډېر تمایل درلود او له مجازي اړخونو نه یې ډډه کوله، نو ځکه یې د عشق او محبت کلمې ډېـرې کارولي چې د حقیقت وړانګې تیتوي او د مجاز په پلوشو یې پرده غوړولې ده.

که د ملنګیار تصوفي اصطلاحاتو ته وګورو، نو ځینې یې عمومي او ځینې یې بیا تر یوې ځانګړې طریقې، لار او کړۍ پورې اړه لري، خو یو شمېر نورې یې بیا د خپل عملي صوفیزم او د خپلو تصوفي تجربو او لیدلوري له مخې پېیلې دي چې تصوفي سمبولیک اړخونه هم لري.

استاد ملنګیار یوازې د طریقت او صوفیزم په کړیو او بزمونو کې بوخت نه و او نه چېرته په ګوښه کې په قرب، ذکر او ریاضت لګیا و، بلکې یو ټولنېز، د دندې پابند او جهادي شخصیت هم و. په ورځچارو بوخت و. له خپلوانو او یارانو سره یې ښې اړیکې هم پاللې.

## سریزه

که موږ د پښتو شعر او شاعرۍ ته وګورو، نو د نورو ګڼو مضمونونو تر خوا له لرغونې دورې، تر منځنۍ او بیا معاصرې دورې پورې له عرفان او تصوف سره همغاړې جلوې یې په لاهوتي او ملکوتي زمزمو سره پړاو په پړاو رانښکون پالـي او رڼاګانې تیتـوي.

موږ دلته د پښتو معاصر او جهادي ادب د يو همداسې ملنګپال او ملنګيار انسان په تصوف او ملکوتي زمزمو خبرې کړي چې په اوربدو سره يې د الله تعالی او د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په حقيقي محبت او عشق کې ډوب انځور راتداعي کېږي چې د مينې او ژمنـې جلوې يې لا ځل او پړک وهي. د دې ترخوا ور سره د يو غزلبول شاعر خوږې تصوفي زمزمې راڅرګندې شوې دي چې په وجد وجد راڅرخي او له ملکوتي نغمو او لفظونو يې د ازانګو شور او کړنګ راخېژي، تصوفي خواږه شعرونو يې سماعي او وجدي بزمونه او مجلسونه په خوځښت راوستي او له غزليز بڼ نه يې د خوږو خوږو وږمو پستې خوشبوياني تيتېږي. په دې مقاله کې زيار ايستل شوی چې د ياد شاعر د تصوفي او ملکوتي زمزمو شور روښانه او را وسپړل شي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د دې څېړنېزې ليکنې ارزښت په دې کې دی چې ملنګيار د يو عملي صوفي په توګه وپېژنو، د هغه د تصوفي لارې او کړنچارې ګامونه او تصوفي افکار يې درک کړو. په ملکوتي نغمو او زمزمو کې يې هغه شېبې او حالتونه درک او حس کړو چې ډېر ورته ورکوږ او مايل و او د تأييد ټاپه يې پرې وهله. د ده له خوږې شاعرۍ هغه تصوفي افکار او نومونې راوباسو چې بشريت يا انسان د سمې لارې او نېکۍ خوا ته راکاږي، ځکه تصوفي نومونې پراخه اړخونه او مفاهيم لري او ټول کار يې له انساني عقيدې او مذهبي مسايلو سره دی چې انسان له هر ډول ناوړو کړنو او ناپاکيو ژغوري او مخ يې د ښېګنـو او لوړو اخلاقو لوري ته راګرځوي.

## د څېړنې موخې

په دې څېړنېزې ليکنه کې تر ډېره هڅه شوې چې د استاد ملنګيار د عملي صوفيزم، تصوفي افکارو او د ملکوتي زمزمو ټول اړخونه را وسپړل شي، يعنې د هغه د تصوفي مفکورې درانه او پېچلـي اړخونه شنل او تحليل شوي دي چې د شاعرۍ آرې موخې او غوښنه منځپانګه او ځانګړنې جوړوي. دا ټول تصوفي افکار او لاهوتي زمزمې څومره په انساني اخلاقو او د انساني نفسونو د تزکيې، جوړښت، سمبالښت او ځواکمنتيا کې اغېزمن تمامېدای شـي چې دا د تصوف دندې ګڼلی شـي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. تصوفي کړنې په ټولنيزو او انساني اخلاقو کې څومره خپل اغېز ښندلی شي او څومره پياوړتيا وربښي ؟

۲. د ملنګيار تصوفي افکار په فردي تجربو ولاړ دي او که د تصوفي کړيو، سماعي او وجدي مجلسونو د اړتيا او پياړتيا لپاره راپنځول شوي دي ؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې تر ډېره له، تشريحي او تحليلي کړنلارې نه کار اخيستل شوی او ځای ځای په کې له انتقادي چارې هم ګټنه شوې ده. دا موضوع په ټوله کې د کتابتوني څېړنې پر مرسته پای ته رسېدلې ده.

## د مقالې متن

په پښتو ادب کې د تصوف او عرفان وړانګې په لرغونې دوره کې پاخه څرکونه وينو، په منځنۍ دوره کې په پرله پسې توګه يې ښه پاخه او درانه ګامونه ګړندي واخيستل او بيا معاصره دوره کې هم خپلې جلوې او رڼاګانې تيتوي چې په معاصره دوره کې يو شمېر تکړه غزلبولو شاعرانو په پنځونو کې يې پخې پخې تجربې وينو چې په دغو غزلبولو شاعرانو کې يو هم غزلبول شاعر محمد اياز ملنګيار و چې په جهادي پېر او ادب کې په يو تکړه ترانه ساز، غزلبول شاعر او عملي صوفي نومور او پېژندوی و. دی په پښتو معاصر ادب او تصوفي کړيو کې هغه صوفي طبعه، صوفي مسلکه او صوفي فکره شاعر او پنځګر و چې په تصوفي کړيو کې يې په عملي توګه برخه اخيسته، صوفيانه پنځونې يې سندريزې کولې او ملکوتي زمزمې يې په سماعي وجد کې راوستلې.

زما د مطالعې له مخې ملنګيار د پښتو معاصر ادب هغه شاعر دی چې په خپلې شاعرۍ کې يې په پرله پسې او مسلسل ډول تصوفي افکار او ملکوتي زمزمې په داسې ښکلي انداز سره پاللي چې د بل چا په شاعرۍ کې دغسې منظمه او پېيلې لړۍ نه وينو. دی د زياترو معاصرو پيرانو او مرشدانو په ليدنو او کتنو هم بريالی شوی و او د هغوی له فيض او مجلس نه برخمن و، نو پر همدې بنسټ يې په مرشدۍ، پيرۍ او مريدۍ باندې د تأييد ټاپه وهله، ځکه ملنګيار په خپله يو په بل پسې د مريدۍ پړاوونه وهلي وو او په دې کړنو او چارو يې د وياړ شمله لا نېغه او

هسکه ګرځوله. ده ته د تصوف ټول عشقي او وجدي سبقونه وار په وار خپلو پيرانو ورښودلي وو، نو خپله خبره يې داسې سندريزه کړې ده:

ملنګيار چې ستا د عشق کتاب پرانيزي
سبقـــونــه ورښـــودلي ورتــه پيـر خپل
(۱۰: ۲۰)

کله چې موږ په تصوف کې د عملي صوفي خبره کوو، نو هغه ذوق چې حقيقي معرفت لمس او حس کړای شي چې د لمانځونکي په زړه او ذهن کې د الهي انوارو تجلي او رڼاوې وځليږي او په يوې ځانګړې دايره او کړۍ کې رابند شي. دلته له ځانګړې دايرې نه موخه د طريقت لار او مسلک دی، نو دغسې کړنوال او کړنچاري ته صوفي، سالک او مريد ويلی شي. له داسې هستۍ نه خلک ټولنيز او اخلاقي رنګونه اخلي.

صوفي او سالک د الله تعالی د رضا او خوښۍ په خاطر ډېر عبادت او ذکر کوي، د نفس تزکيه او رياضتونه کوي، لږ خوري، ډېر وېښـي او د خپل پير او مرشد په لارښوونه د طريقت له اصولو سره سم د خپل ژوند، ژواک او د رياضت چارې سمبالوي، خپل نفس سره مبارزه کوي او هغه ښه ځپي، تر هغو چې ښه تزکيه شي. د تصوف له اصولو سره سم پير او مرشد لارښوونه او ښودنه کوي او د مريد له خوا په عملي تړاو رياضت او منل کېږي، نو ځکه پر مريد لازمي دي چې هر وخت او هره شېبه د خپل پير له لارښوونو نه پليوني او پيروي وکړي او عملي صوفي بايد د خپل پير ډېـر درناوی وکړي او تر منځ يې بايد يو ټينګ باور وي او که څه شک ورته پيدا کېږي، هغه بايد ډېر ژر له منځه يوسي، نو صوفي ته په کار دي چې په خپل پير بشپړ او ټينګ باور ولري، نو هله د هغه په خدمت کې نېکبختي ترلاسه کوي. په اړه يې لولو: «د هر کار په کولو کې به د شيخ او پير سره اخلاص ساتي، شيخ ته به پوره عقيده ساتي، څه چې په زړه کې لري، نو له خپل پير څخه به يې نه پټوي، ټول روحاني کارونه به شيخ ته سپاري، په هېڅ کار او هېڅ حال کې به پر شيخ اعتراض نه کوي. د شيخ تصـرفاتو ته به ځان سپاري، په هر حال کې به د پير او شيخ پيروي کوي او د هغه په ظاهري يا باطني تصرفاتو به اعتراض نه کوي،»(۵: ۹۹)

بله خبره دا ده چې پير به د طريقت کړنلارو کې د خپل مريد ستونزې حلوي، ځکه چې پير مريد ته په تياره کې د ډيوې او څراغ هومره ارزښت لري. د دې لارې

لارویان یوازې له الله تعالی سره دي او له الله تعالی پرته نور خلک د هغوی په پوړیو، مرتبو او مقاماتو نه خبرېږي. د دوی زړونه له انساني خیرو، کرکو او د نفس او هوس له غوښتنو او شهوتونو نه ازاد او مبراء وي او د فقیریت په پړاو کې مزل وهي چې د الله تعالی د قرب او نزدېوالي په پوړۍ کې پل ږدي او ځان ځایوي، روحاني صفات خپلوي او د ټولنې خلکو ته پند ورکوي، خیر او ښېګڼه ور رسوي. په حقیقت کې د الله تعالی ټولو اوامرو ته وفاداري څرګندوي او د هغه جل جلاله د پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم شریعت پلیوني او اطاعت کوي او په ربښتیني ډول ورته غاړه اېښودل دي. په اصل کې صوفیان او عارفان د حقیقي مینې او عشق پر خوا ډېر میلان لري، په دې لار پلونه اخلي او له مجازي اړخونو نه یې ډډه کوي.

په تصوفي کړیو او د طریقت په ناستو او مجلسونو کې چې د سالک او مرید زړه په یو کامل پیر او مرشد ډاډمن شو، سکون ورته وشو او ایماني جذبې یې په سینه کې په څپو شوې او د کامل پیر اغېزې یې حس کړې، نو هغه ته بیا په ډېر عقیدت او درنښت غاړه ږدي او د هغه په پندونو عمل کوي او د در ګدا یې ګرځي. په همدې بنسټ په تصوفي کړیو او مجلسونو کې پیر ته په ډېره درنه سترګه کتل کېږي، ځکه «دا پیر دی چې د طریقت په لارو او کړنو کې د مرید او سالک ستونزې او ربړې ورحلوي، یعنې د شپې په تیاره کې د یوې روښانه ډیوې هومره ارزښت لري.» ( ۲: ۸۰)

ملنګیار په خپله د تصوف او عرفان د طریقت په وجدي او سماعي کړیو، بزمونو، مجلسونو او ډګــر کې په یو عملي صوفي او عارف پېژندوی و. د دې ترخوا یې ډېرې تصوفي، حماسي، جهادي او وطني ترانې په بېلابېلو ادبي، ښوونیزو او تصوفي مجلسونو او بنډارونو کې زمزمه شوي دي. په ځینو مجلسونو او ناستو کې یې په خپله هم ګډون کړی و. د ده د عملي صوفیزم په اړه دا څرګندونې لولو: «زه خپلو درنو لوستونکو ته ویلی شم چې ملنګیار یوازې شاعر نه، بلکې په اصلي مانا عملي صوفي و، د روسانو د جارحیت نه یې نور ګرد فن په سیاست او طرفدارۍ ملوث شوی نه دی.»(۱ : ۴۵)

زموږ صوفي شاعر هم همدغه تأثرات په سندریزو شېبو کې انځور کړي او خپل پیر ته یې د عقیدت او ارادت نذرانې په زمزمو کړي. نو «د عزت تاج» تر سرلیک لاندې یې د زړه خبـرې داسې راسپړلي او مترنمه کړي دي:

د مينې غبـــرګې نـــه يې نه کـــوزېږم
ځـــو چې ژوندی په دې دنيا يمـــه زه
مـــا يې جـــارو د عزت تاج مونډلی
چې جـــاروکښ يې د درګاه يمـــه زه
د مينې ګـــرد يې بينـــايي د سترګـــو
پکې شک نشـــته رښـــتيا وا يمـــه زه
تش د کاغـــذ په مـــخ سندره نه يم
د مئيـــن زړه ســـوز او ژړا يمـــه زه
دانې دانې اوښکې مې ګـــوره په مخ
تسبيح د شيخ يمـــه ثـــنا يمـــه زه
چې د بنو په قـــدم لار وهمـــه
د مـــلامت پېټي په شا يمـــه زه
ژوندونه شکـــر چې مـــې ومـــونډلې
تا بـــه لـــه ځـــانه سره بيـــا يمـــه زه
(۹: ۱۸۰)

که د استاد ملنګيار د شاعرۍ شکلي، جوړښتي او معنوي اړخ ته وګورو، نو د ده په شاعرۍ کې بېلابېل ځېلونه لکه حمدونه، نعتونه، غزلې، قصيدې، رباعيانې، ملي او وطني ترانې، مثنوي، مخمس او نور... تر سترګو کېږي، خو تر ټولو زيات يې د غزل په ځمکه د خپل فکر او تخيل تخمونه او زړي کرلي دي. په دغو ځېلونو کې د منځپانګې او موضوع له اړخه بېلابېل اړخونه رانغاړي چې ښکلاييز او خوندور رنګونه پرې ځپځپاند دي، لکه اسلامي او ديني، عقيدوي او مذهبي، عرفاني او تصوفي، حماسي او جهادي، د انسان او انسانيت، خلوص او صداقت، ورورولي او يووالي، د مينې او عشق، د طبيعت او فطرت، د ښايست او ښکلا رنګونه شيندي، خو تر ټولو زيات يې په شاعرۍ کې اسلامي او ديني، عرفاني او تصوفي، د مينې او عشق، حماسي او جهادي پلوشې او وړانګې پړک او ځل وهي، دا ځکه چې دی يو ملنګپال عملي صوفي او جهادي ستړه وه. د ماڼيو او بنګلو يې هېڅ پروا نه درلوده او نه يې په کيسه کې و. د فقيرانو او ملنګانو خدمت او پالنه يې خپله دنده ګڼله او د

دوی پر دوستۍ او یارانه یې د ویاړ شمله نېغه گرځوله. څنگه یې چې تخلص او قلمي نوم ملنگیار و، نو په واقعیت سره د ملنگانو یار او دوست و. داسې ویل کېږي چې ده له ببر سرو ملنگانو او مجذوبانو سره ټینگه یارانه او دوستانه لرله، دا ځکه چې د جلال آباد د ښار ملنگان او مجذوبان به یې په خپل موټر کې خپل کور ته راوستل او دلته به یـې پاک صفا کړل، په خپله به یې ښه ماړه کړل، پاک کالي به یې ورته په تن کړل او بېرته به یې جلال آباد ښار ته ورسول. دا لاندې بیت یې له هغو سره د مینې او یارانې جوت ثبوت بلل کېدای شي:

نشته ملنگیاره بې غمي شاهي قصـرونو کې
ځــه چې ملگرتوب د ببــر سرو لېونو کـــوو
(۱۰: ۲۷)

ملنگیار په خپله د تصوف د طریقت په وجدي کړیو، بزمونو، مجلسونو کې په عملي توگه برخه اخیستله، نو د الله تعالی او د هغه پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په حقیقي مینه او عشق کې ډوب و. دی له نفسـي هوسونو او لالچـونو نه را وتی و، په زړه کې یې د یوې حقیقي مینې لېونۍ جذبه په څپو وه، خپل حقیقي محبوب به یې هره شېبه یاداوه او د هغه په ذکر یې شپې رڼولې. خپل تندی یې په سجدو سره لگاوه. د ستړیا او بې خوبۍ پرواگیر نه و، په دې سره به یې روحاني سکون او ارامښت ترلاسه کاوه. دغسې حقیقي مینې او عشق ته هغه څوک رسېدلی شي چې د هوس لالچونو او نفس پالنې پر ځای ربپالنې ته ستر ارزښت ورکوي او له ټولو مادي او دنیایي گټو دا گټه غوره او ارزښتمنه وبولي. د دې سره سره پر صوفیانو یوه نیوکه دا ده چې دوی د الله تعالی په مینه او عشق کې دومره ځانونه ډوب بولي چې آن سجدو، عبادتونو او ذکرونو ته اړتیا نه ویني، بلکې د «اسقاط اعمال» اصطلاح کاروي او پر دې باور دي چې له دوی کړنې او عملونه ساقط شوي. دا نیوکه ځینې خلک یو څه د تأمل وړ بولي، دا ځکه چې تصوف په خپله صوفیان د حال علم گڼي، درک او حس یې حال ته اړتیا لري، نه قال ته، یعنې د دې پر ځای چې صوفي د کړنو او اعمالو ساقط وگڼل شي، تر دې اندازې له الله تعالی سره اړیکې ټینگوي چې نه یې ذکر په شمېر کوي، نه یې په وړ او ځانگړي

وخت کې د سجدو حساب کېږي او نه د عباداتو په بدل کې کومه معامله کوي، دا ځکه هغوی دغه کړنې او اعمال خپل روح ګڼي. زموږ صوفي غزلبول شاعر د خپل محبوب د حقیقي مینې بیان په رکوع او سجدو کې لټوي، خو دا رکـوع او سجدې «د صوفیانو په اند په دواړو جهانونو کې د شهود انعام تر اغېزو لاندې د الهي وجود تجلیاتو مظهریت دی.»( ۲: ۱۷٦)

غواړم چې سر لوړی شم د مینې په ازمېښت کې دې
لـــوږ بیان د مینې پـه رکــــوع او سجـدو کـــوو
(۱۰: ۳۲)

یا دا چې:

لوړ معراج نیاز غـواړي ډېرې باریکۍ سره
بر له عقلـه لـوړ سفر ځکـه په سجدو کـوو
(۱۰: ۲۷)

په تصوف کې توحید یو لوړ مقام دی چې نور مقامونه پر همدې بنسټ ولاړ دي، دا ځکه د تصوف مشایخ د توحید ډېرې معناوې راوړي دي، خو موږ ته څرګنده ده چې توحید یووالی دی او پرته له الله تعالی نور هېڅ حقیقي وجود نه شته، یکې یو ذات دی، ځکه الله تعالی احد او صمد ذات دی، بې نیازه دی او بل هېڅ وجود د هغه په څېر نه دی، همدا ذات دی چې قیام، رکوع او سجده ورته کېږي چې د الله تعالی د خوښۍ او رضایت سبب ګرځي. د دې خبرو ستر ثبوت د اخلاص سورت دی. دا خو جوته شوه چې احد د یګانګۍ او یکتا صفت دی او دا صفت یوازې او یوازې الله تعالی ته ځانګړی دی. په اړه یې لولو:« الله تعالی یو دی، په صفاتو کې احد او په افعالو کې بې شریکه او بې سیاله دی، هیڅ شریک نه لري او په هر څه برلاسی دی.»(۷: ۴۴٦)

د عارفانو او صوفیانو په اند له حقیقي وحدت او وحدانیت نه مراد د حق تعالی وجود دی، نو صوفي عاشقان او مجذوبان د ټولو اشیاوو، کایناتو او مخلوقاتو وجود د شیانو په صورت کې د حق تعالی جلوې، تجلیات، وړانګینې او پلوشې ګڼي. زموږ غزلپال شاعر همدا فلسفه «د توحید څړیکه» تر سرلیک لاندې په دې ډول انځور کړې ده:

شاهد دی ستا په حسن جلوه گره
هر مـــــوجود د عاشقانو له نظره
د بې خوده عاشقانو په قالب کې
پټ پنهان یې په هستي کې له بشره
په کې راز د توحید نغښتی چې مې واورېد
د حبیب له خورو شونډو ستا خبره
هر موجود دې په وجود ښکاره ثبوت دی
انعکاس د حقیقت دې په کې غوره
یې په حسن منزه لـه رنګه شکلـــه
بې مثاله بـــې نظیر احــــد اکبـــره
تا د مینې بنیاد ایښی پلار او زوی کې
په هستی کې خپل بې پلاره بې پسـره
هـــغـه عقل چې بنیاد لــــري د مینې
په اخلاص به نه ځنډېږي تر محشـره
چې د عشق مدرسه لولـــــي ملنګیـاره!
بصیرت به یې همـدا وي لـــه هنـره
(۱۰: ٦٦)

په تصوفي کړیو او ناستو کې تصوفي نومونې او اصطلاحات خپلې خپلې ځانګړې معناوې لري، د دې تشریح او سپړل هم د بېلابېلو پوهنو او علومو مطالعه او لوی زړه غواړي، زموږ غزلبول شاعر هم په خپلو پنځونو کې دغسې درانه او کرکېچن اصطلاحات کارولي دي، د بېلګې په توګه د لاندې بیتونو نومونې او ګړنې په لنډېز سره راسپړو. لکه وجود، یعنې هغه ذات چې د هغه وجود د هغه د ذات متقضاوو او غوښتونکی وي او د ذرې هومره چا ته اړ نه دی، بلکې ټول ده ته اړ دي. همدا راز په تصوف کې ټول مظاهر او ممکنات په پټه او ښکاره کې وجود نه لري، بلکې په بهر کې یو وجود دی او هغه د حق ذات دی او ټول ظاهري او ښکارنده موجودات، کاینات او مخلوقات په حقیقت کې یوازې د وحدت بېل بېل شکلونه او رنګونه دي.

بل حقیقت یې د حق لارې د لیدو لارې چارې دي او د بنده صفتونه له منځه تلل او له یوې واسطې سره په هغې د حق د صفتونو غالب کېدل دي.

د تصوف په کړیو کې (الله تعالی) یا (لا اله الا الله) توحید دی. کله چې صوفي او سالک دا درانه او لوړ الفاظ ووایي، نو باید فکر یې په دې راټول وي چې هېڅ بل برحق رب او پالونکی ذات نه شته چې ازلي او ابدي وګڼل شي، بس یوازې الله تعالی دی چې د دې صفاتو وړ او لایق دی. احد، صمد او لا شریک دی، برحق دی او هر څه یې په قدرت، اختیار او واک دي. دلته موخه عبودیت دی، یعنې سالک به دا قصد، هوډ او اراده لري چې ټول مخلوقات فانـي دي او له «الاالله» نه یـې موخه دا ده چې یوازې او یوازې د الله تعالی ذات تلپاتې دی او بس.

وصل په تصوف کې دا ګڼل دي چې حقیقي محبوب او معشوق ته رسېدل دي او د هغه په جلوو کې ډوبېدل دي، یعنې له حقیقي محبوب نه به یوه شېبه نه بېلېږي او د هغه په یاد او ذکر به ژبه څرخوي. ژبه په ذکر، زړه په فکر او ځان په مشاهده اچول او بوختېدل دي، په ویښتیا کې له هغه سره، په خوب کې له هغه سره، په تګ او قدم وهلو کې له هغه سره، په وینا او کلام کې له هغه سره باید وصل وي. یار دوست، عزیز او ملګرتیا ده او په تصوف کې اهل الله سره د زړه له تله د دوستۍ، د یارۍ مینه او ملګرتیا کول او پالل دي. همدارنګه د الهي صفاتو تجلي او الهي نصرت او بریالیتوب ته هم وایي. بله د غیر خبره ده، دا ماسوایي او پرته له الله تعالی نه بل ته غیر وایي. دا ټول اصطلاحات په دې بیتونو کې وګورئ:

جوړ واحد وجود یمه راز د حقیقت لـره
لولم د وحدت سبق ته راته امــداد شې
لا کـــړه الـه واړه وایـــه الا الله په صدق
وصل به شې یار سره غیر نه که ازاد شې
(۱۰: ۲۴)

***

زخمي زړه ته مې تسکین د ژوندون بیا موند
پـــه الله او الله هـــو مـــې زړه قـــرار شـو
(۹: ۱۴۰)

په عرفان او تصوف کې له توحید نه وروسته دوه داسې نورې، یعنې د وحدت الوجود او وحدت الشهود پېچلې مسئلې او مفکورې مخې ته راځي. دا دواړه مفکورې د ځانګړو ډلو عرفاني او تصوفي تجربې او مشاهدې دي چې د ټولو خلکو په ذهنونو کې نه ځايېږي، خو کله چې صوفيان په وجود خبره کوي، نو حقيقي هستي يوه ګڼي چې ټول ممکنات په باطن کې وجود نه لري، په بهر کې وجود يو دی او هغه د حق ذات او وجود ګڼي. دا ټول ظاهري مخلوقات، موجودات او کاينات په حقيقت کې د وحدت بېلابېلې بڼې، رنګونه او تجليات بولي، يعنې وجوديان هر څه د الله تعالی د وجود برخې ګڼي او په هر څه کې يې برخه شته چې دا هر څه د خپلې مفکورې او لارې په وحدت الـوجود پـورې نښلوي. له دې مفکورې دا غـږ او نوا (ټول دی دی)، (ټول هغه دی) يا (يو ګڼل) په زمزمو راوځي. بل اړخ ته يې داسې ويل کېږي، هر څه چې ليدل کېږي يا څه په نظر راځي، هغه وحدت دی او په هر څه کې (يو) ښکاري چې له دې مفکورې او نظريې نه دا نغمه (ټول د ده نه دي)، (ټول د هغه نه دي) يا (يو ليدل) سُر او تال کړنګېږي، يعنې شهوديان د الله تعالی د نور او جلوو د ليدو دعوه ګير ښکاري او يا يې د نور د ليدو هڅه کوي. دا بيا په وحدت الشهود نظريې پورې اړه لري.که فکر وکړو، نو «د وجودي او شهودي صوفيانو تر منځ کشمکش، تشه لفظي جګړه ده، ځکه يو وجودي صوفي دا مشاهده کوي چې د هر شي وجود د خدای جل جلاله وجود دی او يو شهودي صوفي هم په هر څيز کې د هغه يوه ذات مشاهده کوي، نو ظاهره ده چې کوم وخت په هر څيز کې د يوه ذات مشاهده کېږي، نو په هغه وخت کې به د شيانو وجود محسوس او مشهود نه وي، صرف د ذات وجود به محسوس او مشهود وي.که چېرې د ذات له مشاهدې سره د هغه څيز مشاهده هم کېږي، نو بيا خو يو ذات مشهود نه شو او دا وحدت الشهود نه دی او چې د څيز مشاهده ولاړه شي، نو دغه فضل به توپير نه لري.»(۱۱: ۴۵)

دلته څرګنده شوه چې د مشاهدې او کتنې پر وخت د وجودي او شهودي توحيد کيفيتونه او رنګونه يو ډول په څېو ښکاري. په تصوف ځينې خلک يوه نيوکه دا هم کوي، که دا دواړه نظريې او مفکورې الله تعالی مونده يا له هغه جل جلاله سره حقيقي مينه وي، نو په اړه يې په قران کريم او حديثونو کې ولې څه څرګند څرکونه

نه ښکاري. بله دا خبره په ډاګــه کوي چې الله تعالی ته تر ټولو نزدې محبوب او خوږ بنده حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دی، نو څـرګنده ده چې الله تعالی ته د قرب او نږدېوالي لار هم د هغه صلی الله علیه وسلم د صورت او سیرت لاره ده.

زموږ صوفي غزلبول شاعر هم د وحدت الوجود مفکوره په خپلو غزلتورو او کلماتو کې سندریزه کړې. بل هر څه په نشت حسابوي او د لویې ځمکې او د پاس اسمان هر څه او هر څیز کې ورته (دی)، یعنې حقیقي محبوب او یار ښکاري او هم یې ويني، دلته د یو عملي او باکماله صوفي خبره ده چې هره ذره ورته هغه عین ښکاري، نو په دې ډول خپله تصوفي مفکوره او تجربه راجوتوي:

بل څه نشته بې له یاره هر څه دی دی
په دا لاندې لویه ځمکـه په اسمان کې
(۹: ۱۷۷)

په بل ځای کې همدا مفکوره او تجربه په یو بل ډول بیانوي او د خپل تصوفي زړه خبره راسپړي. د وحدانیت او وجودیت تارونه په تورو،کلمو او لفظونو کې چېړي:

تصور په کې نور مـه کـــړه اضافه همدومره بس دی
کـه اغــاز دی، کـه انجـام هم هغــه دی او هم دا
(۹: ۸۸)

په دې لاندې بیتونو کې بیا هر خلقتي شی د حق ذات له مخه ويني او د مخلوق ظاهري وجود او څېرې ورته پلمې ښکاري او ټول مخلوقات، کاینات او موجودات ورته د حق تعالی رڼـه ایینـه معلومېږي. یعنې دلته هم خپله وجودي تجربه او مفکوره په تصوفي لفظونو کې وړاندې کوي:

هر خلقت مې د خـالق پــه مـخ کتلو
د مخلوق څېره ظاهـــره که پلمـــه ده
د عالــــم له احترامــــه مې مـــوندلـې
ټول مخلوق راته د حق ښکلې ایینه ده
(۹: ۱۳٦)

په دې بل بیت کې یې همدغه تصوفي تجربه او مفکوره څومره په ښه انداز شاعرانه کړې چې هم لاهوتي او ملکوتي کیف لري او هم د حقیقي ښکلا راز

ثرگندوي او د دنيا په هرې ښکلا او رنگينۍ کې ورته يوه ښکلا او يوه رنگيني ښکاري، نو داسې وايي:

راز دې د ښکلا په کې ور نغښتی دی
ځه چې ښکلي ښکلي په دنيا گورم
(۹: ۱۷۸)

دا چې د صوفيانو په اند تصوف او طريقت حقيقت ته د رسېدو لار بلل شوې، نو په دې کې صوفيان د (زه او ته) له فکره را وځي او ټول د يو وجود او هستۍ جلوې گڼي او ځانونه په يوه وجود کې گډ بولي. دلته په اصل کې دا خبره ده چې دوی هره خوا مخ اړوي، خپل مخ به ويني، که ښکلی وي، که بدرنگ وي، هغه به خپل مخ گڼي، هر ډول سترگې چې ويني، هغه به د خپلو سترگو رڼايي او نور بولي، که مخلوق، کاينات، نباتات او يا کوم بل ژوندی شی ويني، نو هغه به هم خپل ځان ويني، هر اواز چې اوري، خپل اواز به يې گڼي، که د چا ستاينه کوي او يا که څوک غندي، که چا ته زيان رسوي او يا گټه هغه به داسې بولي، لکه دا هر څه چې له خپل ځان سره کوي، د بل ښېگڼه به خپله ښېگڼه بولي او د ذرې هومره بدي به نه کوي. دا ځکه د يو صوفي سندربول او غزلبول له خولې به حتمي داسې سندريزه ملکوتي ناره راوځي او خپله تصوفي مفکوره، تجربه او مشاهده به په ډاگه بيانوي او د هغې انځور به داسې کاږي:

د (زه) او (ته) له فکره وتی يمه
لکه د (يو) وجود په شان يمه زه
(۹: ۱۴۶)

په دې بل بيت کې همدا پورتنۍ مفکوره په خورا ښکلي انداز، په سندريز او لاهوتي زمزمو سره داسې وړاندې کوي او خپل عملي صوفيزم په ډاگه کوي:

په حقيقت کې سره يو وجود يو
چې که بل پردی هم، پردی به نه وي
(۹: ۵۶)

د صوفيانو او عارفانو په باور سره له حقيقي وحدت نه آر مراد او مقصود د حق هستي او وجود دی، يعنې واحد وجود، حقيقي احد او صمد ذات دی او د اشياوو

وجود کې د حق تجليات پړک وهي چې په مخلوقاتو او کايناتو کې يې جلوې ځلېږي. په همدې بنسټ زموږ صوفي شاعر بيا د وحدت او وحدانيت په ګرداني درسونو او سبقونو کې د الله تعالی مرستې او امداد ته اړ بريښي او له هغه جل جلاله نه په ډېرې عاجزۍ سره غوښتونکی دی او خپله اړمنتيا ورته بيانوي. په دې کې ډېر هيله من هم ښکاري.

جوړ واحد وجود يمه راز د حقيقت لره
لولم د وحدت سبق ته راته امــداد شې
(۱۰: ۲۵)

په تصوف کې صداقت او رښتينولي هغه دی چې له الله تعالی سره په پټه او ښکاره توګه وپالل شي. که څوک دا ځانګړنه ولري، ظاهري او باطني کړنې بايد يو ډول وي. له بله پلوه صداقت د کذبيت نقيض او تقابل دی چې دا په لويو ګناهونو کې راځي او ناروا بللی شي. په هره کړنه او چاره کې رښتينولي اړينه ده، خو په تصوفي او عرفاني کړيو کې صدق په وينا، عمل او ضمير کې د نږديوالي او قرب بنه خپلوي، ځکه دا په تصوف کې يو مقام دی. دا رښتينولي په حقيقي مينه ولاړه وي، ځکه په تصوف کې «صداقت او صفايي د محبوب ذکر دی او مينه بيا هيله، د دوست له اخبارو څخه لطف اخيستل، حسن اخلاق، رغبت او د ښه شي طلب دی.» (٦: ۱۴۲)

زموږ صوفي شاعر هم د حقيقي او صادقې مينې خوند، جذبه او ارزښت بيانوي، خو دا هر څه په رښتينولي کې ويني. دلته اصلي خوند، جذبه، کيف او ارزښت يې په وصلت کې ګڼي، ځکه چې د بېلتون او جدايي ځای په کې نه ښکاري او نه يې وينــي.

د صادقې مينې خوا تــه، نو بېلتون کله را تلای شي
دا معلـــومــه ده هـر چــا ته حـاجت نشته د وينا
(۹: ۸۸)

زموږ صوفي شاعر به دومره د حقيقي مينې او محبت په تاوجنو لمبو کې ډوب و چې څومره به په کــې سوځېده او وريتېده، نو هومره به يې د زړه دېوالونه لا پسې پخېدل او لا به يې هم محبتي سپرغۍ تازه کېدلې چې ښه به ګـرمېده، نو لا به تودېده او کله چې به ښه تود شو، نو بيا به صوفيانه وجد په ولولو او جذبو راوسته. دی د خپل محبتي اور سرې سرې سپرغۍ داسې الوځوي:

که هر څو د محبت په اور کې سوزم
نه مــړېږم، لا گـــرمېږم چې تـودېږم
(۹: ۱۴۵)

***

کـــر د محبت باندې مې وښــاخـه
څو به مې په سترگو او بڼو کې يې
مینـه مـــلنگیاره رښـــايي د ژوند
روڼ د محبت په پلـــوشو کې يې
(۹: ۹۷)

***

د خيال په پلـــوشو کې لټومـــه ستـا وصلت زه
ملنگ دې د درگاه يـــم غـــواړم مينه محبت زه
بېلتون منلی نه شم ستــا د مينې يـو گـړی هم
مــلنگ دې په رښتيا يمـــه د مينې معـــرفت زه
کچکول د ملنگۍ مې که د چا له سترگـو پټ دی
مـــلنگ يـم مـــلنگـيار يمه د مينې او الفت زه
(۱۰ : ۱۱)

ملنگيار په خپلو شعري او غزليزو پنځونو کې د کلاسيکو او صوفي شاعرانو په څېر د تصوف لپاره د حقيقي عشق شديدې جذبې او اورنې احساسات په تصوفي رنگ او خوند سره اهنگين او سندريز کړي دي، ځکه «صوفي د تصوف عاشق دی او له دې لارې غواړي چې د الله تعالی يار او دوست و اوسي، دلته يې ټوله هڅه دا وي چې د خپل حقيقي محبوب په وصال سره وتړل شي، يعنې زړه يې له حقيقي نوره راډک شي.» ( ۴: ۷)

زموږ صوفي شاعر د عشق او محبت کلمې ډېرې کارولي چې د حقيقت وړانگې او پلوشې لوني او د مجاز په پلوشو يې پرده غوړولې ښکاري، نو په دې ډول يې ترې مخ گرځولی. د ده په شاعرۍ کې دوه ببل سرليکونه د( عشق) په نوم راغلي چې دواړو کې د حقيقي عشق مقام، د عشق لار، د عشق تگ، د عشق جذبې، د عشق

بريا او د عشق ببلابېلې انځوريزې خوږې شېبې، خواږه کيفيتونه او پړاوونه په شاعرانه ولولو کې په مستۍ مستۍ څپې کړي او د لاهوتي زمزمو شور يې کړنګولی، موږ يې له دواړو نه يو څو بيتونه را اخلو:

پــــه دنيـا کې سمـــــه لار ده لار د عشق
ځکــــه زه کــــوم همېش اقــرار د عشق
همېشه به يې د مينې ثنـــاء خـــوان شې
کــــه دې وپېژنده خپل دلـــدار د عشق
عشق د يار به دې په کار شي په هر آن کې
ځان ته غوره کـــړه شيرين روزګار د عشق
عـــاشقي غــــوره صفت ګڼي عــاشق تـه
ملنګيار ځکـــــه کــــوي ګفــتار د عشق
(۱۰ : ۷)

***

دی اوچت تر هر مقام مقــام د عشق
ځکــه زه يم همېشه غــــلام د عشق
که مبدا د هر خلقت لره پـــام وکــړو
پـېـژنـــدلی شــو رســا رسام د عشق
ربــه! تا د عشق بنـياد دی اول ايښی
ته په خپلـه يې زمـــوږ امـــام د عشق
نور د خيال په سفـر هم ورختی نه شي
کوم قدم چې عاشق ږدي په بام د عشق
ملنګياره د عشق لاره چې پـرې نـږدې
همدردانــو تـه ليکـــه پيغـــام د عشق
(۱۰ : ۵۸)

ملنګيار د عشق د چټکو او تېزو جذبو په مرسته د حقيقي عاشق مقام لوړ ښيي او د ژوند پايښت يې د کلمې سره ورته ګڼي، يعنې هغه نه مري او اروا يې ژوندۍ بولي، نو خپلې شاعرانه ولولې او ملکوتي زمزمې داسې په شور سره کړنګوي:

جوړ د عشق لــه زوره د عــاشق اوچت مقــام شي
نه مري ژونـدی پايي که شهيد د عشق په تور شي
(۹ : ۱۴۹)

***

ســـتا د مينـې مــلنــګيــار کلــــه زړېـــږي
چې د عشق د اوچت شان په لوري درومي
(۱۰ : ۴۹)

دا خو هر څوک مني چې الله تعالی پر ټولو مخلوقاتو، موجوداتو او کايناتو برلاسی او واکمن دی او له ځانه پرته له بل سره د عشق تنوير او نور نه لري. دی بشپړ نورالانوار دی، ځکه چې تر هر څه ډېر نوراني او بشپړ واکوال دی او يوازې خپل لوړ کمال ته ګوري. الله تعالی ډېر نوراني او بشپړ ذات دی او هر څه يې په خپله ولکه او اختيار کې دي، هر ناشونی کار شونی کوي، نو ځکه د مخلوقاتو، کايناتو او موجوداتو د هستۍ او نېستۍ نظام په (قهر او مهر) ټينګ ولاړ دی. د مخلوقاتو، موجوداتو او کايناتو په درونيت او دننه چې د هستۍ او ژوند کومې درجې، مرتبې او وړانګې دي، هغه لږ او ډېر د الهي نور تنويرات بلل کېږي. همدلته ده چې صوفيان او عارفان د اسلامي حکم او بنسټ په تاييد الله تعالی يوه لا زواله هستي ګڼي، يعنې د هغه جل جلاله وحدانيت يو داسې ابدي او تلپاتې دی چې نه يې اغاز څرګند دی او نه يې د انجام او پای څه څرک لګي، بلکې يوه تلپاتې هستي ده. بله دا چې په مخلوقاتو، کايناتو او موجوداتو کې د هست او نېست بشپړ واک هم له الله تعالی سره دی او هر څه د هغه جل جلاله له شان، شوکت او عظمت سره ښايي. استاد ملنګيار همدا انځور او تجربه په ايجادي او تصوفي رنګونو کې بيانوي. داسې وجداني، تصوفي او ابداعي شعر په تصوفي کړيو کې يو تلپاتې روح خپلوي او د ژوندون په لار د تګ راتګ مزلونه وهي:

هست دې له نېستۍ پېدا کړ، نېست دې له هستي څخه
دا پــه امــر کېږي ستا بـې لـــــه کـــوم سختـي څخه
(۱۰ : ۴۱)

د انسان د هستونې او د خلقت د پړاوونو لړۍ له يوه نطفوي پړاو نه راپيلېږي چې د انسان جوړښت ترې راتېرېږي. يعنې له نېست نه هست کېږي، دا پړاوونه د يو داسې برلاسي او واکمن رب او پالونکي په اختيار کې دي چې تر ټولو ښه پيدا کوونکی او کارجوړوونکی دی چې هره شېبه او لحظه د هست او نېست واک ورسره دی او يوازې همدی د ستاينې او عبادت وړ او لايق دی. دلته اصل خبره د هست او نېست په تصوفي نومونو کې نغښتې. همدې انساني خلقت ته زموږ صوفي شاعر په صوفيانه انداز داسې اشاره کوي:

د نطـفـې قطـره يسـتــر د مـور پــه نـس کې
هست او نېست يې په قدرت کې هر زمان دی
(۹ : ٦٥)

په تصوفي نومونو او ګړنو کې بوی يوه ګړنه ده چې د زړه خبرتيا او ويښونه ده، خو چې له نفسـي انديښنو نه پاک او سوتره وي، يعنې «د زړه خبرتيا چې نفساني تفرقه او پرېشاني ور رسېدلې نه وي.»( ۱۱: ۵۱)

دا داسې بوی وي چې له حضور عالم سره اړيکه پيدا کوي، يعنې «د زړه له عالم حضور سره متعلق کېدل، کله له دې لفظ څخه اګاهي او خبرتيا ته هم کنايه کېږي.» (٦: ۸۴)

دلته اصل موخه دا ده چې د سالک او مريد په زړه کې د ذات او صفاتو ياد د بلې سپرغۍ په څېر هر وخت او هره شېبه تاند وي چې د زړه له عالم حضور سره اړوندېږي. د حقيقي مينې او محبت راز نه پټېږي، دا راز يوه ورځ په ډاګه کېږي، لکه د بوی او وږمو غوندې خورېږي او دماغونه تخنوي او سم يې تسخيروي، دا په کايناتو کې د محبتي جلوو وږميز بوی دی چې هر څوک يې د خپلې پوهې او عقل په کچه تر ټولو ښه حس کولی شي. زموږ صوفي شاعر هم د خپلې حقيقي مينې راز پټ کړی نه دی او محبت يې د تورو لونګو د بوی په څېر دماغونه ويښوي او معطره کوي يې. که څه هم دا خوږه سندريزه خبره د محبوبې په شونډو را څرخوي او د لونګو خوږ بوی يې له ټټــره راخېژي.

راز د خپلې مينې پټوی نــه شم
بوی د محبت لـرم لـونګــه يــم
(۱۰ : ۳۰)

په تصوف کې ساقي، جام او می بېل بېل اصطلاحات دي او ټول په مرید پورې اړوندېږي، دا هر یو په خپل ځای کې تصوفي معناوې ښندي، لکه «ساقي مطلق محبوب او د طریقت پیر دی چې خپل فیوضات او د عشق شراب خپلو عاشقانو ته رسوي. جام بیا د صوفي زړه دی چې عالم هستي کې ډوب وي او می د ذوق شېبې دي چې د اغېزمنتیا له مخې د صوفي په زړه کې جذبې پیدا کوي او هغه مستوي.»(۳: ۱۰۱-۱۰۶)

کله چې مرید باندې دغسې شېبې غالبې شي او هغه په مستۍ کې ډوب شي، نو د حقیقي عشق جذبې، د مینې اورنۍ لمبې، د ذوق تسکینیت، د معرفت وړانګې د حقیقي محبوب په جلوو او رڼاګانو سره یو ناڅاپي د سالک او صوفي په زړه خپرې شي او هغه ښه په منګولو کې ټینګ ونیسي، نو زړه یې د وجد د مستۍ او ولولو په شور ورګډ شي او دا یوه داسې شېبه ده چې د صوفي او سالک زړه د حقیقت په انوارو کې ډوب وي او یو ډول مستي په کې په څپو وي چې په خمارونو یې زنګوي. دا کار هغه ساغر او ساقي (پیر او لارښود) کوي چې پر توحیدي زمزمو او نشو سره د سالکانو او مریدانو زړونه په وجدي مستۍ او جذبو راولي او د حقیقت په مقام یې وجدانیت تسکین او ډاډمنوي او هم یې سترګې د نور په رڼایي ویاړمنې کوي. په دې ډول د حقیقت په نشه کې ډوبېږي او د لوړ مقام درجې ته رسي. په عرفاني نومونو او ګړنو کې شراب او جام له الله تعالی سره د مینې او معرفت د انوارو مظاهر دي. د استاد ملنګیار لاندې بیت د همدغسې شېبو یو ښه انځور بلل کېدای شي:

جـام ډک کـړه د ساقي لـه مستو میو
نشه د حقیقت دې خپل مقام ته لوړوي
(۱۰: ۳۸)

ملنګیار د حقیقت په انوارو کې دومره ډوب ښکارېده چې د حقیقي مینې او معرفت شرابي پیالې یې په سر اړولې او په کې نشه نشه او خمار خمار زنګېده او په دې کړنو کې یې د رښتینو تجلیاتو سترګې برېښولي دي، خو د کونجونو او ګوښې زاهدانو، شیخانو او پیرانو د ریایي تسبو اړول او را اړول یې یوازې د هغو د ګناهونو شمېر ګڼه، نو ځکه یې پر هغـو ناره کړې او د ساقي (پیـر، مرشد او لارښود) د لاسنیوي بلنه په دې ډول ورکوي:

ځئ چې د ساقي د لاس پيالې په سر را واړوو
څـــو پـورې به شمـار د ګناهونو په تسبو کوو
(۱۰: ۲٦)

نفس د تصوف يوه اړينه موضوع او اړخ دی، آن داسې ويل شوي چې نفس د تصوف د دروازې کيلي ده چې صوفي او سالک د هغه د تزکيې او رڼايي لپاره هڅې کوي، يعنې «نفس د انسان په ذات يا په ځان اطلاق کېږي او د روح، وينې، هوا او غوښتنو او د رغبت او هيلو په معناګانو سره راغلی او د يو شي په معنا هم کارول شوی... نفس لپاره صوفي سالک د هغه د تزکيې او روښانه کولو لپاره هڅې کوي.»(۱۲: ۲۴۹)

د نفس تزکيه د عارفانو او سالکانو يوه اړينه لار ده، که تزکيه نه شي، نو د دوی ګړنګ ته د غورځېدو خطر زيات دی، نو نفس هغه روحي لطيفه ده چې الله تعالی يې د زړه پر اور برلاسی کوي، تر څو د هغه سپرغۍ مړې کړي، يا په وجود کې هغه امانتـي لطيفه ده چې ناوړه اخلاق هلته ځای نيسي چې بيا حيواني خويونه خپلوي، دا بيا اماره نفس دی. که صوفي او سالک اماره نفس ته په بشپړه توګه شا واړوله، نو د وصلت او سلوک د کمال او مقام يوه پوړۍ به يې را لنډه کړې وي. بله دا چې له درد او عشق، ذوق او شوق، خواخوږۍ او زړه سوي، ذکر او فکر پـرته له بل کسب او کار نه مخ اړول دي، يعنې په رياضت کې به يوازې عبادتونه او فکرونه پالي، صوفي به همدې کړنو ته متې رانغاړي.

په سلوک کې چې د نفس له تخته ټيټ شي
د دنيا تـــر پـــــاچـــاهۍ لـــوړه رتبـــه ده
ملامـت د نفس له شـره سړی خـــلاص کړي
اعتراض کې د سلـــــوک خښته پـــخـــه ده
(۹: ۱۳٦)

که د استاد محمد اياز ملنګيار ټوله شاعـري وڅېـرو او وشـنو، نو تصوفي اصطلاحات، رمزونه، ګړنې او نومونې يـې په خورا فني انداز سره شاعرانه او سندريزې کړې دي. په دې نومونو او ګړنو کې يې ځينې عمومي او ځينې يې بيا تر يوې ځانګړې طريقې، لار او کړۍ پورې خاص دي، خو ځينې نورې يې بيا د خپل عملي صوفيتوب، د خپلو تصوفي تجربو او ليدلوري په موخه پنځولي دي چې

تصوفي او عرفاني سمبوليک اړخونه هم پالي، يعنې د ده په شاعرۍ کې دا ګړنې او نومونې په سمبوليکه بڼه انځور شوي دي، لکه معرفت، درويش، ملنګ، آيينه، ذوق، شوق، جمال، جلال، ذات، ساقي، مې، شراب، مستي، وصال، وصلت، بېلتون، نور، زهد، تقوا، حجاب، پرده، غافل، جام، توکل، احد، مراد، نفس، هوا، ازل، ګدا، زلفې، رخسار، زولنې، وحدت، عقل، درياب، ممبر، عقيده، نغمه، حق، جذبه، صداقت، مدد، تسلا، تکيه، درمان، نياو، سخاوت، حيا، فيض، صداقت، تصديق، صبر، حسن، رسۍ او دې ته ورته نور تصوفي رنګونه يې پرېې پاشلي دي، خو دا هره ګړنه او نومونه يې په خورا ساده، سليسه او پسته ژبه سندريزه او شاعرانه کړې چې هم ډېر خوند لري او هم ډېره ساده ګي لري.

په پای کې دا يادونه اړينه بولم چې زموږ په ټولنه کې ځينې خلک پر صوفيانو او عارفانو دا نيوکه کوي چې دوی په ګوښيتوب کې تقوا، زهد او رياضتونو ته ترجيح او غوره والی ورکوي، له ټولنيزو کړو وړو، ناستو پاستو او د جهادي مبارزې نه لاس په سر کېږي او خپل سرونه د جهاد په تودو سنګرونو کې د نذرانې په مورچل نه شي کېښودی او نه سر شيندلی شي په اوربل د جانان. د دې کار ستر لامل دا ګڼي چې دوی بې دينه هم د انسانانو په توګه د الله تعالی د انوارو او تجلياتو مُظهر بولي او دا بايد ونه وژل شي، خو صوفيان بيا خپل دلايل لري.

اهل تصوف اړ دي چې له ناوړه کړنو او له بديو ډکې ټولنې نه مخ ګرځول غوره دي او په ګوښه کې ځان، زړه، نفس، روح او ضمير پاک او سوتره کېږي، کله چې دا ځيزونه پاک او سوتره شي، نو بيا د ټولنې ښېګڼو او پاکۍ ته متې را بډ وهي. دې ته په کتو سره زموږ صوفي شاعر بيا داسې نه و، ځکه هغه د سرو ښکېلاکي پوځونو پر وړاندې په عملي توګه د جهاد ډګر ته را دانګلي و او دا يې نه يوازې پر ځان، بلکې پر هر افغان يې فرض عين باله، افغان ولس، خو جهاد کې مېړانه وکړه، دا چې د جهاد تر ځپر او قيادت لاندې له هېوادوالو، ملي ارزښتونو او وياړونو سره څه ډول لوبې وشوې، دا نور اړخونه او بابونه ګڼلی شي او بس. همدا راز استاد ملنګيار د هغو صوفيانو له ډلې نه و چې ببخي يې له ټولنې او ټولنيزو چارو نه مخ اړولی وي، دی يوازې د طريقت او صوفيتوب په کړيو او بزمونو کې بوخت نه و او نه چېرته په ګوښه کې په قرب، ذکر او رياضت لګيا و، بلکې له خپل صوفيزم سره سره يو ټولنيز،

د دندې پابند او جهادي ستړه وه. په ورځچارو بوخت و. له خپلوانو، دوستانو او يارانو سره يې ښې اړيکې پاللې او راشه درشه کې هم ډېر مېړنی او تکړه و.

## پایله

د ملنګيار په شاعرۍ کې د تصوفي افکارو او ملکوتي زمزمو جوت اړخونه او جلوې له پيله تر پايه ترسترګو کېږي، ځکه دی په تصوفي کړيو، بزمونو او مجلسونو کې په عملي صوفي نومور او پېژندوی و. ده په خپلو لاهوتي شعرونو کې تصوف له دوديز رنګ سره سره په نوښتي بڼه او ښکلي انداز سره هم ښه پاللی دی. زما د مطالعې له مخې د پښتو په معاصر او جهادي ادب کې لومړنی شاعر دی چې په خپله خوږه شاعرۍ کې تصوفي مسلک په پرله پسې او مسلسل توګه په درانه کاڼي تللی او پاللی دی، دی يو داسې مسلکي او عملي صوفي و چې د خپلو پيرانو او مرشدانو کړنلار او مسلک يې تر پايه څارلی او په خپلې خوږې شاعرۍ کې يې ځای ورکړی. ده په خپلې تصوفي شاعرۍ کې له ربپالنې سره سره د فکر، ذکر او رياضت راز او نياز جلوې ځلولې دي.

همداسې يې تصوفي اصطلاحات، ګړنې، رمزونه او نومونې په ښه انداز سره پېيلي دي. په دې کې ځينې عمومي او ځينې يې بيا تر يوې ځانګړې طريقې، لارې او کړۍ پورې ځانګړې دي، خو ځينې نورې يې بيا د خپل عملي صوفيزم، د خپلو تصوفي تجربو او ليدلوري په موخه پنځولې دي چې تصوفي او عرفاني سمبوليک اړخونه هم لري.

## مأخذونه


۱. اغېز، عبيدالله. د ملکوتي نغمو شهيد، د شهيد استاد محمد ايازملنګيار ياد (د مقالو ټولګه) ، سمون خپرندويه ټولنه: کابل، ۱۴۰۲ل.

۲. اغېز، عبيدالله. د ارزاني خويشکي د منتخبو شعرونو شرحه، (د پوهنملۍ اثر)، ذکريا ګرافيکس: جلال آباد، ۱۴۰۱ل.

۳. برزين مهر، عبدالغني. سماع و پيشهء آن در تصوف، انجمن نشراتي دانش: پشاور، ۱۳۸۳ل.

۴. بنو وال، محمد افضل. مختصری از ادبيات عرفانی، دانش کتابخانه: پشاور، ۱۳۷۷ل.

۵. شریعت یار، الحاج محمد اسماعیل. تصوفي لاربنود، (پښتو ژباړه)، بُست فرهنګي ټولنه: هلمند، ۱۳۸۹ل.
٦. قادریه، فقیرمحمد عباس. تصوف، (د حکمت الله منیب پښتو ژباړه او سمونه)، صدیقي خپرندویه ټولنه: کندهار، ۱۳۹۳ل.
۷. القشیري، امام ابوالقاسم عبدالکریم. تصوف کا انسایيکلوپيډیا، (د محمد عبدالنصیر العلوي، اردو ژباړه)، مکتبه رحمانیه: لاهور بازار، ۲۰۰۴م.
۸. قیوم، عبدالقیوم. سیری در ادبیات عرفانی، انتشارات سعید: کابل، ۱۳۹۱ل.
۹. ملنګیار، محمدایاز. د محمدایاز ملنګیار کلیات، (د عبیدالله اغېز سریزه او زیار)، سمون خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۴۰۲ل.
۱۰. ملنګیار، محمدایاز. زه دې د مینې د کمال نښه یم. (شعري ټولګه)، سلام مطبعه: جلال آباد، ۱۳۸۰ل.
۱۱. ناګار، فضل ولي. عرفان او د پښتو ادب په لرغونې دوره کې یې څرکونه، ناګار خپرندویه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۸۸ل.
۱۲. نقشبندي، شیخ امین علاءالدین. د تصوف حقیقت او د نقشبندیه طریقې یو بحث، (د پوهاند بشیر دودیال پښتو ژباړه)، میوند خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۸۹ل.

څېړندوی فریدالله فرحان

# د پشه‌يي ژبې د الفباء بهير ته لنډه تحليلي کتنه

# Brief analytical overview of the alphabetic process of the Pashai language

Assistant prof. Faridullah Farhan

## Abstract

In this study, the title is (a brief analytical overview of the alphabetic process of the Pashai language) , (Alphabets of Pashai language), (Grammatical proximity of Pashto and Pashai), (Collection of essays of Ustad Ghamjan), (Pashais alphabetic book (Pashais Alepba Kitabi) Ministry of Education, Pashai Syllabus ۱-٦) and (Dardistan Magazine) are the works that have been reviewed and analyzed in this article. These works have been written about the alphabets of the Pashai language or related articles have been published. In these books , the letters (graphemes) of Pashai sounds have been brought, most of which have less/more sounds of the Pashai language and some such as: (ê,ṣ,ŋ,ay,ẓ,əy,ə) are the sounds that are not shown in any composition. The use of three types of graphemes for a particular sound (Ľ, ɬ ,ʎ) in Pashai language has created problems ,the characteristics and shortcomings of these graphemes have been clarified through analysis and reasoning, and in the end Pashai languages complete phonetic alphabets are shown in a table with lexical examples.

## لنډیز

په دې څېړنه کې چې سرلیک یې (د پشه‌یي ژبې د الفباء بهیر ته لنډه تحلیلي کتنه) دی. (الفباءی زبان پشه‌يي)، (پښتو او پشه‌يي ګرامري نژدېوالی)، (د استاد غمجن د مقالو ټولګه)، (پشیس الېپبا کیتبي)، (پوهنې وزرات، پشه‌يي نصاب ۱-۶) او د (داردستان مجله) هغه آثار دي، چې تر کتنې او تحلیل لاندې نیول شوي دي؛ دا آثار د پشه‌يي ژبې د الفباء په اړه لیکل شوي او یا د پشه‌يي ژبې د الفباء اړوندې لیکنې په کې خپرې شوې دي. په دې کتابونو کې د پشه‌يي ژبې غږونه، توري (ګرافیمونه) راوړل شوي، چې په زیاترو کې د پشه‌يي ژبې غږونه لږ/ زیات او ځینې لکه: (منځواله اوږده(ې/ ê)، ښ/ ṣ، ڼ/ŋ، ئ / ay، ی/yə، ږ/ẓ، ۀ/ə) هغه غږونه دي، چې په هېڅ اثر کې نه دي ښودل شوي. د پشه‌يي ژبې د یوه ځانګړي غږ (لهـ، لّ، ڷهـ) لپاره د درې ډوله ګرافیمونو کارولو ستونزې رامنځته کړې دي، چې په تحلیلي او مدلل ډول د دغو ګرافیمونو ځانګړتیاوې او نیمګړتیاوې روښانه شوې دي او په پای کې د پشه‌يي ژبې د بشپړو غږونو الفباء په یوه پښتلیک کې د لغوي مثالونو په راوړلو سره ښودل شوي دي.

## سریزه

افغانستان د ګڼو قومونو کور دی، هر قوم ځانته ژبه او ژبني قواعد لري، په دې ډله کې یو هم پشه‌يي قوم او ژبه ده، چې د اریک ژبو په کورنۍ کې په (داردیک) مرکزي څانګې پورې اړه لري. د لیک نه تعمیم له امله دا ژبه تل د وینا ژبه پاتې شوې ده. د لیک د تعمیم لپاره لومړی لازم او ضروري کار دا دی، چې د یوې ژبې د غږونو لپاره ګرافیمونه وټاکل شي. د نوې ژبپوهنې په مطالعاتو کې د فونیم (غږ) اهمیت خورا مهم بلل شوی دی، ځکه چې غږونه په واقعیت کې د ژبې او خبرو کولو اساسي مواد او عناصر دي، له همدې امله د غږپوهنې څانګه په ژبپوهنه کې تر ډېره مهمه ګڼل کېږي. استاد نور محمد غمجن له لومړنیو قلموالو څخه دی، چې د پشه‌يي ژبې د غږونو لپاره یې ګرافیمونه وټاکل، ورپسې د افغانستان د علوموااکاډمۍ پوهانو د پشه‌يي ژبې لپاره الفباء ترتیب کړه، بیا د سرف (Serve) مؤسسې له خوا د دره نور پروژه، د پوهنې وزارت پشه‌يي نصاب او په داردستان پشه‌يي مجله کې د

پښه‌يي ژبې د غږونو لپاره گرافيمونه رامنځته او خپاره کړل. دا هغه آثار دي چې د پښه‌يي ژبې د الفباء په اړه ليکل شوي يا د پښه‌يي ژبې د الفباء په اړه ليکنې په کې خپرې شوې دي. په دې آثارو کې د گرافيمونو کمښت/ډېرښت او ځينې گرافيمونه نه ښودل، د دې څېړنې محور جوړوي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د دې څېړنې اهميت په دې کې دی چې تر اوسه پورې د (پښه‌يي ژبې د الفباء بهير ته لنډه تحليلي کتنه) تر سرليک لاندې کومه ليکنه نه ده شوې، نو همدا لامل دی چې د پښه‌يي ژبې د الفباء (غږونو) لپاره په ليکل شوو آثارو کې واحد نظر نه ليدل کېږي. په دې ليکنه کې پر هغو ټولو نيمگړتياوو (د گرافيمونو کموالی/ډېروالی/ځينې غږونه نه دي ښودل شوي) باندې بحث کېږي. د غږونو هغه گرافيمونه چې لوستونکي يې له ستونزو او التباس سره مخامخ کړي څېړل شوي.

## د څېړنې موخه

هره څېړنه يوې موخې ته د رسېدو لپاره ترسره کېږي. د پښه‌يي ژبې په مختلفو آثارو کې موجوده الفبايي ستونزې په گوته کوي او د حل لپاره وړانديزونه کوي. ددې څېړنې موخه ده، چې د يو معياري ليکدود اساس به کېښودل شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ ايا د پښه‌يي ژبې د ټولو غږونو لپاره گرافيمونه ټاکل شوي دي؟

۲ـ ايا پښه‌يي ژبه خاص غږونه لري؟

۳ـ په ليکل شوو آثارو کې د پښه‌يي ژبې د غږونو لپاره له واحدو گرافيمونو څخه استفاده شوې؟

۴ـ ايا د پښه‌يي ژبې داسې غږونه شته، چې تراوسه پورې گرافيم ورته نه وي جوړ شوی؟

## د څېړنې ميتود

د دې څېړنې ميتود تشريحي- تحليلي دی او ډول يې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

پشه‌يي ژبه تر ډېره وخته پورې يوازې د وينا ژبه وه او د دې ژبې الفباءيي ليکدود ته په وروستيو پنځو لسيزو کې د ليکوالانو پام شو او د غږونو لپاره يې ورته گرافيمونه رامنځته کړل، دا د هغه وخت ستر او ارزښتمن کار وو، ځکه چې د يوې ژبې د ټولو غږونو تشخيص او گرافيم ورته ټاکل ډېر مهم کار دی، او په دې برخه کې ترسره شوي کارونه د ستاينې وړ دي. دا چې د ځينو غږونو لپاره معياري گرافيمونه نه دي جوړ شوي او يا ځينې گرافيمونه اضافه /کم او د ځينو غږونه نه دي ذکر شوي، دا هغه ستونزه ده چې د ليکوالانو په آثارو کې ليدل کېږي. د موضوع د ښې روښانتيا لپاره لازمه ده چې ليکل شوي آثار په ترتيب سره معرفي شي، او هغه څه په گوته شي، چې لوستونکي يې له ستونزو او التباس سره مخامخ کړي دي. د پشه‌يي الفباء په برخه کې ليکل شوي آثار په ترتيب سره  په لاندې ډول دي:

**الف: (الفباءی زبان پشه‌يي) نومی اثر چې، ليکوالان يې:** دکتور عبدالحکيم هلالي، محمدزمان کلماني او سيداعظم الينای دي. دا کتاب د افغانستان د علومو اکاډمۍ لخوا په ۱۳٦٧ هـ ش کال کې (۲۰۰۰) ټوکه چاپ شو. په دې کتاب کې د پشه‌يي ژبې گرافيمونه په لاندې ډول ښودل شوي دي:

[آ ا أ ب پ ت ټ ث ج چ ځ څ ح خ د ډ ذ ر ړ ز ژ س ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک گ ل  لهـ م ن ڼ و هـ ء ی ي ې وو [وّ] يی [يّ] ] (۳: ۱مخ)

په دې اثر کې د پشه‌يي ژبې د گرافيمونو شمېر ۴۷ ښودل شوی دی. په دې کې (ث څ ځ ح ذ ص ض ط ظ ع ف ق) عربي او (ځ څ ښ) د پښتو دخيل توري په احتياطي توگه راوړل شوي، چې ځينې سياسي او اجتماعي اصطلاحات چې د افغانستان په ملي ترمينالوژۍ کې دود دي هماغسي وليکل شي. لکه: پوهنځی، څارندوی، پښتون (۱۷: ۱-۲۲مخ)

د پشه‌يي ژبې د الفباء د جوړولو په برخه کې د علومو اکاډمۍ هڅې د ستايلو وړ دي. يوه خبره چې پکې تر سترگو کېږي دا ده چې د ځينو غږونو لپاره ترکيبي ډوله گرافيمونه (لهـ، وو، يی)  ټاکلي دي، د اوسنيو  ژبپوهانو هڅه دا ده چې د هر غږ لپاره يو گرافيم وټاکي. د (ځ، څ، ښ) غږونه په احتياطي ډول چې د کومو سياسي او اجتماعي اصطلاحاتو لپاره د راوړلو ادعا شوې ده، هغه هم تر پوښتنې لاندې ده،

ځکه دا غږونه د پشه‌يي ژبې په خپلو غږونو کې راځي، چې د پشه‌يي ژبې ويونکي يې په ورځني ژوند کې د پوهاوي او راپوهاوي لپاره کاروي. (ځ، ځ، ښ) په پشه‌يي ژبه کې لکه: ځرکاڼ/curkāṇ (د بوډۍ ټال، سور او شين)، ځمنيکsumanik (وروځې)، ځنځي/cinĵi (نږور) (۹ :۱٦۷۸-۱٦٦) ښوَئ/ṣuay (خوله، عرق).

**ب: د پوهندوی نور محمد غمجن تميل د مقالو ټولګه:** دغه اثر ارواښاد نور محمد غمجن تميل ليکلی دی چې د دوکتور هدايت الله تميل په زيار په ۱۴۰۰هـ ش کال په کابل کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د بيهقي کتاب خپرولو رياست لخوا چاپ شوی دی. د دغه اثر په ۹۳ مخ کې د (د پشه‌يي ژبې بشپړه الفباء) په نامه يو مضمون خپور شوی دی (چې د مقالې ليکلو نېټه يې نه ده ځرګنده). په دې مقاله کې د پشه‌يي ژبې د بشپړې الفباء يو جدول خپور شوی، چې په دې جدول کې د پشه‌يي ژبې د غږونو لپاره لاندې ګرافيمونه ښودل شوي دي:

[آ ا ب پ ت ټ ث ج چ ځ څ ح خ د ډ ذ ر ړ ز ژ ږ س ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ نګ ل لهـ م ن ڼ و هـ ی] (۹۹: ۸مخ)

ددې مقالې په(۹٦) مخ کې داسې راغلي(( د پشه‌يي ژبې هغه توري چې په (پښتو، دری) او نورو شرقي يا غربي آريايي ژبو کې شته، لکه: ( پ ټ چ څ ډ ړ ږ ښ ګ ڼ)) د معلومات له مخې ځرګنديږي چې په درې ژبه کې (پ،چ،ګ) غږونه ليدل کيږي نور غږونه په دري ژبه کې نشته. د (ږ،ښ) د پشه‌يي ژبې د کاپيسا اله سای په لهجه کې د پښتو ژبې مرکزي لهجې په څير او د اوزبين په لهجه کې د پښتو ژبې کندهارۍ لهجې په تلفظ کيږي. په دې اثر کې نوموړي غږونو اړوند کوم پشه‌يي بېلګه نه دی وړاندې شوې او نه هم ورباندې بحث کړې. د عربي دخيلو فونيمونو کې (ث ح ذ ص ض ط ظ ع ف ق) پېژندنه شوې او بحث پرې شوی دی.

په پورته اثر کې د پشه‌يي ژبې الفباء (۴۳) ګرافيمونه پېژندل شوي دي، په دې کې زما په نظر د ګرافيمونو شمېر لږ ښکاري لکه، (أ/ä، ي/i، ې/e، ء/a) چې دا غږونه په پشه‌يي ژبه کې ډېر مروج غږونه دي او په ورځني ژوند کې ورڅخه استفاده کيږي، چې په ځينو نورو آثارو او ليکنو کې هم ليدل کيږي، او په لاندې ډول دي:

| شمېره | معمول توري | د الفباء فونيميکي بڼه | په کلمه کې د توري د کارولو ځای | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | د کلمې په پيل کې | | د کلمې په منځ کې | | د کلمې پای کې | |
| | | | ببلګه له فونيميک سره | معنا | ببلګه له فونيميک سره | معنا | ببلګه له فونيميک سره | معنا |
| ۱ | أ | ä | أکن äkın | خوړلی و | تيأنtyän | وي | ډيأ dyä | ډزې |
| ۲ | ي | i | ايم im | واوره | چيرčir | ناوخت | ابلي abli | وربځ |
| ۳ | ې | e | ۰ | ۰ | ګېنgen | ملا | پې pe | غوښه |
| ۴ | ء | a | ۰ | ۰ | رئيسrais | رئيس | امضاء imza | امضاء |

په دې مقاله کې داسې راغلي چې  د پشه‌يي ژبې ځانګړي توري (غږونه) چې په نورو ژبو کې نشته دا دي (لهـ، نګ). (۹۵: ۸-۹٦ مخ)

دلته د يوه غږ لپاره د دوو ګرافيمونو له ترکيب څخه (لهـ، نګ) ګرافيمونه جوړ شوي دي. معاصرو ژبپوهان په دې هڅه کې دي چې د يوه غږ لپاره يو ګرافيم ولري. بله نوې خبره چې په کې ليدل کېږي، هغه دا چې د پشه‌يي ژبې (لهـ) سربېره يو بل ځانګړی غږ (نګ) ښودل شوی دی، چې (بړينګ/ لوخې، ګوشينګ/ کور، شينګ/ ښکر يې ببلګې دي.

دلته دا غږ د پشه‌يي ژبې ځانګړی غږ ښودل شوی، په داسې حال کې چې دا غږ پر پشه‌يي ژبې سربېره په نورو ژبو کې هم ليدل کېږي. د مثال په توګه:

په پښتو ژبه کې: ملنګ، ګړنګ، غورځنګ، جنګ، لونګ، ننګ، انګور او نور.. .

په انګليسي ژبه کې: ... king,working,talking,going

په شغناني ژبه کې: پلأنګ، چلأنګ.. ..

په ګوَري ژبه کې: لوشونګ. .. ..

دلته دا خبره هم جوتېږي چې دا غږ په نورو ژبو کې شته، او دا هم څرګندېږي چې دا يو ځانګړی غږ نه، بلکې د دوو غږونو (ن، ګ) يو ځای راتګ دی، چې د (نګ) په صورت کې ځانګړی غږ نه جوړوي. (د پشه‌يي ژبې د يو بل ځانګړي غږ (لهـ) په اړه به وروسته بحث وشي).

**ج: د پښتو او  پشه‌يي ژبې ګرامري نږدېوالی:** دغه اثر د اروانباد نور محمد غمجن اثر دی چې پر کال ۱۳۵۸ ل. کال په کابل کې د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست لخوا چاپ شوی دی. دا اثر د پښتو او

پشه‌يي ژبې پر گرامري اړيکو باندې ليکل شوی. د کتاب په (۱۷) مخ کې د (پښتو او پشه‌يي ژبو عمومي فونيمونو (غږونه) تر سرليک لاندې د پشه‌يي ژبې فونيمونه ښودل شوي، چې په لاندې ډول دي:
[ا ب پ ت ټ ج ځ خ څ چ س ش ښ ښ غ ک گ ل م ن ڼ د ډ ر ز ږ ړ ژ هـ ی نگ لهـ] (۱۷: ۹مخ)

دا لس (ث ح ذ ص ض ط ظ غ ف ق) توري د عربي ژبې په دخيلو تورو کې راوړل شوي دي. د ليکوال په وينا! د پښتو او پشه‌يي ژبې خاص غږونه دا دي: [ټ څ ځ ږ ړ ښ ڼ]. (۱۷: ۹مخ)

په دې اثر کې هم (أ ی ې ي ء) چې په پشه‌يي ژبه کې شته غږونه دي خو تر دې سرليک لاندې نه دي راوړل شوي. (د دې غږونو مثالونه مخکې وړاندې شول).

د پشه‌يي ژبې په خاصو غږونو کې (ړ) ذکر شوی، خو په پشه‌يي ژبه کې يې کوم لغوي مثال نه دی وړاندې شوی، په داسي حال کې چې دا د پشه‌يي ژبې خپل غږ دی لکه: آړو āẓū (د قلبې غوايی).

د همدې اثر په (۳۰-۳۱) مخونو کې د پشه‌يي ژبې بشپړه الفباء تر نامه لاندې (۵۲) گرافيمونه ښودل شوي چې په هغه کې د پېښ، زېر، زورکي او نورو نومونه هم راغلي. په (۱۵۶-۱۵۷) مخونو کې (د بېواکو غږونو مثالونه د پشه‌يي مورفيمونو په پای کې) يو څه تېروتنې شته لکه (پ، ت) مثالونه يو پر بل اوښتي دي او هم د جدول په پای کې (نگ) د (نک) په بڼه تکرار او (هه) بېواک غږ اضافه ښکاري چې دا کمپيوټري تېروتنه کيدای شي. (نگ) په پښتو او پشه‌يي دواړو ژبو کې ښودل شوی دی (چې په تېر بحث کې د (نگ) په اړه خبرې وشوې.

**د: پشيس الپبا کيتبي**: دغه اثر ليکونکي د پشه‌يي ژبې شورا، د جو هونگ يون د مسئول او اېډيټور وو په کال ۲۰۰۵ م کې چاپ شوی دی. دا اثر د سرف (Serve) مؤسسې له خوا برابر شوی چې د پشه‌يي ژبې د زدکړې په جوړو شويو مرکزونو کې د تدريسي کتاب په ډول استفاده کېده، چې په دغه کتاب کې د پشه‌يي ژبې د الفباء (۲۸) توري په لاندې ډول ښودل شوي دي:
[آ ا ب پ ت ټ ج چ خ د ډ ر ږ ز س ش غ ک گ ل ڵ م ن ڼ و وُ/او ي ې] (۱: ۵ـ۲۸مخ)

پورته الفباء ته چې گورو، په دې کې د پشه‌یي ژبې د ډېرو غږونو ذکر نه دی راغلی او نه د دخیلو غږونو په اړه کوم څه ویل شوي. د پشه‌یي ژبې هغه (خپل او دخیل) غږونه چې په دې کتاب کې نه دي راغلي، په ترتیب سره اول د پشه‌یي ژبې خپلو او دخیلو غږونو بېلگې وړاندې کوو.

د پشه‌یي ژبې خپل غږونه (أ ځ ځ ژ ښ ی هـ) مثالونه يې په لاندې ډول دي:

أ: ډيأ/ dyä (ډزې)

څ: څاني/cāni (اوبړی)

ځ: څنځي/cinĵi (نړور) (۹ :۱٦۷)

ژ: ژۆ/**žu** (سپږه)

ږ: ږوک ẓuk (زرکه)

ښ: ابښټ āṣṭ (اته)

ی: مای/ may (سپوږمۍ)

هـ: هيم/him (واوره) او داسې نور.. .

مخکې یادونه وشوه، چې په دې کتاب کې د عربي، دري او پښتو دخیلو غږونو د گرافیمونو یادونه نه ده شوې، په داسې حال کې چې عربي د دیني زدکړو ژبه ده، پشه یان د پښتو او دري ژبو له ویونکو سره په گاونډ کې ژوند کوي، پښتو او دري زمونږ د گران هېواد رسمي ژبې دي، هغه په دې معنا چې زدکړې ټولې په پښتو او دري ژبو ترسره کېږي، نو عربي مو د دیني زدکړو ژبه، پښتو او دري مو د گاونډ او د تاریخي افغانستان رسمي ژبې دي، نو ښکاره خبره ده چې د عربي، پښتو او دري ژبو دخیلې کلمې په پشه‌یي ژبه کې هم زیاتې دي او په ورځني ژوند کې د پوهاوي را پوهاوي لپاره کارول کېږي. نو دلته هغه اړین دخیل غږونه (ث ح ذ ص ض ط ظ ع ف ق ء) چې په دې اثر کې يې یادونه نه ده شوې، له لغوي بېلگو سره په لاندې ډول دي:

ث: ثنا/ sanā

ح: حلوا/hawā

ذ: عذر/ʢuzar

ص: صحت/sáhat

ض: ضرورت/zarurat

ط: طعام/Tçām

ظ: ظلم zulam

ع: علم/çlam

ف: فايدا/ fayadā

ق: قلم/qalam

ء: رئيس/rais

په دې اثر کې يوه ځانګړنه ليدل کېږي، هغه دا چې د پښه‌يي ژبې د ځانګړي غږ (لهـ) لپاره يې د (لٙ) ګرافيم رامنځته کړی، چې وروسته يو څه مروج شو. (تفصيلي بحث به يې په پای کې وشي).

**هـ: د پوهنې وزارت پښه‌يي نصاب (۱-٦):** د نصاب دغه کتابونه د (۱) ټولګي څخه تر شپږم (٦) ټولګي پورې په۱۳۹۲ هـ. ش کال کې چاپ او په پښه‌يي مېشتو سيمو کې د مکاتبو زده کوونکو ته ورکړل شوي دي. د لومړي ټولګي کتاب، چې عبدالخالق حسيني ليکلی او له کتنې او اصلاح وروسته چاپ شوی دی. په دې نصاب کې د پښه‌يي ژبې د غږونو لپاره ګرافيمونه په لاندې ډول ښودل شوي دي:

[آ ا ب پ ت ټ ث ج چ ځ څ ح خ د ډ ذ ر ړ ز ژ س ش ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل لٙ م ن ڼ و هـ ء ی وو يی] (٦: ۷مخ)

دنصاب په کتابونو کې د پښه‌يي ژبې د غږونو لپاره (۴۳) ګرافيمونه راوړل شوي دي او د هر غږ (آواز) لپاره لغوي مثالونه او جملې بغير له (وو، يې) غږونوڅخه راوړل شوي دي.

د نصاب په دغو کتابونو کې هم يوه تکراري ستونزه راغلې، هغه دا ده چې د (أ ښ ي ې) ګرافيمونه نه دي ښودل شوي (په دې ګرافيمونو کې ګڼ شمېر مثالونه مخکې وړاندې شول). د (وو، يې) ګرافيمونو لپاره کوم مثالونه نه دي وړاندې شوي. دا په دې معنا چې دا غږونه (وو، يې) په پښه‌يي ژبه کې نشته او د يو غږ لپاره د دوو ګرافيمونو ترکيب راوړل د ژبپوهنې اصول نه دي. بله دا چې د پښه‌يي ژبې د ځانګړي توري لپاره (لٙ) ګرافيم ښودل شوی، په داسې حال کې چې د دويم ټولګي په تدريسي کتاب کې د همدې غږ لپاره بيا (لهـ) ګرافيم راغلی، چې دلته يو واحد نظر نه ليدل کېږي. (دځانګړي غږ (لهـ) په اړه به وروسته بحث وکړو)

**و: داردستان**: د پښتو ادبي جرګې، چې مرکزي دفتر یې په پېښور کې دی، نشراتي مجله ده. په ۱۳۸۳ هـ ش کال کې یې لومړۍ ګڼه چاپ شوې ده. چې مؤسس یې قاري عبدالسلام دره نوري وو.

داردستان پښتو ادبي مجله له تاسیس څخه تر اوسه پورې (۷) ګڼې چاپ شوې ده، چې د پښتو ژبې د لیک د پرمختګ لپاره یې هلې ځلې بې له کوم امتیازه د ستایلو وړ دي. د دې مجلې په لومړۍ ګڼه کې د پښتو ژبې الفباء تر سرلیک لاندې د پښتو ژبې د غږونو لپاره ګرافیمونه په لاندې ډول ښودل شوي دي:

[ا ب پ ت ټ ث ج چ ح خ د ډ ذ ر ړ ز ژ س ش ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل ڵهـ م ن ڼ و هـ ی/ې/ے] (۸: ٤مخ)

د پورته (۳۹) غږونو لپاره ګرافیمونه ښودل شوي دي. په دې الفباء کې (آ أ ځ څ ښ ي ء) ګرافیمونه نه لیدل کېږي، چې ځینې د پښتو ژبې خپل او ځینې د دخیلو غږونو په ډله کې راځي، لکه:

(آري/āri ، شفتالو) (أ= أکن/äkın، خوړلی و)، (څ=څاني/cāni، اوبږی)، (ښ= ښوَیَ/ ṣuay (خوله، عرق))، (ځ= څنځ/cnĵ (نړور) (ي=چیر/čir) ناوخته (ء=امضاء/imza) ، ( ږ=ږانzǎn (ولاړ).

نوې خبره چې په دې الفباء کې لیدل کېږي، هغه د پښتو ژبې د ځانګړي غږ (لهـ/ڵ) لپاره درېیم ګرافیم (ڵهـ/L̉) ټاکل دي (چې په پای کې به بحث پرې وشي). یاګانې (ی ې ے) فونیمکي بڼه یې (y) ښودل شوې او د درې غږونو لپاره یوه فونیمیکي بڼه (y) راوړل شوې ده. (y) فونیم د درې واړو غږونو نمایندګي نه شي کولای. بل دا چې په دې کې (ے) ګرافیم ښودل شوی، چې دا ګرافیم زموږ د ګران هېواد افغانستان د ژبو (پښتو او دري....) په لیکدود کې نشته، ځکه زموږ ټولنه ورسره په بشپړه توګه نابلده ده. لازمي خبره ده، چې د مشترکو فونیمونو لپاره لومړی باید د ګاونډ د رسمي ژبو (پښتو، دري....) په ګرافیمونو کې ګرافیم وکتل شي، ځکه چې لوستونکي ورسره بلد وي او په اسانۍ سره یې زده کولای شي.

### د پښتو ژبې نوي پېژندل شوي غږونه او ګرافیمونه

په پښتو ژبه کې ډېر داسې غږونه شته، چې تر اوسه پورې ورته ګرافیمونه نه وو ټاکل شوي او نه هم د دغو غږونو د تشخیص لپاره د کوم لیکوال پام شوی وو، ځکه

تراوسه پورې په کوم کتاب کې نه دي راغلي او دا غږونه په لاندې ډول دي: [ ښ/ṡ/، ږ/ẓ/، ڼ/ŋ/، منځواله اوږده ې/ ê / ۆ/uǎ/، ئ / ay / ، ی / əy].

لغوي مثالونه یې په لاندې ډول وړاندې کېږي:

| شماره | معمول توري | د توري نوم | د الفباء فونیمیکې بڼه | په کلمه کې د توري د کارولو ځای | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | د کلمې په پیل کې | | د کلمې په منځ کې | | د کلمې پای کې | |
| | | | | بېلګه له فونیمیک سره | معنا | بېلګه له فونیمیک سره | معنا | بېلګه له فونیمیک سره | معنا |
| ۱ | ښ | ښین | ṡ | ښیاو ṣiāū | د غنمو وږی | اښټ aṣt | اته | پوښpūṡ | نباتي سره |
| ۲ | ږ | ږې | ẓ | ږوک ẓuk | زرکه | آږو āẓū | غوایي | ۰ | ۰ |
| ۳ | ۆ | معروف واو | u | ۆتکارېک utakarek | کوړکوړی/ موسیچه | لۆن Lūn | مالګه | تۆ to | ته /تا |
| ۴ | ڼ | نون غونه | ŋ | ۰ | ۰ | انړانک، انّار aŋārnk,aŋār | اوراورکی، اور | ۰ | ۰ |
| ۵ | ئ | زور والا [اَئ] | ay | اَئ ay | مور | بئیا Bayyā | ډارېږي | بئ Bay | هو |
| ٦ | ی | زورکي والا (ای) | əY | ای əY | ډوډی | بییا Bəyya | نیا/انا | بی bəy | روغ/ جوړ/ښه |
| ۷ | ې | منځواله يې | ê | ۰ | ۰ | پېم Pêm | ځم | پې Pê | لاړشي |

د پشه‌يي ژبې د الفباء په جدول کې باید پورته د غږونو ګرافیمونه اضافه شي، ترڅو د پشه‌يي ژبې د لیکدود ستونزه حل شي. منځواله (ې) او معروف (و) ګرافیمونه په (الفبای زبان پشه‌يي) اثر کې راغلي، خو مشخص ګرافیمونه ورته نه دي ټاکل شوي په کار ده د اوږدې (ې) له پاره هم یو ګرافیم جوړ شي، ترڅو د منځوالي اوږده (ې) له اوږدې (ې) سره توپیر څرګند شي.

یادونه: د (ښ،ږ) غږونه په پشه‌يي ژبه کې شته، د پشه‌يي ژبې د کاپیسا د اله سای په لهجه کې د پښتو ژبې مرکزي لهجې غوندې تلفظ او د اوزبین په لهجه کې چې د لغمان ولایت الیشنګ، دولت شاه ولسوالیو او د کابل سروبي په اوزبین سیمه کې ویوونکي لري، د پښتو ژبې د کندهاری لهجې په څېر تلفظ کوي.

**ب: د پشه‌يي ژبې تر ټولو مشکل او ځانګړی غږ (لهـ/ڵهـ/ڵ= λ)**

د پشه‌يي ژبې د غږونو د الفباء په اړه په ليکل شويو کتابونو، مقالو او مجلو کې د پشه‌يي ژبې ځانګړی غږ (لهـ/ڵهـ /ڵ) په درې ډوله ګرافيمونو سره ښودل شوی دی. دلته د ګرافيمونو په برخه کې ليکوالان په يو نظر نه دي. نورې ستونزې په هر اثر کې په تحليلي ډول روښانه شوې دي، دلته يوازې د پشه‌يي ژبې د ځانګړي غږ (لهـ/ڵهـ /ڵ) پر ځانګړنو او نيمګړتياوو بحث کېږي.

**۱ ـ لهـ/ڵهـ =λ**

د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا په ۱۳۶۷ل کال کې خپور شوی اثر (الفباءی زبان پشه‌يي) کې د پشه‌يي ژبې د خاص غږ لپاره (لهـ) ته ورته ګرافيم ټاکل شوی دی چې ستونزې يې په لاندې ډول دي:

۱ـ د ژبپوهانو هڅه دا ده چې د يو غږ لپاره يو ګرافيم وټاکي.

۲ـ تر ټولو لويه ستونزه دا ده، په هغو کلمو کې چې، په کې (ل/l، هـh/) غږونه راشي التباس رامنځته کوي. چې دا د پشه‌يي ژبې د ځانګړي غږ ګرافيم (لهـ/ λ) دی او که د پشه‌يي ژبې دوه نور غږونه: (ل/l او هـh/) دي. که چېرې دا ګرافيمونه يو د بل پر ځای وکارېږي، نو کلمه خپله معنا له لاسه ورکوي او يو التباس د مفهوم په لحاظ رامنځته کوي، چې مثالونه يې په لاندې ډول دي:

الف: لهېم lhem: ليکل کوم

لهېوا/ lhewā: ليکل شوی

لهېس/ lhes: ليکل کوو

لهم/ lhım: مړ شوم

ملهم/ mlhım: يوځای شوم

ژملها/ žmlhā : شخوند

پورته کلمو ته که وکتل شي، په دې کلمو کې (لهـ) وينو، چې دا غږ د پشه‌يي ژبې ځانګړی غږ (لهـ/ λ) نه دی، بلکې د پشه‌يي ژبې دوه نور غږونه (ل / I، هـ / h) دلته راغلي دي، که دلته د پشه‌يي ژبې ځانګړی غږ (لهـ/ λ) په نظر کې ونيسو يا تلفظ کړو، نو پورته لغتونه خپله معنا له لاسه ورکوي، لوستونکي له ستونزو سره مخامخ

کوي او د کلمې په اصلي معنا پوهېدل ورته ستونزمن وي. د دې لپاره چې خبره نوره هم روښانه شي، نو لاندې مثال په غور سره ولولئ:

لهېم/ lahem: ليکل کوم (لام/l او هې/ h په تلفظ)

لهېم/ λahem: ښځې مې (د پشه‌يي ژبې ځانگرى غږ (لهـ/ λ) په تلفظ)

په پورته کلمو کې يو التباس رامنځته شوى، لوستونکي د مفهوم په لحاظ له ستونزو سره مخامخ دي، چې دلته يې مفهوم بلکل بدل او د لغتونو پر اصلي معنا پوهېدل يې ستونزمن کړي، او دا ستونزه په پورتنيو بېلگو کې څرگنده ښکاري.

بل د پشه‌يي ژبې (داردستان) مجله کې هم د همدې ځانگړي غږ لپاره (ڷهـ L) گرافيم کارول شوى، چې دا هم پورته ذکر شوې ستونزې لري.

**۲- ڵ λ**

دا گرافيم هم د همدې ځانگړي غږ (لهـ/ڷهـ) لپاره د سرف (Serve) مؤسسې، دره نور پروژه کې د پشه‌يي شورا په نوښت په پشه‌يي مېشتو سيمو کې د پشه‌يي زدکړې مرکزونو ته په (۲۰۰۵م) کال کې د (پښېس الفباء کتيبي) نومي اثر کې د لومړي ځل لپاره ليکل شوې، چې دا کتاب د پشه‌يي ژبې په زدکړيزو مرکزونو کې تدريس کېده، وروسته نورو ليکوالانو هم کارولى دى. د (پوهنې وزارت پشه‌يي نصاب کې (لهـ λ) گرافيم سربېره له (ڵ) گرافيم څخه هم کار اخيستل شوى، چې نسبت له نورو (لهـ/ڷهـ) يو څه معياري ښکاري، چې ځانگړنې يې په لاندې ډول دي:

۱: د يو غږ لپاره يوگرافيم دى.

۲- د کلمو په مفهوم کې (لهـ) غوندې التباس نه رامنځته کېږي، لکه: [ ڵهېم λahem (ښځې مې)، لهېم lahem (ليکل کوم) ]

۲- ليکل او زده کول يې ډېر اسان دي.

۳- د کمپيوټر په سمبولونو کې شته دى، چې په اسانه توگه گټه ورڅخه اخيستل کېداى شي.

**د پشه‌يي ژبې وړانديزي بشپړه الفباء**

د پشه‌يي ژبې دغږونو الفباء (گرافيمونه) په لاندې ډول دي:

[آ أ ا ب پ ت ټ ث ج چ ح خ ځ څ د ذ ډ ر ړ ز ږ ژ س ښ ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک گ ل ڵ م ن ڼ ن̆ و ۆ ۆ هـ ء ي ې ى منځواله (ې) یٚ ی ]

په پشه‌يي کلمو کې د الفباء تورو مثالونه په لاندې ډول دي:

| شمیره | معمول توري | د توري نوم | د الفباء فونیمیکي بڼه | په کلمه کې د توري د کارولو ځای: د کلمې په پیل کې — بېلگه له فونیمیک سره | د کلمې په پیل کې — معنا | د کلمې په منځ کې — بېلگه له فونیمیک سره | د کلمې په منځ کې — معنا | د کلمې پای کې — بېلگه له فونیمیک سره | د کلمې پای کې — معنا |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | آ | مموده الف | ā | آري<br>āri | شفتالو | بآبآ<br>bābā | بابا | گآ<br>Gā | غوا |
| ۲ | ا | الف | a | ابت<br>abat | اوس | زري<br>zarin | زرين | نه<br>Na | نه (نفي) |
| ۳ | أ | حمزه دار الف | ä | أكن<br>äKin | خوړلی و | تيأن<br>Tyän | وي | ډيأ<br>ḍyä | ډزي |
| ۴ | ب | بې | b | بۆړا<br>buṛā | کوڼ | ابلي<br>abli | وربېخ | گلاب<br>Gulāb | گلاب |
| ۵ | پ | پې | p | پشۆ<br>pəšu | پېنتې | لمپا<br>lampā | جارو | شاپ<br>šĀp | ښېرا |
| ٦ | ت | تې | t | تۆلا<br>Tulā | لور | سۆتان<br>sotān | پرتوک | کۆات<br>Kuāt | خنگه |
| ۷ | ټ | ټې | ṭ | ټۆټا<br>ṭuṭā | ټوټه/خت | مټا<br>muṭā | لنډ | ناټ<br>nāṭ | نخا |
| ۸ | ث | ثې | s<br>((θ | ثواب<br>s (θ)<br>awab | ثواب | مثنوي<br>mas (θ) nawi | مثنوي | mus (θ) alas مثلث<br>(θ | مثلث |
| ۹ | ج | جيم | j | جامي<br>jāmi | ندرور | النجني<br>alánjəni | خوځېدل | واج<br>Wāj | سندرې |
| ۱۰ | چ | چې | č | چال<br>āčl | وينبته | اۆنچرېک<br>ončərek | چينه | ماچ<br>Māč | ماهي |
| ۱۱ | ح | حې | h | حلوا<br>Halwā | حلوا | صحت<br>Shat | صحت | ارواح<br>Arwāh | ارواح |
| ۱۲ | خ | خې | x | خورا<br>xáwrā | کارغه | اخۆل<br>axūl | داسې/<br>لکه | پراخ<br>Parāx | پراخ |
| ۱۳ | ځ | ځې | ǰ | ځلا<br>ǰalā | ځلا | پوهنځی<br>pohanǰay | پوهنځی | ځنځ<br>cənǰ | نړور |
| ۱۴ | څ | څې | c | څمنيک<br>sumani<br>k | وروځې | لڅيک<br>ləcik | ښويدلی | باڅ<br>bāc | تپ، بخار |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | د | دال | d | درغنېک<br>darğek | کړکی | ادۆرا<br>adurā | بد رنګ | اباد<br>āBād | اباد |
| ۱۶ | ذ | ذال | z | ذکاوت<br>zakāwa<br>t | ذکاوت | عذر<br>çuzar | عذر | نافذ<br>Nāfiz | نافذ |
| ۱۷ | ډ | ډال | ḍ | ډنټا<br>ḍantā | غنه | ډیوډي<br>ḍiwḍi | ډیوډی | انډ<br>anḍ | یوډول لوبه<br>ده |
| ۱۸ | ر | رې | r | رېشا<br>rešā | ائینه/هیداره | کۆریک<br>korek | چرګه | دۆر<br>Dor | خوله |
| ۱۹ | ړ | ړې | ṛ | ړمبېک<br>ṛəmbik | غړمبیدل | ۊښاړي<br>oāṣṛi | بنوالي | کاړ<br>kāṛ | غوړ |
| ۲۰ | ز | زې | z | زمبټي<br>zambaṭi | مرمی | ازنا<br>āzanā | خندا | رمۆز<br>rmuz | اشاره |
| ۲۱ | ږ | ږې | ẓ | ẓukږوک | زرکه | āẓū آږو | غوایی | ۰ | ۰ |
| ۲۲ | ژ | ژې | ž | ژۆ<br>žu | سپږه | اژدر<br>aždar | اژدها | ګراژ<br>Garāž | ډیوډی |
| ۲۳ | س | سې | s | سۆنچېک<br>sunček | ستنه | ډېسا<br>ḍesā | کوتک | دواس<br>Dəwās | ورغ |
| ۲۴ | ش | شین | š | شۆنېک<br>šunek | سور | نېشیک<br>nəšik | خرابېدل | لۆش<br>luš | رنا |
| ۲۵ | ښ | ښین | ṣ | ښوئ<br>ṣoay | خوله | āṣṭانښټ | اته | . | ۰ |
| ۲۶ | ص | صوات | (s ( | صحت<br>sahat | صحت | محصل<br>mahsl | محصل | خاص<br>Xās | خاص |
| ۲۷ | ض | ضوات | z<br>((z̲ | ضرورت<br>z̲rurat | ضرورت | امضاء<br>Imz̲a | امضاء | فرض<br>fraz̲ | فرض |
| ۲۸ | ط | طوی | t<br>((t̲ | طعام<br>t̲çām | طعام | مطلب<br>mt̲lab | مطلب | خیاط<br>xayāt̲ | خیاط |
| ۲۹ | ظ | ظوی | (z ( | ظلم<br>zulm | ظلم | مظلوم<br>mzlum | مظلوم | لفظ<br>Láfz | لفظ |
| ۳۰ | ع | عین | ç | عالم<br>çālm | علم | معلم<br>mçlm | معلم | دفاع<br>Dfāç | دفاع |
| ۳۱ | غ | غین | ğ | غېکانا<br>ğapkan<br>ā | ابشار | واغن<br>wāğn | باد | متېغ<br>mṭeğ | چنګبنه |
| ۳۲ | ف | فې | f | فریاد<br>fáryād | فریاد | آفت<br>āfat | آفت | صاف<br>Sāf | صاف |
| ۳۳ | ق | قاف | q | قد<br>qád | قد | مقام<br>muqām | مقام | سبق<br>Sbáq | سبق |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۴ | ک | کاف | k | کمبړي kámbṛi | گړی | بالکۆل bālkol | ماشوم | کتاڵیک kṭālek | نجلۍ |
| ۳۵ | گ | گاف | g | گڼ gṇ | مشر | گا Gā | غوا | گۆلاینگ golāing | غویی |
| ۳۶ | ل | لام | l | لۆش Luš | رنا | کتاڵیک kṭālek | نجلۍ | مۆل mul | قیمت |
| ۳۷ | لؗ | لاؗم | λ | لۆچ λuč | کتمل | ژۆلاک žoλāk | غوماشۍ | پۆلؗ Poλ | زوی |
| ۳۸ | م | میم | m | مۆچ moč | موږک | جامي jāmi | ندرور | لام Lām | کور/کلی |
| ۳۹ | ن | نون | n | ناشیک nāšek | منبوکه | ۆنشړ onšṛ | ناوه | دان Dān | غانبونه |
| ۴۰ | ڼ | نوڼ | ṇ | ۰ | ۰ | تۆڼا tūṇā | سوخندر | کاڼ kāṇ | غشی |
| ۴۱ | ںٚ | نون غونه | ŋ | ۰ | ۰ | اهنٚا، انٚار ahŋā/aŋār | هو، اور | ۰ | ۰ |
| ۴۲ | و | واو | w | واش wāš | باران | سِوان sewān | گنډل | کاو Kāw | خومره |
| ۴۳ | ۆ | واو مجهول اۆ | o | ۆچۆم očum | لرم | ۆنډر onḍár | اونگ | تۆ To | ته /تا |
| ۴۴ | ۆ | واو معروف اۆ | u | ۆتکاریک utakarek | کوړکوړۍ موسیچه | لۆن Lūn | مالگه | تۆ tu | تُوف کول |
| ۴۵ | هـ | هې | h | هیم him | واوره | آهم āhm | وم | اهـ! ah! | اه! |
| ۴۶ | ء | همزه | a | ۰ | ۰ | رئیس Rais | رئیس | امضاء Imza | امضاء |
| ۴۷ | ي | څرگنده يې (اِي) | i | اي I | یو | ایر Ir | شین اسمان | ابلي Abli | وریځ |
| ۴۸ | ې | اوږده يې (اې) | e | ۰ | ۰ | پېم pem | څکم | پې Pe | غونبه |
| ۴۹ | ې | منځواله يې | ê | ۰ | ۰ | پېم pêm | څم | پې Pê | لاړشي |
| ۵۰ | ی | سیمي واول يې | y | یاو yāw | دومره | فایدا fáydā | گټه | مای Māy | سپوږمۍ |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵۱ | ئ | زور والا (اَئ) | **ay** | اَئ ay | ور | بئيا bayyā | ډاريږي | بئ Bay | هو/ښه |
| ۵۲ | ې | زورکې ولايې (اې) | əy | ۰ | ۰ | بيیا bəyya | انا/نيا | بې Bəy | روغ/جوړ/ ښه |
| ۵۳ | ۀ | زورکې | ə | - | - | وربیک wəreik | ژړل | اندۀ andə لۀ λaə | مخ پورته هلته |

## پایله

د پشه‌يي ژبې د الفباء په اړه د ليکل شويو آثارو له کتنې معلومه شوه، چې د پشه‌يي ژبې په الفباء کې واحد نظر نه ليدل کېږي، په ځينو آثارو کې د ګرافيمونو شمېر لږ او په ځينو کې ډېر ښودل شوی. د ځانګړي غږ لپاره (لهـ/ڷهـ /ڵ) له درې ډوله ګرافيمونو څخه کار اخيستل شوی و، چې د کلمو په مفهوم کې يې ګډوډې رامنځته کړې. د همدې ځانګړي غږ (ڵ/ λ) لپاره جوړ شوی ګرافيم (ڵ) ځانګړنې څرګندې شوې. هغه غږونه مو وپېژندل چې د پشه‌يي ژبې په الفباء کې يې هېڅ يادونه نه وه شوې او په پای کې د پشه‌يي ژبې د وړانديز الفباء جدول ته وړاندې شوه.

## وړانديز

په پورته څېړنه کې دا خبره څرګنده شوه چې د پشه‌يي ژبې پر الفباء باندې بايد نوې کتنه وشي. د نويو پېژندل شويو غږونو لپاره ګرافيمونه په کې اضافه شي، ترڅو د ليکونکو او لوستونکو د ستونزو د حل په نتيجه کې په نسبي توګه بشپړه پشه‌يي الفباء رامنځته او د معياري پشه‌يي ليکدود بنسټ پرې کېښودل شي.

## مأخذونه


۱. هلالي، عبدالحکيم و ديګران. الفبای زبان پشه‌يي، د افغانستان د علومو اکاډمی، د ژبو او ادبياتو مرکز: کابل، ۱۳۶۷هـ ش.

۲. د پشه‌يي کميسيون له خوا. (پشه‌يي جبيدې ساده ديکشنري). سرف (Serve) مؤسسه، ۲۰۱۰م.

۳. پشه‌يي مجله (داردستان). پشه‌يي ادبي جرګه افغانستان، ۱ ګڼه. عبدالمجيد کتاب پلورنځی: جلال آباد، ۱۳۸۳ش.

٤. جوهونګ يون سريزه، پشيس الېپبا کيتبې، سرف (Serve) مؤسسه، ۲۰۰۵م.

۵. پشه‌يي کميسيون له خوا (پشه‌يي جبيدې حېسا، ٦ ټوکه). سرف (Serve) مؤسسه، ۲۰۱۰م.

٦. حيسني، عبدالخالق. پشه‌يي اول صنف، د پوهنې وزارت، ۱۳۹۲ هـ ش .

۷. غمجن، نور محمد. د پوهندوی نورمحمد غمجن تميل د مقالو ټولگه، د بيهقي کتاب خپرولو رياست، ۱۴۰۰ هـ ش .

۸. غمجن، نورمحمد. د پښتو او پشه‌يي ژبې گرامري نژدېوالی، د افغانستان علومو اکاډمي، اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست: کابل، ۱۳۹۹ هـ ش .

۹. غمجن، نورمحمد. پشه‌يي ـ پښتو قاموس، د بيهقي کتاب خپرولو رياست، ۱۳۹۹هـ ش.

۱۰. کلماني، محمد زمان. پشه‌يي دومنگل صنف آنتې، خپرندويه مؤسسه، وزارت معارف، ۱۳۸٦ هـ ش.

څېړندوی احسان الحق کبیر

# په پښتو ولسي نکلونو کې د ساینس‌فیشکن څېړنه

# A Research on Science Fiction in Pashto Folk Tales

Assistant Professor Ehsanulhaq Kabir


## Abstract

Science fiction is a premonition of scientific experiments in the form of a story. Most of the nations of the world have such imaginative ideas in their folk tales and stories that have found a scientific and practical form. A lot of work has been done on science fiction in Pashto literature, but it has not been researched in folk tales. One of the reasons may be that most of our authors consider science fiction to be a new phenomenon, without focusing on folk tales. Science Fiction has a long history in literature. In this article, science fiction has been discussed in Pashto folk tales and its examples have been analyzed. From this research article, it is clear that there are many examples of science fiction in our folk tales, but we did not pay attention to them.

## لنډيز

ساینس‌فیکشن د کیسې په ډول د ساینسي تجربو وړاندوینه ده. د نړۍ زیاتره ملتونه په خپلو نکلونو او کیسو کې داسې تخیلي طرحې لري چې علمي او عملي بڼه یې موندلې وي. د ساینس‌فیکشن په اړه په پښتو کې لږ و ډېر کارونه شوي، خو په منظم ډول په فولکلوري نکلونو کې پرې څېړنه نه وه شوې، یو علت یې شاید دا وي چې زموږ زیاتره لیکوال ساینس‌فیکشن په ټوله معنا نوې پدیده بولي، پرته له دې چې د ولسي نکلونو په دې برخه یې تمرکز کړی وي. څرګندېږي چې دا له نومونې څخه پرته نور په ادبیاتو کې اوږده مخینه لري. چې په دې مقاله کې په تطبیقي ډول د پښتو په ولسي نکلونو کې موضوع څېړل شوې او بېلګې ورته انتخاب او شنل شوي. له دې څېړنې نه څرګندېږي چې زموږ په نکلونو کې د ساینس‌فیکشن ډېرې بېلګې موندل کېږي، خو موږ یوازې د ساتېري کیسه بللې او ترې تېر شوي یو.

## سریزه

ساینس‌فیکشن کیسو ته له ۱۹۳۰ز څخه وروسته د لیکوالو پاملرنه زیاته شوه، له دې نه وروسته دغې برخې ډېره پراختیا وکړه، خو ساینس‌فیکشن ټوټې چې په کیسو کې راغلې وي، هغه ډېر اوږد تاریخ لري، په فولکلوري کیسو کې موږ داسې برخې پیدا کولای شو، چې تخیلي- ساینسي یا ساینس‌فیکشن ټوټې ورته ویلی شو. دغه برخه له پامه نه شو غورځولای، ځکه دا ټولې د ننني ساینس‌فیکشن کیسو هغه لومړنۍ خښتې دي، چې نن د ساینس‌فیکشن ودانۍ پرې ولاړه ده. د نړۍ د نورو ژبو په څېر په پښتو کې هم ډېرې فولکلوري کیسې وې، چې د وخت له تاړاکونو موږ ته ډېرې کمې را پاتې دي. تر ډېره په لیکلي ډول د دغو نکلونو ثبت ته پاملرنه نه وه شوې، خو کله چې زموږ پوهان د فولکلور اهمیت ته متوجه شول، هغوی وکولای شول چې د دغو نکلونو یوه برخه خوندي کړي.

دا چې د پښتنو سیمه پراخه او د دوی ترمنځ تګ راتګ هم کم و، نو په هره سیمه کې دا کیسې خپل بېل ویریانټ لري، چې دا تغییرات جزئي وي، د هغوی د کرکټرونو په نومونو، یا د سیمو په نومونو یا د کیسې د یوې برخې د زیاتوالي او کموالي په کچ

وي. د پښتو د فولکلوري نکلونو یو مهم او ارزښتمن کتاب د محمدګل نوري «ملي هنداره» دی. چې دغه مقاله د همدې کتاب د نکلونو پر بنسټ لیکل شوې ده.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

تخیلي- ساینسي (ساینس‌فیکشن) د نړۍ په فولکلوري کیسو کې د وړو- وړو ټوټو په بڼه له ډېرو پخوا زمانو څخه موجود و، خو په وروستیو پېړیو کې تخیلي- ساینسي کیسو لیکلو ادبیاتو ته هم لاره پیدا او ډېر پرمختګ یې وکړ. په خپل ځان کې یې ډېر نوي ځېلونه راوزېږول. کله چې په غرب کې د کلیسا د وحشت له امله پر ساینس باندې بندېزونه وو، لیکوالو ځینې ساینسي وړاندوینې د ساینس‌فیکشن په بڼه ولیکلې تر څو د خپل ځان او سر ساتنه یې کړې وي. د شلمې پېړۍ له درېیمې لسیزې نه وروسته ساینس‌فیکشن ډېر پرمختګونه وکړل. زموږ په ژبه کې هم ساینس‌فیکشن کیسې د ژباړې او یوه نیمه د لیکلې کیسې په بڼه پیل شوي، اما په فولکلوري نکلونو کې ډېره اوږده سابقه لري، چې نن هماغه تخیل په ساینسي تجربو اوښتي، دغه اهمیت ته په کتو په دې برخه دا څېړنه شوې ده.

مبرمیت یې په دې کې دی چې د دې څېړنو په مرسته به موږ وکولای شو د خپلو فولکلوري نکلونو منځپانګیزه لمنه نوره هم پراخه کړو او ترڅنګ به یې په نوي نسل کې د تخیلي طرحو پر ساینسي تجربو د اړولو فکر ته وده ورکړل شي.

## د څېړنې موخې

- د فولکلوري نکلونو د منځپانګې د یوې وړې برخې شننه شوې، ترڅو د هغه فکر پر وړاندې چې فولکلوري کیسې یوازې ورته خرافات او خیالي کیسې ښکاري دا ثابته شي، چې زموږ د نننۍ نړۍ د پرمختګ د راز کړۍ له هماغو نکلونو څخه راپیل کېږي.
- تخیلي- ساینسي جوړښتونه شنل شوي، چې د دغو خیالونو په مرسته موږ ساینسي تجربو ته لاره موندلې ده.
- په پښتو کې د ساینس‌فیکشن د لومړنیو ټوټو، چې په ولسي نکلونو کې راغلي، څېړل؛ تر څو دا ثابته شي چې زموږ په ژبه کې ساینس‌فیکشن اوږد تاریخ لري.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ ساینس فیکشن څه ته وايي او له فولکلور سره څه اړیکه لري؟
۲- آیا زمونږ د نننی نړۍ د پرمختګ د راز کړۍ له فولکلوري نکلونو څخه راپیلېږي او که دا نکلونه یوازې خرافات او خیالي کیسې دي؟
۳ـ آیا رښتیا هم په ولسي نکلونو کې د شته وو ساینسي خیالونو د څېړنو او شنلو په مرسته نړۍ ساینسي تجربو ته لاره موندلې ده؟
۴ـ په پښتو ولسي نکلونو کې د ساینس فیکشن د څېړلو ارزښت څه دی؟

## د څېړنې میتود

د دې څېړنې میتود توصیفي- تحلیلي او ډول یې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

انسانان د نکلونو او کیسو له اورېدو سره ځانګړې مینه او علاقه لري، له ډېرو پخوا زمانو څخه چې موږ ته کوم اثار راپاتې دي، د انسانانو دغه لېوالتیا ترې څرګندېږي. د همدغې مینې او لېوالتیا له امله په ادبیاتو کې کیسه‌ییزې برخې پرمختګونه وکړل، په ځانګړي ډول په وروستیو څو پېړیو کې؛ د شکل او منځپانګې له مخې د کیسو بېلابېل ډولونه ایجاد او وپېژندل شول، په هره ژبه کې بې شمېره کیسې رامنځته شوې، د لوستونکو لېوالتیا هم ورسره ډېره شوه. په دې وروستۍ یوه یا دوه پېړیو کې چې د خلکو پام یې ځان ته راواړاوه له هغو څخه یو هم ساینس‌فیکشن دی.
ساینس‌فیکشن کلمه له دوو برخو جوړه شوې چې یوه برخه ساینس د پوهنې او علم په معنا یا هغه څه چې په تجربه ولاړ وي او بله برخه فیکشن ده. په قاموسونو کې فیکشن د خیالي کیسې.(۱) همدارنګه: (د تخیل او فکر څخه) جوړشوی څیز، تخیلي، غیر واقعي، ګڼلی، ګڼل شوی، ګڼنه، څرګندونه، وهم، ناڅرګند څیز، خیالي(۲) په معنا راغلی دی. ساینس فیکشن یو تخیلي حرکت دی. فیکشن کیسې، داستان او حتی شعر ته وایي. فیکشن تخیلي دی، واقعیت نه دی.(۳)
په «فرهنګ اصطلاحات ادبی» کې دې ډول کیسو ته د علمي داستان (علمي کیسې) اصطلاح کارول شوې، لیکلي یې دي: ((علمي داستان هغې کیسې ته ویل کېږي،

چې ليکوال په هغه کې معمولاً په ذهني او تخيلي ډول علمي وړاندوينې او اټکلونه طرح کوي.))(۴)

ساينس‌فيکشن د اټکلونو په بنياد جوړ شوی داستاني ژانر دی، هغه تصور شوي عناصر لري چې په ربښتينې دنيا کې نشته. (۵)

يعنې ساينس‌فيکشن: ((د کيسې په چوکاټ کې د ثابتو يا ناثابتو نظريو بيان؛ د علم او ټکنالوژۍ د پرمختګ او راتلونکې د وړاندوينو وړاندې کول او -په تېر، اوس يا راتلونکې کې - د علمي، انساني او ټولنيزو چارو په اړه اټکلونه)) (٦) دي.

يا که په لنډه توګه ساينس فيکشن پېژنو، نو ويلی شو: هغه خيالي واقعيت چې د اوسني معلوم ساينس په چوکاټ کې منطقي وي، مګر عملاً ممکن نه وي.(۷)

امريکايي ليکوال رابرټ آ. هينلين (Robert A. Heinlein) چې ساينس فيکشن داستانونه يې ليکلي دي. هغه وايي: ساينس فيکشن د راتلونکو احتمالي پېښو په اړه حدس او ګومان ته ويل کېږي.(۸)

کله چې تخيل په تفکر اوړي او د علمي تجربو له لارې د انسان په ژوند کې د تخنيک او فلسفې له لارې بدلون راولي، دا ساينسي تجربې دي.(۹)

تخيلي- ساينسي کيسې يوازې کيسې نه دي، بلکې د نننۍ ساينس په پرمختګ کې يې ستر رول لوبولی دی، ((په حقيقت کې د دې کيسو ليکوالان ول، چې اټومي بم، په سپوږمۍ کې د انسان راکښته کېدل او په نړيوال سياست باندې د څېړنو او پرمختګونو د ډېرېدونکو اغېزو وړاندوينې يې کړې وې)).(۱۰)

ساينس‌فيکشن کيسې د نړۍ د نننۍ پرمختګ په ځانګړي ډول د ساينس په برخه کې ډېر د اهميت وړ دي. انسانانو د خپلو خيالونو پر واقعيت د بدلولو لپاره ډېرې هڅې وکړې، تر څو يې وکولای شول چې خپل تخيل پر ساينسي واقعيت واړوي. په نوره نړۍ کې د ساينس‌فيکشن خوا درنه شوې، ډېره پاملرنه ورته کېږي. په اوس وخت کې د ساينس‌فيکشن کيسو ليکل، چې علم او ساينس ډېر پرمختګ کړی؛ ضرور نه ده چې د دا ډول کيسو ليکوال دې ساينس‌پوهان وي، يوازې دومره ورته اړينه ده، دکوم څه په اړه چې کيسه ليکي، د هغه په اړه دې لږ څه ساينسي معلومات ولولي، تر څو وکولای شي چې واقعيت ته نږدې کيسه وليکي. ساينس‌فيکشن هم د نورو ادبي پديدو او ډولونو پر څېر ځينې ډولونه لري:

ساینس‌فېکشن په دوه ډوله دی، هارډ ساینس فیکشن او سافټ ساینس‌فیکشن. د هارډ او سافټ ژباړه سخت او نرم کېږي؛ خو د لا پوهېدو لپاره یې ښایي جدي ساینس‌فېکشن او خیالي ساینس‌فیکشن وبولو. جدي په دې معنا چې د ساینس له قوانینو او اصولو سره سم لیکل شوې کیسه ده او خیالي یې هم ځکه چې د ساینس تر اصولو خیال ته پکې ډېر پام شوی وي.(۱۱)

پر دې سربېره د ساینس‌فیکشن اته نورې ورې څانگې هم ښودل شوي، چې یوازې له موضوع سره اړوند لومړۍ هغه به یې راوړو: ((د خیال یا فانتزۍ کیسه: د ساینس‌فیکشن هغه کیسې دي چې هغه نکلونه او فولکلوریکې کیسې په کې راځي چې جادو او منتر په کې ځای شوی وي)).(۱۲)

له دې وېشنې نه څرگندېږي چې ادبپوهان د ساینس‌فیکشن لمن پراخه گڼي، دا دې ته لاره هواروي چې د نړۍ په فولکلوري کیسو کې دې هم ساینس‌فیکشن وڅېړل شي، چې په دې سره د فولکلوري نکلونو اررښت نور هم لوړېږي.

پښتو نکلونه چې د فولکلوري ادبیاتو مهمه برخه گڼل کېږي، له ډېرو پخوا زمانو راپیل شوي، خو زموږ د فولکلورپوهانو پاملرنه ډېره وروسته ور اوښتې، د فولکلورپوهانو په مرسته د دغو نکلونو یوه برخه خوندي شوې. دغه خوندي شوي نکلونه د منځپانگې په برخه کې ډېر څه لري، چې زموږ د نیکونو افکار، خیالونه، احساسات، انگېرنې او عواطف ترې څرگندېږي. پښتو نکلونو په ځان کې ډېرې داسې ټوټې لري چې ساینس‌فیکشن یې گڼلی شو. په پورته وېشنه (جدي او خیالي ساینس‌فیکشن) کې پښتو فولکلوري ساینس‌فیکشن ټوټې په خیالي هغه پورې اړه لري، ځکه دلته تر ساینس یې خیالي برخه زوروره ده. دلته به له نکلونو نه ځینې برخې چې ساینس‌فیکشن دي راوړل شي او د هغوی پر څرنگوالي باندې به خبرې وشي.

### د اړیکې وسیله

انسان ټولنیز مخلوق دی، تل په دې هڅه کې دی چې څنگه د ارتباطاتو تر ټولو اسانه او ساده وسیلې جوړې کړي، تر څو وکولای شي په اسانۍ سره یو بل ته خبر ورکړي. له ډېرو پخوا زمانو څخه د اړیکو د وسیلو په توگه بېلابېل څیزونه رامنځته

شول. چې حتی لیک او کتابت هم د دې یوه برخه ګڼلی شو، خو له دې ټولو سره سره انسان د اسانه او ساده وسیلو په لټه کې و او دی.

هغه مفاهیم چې په لومړیو کې په ناشعوري توګه د ولس له ذهنیته راپېژندل کېدل، ورو- ورو تر تجربو لاندې راغلل، علمي او فني بڼه یې ومونده. د ولس له ذهنیته زده‌کړه وشوه، دغه زده‌کړه ورو- ورو تجربو ته راغله، تر تجربو وروسته د پوهې او فن په کړیو کې پرې خبرې وشوې او بنسټیزې شوې.(۱۳) که په خپلو نکلونو کې وګورو په ډېرو داسې کیسو کې موږ وینو چې له ځینو وسیلو نه د اړیکې او یا د بلنې لپاره ګټه اخیستل شوې، تر څو انسان په خپل ځای ناست او مقابل لوری راخبر کړي. د زبزبانې ښاپېرۍ په نکل کې لولو:

((زبزبانې ویل ښه دی چې ته ځې پر خدای مې سپارلی یې. نو زبزبانې یوه سرنده ورکړه ویل هر چیرې چې دا سرنده وهې زه به سره د لښکره در حاضره سم. دا یې راواخیسته بیا راغی د ګل خندانې او موږ څخه یې رخصت واخیستی ګل خندانې هم یوه داسې سارنګۍ ورکړه ویل چې هر وخت ما غواړې دا سرنده وړغوه زه به دستي در حاضره سم.))(۱۴)

یا هم د جلات خان او شمایلې په نکل کې، کله چې جلات خان د شمایلې په لور سفر کوي او دا ډېر سخت سفر دی او د ده ټول وروڼه د هغې پر سر وژل شوي، په لاره کې له یوې زمرۍ سره مخامخ کېږي چې په پښه کې یې خنډ ده، دی هم د هغې له پښې هغه خنډ وباسي. زمرۍ د دې نېکۍ په بدل کې د خپلو برېتونو څو تاره ورکوي:

((آخر زمرۍ د خپلو برېتونو څو تاره ورېښتان وکښله ده ته یې ورکړه ویل یې چې هر چېرې دې موږ په کار سوو، دا برېت په اور کې وسوځه موږ به دستي حاضر سو)). (۱۵)

او په همدې نکل کې چې کله بزګر ته د پټي د هغې برخې په خاطر چې مېږیان په کې اوسي پیسې ورکوي، ترڅو د مېږیو کرښندۍ له اوبو نه وساتي، مېږیان هم د مننې په پار برېتونه ورکوي:

((دې مېږي هم برېتونه ورکړه ویل هر وخت چې دې موږ په کار سوو دا برېت اور ته ونیسه، موږ به ټوله حاضر سو)).(۱٦)

دا هر څه د اړیکې لپاره ورکول شوي، تر څو په سخته کې هغوی د ده د ښېګڼې بدله ور اداء کړای شي. کله چې د باچا له زمري سره د جنګ په خاطر یې زمری په کار دی، د

زمرۍ بربټ دودوي او کله چې د ږدنو او شګو د ببلولو لپاره مېږيانو ته اړتيا ده، دمبړي بربټ دودوي، هغوی راځي او د دغو شرطونو د پورکولو لپاره له ده سره مرسته کوي.
له پورته نکلونو نه په ډاګه کېږي چې انسانان له ډېر پخوا نه د اړيکو د وسيلو په لټه کې ول، هغوی خپل دغه خيال په خپلو نکلونو کې څرګند کړی خپل راتلونکي نسل ته يې دغه خيال په ساينسي حقيقت د اړولو فکر ورکړی او هغه دی چې نن يې موږ په ټولنه کې عملي تجربه وينو. زياتره انساني تجربې چې نن يې موږ په عملي ژوند کې وينو يو وخت د خيال په ډول رامنځته شوي، هغوی ته وده ورکړل شوې او پر ساينس اوښتي دي. يو بل څه چې د انسان لپاره سخت، خو انسان يې تل په فکر کې و؛ هغه الوتل دي.

**د الوتلو خيال**

الله جل‌جلاله انسان د اشرف المخلوقات په نامه نومولی او په ځمکه کې يې خليفه ګرځولی، نو له دې څرګندېږي چې انسان ته يې تر نورو مخلوقاتو ډېرې وړتياوې ورکړې دي، انسان له خپلو دغو وړتياوو څخه د ځان ساتنې، ځان هوساينې او يو بل ته د خير ښېګڼې لپاره ډېره ګټه اخيستې ده. يو خيال چې له ډېر پخوا نه انسانانو سره و، هغه په هوا کې الوتل و، خو د انسان په وجود کې د دې وړتيا نه وه، چې د خپلو غړو په وسيله والوځي، ځکه خو په هڅه کې و، چې داسې يو څه جوړ کړي چې په مرسته يې والوتلی شي.
ادب د ساينسي تجربو لپاره لومړنۍ تخيلي تجربې دي.(۱۷) ځکه خو ادبياتو داسې ساينسي تجربو ته لاره هواره کړې چې نن يې موږ په خپل ژوند کې په عملي توګه وينو. د «ملي هندارې» د «مسګر او نجار» په نکل کې د انسان د الوتلو يوه کيسه راغلې؛ په يو ښار کې مسګر او نجار اوسي، دوی په خپلو کې سره په سيالي کېږي، هر يو وايي چې زه ښه کمال لرم، د دوی د دې بحث په پايله کې دواړه يوه يوه اونۍ يو بل ته وخت ورکوي چې د خپل کمال ښودنه وکړي. ((نجار يو صندوخ غوندې يو شی جوړ کړی دوه پېچونه يې پکښې کېښووله، چې د سر پېچ يې و پېچې سړی پکښې سپور وي او په هوا کېږي، چې د پای پېچ يې وپېچې راکښته کېږي، مسګر يو د مسو

ماهي جوړ کړی چې سړی پکښې ننوزي او په اوبو کي يې ايله کړي د درياب ټول ماهيان نيسي او د درياب لوی، لوی نهنگان وژني)).(۱۸)
دوی دواړه خپل دا له کمال څخه ډک شيان ميدان ته راوړي، هر يو د خپل جوړ کړي شي د کمال دعوه کوي، خو نه سره پرې جوړيږي، اخر مجبوريږي چې دا جوړ کړي شيان پاچا ته يوسي. کله چې دوی دواړه خپلې وسيلې پاچا ته ورکوي، پاچا حيرانيږي، د پاچا زوی د يو بل پاچا په لور مين دی، خو دا کيسه يې له ټولو نه پټه ساتلې. هغه باچا خپله لور په داسې ځای کې ساتي چې د انسان د ورسېدو امکانات نه وي، نو د باچا زوی له همدې صندوق څخه په استفادې هغې ته ورځي او بېرته راځي. تر هغې پورې چې خپله مينه لاس ته راوړي. دا زموږ په نکلونو کې د ساينس‌فيکشن يوه ښه بېلگه ده. له دې څرگنديږي چې انسانانو له ډېر پخوا راهيسې په هوا کې د الوتلو خيال درلود. ځکه خو د الوتکې د جوړولو لپاره ډېرې هڅې وشوې، لومړی انسان فکر کاوه چې له هوا نه هم بايد وزن کم کړل شي، تر څو والوځي خو وروسته دې ته متوجه شول چې موږ کولای شو داسې قوې ايجاد کړو تر څو په هوا کې د الوتلو او هلته د خپل تعادل د ساتلو او د مخته تگ لپاره د هوا د څيرولو وړتيا ولري.
**روباټ جوړونه**
نن په نړۍ کې چې ډېر د بحث وړ مسئله ده، هغه د رباټونو د جوړولو ده، د نړۍ مشهورې کمپنۍ لگيا دي روباټونه جوړوي تر څو وکولای شي چې د بشري قوې ترڅنگ داسې ماشيني قوه ايجاد کړي چې له انسان سره په کارونو کې مرسته وکړي، د انسان خدمت به کوي او هغه کارونه چې انسان ته يې کول لږ څه ستونزمن وي، د دغو روباټونو په وسيله به په اسانۍ سره کېږي. اوس چې د مصنوعي ځيرکتيا په نامه يوه بله نوې ښکارنده په دودېدو ده؛ په دې سره به د روباټونو صنعت نور هم وده ومومي. د روباټ جوړونې دا خيال او فکر اوسنی نه دی، له ډېر پخوا وختونو نه انسان په خپل ذهن کې داسې خيالونه درلودل چې وکولای شي، چې په مصنوعي توگه د انسان يا حيوان څېرې ته ورته څيزونه جوړ کړي. د جلات خان او شمايلې په کيسه کې موږ له يوې داسې پېښې سره مخامخ کېږو، جلات خان د دې لپاره چې شمايلې ته ځان ور ورسوي، شمايله ترلاسه او د خپلو ورونو غچ واخلي د يوه زمري په جوړولو

پیل کوي. زمری جوړوي او دی دننه په کې پټېږي او هغه زمری د ده د وروڼو مومندي او سومندي (مومندی او سومندی د یوې بوډۍ زامن دي، د هغې بوډۍ یو زوی د جلات په نامه ورک دی؛ جلات خان هغوی ته ځان هماغه ورک جلات خان معرفي کړی او هغوی یې خپل ورور گڼي) له خوا پاچا ته ور وړل کېږي:

((جلات خان په دې کوټه کې و زمري ته وجوړېدی، زمری جوړوي، کار یې وکی وکی، هله هله داسې زمری یې جوړ کی چې ډېر ښه ایسي، کُل یې تر مریو، غمیانو وکینښ نو یې نس گوک (خالي) ورپرېښو او په پای کي یې پېچ ورکی چې وې پېچې لکه دربچه دونه سي او یو بل پېچ یې پکښې کنښېښو، چې دا وپېچې زمری بازۍ کوي)). (۱۹)

که نکل ته لږ ځیر شو، دغه زمری درې عمده ځانگړنې لري، لومړۍ دا چې دا زمری ښکلی کړل شوی، د دې لپاره چې باچا ته ور وړل کېږي، که دا ښکلی نه وي نو باچا به چېرته هغه ترې قبول کړي، دویم دا چې په منځ کې یې انسان پټېدلای شي، خو د باندې له خوا څوک پرې شک نه کوي، چې د دې منځ کې دې څوک وي او درېیم دا چې زمری لوبې کوي، تر څو پاچا او لور یې د هغه د ساتنې په فکر کې شي. د دغه زمري لومړۍ او درېیمې ځانگړنې ته که ځیر شو، نن هم نړۍ په همدغو دوو برخو لیگا ده، تر څو د انسان څېرې ته نږدې څه جوړ کړي، چې دا یې استیتیک اړخ دی. دا ځکه چې انسان د ښکلو شیانو د ساتلو فکر له ځان سره لري، په طبیعي ډول الله جل‌جلاله انسان ته د ښکلا خوښونې حس ورکړی دی او بل د هغه دندې دي، چې دا ټول په دې نکل کې په څرگند ډول راغلي دي.

کله چې دا زمری پاچا ته وروړي د هغه ډېر خوښېږي، پاچا څو ورځې خپل سات پرې تېروي. له دې کیسې یې لور خبرېږي، له هغې سره د دې زمري د لیدو تلوسه پیدا کېږي، له پاچا نه غواړي چې زمری د هغې ماڼۍ ته ور ولېږي، تر څو هغه یې هم وگوري، د شپې جلات خان له زمري څخه راوځي، د هغې پالنگ د سر څراغونه پښو او د پښو څراغونه سر ته وړي، د هغې گوتمۍ په خپله گوته او خپله گوتمۍ هغې ته ور په گوته کوي، دسمال هم ترې اخلي او خپل دسمال ورسره پرېږدي، بیرته په زمري کې ننوځي او پټېږي. سهار چې شمایله دا هر څه ویني په زمري شکي کېږي، چې په دې زمري کې حتما کوم سُر شته. ماښام چې مینځه ډوډۍ ورته راوړي ورته وایي چې

ته لاړه شه، زه ویده کېږم، دا ځان په ټګۍ په خوب وهي، چې ډاډه شي، نو په زمري ناره کوي:

که کرار دی نن زما زړه کرار دی

ته راووزه د زمریه! که غوبه یې که چامیار یې زما یار یې(۲۰)

جلات خان هم مجبورېږي راوځي. شمایله پر جلات خان مینېږي، په دې سره هغه ته د شرطونو د ترسره کولو لارې چارې ورښیي.

د دغو ترڅنګ د طبابت په برخه کې هم ځینې داسې تخیلي- ساینسي (ساینس‌فیکشن) ټوټې وینو چې زموږ په نکلونو کې راغلي هغه وخت د یو خیال په بڼه وې، خو اوس پر ساینسي تجربو اوښتي او عملاً یې موږ وینو. «د پاچا زوی، مالداره او سپی» کیسه چې کله د باچا زوی کوچۍ کوي، خو هغه ورځ چې د دوی د واده لپاره ټاکل شوې، واده نه کېږي. د کوچیانو کډې روانېږي. د دې کوچیانو داسې دود دی چې له خپل کلي ښځه نجلۍ نه وباسي. د پاچا زوی پسې روانېږي چې زه خپله ښځه ترې راولم، خو د هغوی تر کلي وړاندې دوه ښاپېریانې اوسي، هغوی نه روغ تېرېدل هم ناممکنه وي، خو د پاچا زوی په دې بریالی کېږي چې دواړې ښاپېریانې ماتې او خپلې کړي. پر دې سربېره د ښاپېریانو په مرسته له کوچیانو نه خپله ښځه هم راولي. دا درې واړه ډېرې ښایسته وي. کله چې پلار یې نږدې ویني پرې مینېږي او د زوی د وژلو په تکل کېږي، په کیسه کې لولو چې پاچا له قاضي څخه غواړي چې د زوی د وژلو لاره ورته وښیي، هغه مشوره ورکوي چې دښتې ته یې د ښکار په پلمه له ځان سره بوځه، هلته سقاو ته ووایه چې اوبه مه ورکوه، که غوښتلې یې د سترګو په بدل کې یې ورکړه، چې ړوند شو هماغلته یې پرېږده چې مړ شي.

((د چول دښت دی هیڅ سړی یې په خوله هم نه کوي آسپې هم نسته، یو ګړی یې ځان ټینګ کړی، آخر ته تندې نهایتي غلبه پر وکړه، د صورت وینه یې وار په وار وچېږي آخر ته یې فکر وکړی چې مرم خو مرم نه پاتېږم، تر مرګ دغه ښه دی چې سترګې مې وکاږي اوبه خو به سم، باره یې سکاو ته وویل چې: راسه دغه یوه سترګه مې وکاږه اوبه راکړه، سکاو هم دستې نښخ ور واچاوه سترګه یې ځنې وکښله هلته یې وغورځوله سپی یې ورته ولاړ وو، دستې یې دا سترګه په هوا ونیوله و مځکې ته یې نه پرېښووله وایې خیستله په ستوني کې یې وساتله، باره سکاو یو غوړپ تروې اوبه

ورکړې اوبه يې نه کړی. ده ويل: اوبه خو مې کړه کنه، سترګه دې راڅخه وکښله اوبه دې نه کړم هغه يو غوړپ هم تروې دي، سکاو ويل چې: يه، د باچا حکم نسته، چې دغه بله سترګه دې هم وکاږم نو دې اوبه وم، ده ورته ويل چې دغه ده دغه بله سترګه هم وکاږه، سکاو بيا ننښخ ور واچاوه، دا بله سترګه يې څنې وکښله هلته يې وغورځوله، سپي بيا ور امله کړه په هوا يې ونيوله دا سترګه يې هم تازه توده په ستوني کي وساتله، دی او سپی يې دلته پر دښت پرېښوه)).(۲۱)

په دې سره د پاچا کسان راځي په هغه زېری کوي چې سترګې مو ترې وکښلې او پر دښت مو وړی او ترې پرېښود.

سپی چې دا حالتويني، ځي يو ځای اوبه پيدا کوي، خپله لکی په اوبو کې لندوي بيرته راځي د پاچا زوی چې د سپي په لکۍ لاس وهي په دې پوهېږي چې سپي د اوبو ځای پيدا کړی دی، دی هم ورسره ځکېږي اوبو ته ځان رسوي او ځان اوبوي، سپی چې دی اوبه کړي، راځي کور ته، په کور کې چې د پاچا د زوی ښځې سپي ته هر څه ډوډۍ ور اچوي، خو سپی يې نه خوري، دوی پوهېږي چې حتما زموږ خاوند ژوندی دی، د سپي تر ملا ډوډۍ ورتړي او لېږي يې، په دې سره د پاچا زوی له مرګ نه بچ کېږي.

((دا بله ورځ بيا سپی را رهي سو، کلا ته راغی د باچا زوی تر درخته لاندې پروت دی، دوه مرغان راغله په درخته کې کښېنستل، يوه مرغه هغه بل ته ويل چې دا څه ښه ځوان دی ارمان چې سترګې يې درلودای، دې بل مرغه ورته ويل چې سترګې يې د سپي په ستوني کې دي چې د دې درختې بلګونه وشکوي او سپی په څټ کي په سوک ووهي سترګي به يې د سپي د ستوني څخه راولوېږي، بيا يې د دغې چينې په اوبو پرې مينځي په بسم الله يې د سترګو په غالبو کې کېږدي او دا بلګونه ميده کړي پر کښې يې ږدي، په دوه ساعته به يې خدای سترګې جوړې کړي په ويني به او هو سترګې به يې شنې وي هيڅ څوک به يې نه پېژني.

دا خبرې چې مرغانو سره وکړې پر سو والوتل.

دی دستي درختې ته ور وخوت بلګونه يې څنې وشکول بېرته راکښته سو چې سپی راغی ده کوچ کړه ورته سپی راغی سر يې په غېږ کې ورکښېښوده، ده په څټ کې په سوک وواهه په لمن کې يې سترګې ولوېدلې دستي يې واخستلې د چينې په اوبو يې

پرېولې، سربېره يې بلگونه پر کېښوول يو دوه ساعته پرېووت چې پورته سو چې سترگې يې پورته کړې مځکه او آسمان يې وليد)).(۲۲)

له دې نه څرگندېږي چې انسانانو د انسان د بدن د غړو د ساتنې خيال له ډېر پخوا نه له ځان سره لرل، هغه وخت له انسانانو سره دومره وسايل نه وو، خو د خيال په بڼه يې په خپلو کيسو کې ځای ورکړی دی. اوس دې برخې هم ډېر پرمختگ کړی دی. انسان ته د نورو انسانانو غړي پرېږده، چې د ځينو حيواناتو د غړو د پيوندولو خبرې هم اورو او د ساتنې په برخه کې هم ساينس پوره پرمختگ کړی دی. د انسانانو د بدن غړي په ماشينونو کې د ډېر وخت لپاره سلامت ساتل کېږي او د اړتيا په صورت کې نورو ته پيوند کېږي.

يوه بله ربړه چې په طبابت کې له ډېر پخوا نه را راوانه ده هغه د ځوانېدو مسئله ده. اوس هم دا برخه لا تر څېړنو لاندې ده، تر څو داسې څه پيدا کړي، چې د انسانانو د پوټکي حجرې بيرته ځوانې شي، په دې برخه کې خوراک ستر رول لري، زياتره د دې برخې متخصصان په دې اند چې سابه‌باب بايد په زياته کچه وخوړل شي، چې دا له حجرو سره مرسته کوي تر څو ځوانې پاتې شي.

په فولکلوري نکلونو کې هم موږ له داسې کيسو سره مخامخ کېږو چې د بيا ځوانېدو کيسې بيانوي. د «ککری» په نکل کې چې وړې وړې کيسې په کې راغلي يوه يې د يوې داسې ونې په باب ده چې مېوه يې انسان بيرته ځوانوي. په دې کيسه کې لولو: «باچا راغی ويل: هله، نه دې پرېږدم چې د دې معنا راته و نه کړې، هلک ويل: مه کوه داسې ارمان به وکړې لکه د توتي خاوند چې په توتي پسې وکړی، باچا ويل څنگه؟

هلک ويل: ته وابنه، يو باچا و، يو توتي يې په کپس کې اچولی و، دې توتي ښې خبرې کولې پر باچا خورا گران دی خورا يې ښه ساتي.

يوه ورځ په هوا نور توتيان دي سيل يې دی تېرېږي، يو توتي د هوا د سيل څخه را جلا سو، راغی د باچا د توتي پر کپس سربېره ورته کښېنوست، يو گړی ناست وو، چغ، چغ سره وکړې بيرته والووت ولاړ پخپل سيل گډ سو، هغه توتي چې ولاړ، دې توتي وژړل.

باچا ورته ويل چې ولي ژاړې او څه يې درته وويل؟

توتي ورته ویل چې: راته وې ویل چې دا ستا د ورور واده دی، دا دې د ورور د واده ورا ده، زما لږ څه زړه درد وکړی ولې بندي یم، باچا ورته ویل چې ور ایله دې کړم بیا به راسې؟

توتي ویل: هو، باچا ویل: څه شی به راته راوړې؟

توتي ویل: خدای و هست یو شی به درته راوړم.

باچا هم دستي توتي ایله کړی، توتي په سیل پسې والووت.

څه سر دې گرځوم څلورمه پنځمه ورځ بعد توتي بېرته باچا ته راغی یوه سپینه مندکه یې په خوله کې ورته نیولې ده.

باچا ویل دا دې راته راوړه؟ توتي ویل هو.

باچا ویل: دا نو د څه په ښه ده؟ توتي ویل: دا چې سپین یې کړه چې لویه سوله نورې مندکې کوي، هغه به زړو خلکو ته ورکوې ځوانېږي به)). (۲۳)

د انسانانو دا هڅه ډېره پخوانۍ ده، اوس هم روانه ده او تر هغې چې دا خیال پر واقعیت بدلوي انسانان به دا هڅه جاري ساتي.

مخکې موږ د ساینس‌فیکشن د اته څانگو یادونه کړې وه، په هغو کې دویمه څانگه: ((ماوراییي یا له عقله ورهاخوا کیسه: دا هغه ساینس‌فیکشن کیسې دي چې د کرکټر پټ علم، پټ قوت، ځان ورکولو یا غایبولو او نه منونکی توان ښیي)).(۲۴)

دغه څانگه هم تر ډېره په فولکلوري نکلونو کې راڅرگندېږي د «زبزبانې ښاپېرۍ» په نکل کې داسې یوې پېښې سره مخامخ کېږو. گوروان چې کله کلا ته ننوځي، گوري چې یوه زړه ښځه د حوض پر غاړه ناسته ده هغه ورته وایي چې زه انسانه یم، په وړکینې یې راوړې یم، یوه لور لرم گل‌خندانه نومېږي د باچا وزیره ده. اوس یې د راتگ وخت ده؛ ته چېرته پټ شه: ((دلته چې گوروان هغه دېب تر غره وراړاوه نو یې یوه خولۍ ورکړه چې دغه خولۍ پر سر کې نو به دې هیڅوک نه ویني، نه دېب نه ښاپېرۍ)). (۲۵)

انسان د زمان او مکان په قید کې دی، نو ځکه د ځان پټولو، ورکولو او یا هم غایبولو ځواک نه لري، له دې سره سره بیا هم له ډېرو پخوا زمانو څخه انسانان په خپلو تخیلي کیسو کې داسې صحنې انځوروي چې په هغه کې انسان ځان ورک او یا د خلکو له سترگو یې پټ کړي. دلته هم د خلکو له سترگو د ځان ورکولو لپاره خولۍ د یوه عامل په توگه راوړل شوې، چې داسې یو پټ ځواک په کې دی، چې د چا پر سر

شي نو هغه کس د خلکو له سترگو څخه پناه کېږي. سره له دې چې انسان داسې ځواک نه لري، خو د فولکلوري کیسو له لارې دا کیسه زموږ له غوږونو سره اشنا شوې او موږ له داسې حالت سره عادي شوي یو. اوس هم په فلمي صنعت کې داسې صحنې انځورېږي، په ځانگړي ډول په کومیډي فلمونو کې. جالبه لا دا چې له داسې صحنو څخه خوند اخلو، گورو یې او خوښي رابښي.
یو بل څه چې د انسانانو پام یې ځان ته واړاوه، هغه پلاستیکي جراحي، یا د انسان د څېرې بدلول دي. دې برخې ته د خلکو پاملرنه دومره زیاته شوه، چې حتی فلمونه پرې جوړ شول. په ولسي نکلونو کې هم داسې څه لرو، خو هلته خپل خیال ته توجیه پیدا کولو لپاره یې یو دلیل هم (چې زیاتره د جادو او منتر په بڼه وي) ورسره راوړی؛ یعنې یو عامل یې تر شا وي. په «دوه ورونه په یو رنگ» نکل کې چې دېب د ملنگ په بڼه ځان جوړ کړی او د سوداگر ښځې ته منې دموي په دې شرط که خدای زامن درکړ لومړی زوی به د دروړ په توگه راکوې. سوداگر ته خدای درې زامن ورکوي. څو کاله وروسته ملنگ چې راځي د سوداگر مشر زوی له ځان سره روانوي.
((هلته چې ملنگ دی را رهي کړی، نو وده ته یې یوه خولۍ ورکړه چې که دا خولۍ پر سر کړې چي د هر شي په ډول دي زړه وغواړي ځان د هغه شي په بڼه کولای سي)). (۲٦)
ملنگ او هلک ته یوه بوډۍ په مخه ورځي هغه هلک ته وایي چې ته له ده سره څه کوې، هلک ورته وایي چې زه پلار په وړکینې دې ملنگ ته په دروړ کې ورکړی یم، بوډۍ هلک ته وایي چې دا ملنگ نه دی، تور دېب او ادم خور دی. نو هلک له ملنگ سره چل کوي او ملنگ وژني. د هغه مال او دارایي خپلوي یو څه وخت تېرېږي. دی له خپل دغه ژوند نه ستړی کېږي هر څه نوکرانو ته پرېږدي د یو کال لپاره د استراحت په نامه ترې روانېږي. له یوه گوروان سره مخامخ کېږي، د هغه کالي اغوندي، خولۍ پر سروي چې شکل هر څه یې د هغه په څېر کېږي. ((باره راغی، یو گوروان دی، خپل کالي یې و ده ته ورکړه د گوروان کالي ده واغوستله، گوروان ته یې ویل چې ږغ مه کوه دغه زما آس گوره، دغه زمری هم درسره دی هوښ کوه چې ږغ و نه کړې، د سوداگر زوی په گورم پسې سو هغه خولۍ یې پر سر کړه کټ مټ هغه گوروان سو.)) .(۲۷)
د سینگارتوکو او ماسکونو په وسیله اوس هم د انسانانو څېرې بدلېږي او د پلاستیکي جراحي په وسیله خو په دایمي ډول تغییر کوي، خو کېدای شي یوه ورځ ساینس

دومره پرمختګ وکړي چې په موقت ډول انسانان خپلې ځېرې په اسانه سره تغيير کړي او چې کله وغواړي بيرته په خپله ځېره شي.

ځينې خلک دا د ساينس‌فيکشن برخه نه بولي، ځکه دا هغه څه بولي چې د جادو دخل په کې دی، خو يوه يادونه ضروري ده، چې دغو کيسو کې د خپل تخيل د توجيه کولو اسانه لاره جادو وه، ځکه دوی ورسره داسې څه ذکر کړي دي، خو په اصل کې خو دا خيال و، چې د انسان ځېره دې بدله شي، تر دې کچې حتی و نه پېژندل شي، نو په دې دليل له يوې مخې ايستل يې د تأمل وړ دي.

پخوا د انسانانو ژوند ډېر ساده و، حتی په سمڅو کې اوسېدل د ځان لپاره به يې يو مناسب کور هم نه و، خو نن د نړۍ ودانيو، مهندسي او انجنيري دومره پرمختګ کړی چې د ماڼيو څوکې تر وريځو پورته شوي ځکه خو د «اسمان څکي» اصطلاح رامنځته شوه، د نړۍ هر پرمختللی هېواد ډېرې داسې اسمان څکې ودانۍ لري چې خولۍ له سره ورته غورځي. له دې سره سره چې د پخوانيو ژوند محدود، امکانات کم او د اوسېدو ځايونه ساده وو، خو بيا هم له انسانانو سره د لويو لويو ودانيو د جوړولو فکر و، د «زبزبانې ښاپېرۍ» په نکل کې لولو:

((ګوروان را رهي سو، سپين کپی دښت دی لکه ارغوی هله هله دا دی يوې کلا ته راورسېدی، داسې کلا وه چې سر يې ښخي اسمان ته رسېدلی دی، ښويه ښالاکه ولاړه ده، چې هيڅ قابو د ورننوتو نسته او نه لار لري نه دروازه لري، نه يې سر و پای معلومېږي)). (۲۸)

د انسان د خيال دغه غوټۍ نن سپړېدلې د نوې مهندسۍ او انجنيرۍ له برکته موږ ډېرې داسې لوړې لوړې ماڼۍ لرو.

د انسانانو د ژوند يوه لويه برخه جنګونو نيولې، خو ورځ په ورځ د ټکنالوژۍ په پرمختګ سره د جنګونو شکل هم تغيير کوي. الوتکه که انسان د انسانانو د خدمت لپاره جوړه کړه، خو نن جنګي الوتکې تر ملکي هغو ډېرې دي، چې وظيفه يې د انسانانو وژل دي. يورانيم که د برښنا او انرژۍ ښه وسيله ده، خو د نړۍ لويه برخه د اټومي وسلو لپاره کارول شوې. د کويډ ۱۹ له راتګ نه وروسته د انسان وېره له بيولوژيکي وسلو ده، کېدای شي اوس هم په نړۍ کې ډېرې داسې بيولوژيکي وسلې

موجودې وي چې د انسانانو د تباهۍ لپاره جوړې شوې وي؛ خو له دې ټولو نه ها خوا له انسان سره يو خيال له ډېر پخوا نه موجود و، چې هغه د داسې وسلې جوړول دي، چې بې له دې چې ته پرې سترى شې هغه درته دښمن له پښو وغورځوي. د «زبزبانې ښاپېرۍ» په نکل کې لولو: ((دېب ويل تا دې خداى نه خوابدى کوي دوباره يې يو سوټى، يو ځنځير، يوه مسله ورکړه نو يې ورته ويل چې په دې سوټي کې دا حکمت دى چې ورته وايې چې «دى سوټيه دى مه يې سر گوره مې پښې» او چې پر ځنځير حکم وکې چې تړه يې ځنځير دستي چې هر رنگه دېب وي ټينگ يې تړي او سوټى يې وهي څو ته ورته وا بس يا يې مړ کي)). (۲۹)

نو دى هم همدا سوټى او زنځير په خپله په همدې دېب ازمايي او هغه وژني د زبزبانې او گل‌خندانې سرندې ترې اخلي. دغه نکلونه د ډېرو پخوانيو انسانانو د فکر د طرز استازي کوي. له انسانانو سره له ډېرو پخوا زمانو راهيسې د خپلو دښمنانو د راپرځولو فکر موجود و. په دې کې د انسانانو داسې دښمنان هم ول، چې ځواک يې تر انسانانو څو چنده زيات وو، خو انسان د هغو وسايلو پر مټ چې د دوى د پرځولو لپاره يې جوړ کړي وو، پر دې بريالي شول چې هغوى تر پښو وغورځوي او په خپل کنټرول کې يې راولي.

ولسي نکلونه د نړۍ د بېلابېلو ملتونو د پخواني فکر د طرز، انگېرنو او اټکلونو هنداره ده. د دې نکلونو يوه ځانگړتيا دا ده چې د بېلابېلو ملتونو له نکلونو سره په کې مشترک توکي موندلى شو، چې دا يې قدامت ثابتوي. له بلې خوا دغو نکلونو انسانان دې ته وهڅول چې هغوى خپل خيالونه پر ساينسي تجربو واړوي؛ که څه هم موږ په خپلو نکلونو کې د ساينس‌فيکشن برخه له ډېر پخوا نه لرله، خو په ساينسي تجربو اړولو کې يې پاتې راغلي يو. دا په دې معنا نه ده چې موږ دې له ساينس‌فيکشن نکلونو او کيسو سره مخه ښه وکړو؛ ځکه انسانان د نکل او کيسو له اورېدو سره ځانگړې مينه لري، موږ کولاى شو ځوان نسل ته دا فکر ورکړو چې د نړۍ ملتونو خپلې تخيلي طرحې او کښيدې څنگه پر ساينس واړولې. موږ هم که په دې برخه کې هڅه وکړو خپل خيالونه پر واقعيت بدلولى شو.

## پایله

که څه هم ساینس‌فیکشن ته د شلمې پېړۍ له دویمې او درېیمې لسیزې وروسته د لیکوالو پاملرنه واوښتله او په مکتوبي ادبیاتو کې یې د داستاني ژانر مهمه منځپانګه وګڼله، خو زما په نظر ساینس‌فیکشن په هیڅ ډول نوې پدیده نه ده، بلکې له ډېرو پخوا زمانو څخه زموږ په ولسي نکلونو کې یې څرکونه لیدلی شو. د نورو ملتونو په څېر د پښتو په ولسي نکلونو کې هم د ساینس‌فیکشن غوره بېلګې موندلی شو چې له دې نه څرګندېږي چې پښتنو هم له ځان سره داسې خیالونه او تخیلي طرحې لرلې، خو په عملي ساینس اړولو کې تر نورو شاته پاتې دي، چې هغه هم خپل علتونه لري. بل څه چې د ارزښت وړ یې بللی شو هغه دا چې فولکلوري نکلونه یوازې خرافي کیسې نه، بلکې د نننۍ پرمختګ په ځانګړې توګه په ساینسي علومو کې د محرک ځواک دنده یې ترسره کړې ده.

اوس علوم د یو بل د بشپړونې په برخه کې له یو بل سره مرسته کوي، له مجرد حالت څخه راوتلي. د ساینس‌فیشکن نکلونو او کیسو څخه څرګندېږي چې ادبیاتو په علمي او ساینسي پرمختګونو کې کافي ونډه اخیستې ده.

## وړاندیزونه

١. دا چې تر ډېره فولکلوري نکلونو ته د خرافي کیسو په توګه کتل کېږي، درانه څېړونکي دې د دغو نکلونو د موضوعاتو پر بېلابېلو اړخونو کار او څېړنې وکړي، تر څو د هغوی منځپانګه په ښه توګه وڅېړل شي.

٢. زموږ د فولکلوري نکلونو یو غوښنه برخه لا تر اوسه نه ده خوندي شوې، که د پوهنتونونو استادان محصلان وهڅوي، تر څو د مونوګرافونو په توګه دغه نکلونه راټول کړي، چې په دې سره به د هېواد له لرې لرې پرتو سیمو ولسي نکلونو راټول شي.

٣. په عام ډول موږ ټول باید د ولسي نکلونو په خوندي کولو کې ونډه واخلو او ترڅنګ یې عام خلک هم د هغوی ارزښت ته متوجه کړو.

## مأخذونه

١. شپون، سعدالدین او نور. انګلیسي- پښتو قاموس، اریانا کتب خانه: پېښور، ١٣٨١ل کال، ٢٩١مخ.

٢. آريان‌پور کاشانی، منوچهر. فرهنگ گسترده، نشر الکترونيکی و اطلاع رسانی جهان رايانه: (- - -)، ١٣٨٢هـ.ش، ٨٣٢مخ.

٣. ازمون، لعل پاچا. د ادبياتو فلسفه، د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست، الهام نبي زاده مطبعه: کابل، ١٣٩٩ل کال، ٩٥مخ.

٤. داد، سيما. فرهنگ اصطلاحات ادبی، انتشارات مرواريد: تهران، ١٣٨٥هـ. ش، ٢١۴مخ.

٥. پسرلی، ايمل. د نړيوالو کيسو کيسې (کره‌کتنه)، سروش کتابپلورنځی: کابل، ٢٠٢٠ز کال، ٢٢٠مخ.

٦. قصاع، محمد رضا ، ادبيات علمي- تخيلی در بيست سال اخير، ادبيات داستانی، شماره ٥١: ١۴٦مخ.

٧. غضنفر، اسدالله؛ منلی، نجيب. د ادبياتو دنيا، (ـ ـ ـ): (ـ ـ ـ)، ١٣٩٩ل کال، ٣٧٩مخ.

٨. عمرخېل، حميدالله. ساينس فېکشن څه ته وايي؟، تاند ويبپاڼه، د پورته کېدو نېټه ١١ جنوري ٢٠٢٢، د مراجعې نېټه: ١۴٠٣/٣/٥، [لاسرسی: https://taand.net/?p=٢٠٢٨٧٨]

٩. د ادبياتو فلسفه: ١٠٠مخ.

١٠. فدايی، فربُد. روانشناسی وجامعه شناسی داستان های علمی- تخيلی، ادبستان، شماره ٦، پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی، پرتال جامع علومو انسانی، PDF، ٣٠مخ.

١١. د نړيوالو کيسو کيسې (کره‌کتنه)، ٢٢٠مخ.

١٢. پورتنی اثر، ٢٢١مخ.

١٣. د ادبياتو فلسفه، ٩٢- ٩٣مخونه.

١٤. نوري، محمدګل. ملي هنداره، د مطيع‌الله روهيال په اهتمام، صداقت خپرندويه ټولنه: کندهار، ١٣٩٠ل کال، ٦٦مخ

١٥. پورتنی اثر، ١٦٣مخ.

١٦. هماغه، ١٦٣مخ.

١٧. د ادبياتو فلسفه، ٩٣مخ.

۱۸. ملي هنداره، ۴۴۷مخ.
۱۹. پورتنی اثر، ١٦٧مخ.
۲۰. هماغه، ١٦٩مخ.
۲۱. هماغه ، ۳۷۴مخ.
۲۲. هماغه، ۳۷۷مخ.
۲۳. . هماغه ، ۴۲۱مخ.
٢٤. د نړیوالو کیسو کیسې (کره‌کتنه)، ۲۲۱مخ.
۲۵. ملي هنداره، ٦٢مخ.
٢٦. پورتنی اثر، ۳۹٦مخ.
۲۷. هماغه، ۳۹۸مخ.
۲۸. هماغه، ٦٢مخ.
۲۹. هماغه، ٦٧مخ.

څېړنوال دوکتور محمد داود عربزی

# د باراني په شعر کې هنري رنګونه

# Artistic Colors in Barani's Poetry

Associate Prof. Dr. Mohammad Daud Arabzai

**Abstract**

Farid Barani, an anonymous poet of Pashto poetry, introduced a new form of poetry with great competence. His poems reflect the themes of formalism, a literary school that emerged in the early ۲۰th century. This school emphasizes the outward form of art and gained popularity over time. Barani's poetry incorporates new terms and connects them in a unique way, embodying the theories that predict the future of poetry. His innovative rhyme scheme, excellent imagination, and combinations make his work stand out. Despite receiving little attention during his time, Barani's poetry showcases his talent and contribution to Pashto literature.

**لنډیز**

فرید باراني د پښتو شعر په برخه کې د معاصر پېر یو نوم ورکی شاعر و، چې په خپل وخت کې یې شعر ته پام نه دی شوی، ده شعر په نوې بڼه خلکو ته له پوره صلاحیتونو سره ور وپېژاند، په شعر کې یې د فورمولیزم ادبي مکتب نښې روښانه دي او هغه څه یې مجسم کړي، چې د همدې ادبي ښوونځي پر دایره کې راځي. د

شلمې پېړۍ په دوو لومړیو لسیزو کې د فورمولیزم په نوم یو نوی ادبي مکتب رامنځته شو، د دې مکتب پیروان او مینه وال وایي چې: ټول ارزښتمن شیان په خپله په هنر کې نغښتي دي، له دې امله یې د یوه ښکلي ادبي ښوونځي په توګه پرمختګ وکړ او د وخت په تېرېدو سره ډېرو هنر پالو وازمایه، دا ادبي مکتب د هنر په بهرنۍ بڼه یا ظاهري شکل ډېر باور لري. د باراني شعر نوي اصطلاحات را میدان ته کړل او په شکلي توپیر یې وپېیل، پر شعر یې هغه ټول نظریات د تطبیق وړ دي چې د نوي شعري دور وړاندوینې پرې ولاړې دي، له شکلي پلوه یې د نظم فکر او ځمکه نوې ده، تصورات، خیالات او ترکیبونه یې عالي دي.

## سریزه

شعر د شاعر میراث دی، خو ځېړونکی او کره کتونکی اړ دی چې د شاعر پر کلام د یوې ټاکلې موخې لپاره د خپل نظر څرګندونه وکړي او پر بېلابېلو اړخونو یې کتنه وکړي، په دې برخه کې د ځینو شاعرانو شعرونه نه دي څېړل شوي او د هغوی فکر لا تر اوسه د خپلو چاپ کړو شعرونو په پاڼو کې پاتې دی، یو هم د باراني کلیات دي، چې تر دې دمه پرې بحثونه نه دي شوي، په داسې حال کې چې د شعر پوهنې په برخه کې ډېر څه لري.

د پښتو شعر په ارزونه کې زوړ دود دا دی چې، د شعر سپړنه د زاړه میتود له مخې په استعارو او بدیعي صنعتونو کوي، په داسې حال کې چې دا د شعر پوهنې د یوې برخې په توګه د بحث وړ ده.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د باراني شعر د تفکر له مخې نوی او ځوان دی، د صلاحیت ټول بریدونه یې په لوړ جرئت وهلي دي، کلام یې د شعریت د خوږو په خُم کې ډوب دی او کوښښ کوي چې د ټولنې عام اصطلاحات په داسې ډول انځور کړي، چې حیراني او هیجان په کې وي، د ده شعر د نویزونو استازی دی او هڅه کوي چې، د خپل چاپېریال د توکو په انځورولو سره نوښت وکړي. که په شعر کې یې مبالغه هم شته، خو د روایت پر بنسټ ده، د فورمولیزم انځور په ښکلي شکل وړاندې کوي، زاړه روایتونه د تېرو وختونو په تصوراتو کې ډوبوي او د نوي رنګ نوي مجسم شکلونه وړاندې کوي.

## د څېړنې موخې

د دې مقالې موخه  دا ده، چې نوي کهول ته د شعر نوي صلاحیتونه او نوي انځورونه ور په ګوته شي او هم یې تر څنګ د نوي شعري بهیر برلاسی روښانه کړم، چې یو شاعر څنګه باغي تفکر په روا ډول اړولی او نورو ته رسولی شي. باراني هم د همدې لارې د شعري زړو روایاتو له تیارونه د راوتلو لارې چارې ښیي.

د فرید باراني شعر د معاصر شعري بهیر د نویزونو په برخه کې د یوې بېلګې په ډول یادولی شو، د ده شعر د نوې شعري پوړۍ او تصور یو ښه مصداق کېدای شي، د معاصر ژوند د انځور یو ښه لوبغاړی او ماتې نه منونکی ممثل یې هم یادولی شو، د لوړو هیلو او ښکلو فورمولیزمي ترکیباتو په درلودلو سره د لوړ هدف پر لور تګ هم را په ګوته کوي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې غواړم لاندې پوښتنو ته ځواب ووایم:

۱. د باراني شعر د نوي عصر له کومو اصولو سره برابر دی؟

۲. د  ده په شعر کې د کوم ادبي او فکري سبک څرکونه وینو؟

۳. د باراني په شعر کې نوي ترکیبونه او اصلاحات څنګه ارزولی شو؟

## د څېړنې میتود

د څېړنې ډول مې کتابتوني دی، ما د فرید باراني ټول کلیات لوستي او په هر شعر کې مې دا تصور کړی، چې د شاعر فکر په کې تر کومه بریده جوت دی، د نورو شاعرانو له شعرونو سره یې نسبي توپیر په څه کې دی، په همدې ډول مې د ده انتخاب کړي شعرونه تشریح او تحلیل کړي، ویلی شو، چې د څېړنې میتود مې ورته تشریحي او تحلیلي ټاکلی دی.

## د مقالې متن

په دې مقاله کې د یوه ورک او هېر شاعر فرید باراني د شعر په خوړو  خبرې شوې، باراني مې نه پېژانده، خو یوه ورځ مې له ازادۍ راډیو څخه د شعر او ادب په خپرونه کې له استاد عضنفر سره د یو هلک غږ تر غوږو شو، څه ډېر عجیبه استدلال یې کاوه، ماته یې خبرې نوې او حیرانوونکې وې، د شعر په روانو کالیبونو یې ښه بحث وکړ او دا یې هم وویل چې: ((شعر کومه ځانګړې موضوع نه لري، بلکې د انسان ټول ژوند د

شعر انځور کېدی شي، هر هغه څه چې زما په ورځني ژوند کې بيا ځلي پېښېږي، همدا د شاعرۍ موضوع ده، هغه که عشق، وصال، د معشوق د حسن ستايل، مدحه او نور هر ډول موضوعات وي))

((دلته انسان او بازار

دواړه له خامو او ورستو خښتو جوړ دي

چپه پښتۍ مې په قران خالي ده...))

ماته يې شعرونو خوند راکړ، خو د وخت چارو پرې نه ښودم، چې ليده ورسره وکړم، مګر چې يو مهال يې له ځوانيمرګۍ خبر شوم. له هماغه مهاله مې دا پر ځان پور ګڼلې وه چې، د ده شعرونه بيا مومم او يو څه پرې وليکم، چې له نېکه مرغه شعرونه يې استاد ګل رحمان رحماني راټول کړي او د بارني د کليات په نوم يې نومولي دي.

د باراني په شاعرۍ کې له ځينو داسې اصطلاحاتو سره مخامخ شوم چې زموږ په ورځني ژوند کې شته، خو تر اوسه ورته په شعر کې پام نه وو شوی لکه: ((ونې شيدې کوي، پريشاني پلورل، د شپې په تن کې، ګوګړ لټول)) او ځينې نور.

زما په فکر شاعري همدې ته وايي چې، د ټولنې ښکاره خو ورک شيان راڅرګند کړي او د ټولنې ښېګڼې او بدګڼې پرې کره کړي، خو بيا شعر هم د استاد الفت خبره ((د شاعر د زړه خبرې دي)) دا خبرې به ضرور په اهنګواله لهجه او له عواطفو ډکې وي. د باراني شعر هم ټولې هغه د زړه له کومې راوتې خبرې دي، چې ده پر لوړ هنر، ځانګړي احساس، د عواطفو په مراعت او د الفاظو په رنګينيو ښکلې کړې او په ښه ډول يې خپل فکر او ځانګړی پيغام تر ټولنې رسولی دی:

((ته د شعرونو د الهام د پرښتې

د نازکخياله حسن

او د خيالونو د ماڼۍ

هغه نګين ته ورته

چې زه پنځه کاله شوم

ستا د رخسار د آيينو له باغه

لکه ماشوم

ځانته منې شکومه)) ۱

له بله پلوه که د ځینو پوهانو په اند: د ادبیاتو د دورو وېش ته وکتل شي، نو د باراني شاعري د نوي وېش له مخې د منظومو ادبیاتو په پنځمې دورې پورې اړونده ګڼلی شوو.

پوهاند دوکتور لال پاچا ازمون په افغانستان د ۱۳۸۱ ل کال یا د سپټمبر پېښه د پنځمې منظومې ادبي دورې پیل بولي: ((دغه دوره د نړۍ په کچه د یو لوی سیاسي، اقتصادي او ټولنیز بدلون په پایله کې چې پر ادبیاتو یې هم اغېز جوت دی، رامنځته کېږي... په دې دوره کې د ولسواکۍ لپاره یو بېل فصل پرانیستل شو، ولسواکۍ د بیان ازادۍ ته ور پرانیست... د سپټمبر پېښې د ادبیاتو د شکلي بدلون لپاره بستر وغوړاوه، پر نثر سربېره د نظم پر ځمکه نوی فکر او خیال په نویو شاعرانه ترکیبونو او اصطلاحاتو کې غځونې وکړې، پر زړو معنوي او لفظي فورمونو سربېره چې نوې ساه په کې وټوکېده، نوي فورمونه له نظري اختلافاتو سره سره هم رامنځته شول.))۲

په دغه دوره کې نوي سمبولونه او کلمې هم را وزېږېدې، چې ډېری یې تر سپټمبر پېښې د مخه شاعرۍ کې نه ترسترګو کېږي او نوې پنځېدلې یې بللی شوو.

له پورته یادونې مې موخه د باراني په شاعرۍ کې د وخت او حالاتو سره برابرې ځینې اصطلاحګانې هم تر سترګو کېږي او هم یې د یو لړ پېښو انځورونه چې د سپټمبر له پېښې وروسته را پېښې شوي، په خپلو شعرونو کې ځای کړې.

باراني زیار باسي چې، خپل شعر د فورمولیزم په اصولو وړاندې کړي او له نظره یې هم همدا څرګندېږي، ځکه چې دا وایي: زه باید په ټولنه کې له ټولو کارېدونکو توکو او شیانو نه کار واخلم، کوښښ کوي چې عامو اصطلاحاتو ته هم شکل ورکړي، نو پر دې بنسټ ویلی شو چې، د ده په شاعرۍ د فورمالیزم سیوری شته:

((داپرېشاني به اوس په چا پلورم)) یا هم ((د شپو په تن کې)) دا هغه څه دي چې موږ یې کاروو، خو په عام ډول په شعر کې نوي اصطلاحات پنځول دي؛ موږ شپه وایو، خو شپې ته مو شکل او وجود نه دی ثابت کړی، شاعر ورته د تجسم په نظر ګوري او خیالي یا تصوراتي وجود یې یقیني کوي، همدا ډول ((ونې شیدې کوي)) دا هم موږ له پخوا اورېدلي چې د ونې له ډډ نه ځینې وخت اوبه را وځي؛ خو په عام ذهنیت کې دا خبره شته چې کله د ونې له ډډ نه نم یا اوبه را ووځي، نو وایوو چې ونې ژړا کوي، یا هم د ونې له ډډ نه مو د یو ډول غوړو کنډ را وتل لیدلي او اورېدلي، خو د ونې شیدې مو نه وې اورېدلې او نه هم د نور شاعرانو په شعرونو کې داسې کومه اصطلاح تر

سترگو شوې، خو په رښتیا هم شاعر د ونې ټول عام حالت درک کړی، ځینې وخت د ونې له ډېر نه سپینو شیدو ته ورته نم را ووځي.

همدا ډول، د پرېشانۍ کلمه موږ په عامه معنا ډېره کاروو، خو د پرېشانۍ نه پېښې یا وجود جوړول او په بل پلورل د هنر په تومنه د شاعر د خیال کار دی. فورمولیزم ورته داسې وایي چې: ((د یوه هنر ټول ارزښتمند شیان په خپله په هنر کې نغښتي دي او نور عوامل، لکه: د یوه اثر تاریخي ارزښت، د هنرمند ژوند او د هنر هدف د اثر له جوړېدو څخه په دویمه درجه کې ځای لري))۳

دا یو شکلي ادبي ښوونځی دی چې په یوه هنري اثر کې د هغه ارزښت یوازې په هنر او فورم کې لټوي. ځینې پوهان د فورمالیزم د لغوي معنا په اړه لیکي چې: ((د فورمالیزم نوم له دوو کلمو رغېدلی دی، فورم او ایېزم، فورم د لاتیني له فورمه Forma څخه اخیستل شوی نوم دی چې معنا یې بهرنۍ بڼه یا ظاهري شکل دی، فورمالیزم یو ادبي جریان دی چې د شلمې پېړۍ په لومړیو دوو لسیزو کې رامنځته شوی دی.))۴

((زه گنهگار یم
ما یوازې پرېږدئ
دا ور در وتړئ
دا شمعه مړه کړئ
او دا د شعر کتابونه ټول کړئ
یو څو شېبې مې د دې تورې شپې په زړه کې پرېږدئ
چې ښه له زړه وژاړم
او له خپل نفس او وجدانه معذرت وغواړم
زه گنهگار یم
ما یوازې پرېږدئ
غواړم له خپلې کوټې
د تاریکیو واړه ټکي وخورم
د گناهونو د معافۍ لپاره
غواړم په خپلو گناهونو اعتراف وکړمه
او خپل ناولي نفس ته اور ورته کړم...)) ۵

په پورته شعر کې شاعر د فورموليزم (د سټرکچر يا جوړښت) د سبک څرکونه څرګندوي، په دې معنا؛ که موږ د هنري اثر په اړه څه وايو، نو په کار ده چې د هنري او غير هنري په اړه يې توپير وشي او په دې برخه کې له عيني شواهدو کار واخيستل شي، چې دا پرته له شکل نه ممکن نه دی، موږ اړ يو چې د شکلونو ترمنځ يې توپير د ښه او ناښه يا د خراب او ښکلي وکړو، په دې ادبي جريان کې به د يو هنري اثر ارزونه د شکل پر بنسټ کېږي. د نمونې په ډول: نفس تجسم کول او هغه ته د يوې آلې په ډول اور ورته کول، تورې شپې ته خيالي زړه ثابتول، د ور، شمعې (ډيوې) او د تورتمونو ټکي خوړل، په سمبوليکه بڼه شاعر کوښښ کړی چې له خپلې خوا و شا ټول اشيا په شعر کې وکاروي او شکلي هنري يا غير هنري تصوير يې روښانه کړي.

ځينې ځايونه اورم چې ويل کېږي؛ شاعر بايد ټولنه د شعور په ذره بين وګوري او په تحت الشعور يې کره کتنه وکړي، خو دا په اصل کې شاعر خپله ټولنه نه نقدوي، بلکې د ټولنې د افرادو د عملونو نقد کول او هغو ته نغوته کول يې موخه وي، چې په دې سره افرادو ته د ټولنيزو اصولو د بيان، سمې او ښې لارې ښودلو ترڅنګ د ښه او ژور فکر لارښودنه هم کوي، دا ځکه چې شاعر په هره ټولنه کې د درېيمګړي رول لوبوي، د خپلې ټولنې ښه او بد ټول ننداره کوي او بيا يې په ځانګړي هنر د احساس او عاطفې په ژمنه کلک ترې او په پوښلي شکل يې د ټولنې د اصلاح په موخه وړاندې کوي.

عيني انډول يا برابروالی، د باراني په شعر کې د پام وړ موضوع ده، عيني تصور يا عيني برابروالی د ((عيني انډول د بيانولو ـ تشريح کولو پرځای د کرکټر د احساساتو ښوولو ته وايي... د ايليټ٦ په اند: احساسات مستقيم نه شي وړاندې کېدای، د پنځګر او لوستوال ترمنځ عيني انډول وي؛ د همدې عيني انډول له مخې لوستونکی په پنځونه کې شته احساسات حس کوي؛ ايليټ ټينګار کوي چې د هنري اظهار موخه ((حسي کول دي)) يواځنۍ لار د عيني انډول موندنه ده. مثالونه، حالت او پرله پسې پېښې هغه عيني انډولونه يا بهرني وسايل دي، چې احساسات په کې حسي کېدای شي او چې کله هم ورسره څوک مخامخ شي، همداسې احساس کړي.))٧

له پورته اخیستنې نه دا پایله ترلاسه کېږي چې په عیني انځول کې احساسات د مستقیم اظهار پر ځای مثالونه وړاندې کېږي یا هم ستونزه مه بیانوه بلکې اصلي موخه او پایله یې وړاندې کړه:

((زما د غمجن زړه د خپګان تیره کې
ترسیمېدلی شي!
له یوې ګردجنې ورځې رانیولې
تر یوې کړکۍ
تر یو ساړه زندانه
تر یوې چوپې مرغۍ
تر یوې چوپې او آرامه ښځې
زما زړه تنګي کېدای شي
په یو کتاب بدل شي
له یوې ترخې کیسې نیولې
تر یوې غمجنې پېښې
آن د یوې ونې بې مفهومه رابطه
د هغې له سیوري سره
او په یوه کښت باندې
د ملخانو هجوم
او د یوې تنګې کوڅې
د ازدحام شور ماشور...)) ۸

ځینې پوهان په عیني انځورونو کې یوازې په شکل ټینګار کوي، ځینې وایي چې د شکل ترڅنګ مضمون هم د ډېر ارزښت وړ دی، ځینې نور بیا شکل او مضمون سره بېل بولي، خو دلته په عیني شکل کې د غیر مادي اشکالو موضوع په دې مهمه ده چې حسي ده او دا برخه په شاعرۍ کې د خیال په برخه کې اړینه ده.

د یونان نامتو پوه اپلاتون په دې باور دی چې: ((محسوسات ظاهري او تېرېدونکي شیان دي، نه اصلي او حقیقي؛ محسوسات که مادي وي، لکه: حیوانات او نباتات، یا معنوي وي، لکه: ښکلا، عدالت، زړورتوب او داسې نور، عارضي او بدلېدونکي دي، نو

د دوی په باره کې زموږ پوهه نیمګړې ده او یوازې پر حس او ګمان ولاړه ده، خو دغه ټول محسوسات یو مثال (نمونه یا غږ) لري چې د حواسو په واسطه نه درک کېږي او یوازې عقل یې درک کولای شي، نو کوم شیان چې په دې نړۍ کې حس کېږي، حقیقي شیان نه دي، بلکې د دوی مثالونه حقیقت لري.)) ۹ د باراني په شعر کې حسي انځورونه ډېر دي، په دې ازاد شعر کې یې تر پایه د یو ژباړلي شعر په مرسته د خپل ژوند د حالاتو مثالونه په عیني انډولیزه بڼه وړاندې کړي، دلته یې یو بل ازاد شعر هم ګورو:

((شپه! د یو ځو مرموزو اوښکو
په تیاره لپه کې
د ځو وړو تودو سلګیو
په کنګل اخته ده
درد د پرونې شپې بې خوبه مسافر لاروی
او تحمل د ناکردیو ډنډ کې، پښه د انتظار ماتوي
ضمیر د مینې د هوس د ویالې
په غاړه ناست دی د افسوس له څنګه
په وړو لپو د اوبو د ځښلو هڅه کوي
شاعر حیران، لکه د ښار په څلور لارې کې یو بت ته پاتې
د قلم خوله یې چا ګنډلې ده ترې...)) ۱۰

دا شعر که تر پایه ولوستل شي، نو شاعر په دې کې د خپل هېواد حالات د موضوعي ځرګندوالي پر ځای د هنر او احساس په مرسته په مثالونو کې راوړي، د باراني په شاعرۍ کې د عیني تصور انډولونه ډېر لیدل کېږي، په ځانګړي ډول د ازاد شعر زیاته برخه یې له دا ډول بېلګو ډکه ده.

موږ په نړیوال ادب کې د ایډیل اصطلاح ډېره ګورو، زما په خیال چې په خاص ډول به ایډیل شاعر هغه ته ویل کېږي چې د افراط پرته په ځانګړي هنرـ تفکر او روح، د خپلې ټولنې اړتیا، رنځونه او دردونه، په داسې عالي فکر وړاندې کړي چې لوستونکی یې په لوستلو سره پیغام واخلي او په ځان کې د بدلون احساس وکړي.

باراني د ژوند په عملي ډګر کې د ژورنالیستې دنده لرله، هغه عیني واقیعتونه چې په مخه ورغلي، وخت نا وخت یې انځور کړي او په هنري شکل یې د خپل هېواد له روان ناورین نه سر ټکولی او د هېواد جوړونې د فکر پیدا کېدو ناري یې داسې وهلې دي:

((دا دی پنځه کاله شول

د زړه په وینو توروم

د کتاب هره پاڼه

ورسره وینې ژاړم

خو لا هم پوه نه شومه

چې دا غمګینې کربنې چاته لیکم؟

شاعري چا ته کوم؟

او داسې څوک دي

چې زما د زړه پر پوله ناست؟

په هر نظر راته یادونه د ارمان جوړوي؟...)) ۱۱

په شعر کې د تفکر لېږد بله اړینه موضوع ده، شاعر د شعر د توکو په مرسته په انساني اذهانو داسې جادو کوي چې، په رواني لحاظ ډېر اغېز کوي؛ شاعر د عاطفې او احساس پر مټ په اورېدونکي یا لوستونکي د خپل فکر منبنت داسې کوي چې هم مقابل لوری له شعره خوند واخلي او هم ورته د خپل فکر ځانګړی پیغام ورسوي:

((چا راته وې چې: ((په شعرونو دې عام نه پوهېږي))

ما ورته وې چې: ((عام دې خدای پوه کړي))

زه خو د عام لپاره شعر نه لیکم

پرېږدی چې فکر وکړي

دوی د زمان په شنو او سپینو پردو څه وکړل

چې زما په شعر یې وکړي؟

پرېږدئ را وپارېږي

پرېږدئ خوځښت وکړي، نوښت راولي

زموږه خوا ته را ستانه شي

لاس په لاس

غاړه په غاړه
د يوويشتم قرن ډيوه بله کړو
او ورپسې تصميم تصوير کړو او هدف و ټاکو
د تصميمونو په څېر
د آرمانونو ښکلي ستوري په سينه وولو
او د ساعت د ټيک و ټاک په دواړو ستنو قدمونه کېږدو
سات ته اوږه ورکړو، پر وخت سپاره شو
او د راتلونکي پر لور وخوځېږو.)) ۱۲

په شعر کې پيغام مهم دی، چې ښايي شاعر خپل ټاکلی پيغام د هنري ـ شعري ځانګړو الفاظو په مرسته د ټولنې وګړو ته ورسوي، که کوم شعر پيغام ونه لري، نو کلام يې بې ارزښته کېږي چې دا ډول شعر تش هنري الفاظ بلل کېږي، ښه شعر هغه دی چې ټولنې ته د ښه فکر ترڅنګ ښه او عالي پيغام هم ولري. د باراني په شعرونو کې تر ټولو لوړه برخه د ازادو نظمونو ده، دی په دې برخه کې برلاسی او د صلاحيت لرونکی دی، کوښښ کوي چې په ښه کيفت خپل پيغام ورسوي او پايله هم تر لاسه کړي، دی په ازاد شعر کې هومره سرشار دی چې، غواړي د ازاد شعر په زاړه فورمولي قالب کرښه راکاږي او په دننه کې يې په نوې بڼه ژورې خبرې وړاندې کړي:

((شپه ده تياره ده
د سپرلي خوږه نغمه خوره ده
او د آسمان له نوره ګڼو ستورو
د شپې سينه ده سينګار کړې د يزدان لپاره
ستا رهنورد، ستا بېچاره، ستا خدای وهلی نوښت
او ورسره هغه وچ شوی فکر
غټه لکړه په لاس
پښې يې دواړه بډوهلې
کوز و پاس
د ښکلو ستورو منځ کې
هر که لټوي ستا د يادونو شبېې

د تېرې مینې د وختونو شپې
یو من تشویش په سر
دوه کوټې غم په زړه کې
او یوه ځمکه امیدونه د روح...)) ۱۳

زموږ ځنې شعر پېژندونکي ازاد شعر ته تر کلاسیک شعر وروسته نوی شعر هم وایي:
((نوی شعر ځکه نوی وبلل شو، چې پر عروضي قانون باندې نه دی ولاړ او د وزن او قافیې پابندي هم نه لري، دغه شعر ځکه سپین یا ازاد شعر بلل شوی دی، چې د زاړه شعر معیارونه نه مراعت کوي او نوموړي شعر ته ځکه بې وزنه شعر وایي، چې دغه شعر د لرغوني شعر پر خلاف د ټولو معیارونو او جوړښتونو څخه ازاد او بې قیده دی.)) ۱۴
د باراني په شاعرۍ کې تر مقفی شعرونو، د ازادو شعرونو تله درنه ده، دا درنښت یې هم د شمېر له پلوه جوت دی او هم د معنویت او هنریت په تومنه زیات دی، د نویو اصطلاحاتو او ترکیبونو په مرسته یې شاعري پیاوړې برېښي:
((عموماً په مقفی شاعرۍ کې د کیفیت د انتقال چانسونه کم وي او پرځای یې مضمون ته ډېر اهمیت ورکول کېږي، خو په ازادنظم کې چې کیفیت وړاندې کېږي، رواني ارزښت لري. ازاد نظمونه که د درون غبرگون وي، خو ښه تر ښه، گنې د بهرنۍ دنیا په اړه ستا دروني غبرگون ښیي او داسې یې رواني ارزښت زیاتېږي.)) ۱۵
باراني د خپل دردېدلي ژوند حال، د لار ورکي ستړي لاروي په څېر بولي چې د هدف مونډلو په تکل ناکراره منزلونه وهي، خو بیا هم څه په لاس نه ورځي، د ژوند دا تصویر یې په لاندې مقفی شعر کې گورو:

((په دمه تللي وو، له هغې خوا نه ستړي راغلو
معلومه نشوله چې ولې لاړو، ولې راغلو؟
د زمانې غاښونه تېز، لکه: د مار د زهرو
موږ یې له پاسه، څه په وېره پرې ختلي راغلو
په کومه لاره چې د مار په لکۍ وختلو
په هغه لاره کې له پړي ډارېدلي راغلو
ونو یې سترگې دېوالونو یې غوږونه لرل
فکر مو وکړلو چې چا نه یو لیدلي راغلو

لا څوک زموږ له بيا راتلو نه خبر هم نه ول
لکه باران د دروازې ترڅنګه غلي راغلو.)) ١٦

په بل ځاى کې هم د خپل بد قمست نه فرياد کوي او د وير په نغمو، د خپل هنر په تابلو د مانېام تت انځور ته د خپل زړه څرېکې داسې کاږي:

((که تياره ده او که نور دى، بل څه نه دي
ژوند مې اوښکو ته مجبور دى بل څه نه دي
دلته ژوند د مرګ په لومو کې دى، هلته
ستا دلاس ورغوى سور دى، بل څه نه دي
دا چې داسې نا ارامه يمه ښايي
له د نيا لاندې تنور دى، بل څه نه دي...)) ١٧

د اروابناد باراني د شعرونو کليات کې هر شعر د لوست او فکر وړ دى، چې دلته يې په ټولو بحث کول راته ستونزمن دي، بيا هم وايم چې د پورته شعرونو په غوراوي کې يې هم دوه زړى وم؛ هر شعر مې ورته لوستى، نو يو له بل نه ښه او عالي و، په داسې حال کې يو ليکوال ته ستونزمنه وي چې د شعرونو په ټاکلو کې د شعرونو ښه والى توپير کړي.

د شاعرۍ بله ښېګڼه يې دا ده چې، سرشاره او له ټولنيزو بندونو نه ور هاخوا د خپل فکر د ابلاغ او د کلمو هنري اوډون ته پاملرنه کوي، په شعر کې يې هېڅ ډول قيد او بنديز نه دى منلى، هر څه يې چې ليدلي، انځور کړي او په لوړ فکر يې نقد کړي هم دي. د ده د شاعرۍ بله برخه دري شعرونه دي، چې د معاصرو شاعرانو له شعرونو سره د پرتلې وړ دي، ما يې دلته کومه بېلګه را وانه خيسته.

زه په پاى کې د نوي نسل شاعرانو ته دا وړانديز کوم، چې که غواړي ښه شعر وليکي، نو د فريد باراني شعرونه دې ښه په غور ولولي، له نويو اصطلاحاتو او ترکيبونو سره دې يې ځانونه اشنا کړي او دا هم په کې وګوري چې، څنګه يو شاعر باغي خيال پيدا کوي او په ښه هنر د عاطفې په تار سره لفظونه ګنډي.

## پايله

د باراني د شعرونو د ارزونې په پايله کې دا ويلى شو چې، د نوموړي شعر د نويو ښېګڼو لرونکى دى، په عالي کيف يې د شعر ليکلو او ويلو جرئت کړى دى. شعر يې نوي ترکيبات او نوي اصطلاحات لري او هم په کې د خيال او انځور ژور او په ځينو

ځـایونو کـې ځرګنـد ځرکونـه لیـدل کېـږي، چـې دا د شـاعر د شـعري صـلاحیت استازولي هم کوي.

دا هم ځرګنده شوه چې شعر یوه ټولنیزه اړتیا ده او د ټولنیز تفکر په ټاکلو او سمې لارې ته په بلنه او ښودنه کې مهم رول لري او شاعر هم خپل ټولنیز ضرورتونه او ستونزې د یو نقاد په توګه په سمه توګه کره کولی او انعکاس ورکولی شي. د باراني شعر هم د ټولنیزو دودونو او ناخوالو یوه ښه نقدونکې مرجع ده او کوښښ یې کړی چې، د ټولنې ځینې خواوې په دقیق ډول د سمونې خواته بوځي، په شعر کې یې د فورمالیستې تفکر د صلاحیتونو ځرګند انځور روښانه شوي او شاعر د یو خاص عاطفي او هنري تړون په رسۍ، د ټولنیز نظام ستونزې را سپړي، خو دا هر څه د هنر په ژبه دي.

د باراني شعر د معاصر شعري بهیر یوه ښه نمونه ده، په دې کې د چاپېریال په اړتیاوو، ځرګند بحثونه او نقدونه شوي، له ټولو انساني وړتیاوو سره سره د شعر په ژبه خبرې کوي او د انساني فطرت د اړتیا (مینې) تر څنګ د ژوند ټولې اړینې خواوې روښانوي او ځان ته په کې د تجدد لار پیدا کوي.

## وړاندیزونه

لومړی: دا چې د باراني شاعري د شعریت ښه صلاحیت لري او د شعر د ټولو توکو انعکاس په کې ځرګند دی، نو د افغانستان له علومو اکاډمۍ څخه مې هیله ده، چې د نوموړي په شاعرۍ یوه څېړنیزه پروژه په خپل اوږدمهاله پلان کې شامله کړي.

دویم: د باراني په شاعرۍ دې د ادبي فنونو په برخه کې او هم د شعري چوکاټونو د شننې په برخه کې یوه څېړنیزه پروژه ډیزاین شي.

## مأخذونه


۱. بـاراني، فریـد. د فریـد بـاراني کلیـات، د ګـل رحـمان رحـماني پـه زیـار، سـمون خپرندیه ټولنه: کابل، ۱۳۹۸ل کال، ۷۴مخ.

۲. ازمون، لعل پاچا، پښتو نظم پوهنه، د افغانستان علومو اکاډمي او کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی: کابل، ۱۳۹۷ل کال، ۸۰۷مخ.

۳. اڅک هواباز، محمد داود. شعر په فلسفه کې، امیري خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹۷ل کال ، ۱۰۹مخ.

٤. ازمون، لعل پاچا. شعر پوهنه، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۹۹ل کال، ۲۴۳مخ.

٥. د فريد باراني کليات، ۱۰۰مخ.

٦. (نوم يې توماس سترنزايت دی، د امريکا د نامتو سوداګر هنري واليوت زوی، د ۱۸۸۸ز کال د سپټمبر په ۲٦مه د امريکا په ميسوري ايالت کې زېږېدلی دی، د نولسمې پېړۍ مشهور نقاد، ليکوال او شاعر و، د خپلو ادبي او نقدي فعاليتونو په لړ کې يې ډېرې نړيوالې جايزې ګټلي دي، يو لړ ستونزو له امله له هاروارډ پوهنتون نه يې دوکتورا نابشپړه پاتې شوې، خو د نړۍ له اتلس معتبرو پوهنتونونونه يې افتخاري دوکتوراوې اخيستي، د نړۍ په کچه دا مشهور تيوريسن او ليکوال د ۱۹٦٥ز کال د جنورۍ په څلورمه د ۷٦ کلونو په عمر مړ شو.) شفيق اميرزی. (ټي ايس ايليټ)، لاسرسی https://www.spogmairadio.com/۱۳۳۸٤/: ، د سپوږمۍ راډيو ويبپاڼه، د مراجعې نېټه: ۱۴۰۲/۳/۱۳ ل کال.

۷. ښکلی، اجمل. ادبي زاويې، علمي خپرندويه ټولنه: ګرديز، ۱۳۹۴ل کال ، ۳۰۸-۳۰۹مخونه.

۸. د فريد باراني کليات، ٦٦مخ.

۹. روهي، محمد صديق. فلسفي اصطلاحات او مسئلې، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه: جرمني، ۱۳۹۰ل کال، ۷۴مخ.

۱۰. د فريد باراني کليات، ٦۰مخ.

۱۱. همدا اثر، ۳۲۵مخ.

۱۲. پورتنی اثر، ۱۴۷مخ.

۱۳. هماغه اثر، ۱۴۹مخ.

١٤. محمد داود اخک هواباز. د شعر په فلسفه کې، ۹۳مخ.

۱٥. اجمل ښکلی. ادبي زاويې، ۱۸۰مخ.

۱٦. د فريد باراني کليات، ۱۸۲مخ.

۱۷. پورتنی اثر ۱۸٦مخ.

څېړنوال رحیم الله حریفال

# پښتو ژبې او ادب ته د جرس مجلې بخښنې

# Giving of Jaras magazine to Pashto language and literature

Associate Prof. Rahimullah Hrifaal

**Abstract**

Jaras magazine has made a significant impact on Pashto language and literature, a feat rarely seen in the history of magazines. It is essential to study and document the success of long-running magazines like Jaras, highlighting their positive contributions to cultural and literary discourse through the publication of relevant articles and topics. These successful publications serve as a reminder of the impact that effective magazines can have. Current magazine managers should take note of their success and consider incorporating similar positive experiences into their publications. Here, we will illuminate the initial phase of Jaras magazine, showcasing the significant contribution this esteemed literary magazine has made to Pashto literature and language. Also, as a

result of the discussion and research about the identification of the first stage of Jars, it will be known how much value the re-publishing of Pashto Jaras magazine has.

## لنډيز

جرس مجلې پښتو ژبې او ادب ته داسې خدمت کړی دی، چې د مجلو په تاريخ کې به يې ډېر لړ ساری ومونډل شي، اړتيا ده چې د داسې بريااليو او اوږد مهاله خپرېدونکو مجلو په اړه ليکنې او څېړنې وشي، د هغو د مثبتو اړخونو په اړه رڼا واچول شي او دغو برياليو مجلو چې په خپل وخت کې څه ډول فرهنګي او ادبي ليکنې او موضوعات خپاره کړي دي، هغو ته يو ځل بيا د لوستونکو پام راواړول شي، همدارنګه په اوسني وخت کې د خپرېدونکو مجلو مسئولين د دغو کامیابه خپرونو او مجلو د بريا راز ته متوجه شي او د خپلو خپرونو د خپرواي په لړ کې له هغو مثبتو تجربو څخه کار واخلي. هو دلته به د جرس مجلې د لومړۍ مرحلې په اړه چې دغې غني او مُبتکرې ادبي مجلې، پښتو ژبې او ادب ته څه ورکړي دي، رڼا واچول شي. همدارنګه به د پښتو جرس مجلې د لومړي پړاو د پېژندنې په اړه د بحث او څېړنې په پايله کې دا هم جوته شي چې د پښتو جرس مجلې بياځل چاپ او خپرېدل، څومره ارزښتمنه چاره ده.

## سريزه

د دوامدارو او سيستماټيکو فرهنګي او علمي کارونو او هڅو لپاره د دولت په کچه د سترو علمي ادارو او څېړنيزو مرکزونو ملاتړ او مرستې ته اړتيا ليدل کېږي، له دغه ملاتړ پرته به دا چارې د يو څه وخت لپاره مخ ته ولاړې شي، خو د اوږد مهال لپاره به يې دوام د ډاډ وړ نه وي، اما که هوډ او اراده پخه وي، نو بيا يو کس يا يوه ډله فرهنګيان هم د خپلې ژبې او ادب لپاره ډېر څه کولای شي، چې غوره بېلګه يې په پښتو ژبه او ادب کې په دوامداره توګه د جرس مجلې په لوړ کيفيت سره چاپېدل او خپرېدل دي. دغو فرهنګي او هوډمنو شخصيتونو وکولای شول چې په منظمه توګه د جرس کلتوري جرګې او جرس مجلې له لارې پښتو ژبې او فرهنګ ته نه هېرېدونکي خدمتونه ترسره کړي.

جرس مجله د ( ۱۹۹۰ ــ ۲۰۰۳ ) زېږدیزو کلونو په موده کې د یوه مخلص ژورنالیست، کیسه لیکوال او یونلیک لیکونکي طاهر آفریدي او د هغه د ادبي او فرهنګي ملګرو د بې شمېره او ارزښتمنو هڅو په پایله کې ۵۰ ګڼې د رڼا ګانو له ښار کراچۍ څخه د څه کم یوې نیمې لسیزې په موده کې چاپ او خپره شوه.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

جرس مجلې په خپل وخت کې سترې لاسته راوړنې درلودې، د پښتو ادب په بډاینه کې یې په ډېر ښه ډول خپل رول ادا کړی دی، نو اړتیا ده چې د جرس مجلې په لومړي پړاو رڼا واچول شي، د دې څېړنې مبرمیت هم په دې کې دی، چې د دغې ارزښتمنې او کامیابې ادبي مجلې له لومړي پړاو او پښتو ادب ته له کړیو خدمتونو او بخښونو څخه یې د ادب مینه وال او لوستونکي خبر شي.

## د څېړنې موخې

موږ په خپل کلتوري بهیر کې د ګڼو مجلو شاهدان پاتې شوي یو، خو ډېر وخت داسې شوي، چې مجلې ډېر دوام نه کوي، د بېلابېلو ستونزو له امله ډېرې لږ وخت خپرې شي او بیا یې د خپرېدلو لړۍ په ټپه ودرېږي، خو ځینې داسې مجلې هم لرو چې په لوړ معیار سره یې د اوږدې مودې لپاره د خپلې ژبې او ادب خدمت کړی، پر ګڼو موضوعاتو یې څېړنې او شننې خپرې کړي او په دې ډول یې د ادب تاریخ په پاڼو کې خپل نوم تلپاتې کړی دی، نو د څېړنې موخه دا ده چې د جرس مجلې هغه ټکي رابرسېره او په ګوته شي، چې د دغې مجلې د بریالیتوب راز په کې پټ دی او له امله یې دغې نوموتې مجلې د اوږد مهال لپاره په معیاري بڼه خپرونې کړي دي.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي، تحلیلي میتود څخه استفاده شوې ده او ډول یې کتابتوني دی.

## د څېړنې پوښتنې

۱. د جرس مجلې د بریا راز په څه کې و؟
۲. جرس مجلې د پښتو ژبې او ادب کومو موضوعګانو ته ځانګړی پام کړی و؟
۳. جرس مجلې په کومو برخو کې نوي موضوعات او شننې پښتو ژبې او ادب ته بخښلي دي؟

## د مقالې متن

### د جرس مجلې بنسټګر

د پښتو ژبې نوموتي کیسه لیکونکي طاهر آفریدي د ژوند ډېره برخه په کراچۍ کې تېره کړې، خو پښتو ادب ته یې د ستاینې وړ خدمتونه کړي دي او (۱۹) نثري کتابونه چې په کې (کیسې، ناولونه، یونلیکونه، راپورتاژونه او د حمزه بابا لیکونه (مرتب) شامل دي، لیکلي دي.

د پښتو ژبې خواخوږی او نوموتی کیسه لیکوال اروابښاد طاهر آفریدی هغه شخصیت دی چې په خپلو شخصي لګښتونو یې پښتو ژبې او ادب ته ګڼ خدمتونه کړي دي چې له دغو خدمتونو څخه یې یو ستر خدمت د پښتو جرس مجلې د اوږدې مودې لپاره په اوچت کیفیت چاپول او خپرول دي.

طاهر آفریدی د پښتو ادب یو داسې نوم دی چې د تعارف محتاج نه دی او د قلم قافلې داسې یو قلموال، لاروی څه چې یو فهمیده او سنجیده لوستونکی به نه وي چې د هغه له ادبي مقام څخه انکار وکړي، د لر و بر پښتانه لیکوال یې پېژني او ورسره خپله پېژندګلوي په پښتو ادب کې خپل شناخت هم ګڼي. د یوه تخلیق کوونکي او لیکوال لپاره له دې څخه لوړ بل اعزاز او د ژوندي پاتې کېدو بل جواز کوم کېدای شي، چې درې میاشتنۍ جرس (کراچۍ) د پښتو په ادبي صحافت کې یو ځانګړی او مهم مقام لري چې د پښتو ادبي ژورنالیزم په تاریخ کې یې نوې تجربې او زیاتونې کړې دي او د مدیر په توګه یې د طاهر آفریدي تخلیقي، تنقیدي او تحقیقي صلاحیتونه ښکاره کړل. حقیقت دا دی چې جرس نه یوازې د پښتو ژبې او ادب ډېر لوی خدمت کړی، بلکې پښتو ژبې، ادب او قام سره یې د طاهر آفریدي د بې کچې مینې ثبوت هم وړاندې کړی دی او دې مجلې د پښتو ادب ډېر داسې نوي نومونه متعارف کړي دي چې نن د پښتو ادب د تاریخ ډېر مهم نومونه او شخصیتونه ګرځېدلي دي چې پښتو ادب یې په خپل فکر و فن مالامال کړی دی، همدارنګه دې مجلې د پښتو ژبې په ترقۍ او د ادب په لوړتیا او ارتقاء کې یو مهم او تاریخي کردار ادا کړی دی او د دې ټول امتیاز طاهر آفریدي او د جرس ادارې بوره ته ځي. ( ۱: ۱۱ مخ)

جرس مجلې په بشپړه توګه د ترقي خوښوونکي پښتو ادب استازيتوب کاوه او طاهر آفريدی د پښتو يوازېنی او لومړی پښتون ليکوال دی چې کراچۍ مېشتي پښتانه لکيوال يي د دغه ښار اردو ژبو ليکوالو ته ور وپېژندل.

## د جرس مجلې مسئول مديران

د جرس په دوولس کلن کار او رسنيز بهير کې افسانه ليکوال محمد طاهر آفريدي د اعلی مسئول مدير په توګه په پوره اخلاص سره دنده سرته رسولې او د دې ستر کار د پرمخ بيولو لپاره بېلابېلو ادبي څېرو او شخصيتونو د مرستيالانو په توګه مسئوليت سرته رسولی دی.

وړاندې مو د جرس د بنسټګر په توګه د محمد طاهر آفريدي پر ژوند او فرهنګي هڅو څه نا څه رڼا واچوله او د مرستيالانو له ډلې څخه يې د دوو مرستيالانو هر يوه ارواښاد محمد فهيم سرحدي او ښاغلي ځلان يوسفزي د نومونو په يادولو بسنه کوو، چې تر ډېره وخته يې د جرس د مرستيال مديرانو په توګه دنده سرته رسولې ده.

## د جرس مجلې موخې

د دې لپاره چې د جرس مجلې ځای ځايګی ښه روښانه او څرګند شوی وي، دلته په لنډه توګه هغه موخې را اخلو چې جرس مجلې تعقيبولې او تر ډېره پورې يې دغو موخو ته ځان هم رسولی دی او يوه بريالۍ مجله وه چې تر نن ورځې پورې يې په فرهنګ او ادب کې خپل ځای ساتلی او بحثونه پرې کېږي.

۱. د جرس مجلې تر ټولو ستره موخه خپلې ژبې او ادب ته خدمت کول وو.

۲. جرس د خپل کار په بهير کې پښتانه فرهنګيان او ليکوالان بيا بيا خپلو درنو مسئوليتونو ته متوجه کړي دي او د حالاتو باريکۍ ته يې د هغو پام راګرځولی او ويلي يې دي چې اوس هم لا امکانات شته او حالات د کار وړ دي، نو بيا ولې لاس تر زنې کښېنو، بايد په پوره اخلاص سره کار وکړو.

۳. جرس په خپل ټول توان هڅه کړې ده، تر څو ليکوالان او فرهنګيان سره نږدې او يو موټی کړي او د دوی تر منځ فاصلې نورې هم را لنډې کړي.

۴. جرس په پوره بې طرفۍ د حقايقو په را برسېره کولو کې د يوې علمي مجلې په توګه خپل مسئوليت او دنده سرته رسولې ده.

۵. د خپلې ژبې اړيکې يې له نورو ژبو سره په پوره حکمت تر څېړنې لاندې نيولي او کوم نوي ادبي ـ هنري صنفونه، چې له نورو ژبو څخه پښتو ژبې ته راغلي، هغه چې د ژبې په گټه دي، د علمي او څېړنيزو ليکنو په خپرولو سره يې د هغو ننگه کړې ده.

٦. جرس د پښتون قام او سيمې لپاره د تر ټولو سترې ستونزې يعنې ناامنۍ د له منځه وړلو لپاره د پام وړ کار کړی او د امن پر راتگ يې ټينگار کړی دی .

۷. جرس د ملي فقر (ناپوهي) د له منځه وړلو لپاره پوره هلې ځلې کړي دي.

۸. د پرديو کلتوري يرغلونو پر وړاندې يې په کلکه مبارزه کړې ده.

جرس هغه وينا چې ويل کېږي پښتانه د خپلو شخصيتونو قدر تر مرگ وروسته کوي، ناسمه ثابته کړې او تل يې په خپل کاري بهير کې د خپلې ژبې د علمي او فرهنگي شخصيتونو قدر په ژوندانه کړی او د سترو شخصيتونو د ژوند او هنر پر بېلابېلو اړخونو يې تحليلي مضمونونه چاپ او خپاره کړي دي.

**جرس د پښتو ادبي خپرونو، سرلارې مجله**

په پښتو ژبه گڼې مجلې خپرې شوي او لا هم دا لړۍ روانه ده، چې هره مجله خپل ځای او ارزښت لري. په کوزه پښتونخوا کې که په تاريخي لحاظ نظر واچوو، د پښتو ورځپاڼو او مجلو خپرېدل له ډېرو گواښونو او ننگونو سره مل وو او خپرونکي يې په بېلابېلو تاريخي پړاوونو کې له ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ شوي دي.

په ۱۸۸۴ ز کال کې له سوات څخه د پښتو ژبې لومړۍ مجله د «اسلام» په نامه خپره شوه چې په دغه مجله کې به ډېرې د فارسي او اُردو مقالو ژباړې خپرېدې. (۳: ۵ مخ) دا لړۍ تر اوسه پورې له لوړو او ژورو سره مله را روانه ده. په دې لړۍ کې د پښتو ژبې او ادب دوه نورې مجلې «پښتو او قند» هم هغه خپرونې وې چې د نويو ليکوالانو د هڅونې لپاره يې ډېر کار کړی دی. (۳: ۷ مخ) خو کله چې د پښتو ژبې او ادب په وده کې د مجلو پر رول خبره کېږي؛ هلته که د جرس ياد او ذکر ونه شي، نو هغه کار به نيمگړی وي.

جرس د پښتو ژبې او ادبياتو په ډېرو او بېلابېلو څانگو کې بحثونو او تحليلونو ته ور پرانيستې دی چې د دې تحليلونو او بحثونو په نتيجه کې يې پښتو ادب ته ډېر ارزښتمن او علمي موضوعات ډالۍ او په ميراث پرېښي دي.

### د جرس ځانګړتیاوې

مور وینو، چې په مختلفو ژبو کې بې شمېره مجلې چاپ او خپرېږي، خو په نوموړو مجلو کې ډېرې لږ داسې وي، چې د اوږد مهال لپاره دې د یادو ژبو د ادب په آسمان کې ځلېدونکې پاتې شي او یو شمېر بیا داسې وي چې په ډېر لنډ وخت کې هېرې او له یاده ووځي، چې دا دواړه لاملونه تر ډېره د مجلو په منځپانګه او موضوعاتو پورې اړه لري.

پښتو جرس مجله هم یوه له هغو مجلو څخه وه، چې د غني او اوچتې منځپانګې په درلودلو سره هېره نه شوه او د دغې بډایه مجلې په اړه لیکنې کېږي او د نوموړې مجلې له ارزښتمنو ادبي موضوعاتو څخه اوس هم ګټه اخیستل کېږي.

بل مهم ټکی د مجلو په پایښت کې دا دی چې تر شا یې ژمن فرهنګیان او لیکوالان وي او په مالي لحاظ یې لګښتونو ته اوږې ورکړي، له بده مرغه یو شمېر ادبي مجلې یا هم د علمي موضوعاتو او څېړنو د کمښت له امله له خپراوي پاتې کېږي او ډېرې یې بیا د مالي ملاتړ له امله مخکې نه دي تللي، نو دا د جرس یوه بله مهمه ځانګړتیا وه چې د ژمنو کسانو یې په مالي لحاظ مرسته کوله او وتوانېدل چې د اوږدمهال لپاره د ادب په صحرا کې د جرس غږ ژوندی وساتي او ځُپتیا ته یې پرې نه ږدي.

بله مهمه ځانګړنه دا وه چې د پښتو جرس مسئولینو د خپل وخت لږ راسپړل شویو او نویو موضوعاتو ته پام اړولی او یا یې هم موضوعاتو ته له یوه تازه او نوي لید څخه کتلي دي. د زړو او سولېدلو موضوعاتو د بیا څېړلو پر ځای یې په پرمختللې نړۍ کې د مطرحو ادبي او ژبنیو موضوعاتو تحلیل او شننې ته ځانګړې پاملرنه کړې او همدا لامل دی چې له کلونو تېرېدو وروسته هم د جرس مجلې زیاتره مضمونونه تازه او د بیاځل چاپ او خپرېدو ارزښت لري او دا یوه بله مهمه ځانګړنه وه چې جرس د ادب په تاریخ کې تلپاتې شوه او په دوامداره توګه یې په لسګونو ګڼې چاپ او خپرې شوې.

### جرس د بنې له پلوه

جرس مجلې په داسې وخت کې په کار پیل کړی و او له چاپه را وتله چې هغه مهال د چاپ او ډیزاین وسایل د اوسني وخت په څېر ډېر پرمختللي نه وو، تر ډېره

وخته پورې جرس په قلم لیکل شوې او پښتنې یې بیا په بېلابېلو وختونو کې د پښتو ژبې او ادب د مینه والو په هنرمندو ګوتو په ښکلي انداز کې رسامي او انځورګري شوې چې کله ناکله په دې برخه کې د ځینو خویندو ونډه هم د هېرولو نه ده او دا د دې څرګندونه کوي چې له جرس مجلې سره لوستونکو او ادبپالو څومره مینه درلوده  او دې کار د جرس ښکلا نوره هم ور زیاته کړې وه.

بل دا چې کله موږ جرس مجله د لومړي ځل لپاره وینو، نو د بڼې له مخې به د یو تحقیقي اثر ګمان پرې وکړو او دا به مبالغه هم نه وي چې ووایو  جرس واقعاً هم د یو کتاب په توګه په خپله هره ګڼه کې په تفصیل سره د موضوعاتو تحلیل او تجزیې ته ځای ورکړی دی او د بڼې له مخې هم یوه تحقیقي مجله ښکاري او له کتلو وروسته یې انسان ته یوه هیله پیدا کېږي چې د دې مجلې پاڼې راواړوي او له علمي موضوعاتو او مضامینو څخه یې ګټه واخلي .

**جرس د منځپانګې له پلوه**

جرس د خپل رسنیز ژوند په  دوولس کلن  بهیر کې د یوې بریالۍ ادبي او فرهنګي مجلې په توګه  په ښه ډول  خپل مسئولیت سرته رسولی دی. د جرس هره ګڼه په څو بنسټیزو برخو ویشل شوې  چې په لومړۍ برخه کې په منظم ډول په هره ګڼه کې وتلي فرهنګي شخصیتونه معرفي شوي دي، ورپسې په هره ګڼه کې تحلیلي او څېړنیزو مضمونونو ته ځای ورکړل شوی دی او ورپسې په منظم ډول هغه ژباړې راغلې دي چې پښتو ژبې او ادب ته شوې دي. همدارنګه په هره ګڼه کې یې د شاعرۍ د بېلابېلو کالبونو خپرولو ته هم پام کړی او د هغو ژانرونو خپرولو ته یې هم وخت  ورکړی دی چې پښتو ادب ته نوي راغلي دي.

کله چې په اوسني وخت کې موږ بېلابېلې مجلې ګورو، هغه که  ادبي مجلې دي او که غیر ادبي، له بده بخته ډېرې یې د مضمونونو له کمښت سره مخامخ وي او چلوونکي یې بېلابېلو لیکوالانو او د قلم له خاوندانو څخه د لیکنو او مقالو غوښتنه کوي او کله خو داسې هم کېږي چې د مجلو مسئول کسان د مجلې د پاڼو د ډکولو په موخه داسې پیکه او بې خونده مطالب هم خپروي چې د چاپ او نشر پر لګښت هم نه ارزي او دا ستونزه لا اوس هم شته، خو جرس له لومړۍ ګڼې بیا تر وروستۍ ګڼې پورې له داسې ستونزې سره مخامخ نه ښکاري، د هرې ګڼې مضمونونه او

موضوعات یې یو تر بل ښکلي او زړه راښکونکي دي، نو ویلای شو چې جرس د مضمونونو د رنګارنګۍ له پلوه بډایه مجله وه چې د هرې ګڼې له لیکلړ څخه یې دا خبره په ډېره اسانۍ درک کېږي او مضمونونه یې هم زیاتره څېړنیز او تحلیلي دي، هغه څوک ، چې له ژبې او ادب سره اړیکه لري او په دې برخه کې مطالعه کوي، نو اړتیا ده ورته چې د جرس مجلې ګڼو ته یو ځل سر ورښکاره کړي او له دې رنګینو څېړنیزو او علمي مضمونونو څخه ګټه واخلي.

**جرس له ژبني پلوه**

د جرس اداري او ورسره همکارو لیکوالانو یو بل ستر کمال دا کړی چې د مضمونونو او لیکنو د وړاندې کولو لپاره یې چې د کومې ژبې اړتیا ده، هغه یې کارولې او خپله کړې ده. دا په دې معنا کله چې جرس کوم علمي او تحقیقي مضمون او لیکنه خپره کړې، نو هماغه تحقیقي او څېړنیزه ژبه یې ورته غوره کړې او کله یې هم چې کوم شعري مضمون خپور کړی دی، نو هماغسې خوږه او روانه ژبه یې کارولې ده چې لوستونکی د هرې کرښې له لوستلو خوند اخلي او د لیکنو له علمي منځپانګې څخه ګټه اخلي. دلته د جرس له پاڼو څخه یو لنډ متن را اخلو ، چې لوستونکی په خپلو عاطفي لفظونو سره له ځان سره اخلي او احساسات یې را ژوندي کوي.

عبدالروف رفیقي د پښتو ژبې د وتلي شاعر اروښاد محمد ایوب صابر د ژوند او یادونو په اړه په یوه لیکنه ((ایوب صابر؛ یو څو یادونه)) کې داسې لیکلي دي: «وروسته د ګران ملګري نعمت الله خان دراني له خولې خبر شوم چې صابر صیب له فاني دنیا څخه کوچ وکړلو، هله پوه شوم چې هغه د هغې نړۍ مسافر شو چیرې چې د مینې په جوړه فضاء کې د کرکې او نفرت تصور لانه شي کیدای».

**جرس د کره کتنې په برخه کې**

د جرس مجلې هڅې تر ډېره بریده نوې او ابتکاري وې، د دې مجلې اداري کوښښ کاوه چې د پښتو ژبې لیکوالان د نړۍ له نویو ادبي پنځونو او لاسته راوړنو څخه خبر وساتي. د خپلو لیکنو او مقالو په وسیله یې هڅه کوله د پښتو ژبې لیکوالان سره نږدې او د دوی تر منځ د مینې او محبت مراندې لا مضبوطې او ځواکمنې کړي.

جرس مجله وتوانېده چې د ليکوالانو او فرهنګيانو تر منځ د کره کتنې (نقد) روحيه او زغم دود او پياوړی کړي چې دا چاره بيا پر خپل ځای د ادب او ادبي صنفونو د غوړېدا او پراخېدا باعث ګرځي، په کومه ژبه کې چې د سالمې کره کتنې دود موجود وي او په ادبي غونډو کې يې د نقد ور پرانيستی وي، د هغې ژبې ادب به تل د پرمختيا په حال کې وي. ويلای شو چې پښتو جرس د نقد په برخه کې پښتو ژبې او ادب ته ستر کارونه کړي دي او په عملي ژوند کې يې د پښتو ژبې ليکوال او فرهنګيان سره نږدې کړي وو او د ليکوالانو دې نږدېوالي د سالمې کره کتنې لپاره حالات برابر کړي وو، د مجلې په بېلابېلو ګڼو کې موږ د کره کتنې او نقد په برخه کې تفصيلي ليکنې وينو او ويلای شو چې د بشپړ درناوي په حال کې دا کره کتنيزې ليکنې شوې دي او دې لړۍ د نقد په برخه کې پښتو ژبې او ادب ته ډېر څه وربخښلي او ورکړي دي.

دا هم د جرس مجلې او جرس ادبي جرګې له لاسته راوړنو څخه وو چې د کره کتنې په برخه کې پښتانه ليکوالان مقالې او آثار وليکي چې دلته يې د ځينو يادونه کوو:

قيصر آفريدی هغه څوک دی چې د کره کتنې په برخه کې يې د پام وړ کار کړی دی او د هغو کره کتونکو له ډلې څخه دی چې د موضوعي کره کتنې په برخه کې نوې لاره جوړه کړه او ادبي ټولنې ته يې ځان ور وپېژانده. د هغه کره کتنيز آثر «ليک او تخليق» د کره کتنې په لړۍ کې ډېر مهم او ارزښتمن کتاب ګڼل کېږي او په دغه کتاب کې داسې مقالې وړاندې شوې دي چې د کره کتنې په ډګر کې يې نوې نوې پوښتنې او سوالونه را پورته کړل.

د کره کتنې په برخه کې رياض تسنيم هغه څوک دی چې د پېژندګلوۍ اړ نه دی، نوموړي په دې برخه کې داسې مقالې وليکلې چې په ځينو موضوعاتو يې نور ډېر پوه کره کتونکي بيا ځلي فکر کولو ته مجبور کړل.

د تنقيد په لړ کې د محب وزير نوم هم د يادولو وړ دی چا چې د "يو غزل يوه تجزيه" تر عنوان لاندې د خپل عصر د ښځي نوو شاعرانو د يو يو غزل تجزيه په نوي طرز کړې ده او دا تجزيې به د "يو غزل- يوه تجزيه" په نوم په کتابي شکل کې ډېر زر مارکېټ ته راشي.

محب وزیر هم د کره کتنې په ډګر کې د یادولو وړ شخص دی چا چې د خپل وخت د شاعرانو د یوې یوې غزلې شننه او کره کتنه په نوي انداز او طرز سره وکړه.

### جرس د نظم په برخه کې

جرس د منظومو ادبیاتو په برخه کې هم ستر او شهکار کارونه کړي، محمد طاهر افریدي په دې اړه ویلي : زما څو سترې هیلې او ارمانونه وو چې یو په هغو کې د جرس مجلې په دوامداره توګه خپرېدل و، او تر دې وروسته د پښتو غزل لپاره یوه ستره ځانګړې ګڼه خپرېدل و چې هغه هم د الله (ج) په فضل سره چاپ او خپره شوه او بل ارمان مې د پښتو نظم په برخه کې د ځانګړې ګڼې چاپ او خپرېدل و. هو د ارواښاد افریدي دا هیلې په پوره بریالیتوب سره پوره شوې دي، جرس د پښتو غزل ځانګړې ګڼه په (۴۰۰) مخونو کې چاپ کړه چې د غزل بېلابېل اړخونه یې واضح کړل او په تحلیلي بڼه یې غزله وڅېړله او د ځوانو پښتنو شاعرانو یو شمېر لوړې او اوچتې غزلې یې په دې ځانګړې ګڼه کې چاپ کړې، په دغه ګڼه کې د غزل په اړه پراخ علمي ـ څېړنیز او ګڼ اړخیز بحث شوی دی. هسې خو د جرس مجلې هره ګڼه یو خپلواک اثر ګڼلای شو، خو د نظم او غزل لپاره ځانګړې شوې ګڼې یې بیا د سترو او ارزښتمنو کتابونو مقام او ارزښت لري.

د غزل ګڼې له چاپ او خپرېدو وروسته د جرس ادارې د جرس څو ګڼې د نظم لپاره ځانګړې کړې، د نظم په برخه کې د پښتو جرس یوه ځانګړې ګڼه په «۱۴۳۰» مخونو کې چاپ او خپره شوې ده او په دغه ګڼه کې د نظم د پېژندنې په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې شوي او په نظم پورې اړوند په زړه پورې موضوعات تحلیل او څېړل شوي دي، چې دلته یې یوازې د بېلګې په توګه د څو مقالو د نومونو په ذکر کولو بسنه کوو: نظم پښتو ادب کښې، رومانیت او پښتو نظم، شلمه صدۍ او پښتو نظم، آزاد نظم ــ یو سفارش، ازاد نظم ــ تاریخي جایزه، د جدید نظم غلط رجحانات او ازاد نظم ته یوه کتنه ... . (۲: ب مخ.)

### پایله

د پښتو جرس مجلې چاپ او خپرېدل د کوزې پښتونخوا د با درده لیکوالو او خواخوږو د فرهنګي او ادبي هڅو او کوښښونو ستره لاسته راوړنه وه، چې له کوزې پښتونخوا نه هم لرې، د پاکستان د سندهـ ایالت په ستر ښار کراچۍ کې د پښتو

ژبې او ادب خواخوږو د خپلې ژبې او ادب د خدمت لپاره لومړی جرس ادبي جرگه جوړه کړه او وروسته يې بيا د همدغې ادبي جرگې له لوري د پښتو ژبې او ادب د نوموتو ليکوالو، فرهنگيانو او شاعرانو په هڅو د محمد طاهر افريدي او په بېلابېلو وختونو کې يې د مختلفو مرستيال مديرانو په مرسته دا ادبي مجله دوولس (۱۲) کاله چاپ او خپره کړه.

نوموړې مجلې په پښتو ژبه او ادب کې په گڼو نويو موضوعاتو ليکنې او څېړنې وکړې، د نظم، غزل، کره کتنې او پښتو ادب ته د نويو راغلو او را روانو صنفونو او ژانرونو په اړه يې د پام وړ او له ارزښت څخه ډکې ليکنې وکړې او په دې ډول يې وکولای شول چې د پښتنو فرهنگيانو او ليکوالانو پام نويو موضوعاتو او همدارنگه په سالم چاپېريال کې د منظمې کره کتنې زړه زرغون کړ او بيا همدغو کره کتنيزو ليکنو او بحثونو پښتو ژبې او ادب ته ډېر څه ور وبخښل چې په دې برخه کې هم پښتو ژبه او ادب د جرس مجلې احسانمن دی.

په پای کې ويلای شو چې جرس مجلې پښتو ژبې او ادبياتو ته په بېلابېلو څانگو او برخو کې نه هېرېدونکي خدمتونه ترسره کړي دي، چې دا هڅې به يې د پښتو ژبې د ادبي مجلو په تاريخ کې هېڅکله هېرې نه شي .

## وړانديز

څو کاله وړاندې د استاد محمد آصف صميم تر مشرۍ لاندې او د ارواښاد محمد طاهر افريدي په اجازه له ننگرهار څخه د جرس مجلې د چاپ او خپراوي لړۍ، يو ځل بيا پيل شوه، خو د غزل گڼې او د جرس مجلې د يوې گڼې له چاپ وروسته دا لړۍ مخ ته نه ولاړه، نو په اړونده برخه کې په يو وړانديز سره خبره را لنډوم.

۱. څرنگه چې جرس د پښتو ژبې يوه له مخکښو ادبي مجلو څخه وه او د يوې بشپړې څېړنيزې مجلې معيارونه يې پوره کړي وو، نو د پښتو ژبې خواخوږو او فرهنگيانو ته وړانديز کېږي چې په دې برخه کې د استاد صميم لاسنيوی وکړي، تر څو وتوانېږي د پښتو ادب په آسمان کې د جرس ستوری يو وار بيا په دوامداره توگه وځلېږي او په هماغه معيار او اصولو ولاړه جرس مجله په منظمه توگه چاپ او خپره شي.

## مأخذونه

۱ .افریدی، طاهر. لاړ شه پېښور ته، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۲۰۰۵ ز کال.

۲ .بېلابېل لیکوالان. پښتو جرس نظم نمبر، خپرندوی، ملک عنایت الله خان کاسي: کراچی، ۲۰۱۸ ز کال.

۳. حلیم، صفیه. د پښتو مجلې او ورځپاڼې، لاسرسی:www.safiahaleem.com/?p=۲۱۳۷ ، (اخیستنه: ۱۷/۳/۱۴۰۲ نېټه).

څېړندوی خالد تکل

# د اووم ټولګي په پښتو مضمون کې ښوونيزو ادبياتو ته کتنه

# A view of the educational literature in the Pashto subject of the grade ۷th

Assistant prof. Khalid Takal


## Abstract

In this article there is a discussion and analysis of the lessons of the ۷th grade of the Pashto language of the educational curriculum that convey educational thought and encourage the student to study literature and art .

What is educational literature and what is the need for its learning? In addition let's also investigate what kind of literary content is included in this article and how much does it help the student's level and to the development of the literary gusto of the student.

## لنډيز

په دې مقاله کې د تعليمي نصاب د پښتو ژبې د اووم ټولګي مضمون پر هغو لوستونو بحث او شننه شوې ده چې ښوونيز فکر لېږدوي او شاګرد د ادبياتو او هنر زده کړې ته هڅوي. ښوونيز يا تعليمي ادبيات کوم دي او زده کړې ته يې اړتيا څه ده؟ ترڅنګ يې دا هم څېړو چې په دغه مضمون کې راغلې ادبي محتوا څه ډول ده او څومره د شاګرد له سويې سره برابره ده او د شاګرد د ادبي ذوق له روزنې سره څومره مرسته کوي.

## سریزه

د پښتو ژبې د اووم ټولګي په دغه مضمون کې ادبي محتوا څه ډول ده او د ښوونیز پېغام ترڅنګ د زده کوونکو د ادبي ذوق له روزنې او پالنې سره څنګه او څومره مرسته کوي؟ په دې علمي ـ څېړنیزه مقاله کې د دغو پوښتنو پر ځواب سربېره، د ښوونیزو ادبیاتو بېلګې په تطبیقي شکل را اخیستل شوي او بیا پرې تحلیل ور اضافه شوی دی. لومړی د پښتو مضمون پېژندنه راغلې او ورپسې د ښوونیزو ادبیاتو بېلګې را اخېستل شوي او د ښوونې او روزنې د معاصرو میتودونو په رڼا کې پرې شننه شوې ده.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

په دې څېړنه کې ښوونیز ادبیات په تطبیقي شکل مطرح کېږي او په دې برخه کې د نورو څېړنو لپاره ور پرانیزي چې د تعلیمي نصاب په پښتو مضامینو کې ښوونیز ادبیات جوت او وڅېړل شي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې په تعلیمي نصاب په ځانګړې توګه په پښتو مضامینو کې ښوونیز ادبیات مشخص، ستونزې او ښېګڼې یې جوتې او د غوره والي لپاره یې حل لارې او وړاندیزونه وړاندې شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ ښوونیز ادبیات کوم ادبیات دي؟

۲ـ د ادبیاتو زده کړه او ښوونیز ادبیات ولې سره جلا مفاهیم دي؟

۳ـ د اووم ټولګي په پښتو مضمون کې د ښوونیزو ادبیاتو بېلګې کومې دي او ایا د زده کوونکو سویه او د دوی د ادبي ذوق پالنې ته په کې څومره پام شوی؟

## د څېړنې میتود

په دغه مقاله کې له تشریحي ـ مقایسوي میتود څخه استفاده شوې ده.

## د مقالې متن

د دغه کتاب مؤلفان د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب ریاست د پښتو څانګې علمي غړي دي، کتاب اته ویشت لوستونه لري چې په ۱۳۴ مخونو کې لیکل شوي دي.

دغه کتاب په (۱۳۹۹ ل) کال کې د پوهنې وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست چاپ کړی. د کتاب نږدې نیمه یې برخه پښتو ادبیاتو ته ځانګړې شوې او پاتې برخې یې که څه هم له ادبیاتو سره څه نا څه اړیکه لري، خو تر ډېره په کې اخلاقي، تاریخي او فرهنګي مسأیل ځای پر ځای شوي دي.

تر دې مخکې چې د دغه مضمون بېلګې په تطبیقي شکل وڅېړو پکار ده چې لږ تر لږه د تعلیمي ادبیاتو له پېژند سره هم اشنا شو. تعلیمي ادبیات کوم ادبیات دي؟ دغو ادبیاتو ته ارشادي ادبیات هم وایي، ځینو پوهانو تبلیغي ادبیات هم ګڼلي، خو په اصل کې تبلیغي ادبیات د ښوونیزو یا تعلیمي ادبیاتو یوه څانګه ګڼلی شو. تعلیمي ادبیات په لغت کې لارښودي، د سمې لارې او حق لارې ادبیاتو ته وایي او په اصطلاح کې هر هغه ادبي اثر چې موخه یې ښوونه، تعلیم، ارشاد او تبلیغ وي، هغه په تعلیمي ادبیاتو کې حسابېږي. اخلاقیات، ټولنیز او سیاسي نقدونه، د فنونو زده کړه او ګڼ مسائل د تعلیمي ادبیاتو په ساحه کې راتللی شي. (۳: ۲۱ مخ)

د نړۍ هره ژبه ممکن په نثر او نظم کې تعلیمي ادبیات ولري، خو په پښتو ژبه کې د تعلیمي ادبیاتو منظومې بېلګې ډېرې موندلای شو. د خوشحال بابا او رحمان بابا ځینې شعرونه یې ښې بېلګې دي. پر دې سربېره د خوشحال خټک دستارنامه چې د شل هنرونو او شلو خصلتونو د زده کړې لارښودی اثر دی، په پښتو ژبه کې یې د تعلیمي ادبیاتو اوچت اثر ګڼلی شو.

«تعلیمي ادبیات د ژبو د درسي کتابونو د محتوا یوه مهمه برخه ده چې ددرسي کتابونو په تالیف کې له پامه بلکل غورځیدای نه شي، په تعلیمي ادبیاتو کې زده کوونکو ته اخلاقي خواوې، یووالی، زړه سوی، له وطن او خلکو سره مینه صبر او حوصله او په ټولنه کې د ښه ژوند کولو لارې او اړیکې په مستقیم او غیر مستقیم ډول ښودل کیږي.

تعلیمي ادبیات د عمومي ادبیاتو یو څانګه ده چې خپل ډولونه لري، په درسي کتابونو کې خپل ځانګړي اهداف لري، تعلیمي ادبیات هم ذوقي برخه پیاوړې کوي او هم د لیکوالی مهارتونه، د زده کوونکو لپاره تعلیمي ادبیات داسې دي لکه په خوړو کې مالګه؛ که په هر شکل راوړل شي زده کوونکي په ټولنه کې د ژوند د ښه کولو لپاره برابروي او هغوی روزي.» (۸: مرکه)

د اووم ټولګي پښتو مضمون لومړی لوست (حمد/ستاینه) ده په دغه لوست کې د الله ج صفات او ستاینه شوې ده، لوست دوې برخې لري لومړی څو جملې په نثر راغلي او ورپسې بیا د الله تعالی عظمت په یو شعر کې بیان شوی دی.

زما رب چې هم خالق د کل جهان دی
هم مالک دی د زمین او هم آسمان دی
جهانونه واړه ده دي پیدا کړي
دی د دواړو جهانونو نګهبان دی
که مارغه دی، که حیوان، که بنیادم دی
د الله ج د عظمتونو ثنا خوان دی
د موسی سره یې راز په کوه طور کړ
محمد یې مېلمه کړی په آسمان دی
محمد چې دی بهتر د مخلوقاتو
نازل کړی یې په ده باندې قرآن دی
د خالق صفت مخلوق کولی نه شي
ای نسیمې ستا په ځان د څه ګومان دی
سیده حیات بیګم نسیم
(۱: ۲ مخ)

د تعلیمي ادبیاتو یا ښوونیزو متونو یوه ځانګړنه بـه دا وي چې لږ تر لږه د شاګرد ذهني وړتیا، صلاحیت او استقامت ته په کې پوره پام او درناوی شوی وي، ځکه شاګرد دا وخت د سختو، پېچلو او داسې کلمو چې معنایز بار یې زیات وي، د زده کړې په پروسه کې له ننګونو سره مخامخ کولای شي. زما په باور دغه منظوم کلام که څه هم په ډېرو ساده الفاظو بیان شوی دی، خو بیا هم شاګرد په کې د ښوونکي مرستې ته اړ دی او ښوونکي ته په کار ده چې د خالق، معبود، ثواب، ظاهر، کوه طور، نګهبان، عظمتونو او نورې داسې کلمې چې شاګرد یې په دقیقه معنا نه پوهېږي باید ور ته واضح او معنا کړای شي. ادبیات د ښوونیزې وسیلې په توګه دا ګټه هم لري چې د زده کوونکو لغوي زېرمه غني کړي، خو دا لغات باید ساده او د زده کوونکي په چاپېریال کې موجود وي. دلته د متن مفهوم ښوونیزه بڼه لري، نو

کله چې موږ شاګرد ته پوهه لېږدوو، نـو د اثـر مؤلـف تـه پـه کـار ده چـې د شـاګرد د احساساتو او ذهني ځواک درناوی وکړي. ممکن یو څوک دا وپوښتي چې شـاګرد د زده کړې په دویمه (منځنۍ دوره) کې دی او ښـایي پـه اسـانۍ وکړای شي چـې دا ډول منظوم متون زده کړي یا یې په معنا پوهېږي؟ له شـک پرتـه اسـتعدادونه یـو تـر بله سره توپیر لري، ځینې فوق العاده ذهـن لرونکـي یـا پـه عامـه اصـطلاح نابغـه زده کوونکو ته به هومره ګرانه مسأله نـه وي، خـو ټـول زده کـوونکي، خـو نابغـه ذهـن نـه لري، نو دلته به کل ته ارزښت ور کول کېږي او د ټولګي له اول نومره تر اخېـر نـومره پورې ټول باید په پـام کـې ونیـول شي، ځکـه د زده کـړې ارواپوهنـه راتـه وایـي چـې ښوونکی باید په دې پوه اوسي چې د څـه شي درس ور کـوي؟ څنګـه درس ورکـوي، چا ته درس ورکوي او څومره موفق دی؟ (۴: ۲۷ مخ)

دوکتور نور الحبیب نثار چې اوږده موده یې د درسي او تدریسي- متونـو پـه ځـانګړې توګه د تعلیمي ادبیاتو په تدوین کـې کـار کـړی دی، د شـاګرد د ذوق، صـلاحیت او اړتیا موضوع داسې واضح کوي: « ادبیـات پـه ژبـه کـې ایجـادېږي او ژبـه د تعلیمـي نصاب یو مهم او مستقل مضمون دی. پخوا تـر دې چـې د ماشوم/شـاګرد ادبي ذوق ته پام وشي، د هغه ژبې ته دې پام وشي چې زده یې کـړي او مفاهمـه ورسره وکـولی شي. د تعلیمي نصاب د ژبې د مضمون تمرکز پر همدې خبره وي چـې شـاګرد ژبـه زده کړي او زده کړه هغه وخت ښه کېـدلی شي چـې لـه معنـا او مفهـوم سره وي. لـه معنا او مفهوم سره زده کړه دا ده چې کوم مـتن لـولي یـا څـه وینـا اوري، هغـه دې د دوی پر ژوند متمرکزه وي. ګټور معلومات او پیغامونه دې ولري. یو متن یـا وینـا هغـه وخت د یو شاګرد پر ژوند متمرکزه کېدلی شي چې:

لومړی: د دوی په ذوق برابره وي.

دویم: د دوی ضرورت ورسره پوره شي.

درېیم: د دوی د صلاحیت او استعداد مطابق وي.

کله چې یو درسي متن یـا وینـا پـر دغـو دریـو شرطونـو برابـره شـوه، نـو یقینـاً چـې د ماشوم/شاګرد لپاره ګټوره او مهمه ده. کله چې د شـاګرد/ ماشـوم د ذوق خـبره کـوو مراد یې د درسي متن یـا وینـا ادبي، هـنري او ښـکلاییز اړخ دی چـې پـه کـار دی د ماشوم ادبي، هنري او ښکلاییز اړخ وغوړوي او وروزي. محـاوره، متـل، کیسـه، نکـل،

دوښی، غاړه، تپه... د همدغه مقصد د تر لاسه کولو په مخه د ژبې درسي مضامینو کې راوړل کېږي. ادبیاتو ته د شاګرد اړتیا ډېره مهمه مسأله ده، د تعلیمي نصاب د ژبې د مضمون په مفرداتو کې ورته له دقت سره پام کېږي او مؤلف یې هغه ته له پام سره د ژبې مضمون ته انکشاف ورکوي. موږ زیاتره د ماشوم یا شاګرد ذوق ته نه ګورو، خپل ذوقونه او خوښې ناخوښې وربانديې تحمیلوو، د ماشوم ضرورت ته نه ګورو خپل ضرورتونه ورباندې پوره کول غواړو چې داسې نه پوره کېږي. د ماشوم صلاحیت او استعداد ته نه ګورو تر وس یې پورته مفاهیم او معلومات ور لېږدول غواړو چې نه یې شي جذبولی یا یې ډېر کم جذبولی شي. په کار ده چې د ژبې درسي مضمون ماشوم/شاګرد ته داسې معلومات او پیغامونه ور ولېږدوي چې هغوی وربانديې ځان وپېژني. مور او پلار او کورنۍ وپېژني، خپل کلی وپېژني، ښار وپېژني، د کلي جومات او امام وپېژني، کشر او مشر وپېژني، زوړ او ځوان وپېژني، د لوبو په اهمیت وپوهېږي، د لوبو سامان وپېژني، ملګرتیا جوړه کړي، له نورو سره ګډ کار ته یې وهڅوي، د همکارۍ روحیه یې وروزي، نقادانه تفکر یې وروزي، بحث وکړي، دلیل ووایي، خبره ومني یا ردکړي... . » (۹: مرکه)

د استاد نثار په باور هر متن یو پیغام لري یا به مثبت وي یا به منفي، خو د درسي متونو خاصه ځانګړنه به دا وي چې حتمن به مثبت پیغام لېږدوي، ځکه موخه زده کړه او ښوونه ده، نو که څه هم د تعلیمي نصاب د ژبې د مضامینو درسي متون مثبت پیغامونه لري او لېږدوي، خو نیمګړتیا یې دا ده چې د شاګرد صلاحیت، ذوق او چاپېریال ته پکې ډېر پام نه دی شوی او همدا لامل دی چې شاګردان دغه ډول متون په اسانه نه شي جذبولی او یا یې هم کم جذبولی شي.

((د موسی سره یې راز په کوه طور کړ
محمد یې مېلمه کړی په آسمان دی))

پورته بیت د کتاب په دویم مخ کې په «د» او په درېیم مخ کې چې د پوښتنې په توګه راغلی په «که» پیل شوی دی.

(که موسی سره یې راز په کوه طور کړ
محمد یې مېلمه کړی په آسمان دی)

که څه هم دلته ډېره معناييزه ستونزه نه ده پېښه شوې، خو په پښتو ژبه کې (د او که) سره دوه بېل ادات (particals) دي چې (د) ته د اضافت ادات وايي او دنده يې د څيزونو او پديدو اړوندول او ملکيت ښودل دي او )که( چې د عطف ادات دی د کلمو او جملو د يوځای کولو دنده لري، خو د دوی ترڅنګ يو بل ادات (له) دی چې د لوري ښودلو يا تعينولو ادات دی او پکار وه چې دلته (له) راغلی وای. (۲: ۹۷ مخ )

يعنې:

له موسی سره يې راز په کوه طور کړ

محمد يې مېلمه کړی په آسمان دی

نعت

الهي راکړه وصال د خپل حبيب

زړه مې ښاد کړې په جمال د خپل حبيب

د هغوی به ګفتګو وي له قرآنه

چې تل اوري قيل و قال د خپل حبيب

د قيامت له حرارته يې باک نشته

هر چې نوش کاندي زلال د خپل حبيب

د صحرا د ريګ حساب راسره نشي

که هر څو شمېرم کمال د خپل حبيب

دروازې مې دواړه سترګې د ختن شوې

چې پرې وينم خط و خال د خپل حبيب

که نظر په واړه ښکلو د جهان کړم

هرګز نه وينم څوک سيال د خپل حبيب

بيهوده دي شمس الدينه قيل وقال دی

څو اګاه نشې په حال د خپل حبيب

(۱: ٦ مخ)

د شمس الدين کاکړ د دغه شعر ترڅنګ د کتاب په شپږم مخ کې د شاعر لنډه پېژندنه هم راغلې ده. زما په ګومان د ښوونځي په دغه دوره کې به يوازې دا بسنه

کوي چې موږ ادبیات داسې یوه وسیله وګڼو چې زده کوونکی لیکلو او لوستلو ته علاقمند او ترڅنګ یې لغوي زېرمه پراخه او غني کړو، خو دلته پردې سربېره چې په دغه شعر کې ځینې پېچلي کلمات راغلي دي، ترڅنګ یې د شاعر پېژندګلوۍ ته کومه خاص اړتیا نه حس کېږي.

شمس الدین کاکړ د هندي سبک شاعر دی او د هندي سبک یوه ستره ځانګړنه دا ده چې شاعران یې لوړ تشبیهات او پېچلي کلمات کاروي او له ابهامه ډکه شاعري ده، نو غوره به دا وای چې د دغه شعر پر ځای د یو بل داسې شاعر شعر غوره شوی وای چې الفاظ او کلمې یې ساده، روانې، اسانې او د شاګرد له سویې سره انډول وای.

د کتاب په نهم مخ کې عنوان دی: (پسرلی او ښکلا یې) د ادبیاتو په اړه دا خبره مشهوره ده چې ادبیات ژبنی هنر دی، دلته له ژبني هنره موخه دا ده چې ادبیات تللې، موزونې او زړه راښکوونکې خبرې دي، خو دا عنوان هغسې چې باید جذاب او راښکوونکی وای، ډېر نه دی. د کتاب مؤلف کولای شول چې دا عنوان (د پسرلي ښکلا/د پسرلي ښکلاګانې یا هم بخملي صحرا) کړی وای. پر هر صورت تر دغه عنوان لاندې د پسرلي د ښکلاګانو په اړه په نثر او نظم خبرې او معلومات را اخېستل شوي دي چې زه یې د بېلګې په توګه د نظم یوه برخه را اخلم.

ځمکه تمامه شنه بخملي ده
نوی بهار دی د کال ځواني ده
دا زوړ جهان چې بیرته ځوان شوی
اغېزه ټوله د پسرلي ده
ځمکې په خپل مخ ایښي ګلونه
ونو په غاړه کړه امېلونه
سحر سبا دی غوټۍ غوړېږي
د ګل په پاڼو شبنم ځلېږي
عجب احوال دی نن په ګلشن کې
ګلونه خاندي بلبل کړېږي
(ګل پاچا الفت)
(۱: ۱۰ ـ ۱۱ مخونه)

استاد غضنفر وايي: «زما په نظر که د ادبياتو په تدريسي- کتابونو کې د متن د پېچلتيا په ځای د متن ښکلا ته اهميت ورکړو، نو له ادبياتو سره به د زده کوونکو مينه پيدا شي او د دوی ذوقونه به وروزل شي. د دې مينې په برکت به دوی په راتلونکي عمر کې له ادب سره تعلق نه شلوي. يو ښکلی شعر، يوه اغېزناکه کيسه، يوه خوږه سفرنامه، يو جالب راپورتاژ يا د لوی ليکوال مقاله د ژبې او ادب په باره کې تر هغه متن چې په مشکل او فشار يې لولو، ډېر څه را زده کولای شي او د ژبې په باريکيو مو ښه پوهوي. » (٦: ١٥٦ مخ)

د الفت صاحب په شعر کې د پسرلي ښکلا په لوړه هنري ژبه تفسير شوی او په واقعي معنا پرې د يو ادبي ارزښت لرونکي محتوا مينه ماتېږي. د کتاب په ١٣ مخ کې د پښتو (يې) ګانو په اړه معلومات راغلي چې د پنځو واړو (يې) ګانو پر پېژندنې سربېره يې بېلګې هم را اخېستل شوې دي. په پښتو ژبه کې (ی) يو ډېر باارزښته معناييز غږ دی چې د هر غږ لپاره جلا ګرافيم وضعه شوی او د دغه غږ تغيير په کلمه کې معنايز تغيير پېښوي. لکه: دغه کلمې (نوی، نوي، نوې، نوي) «نوی= مفرد مذکر ستاينوم، نوي= جمع مذکر ستاينوم، نوې= مفرد مونث/ښځينه ستاينوم او نوي= ٩٠ عدد دی، اوس که چېرته موږ دا ټول په يوه (ی) وليکو، نو معنايز ابهام رامنځته شو او پر دې ابهام هغه څوک پوهېږي چې هغه د پښتو ژبې په قاعدو او د معنايزو غږونو په معنايز ارزښت پوهېږي.

د ادبياتو يو ارزښت او کمال دا دی چې زده کوونکي د ليکلو سره علاقمند کوي او بهتره ده چې په نصاب کې د ژبې لومړنۍ قاعدې او ګرامري اصول په ښه او ساده شکل بيان شي، لکه د اووم ټولګي په پښتو مضمون کې چې دې ټکي ته پوره پام شوی دی.

د کتاب په ٢٢ مخ کې دا جمله لولو: «زده کوونکي دې لاندې شعر ولولي او خوند دې ترې واخلي.»

ورځ

له جهانه تياره وړم رڼا راوړمه
د غفلت له خوبه خلک پاڅومه
هنګامه د ژوندون ګرمه کړم عالم کې
حرکت او کار ته هر څوک را بلمه

شوق د کار هومره په زړونو کې پیدا کړم
چې غرمو کې په دهقان یوې کومه
څوک په غرونو خېژوم په سختو لارو
په چا باندې درانه پیټې بارومه
ټول عالم کړم سرگردان او ناقراره
خو د زجر سره اجر ور کومه
محرک زه د انسان د ارادو یم
دا ویده عالم له خوبه ویښومه
که ژوندون فعالیت او حرکت وي
په جهان کې زه دغه اثر لرمه
وخت د سعې او عمل د کار او زیار یم
چې وزگار مې نیوی نه شي هغه ښکار یم
شاعر: گل پاچا الفت

د الفت صاحب پورته شعر چې ورځ په کې متکلمه او انسانان یې په کې مخاطب کړي، تر ټولو مهمه ښوونیزه یا تعلیمي ځانگړنه د زده کوونکي لپاره د ریاضت، زیار، زحمت، خوارۍ، کړاو او هر اړخیزو هڅو پیغام او هڅونه ده. «د کار او ریاضت لپاره انگېزه ډېره مهمه ده او په زده کوونکو کې د دغې انگېزې روزل باید د ښوونې او روزنې اساسي موخه اوسي، چې دا په راتلونکې کې د کار لپاره د زده کوونکي شخصیتي روزنه ده.» (۷: ۲٦ مخ)

د کار، زحمت او خوارۍ لپاره پر ښوونځي سربېره د کورنۍ رول هم مهم دی، که ښوونځی د زده کوونکي په اخلاقي یا معنوي روزنه کې نقش لري، نو له شک پرته کورنۍ بیا د وگړي په ټولنیزه روزنه کې چې د فرد راتلونکی او مادي لاسته راوړنې او د مادي لاسته راوړنو لپاره د زیار او زحمت هڅې ورسره تړلي دي، کورنۍ په کې د روزونکي او همغږي کوونکي رول لري.

خو د همدغه شعر پر سر دا لیکل شوې جمله: «زده کوونکي دې لاندې شعر ولولي او خوند دې ترې واخلي.»

ښوونه او روزنه راته وايي چې شاګردانو ته قومانده او فرمان مه ورکوئ، ځکه هغوی د قوماندې او فرمان پر وړاندې بې پروايي کوي. د «خوند تري واخلئ» پرځای دې داسې يو عبارت راشي چې د شاګرد سلوک ځنې ښکاره شي، د بېلګې په توګه:

۱ـ زده کوونکي دې لاندې شعر ولولي او مطلب دې يې پخپله ژبه ووايي.

۲ـ ..... او ودې وايي چې څه يې ځنې زده کړل؟

۳ـ .....او همقافيه کلمې دې په کې په نخښه کړي.

۴ـ ..... او يو يو شاګرد دې د يوه يوه بيت مطلب ووايي.

خوند اخېستل يو دروني بحث او په سلوک کې تغيير يو فزيکي پېښه ده چې بايد مخسوسه شي، نو د «خوند» له کلمې سره د شاګرد په سلوک کې څه بدلون مشاهده کېدلی نه شي، ځکه چې دا کلمه د مخفي سلوک څرګندوی ده، مخفي سلوک دا دی چې څوک څه پوهېږي چې څه خوند يې ځنې واخيست؟!

د اووم ټولګي په اووم لوست کې عنوان دی: « بلخ، د مدنيت زانګو» تر دغه عنوان لاندې تقريباً دوه نيم مخه تشريح راغلې ده چې په کې د بلخ ولايت، جغرافيه‌وي، تاريخي او فرهنګي مسأيل په پوره وضاحت تشريح شوي دي. د متن عنوان، د متن حجم، د متن ژبه او د متن د پيغام برخې د پوره ملاحظې وړ دي. ايا فکر کوئ چې زموږ مخاطبان (زده کوونکي) د مدنيت کلمې په معنا پوهېږي؟ دا يوه ډېره پراخه معنا لرونکې کلمه ده چې په قاموسونو کې د تمدن، فرهنګ، ښارمېشتی/شهرنيشني، (civilization) او په نورو معناوو معنا شوې ده. زما په ګومان دا به ډېره مهمه وي چې د نصاب مؤلف د کلمو حقيقي او ضمني معنا او د مخاطب سويه او اجتماعي موقف په پام کې ونيسي.ـ « بلخ، د مدنيت زانګو» که يوازې بلخ ليکل شوی وای، نو وروستي عبارت ته هېڅ اړتيا نه ليدل کېږي، ګومان نه کوم چې د زده کوونکي ذهن دې دومره غځونې کړې وي چې د (مدنيت زانګو) په هنري عبارت دې تخيل وپارېږي، ځکه يو د ادبياتو زده کړه ده او بل ښوونيز ادبيات دي، د ادبياتو په زده کړې کې تخيل، تشبيه، استعاره، سيمبول، پراډاکس او نور حتمي وي، خو په ښوونيزو ادبياتو کې موږ يوازې او يوازې له تعليمي پيغام سره سر و کار لرو، نه له لوړ تخيل او سيمبولونو سره. (۵: ۸۲ مخ )

د دغه لوست متن د پښتو مضمون لـه روحیـې سره ټکر لـري، د بلخ ولایت پـه اړه جغرافیه‌وي او تاریخي معلومات پکار وو چې د تاریخ او جغرافیه په مضمون کې راغلي وای، خـو د اثر مؤلف دا محتوا پـه پښتو مضمون کـې هـم را اخیستې چـې پـه زده کوونکي یو اضافي بار دی او د هغه ذهني کچ په نظر کې نه دی نیـول شـوی. پکار وه چې یوازې فرهنگي مسأیل او پـه دغـه ولایـت کـې د پوهـانو، شاعرانو او عارفـانو لنـډه یادونه شوې وای لکه: د متن پـه وروستي پراگـراف کـې چـې حضرت علـي رض تـه د منسوبې روضې او دغه ولایت سره تعلق لرونکو شخصیتونو لکه: د مولانـا جـلال الـدین محمد بلخي، حکیم ناصر خسرو بلخي، رابعه بلخي او ابـن سـینا بلخـي او نـورو یادونـه چې شوې ده. بل د نقد وړ ټکی په دغه متن کې د بې ربطه جملو، اضافي معلومـاتو او د کلمو معنابیز ابهام ته نه پاملرنې دا متن ډېر بـې خونـده کـړی دی. اسـتاد غضـنفر د درسي متونو ښکلا او جذابیت مهم بولي او په درسي متونو کـې د ښـکلا او جـذابیت د کمښت یا نشتوالي موضوع داسې نقدوي: «ادب د هنر برخـه ده او پـه هـنري اثـر کـې خوند و ښکلا وي، خو زموږ د ښوونځیو او پوهنځیو د ادبیـاتو پـه درسي کتـابونو کـې یـا خوند نشته یا کـم دی. داسـې ولـې ده؟ د دې پوښـتنې یـو ځـواب دا دی چـې مـوږ د ادبیاتو په ور زده کړه کې ډېر زور په هغو عناصرو اچوو چې د ادبي اثارو له ذاتي عنصر-یعنې خوند او ښکلا سره یې مستقیم تعلق نشته.» (٦: ١٥٥ مخ)

د استاد غضنفر د خبرو په تأیید په ادبي متونو کې متني ښـکلا اسـاسي تـوکی دی، خو په ښوونیزو اثارو کې د متن ښکلا باید ډېره له مبالغې او خیـال پـردازۍ ډکـه نـه وي، بلکې د شاگرد سویه، ذوق او د ادبیاتو په اړه د هغه شته معلومات او پوهه پکـې په پام کې ونیول شي؛ ځکه په ښوونیزو ادبیاتو کې د متن د ښکلا ترڅنـگ د مـتن د پیغام برخې ته ډېر پام پکار دی.

د کتاب په ٣٧ او ٣٨ مخونو کې دا لاندې لنډۍ لولو:

د نتکۍ لال به پرې خیرات کړم
که مې اشنا په دښمن مات کړل سنگرونه

***

زما د زړه صدف دې مات کړ
ځکه له سترگو مرغلرې تویومه

له ما نه ولې مرور يې
کم عقل ياره په پردي اختيار کې يمه
***
ګرېوان مې ټول په اوښکو لوند دی
ما د جانان له غمه ډېر ژړلې دينه
***
په ناموس ننګ په وطن جنګ دی
د وطن جنګ ته په غورځنګ ورځه مئينه

له لومړۍ او وروستۍ لنډۍ پرته د منځ درې لنډۍ يوازې او يوازې د مجازي مينې، فراق، بېوسۍ او لري والي ادبيات بيانوي. په لنډيو کې د ماشوم ارواپوهنه او د هغه عيني احساسات بايد په پام کې ونيسو، د زده کوونکي فزيکي بلوغ يو مهم بحث دی. ايا په دغه عمر کې زده کوونکو د مور او پلار له مينې پرته بله داسې مينه تجربه کړې، څه ډول چې په دغه شعر کې تفسير شوې ده؟د ماشوم ارواپوهنه راته وايي چې د ماشوم د احساساتو درناوی پکار دی! خو لومړۍ او وروستۍ لنډۍ بيا د تعليمي ادبياتو غوره بېلګې ګڼلی شو، ځکه زموږ هېواد په تاريخي لحاظ څو ځله د اشغالګرو لاس ته لوېدلی دی او د افغانانو ننګ، غيرت او مېړانې دا هېواد د دښمن هديره ګرځولې ده او پکار ده چې زده کوونکي د شعر په ژبه له دغو برياوو او لاسته راوړنو خبر کړو او دا د ادب د پنځوونکو فرض هم دی. ممکن يو څوک پوښتنه وکړي چې جګړې خو تل لويانو کړي دي، نو موږ ولې ماشوم غچ او د يرغلونو مقابلې ته وهڅوو؟ زما په باور انساني سلوک تل د تکامل په بهير کې همکاري او تشدد دواړه زده کوي، انسانان د فردي او ګروپي بقا، توليد او د منابعو د ساتلو لپاره همکاري هم کوي او د ګواښونو پر وړاندې د دفاع لپاره تشدد ته مخه کوي، نو بناً د متن په پيغام کې بايد د مستقيم پيغام ترڅنګ غېر مستقيم يا ضمني پيغامونه هم خوندي وي.

د همدې کتاب په ۴۸ مخ کې د ديارلسمې هجري پېړۍ د يو صوفي شاعر يو لنډ شعر راغلی دی:

له ګناه تل پرهيز کړه
له فساده ډېر ګرېز کړه

گناه مه گڼه حقیره
که کمکی وي که کبیره
استخفاف ده گناه جانه
سړی باسي له ایمانه

له اخلاقي پلوه د شعر پیغام لوړ دی او زموږ دین موږ ته دا را زده کوي چې موږ له اووه کلنۍ وروسته ماشوم په هغو خبرو وپوهو چې په کولو یې دی گنهگارېږي، خو په دغه شعر کې راغلي الفاظ بیا هومره ساده او روان نه دي چې شاگرد یې ژر هضم او زده کړای شي، د بېلگې په توگه د استخفاف، گرېز، حقیره، کبیره او دغه راز د فساد کلمې د معنا له پلوه ډېرې گرانې دي.

د کتاب په ٥٦ مخ کې د عبدالهادي داوي د فارسي شعر پښتو ژباړه راغلې ده چې مولوي صالح محمد هوتک پښتو ژبې ته ژباړلی دی، که څه هم دغه شعر په خپله زمانه کې یو سیاسي پیغام درلوده، خو دلته د نصاب مؤلف د ازادۍ او حریت ارزښت د بیان لپاره ترې استفاده کړې ده.

یو سحر زما تر غوږ شوله بلبله
په قفس کې یې ژړل دا یې ویله
چې بندي شوم د صیاد له سخته دله
ولې نه پوښتي څوک حال زما یو له بله
ولې نشته بې فغانه کاروبار زما
ولې حبس ابدي راغی په وار زما

دغه شعر نږدې یوه پېړۍ پخوا لیکل شوی او بیا پښتو ته د ژباړې له لارې راغلی دی، د دغه شعر ادبي ارزښت د ادبیاتو په تاریخ کې له شک پرته خوندي دی او دغه شعر د خپلې زمانې ښه شعر گڼل شوی دی، خو نږدې سل کاله وروسته چې په پښتو شعر او ادب کې د شکل او مضمون له اړخه ډېر تحول رامنځته شوی، په دغه تدریسي اثر کې یې راوړل زما په گومان زموږ د مؤلفانو لټي او تنبلي ښيي. د اووم ټولگي په پښتو مضمون کې گڼ داسې مطالب مونډلی شئ چې ادبي ارزښت به یې لوړ وي، خو ښوونیز پیغام چې د دغه تدریسي کتاب اصلي او محوري بحث دی، کم رنگه او په ضعیف حد کې دي.

## پایله

زموږ د نصاب په پښتو کتابونو کې د ادبیاتو زده کړه او ښوونیز ادبیات دوه سره جلا اصطلاحات دي او د دوی په مفاهیمو کې توپیر نشته او یا هم ډېر کم دی. ښوونیز ادبیات له پیغام سره سر وکار لري، خو د ادبیاتو زده کول بیا ډېر نور مسائل هم رانغاړي چې تر ډېره د ادبیاتو مسلکي زده کړې پورې تړلې ده. د بېلګې په توګه د کاظم خان شیدا او اشرف خان هجري شاعري د ادبیاتو زده کړه غواړي، خو که موږ یې د شعر بېلګې د ښوونیزو ادبیاتو په برخه کې راوړو، دلته مو د شاګرد سویه له پامه غورځولې ده، ځکه د دغو شاعرانو د شعر تحلیل او تفسیر د ادبیاتو له اړخه پراخه مطالعه او پوهه غواړي چې زموږ زده کوونکی یې په دغه عمر کې نه لري. زده کوونکي خو پرېږده ـ پرېږده آن زموږ د پښتو مضمون ځینې ښوونکي هم ښايي د دغه شعر په تحلیل کې هومره مېړني نه وي چې موږ یې تصور کوو. پر هر صورت د ښوونیزو ادبیاتو د زده کړې لپاره باید د شاګرد ټولنیز، کورنی او د ښوونځي چاپیریال په پام کې ونیول شي. د پښتو اووم ټولګي مضمون که څه هم د ښوونیزو ادبیاتو ځینې ښې بیلګې هم لري، خو ځینې نورې بېلګې بیا د تأمل وړ دي او پکار ده چې په راتلونکو ښوونیزو آثارو کې پرې بیا کتنه وشي.

## وړاندیز

د پوهنې وزارت ته زما وړاندیز دا دی چې د نصاب ټول کتابونه په ځانګړې توګه د ژبې کتابونو ته ډېر پام او دقت وکړي، د اماتورو لیکوالو پر ځای پکار ده چې مسلکي، مجرب او د شاګردانو له روان او پیداګوژۍ سره بشپړ بلد لیکوال او د لیکوالو ډله د دغو اثار لیکلو ته وګوماري.

## مأخذونه


۱. پښتو اووم ټولګی، د تعلیمي نصاب مؤلفان، پوهنې وزارت، ۱۳۹۹ ل کال، ۲ مخ

۲. خوېشکی، محمد صابر. پښتو معاصر ګرامر،«دربیم چاپ»، جهان دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۴۰۱ لمریز کال. ۹۷ مخ

۳. داد، سیما. فرهنگ اصطلاحات ادبی، چاپ سوم، انتشارات مروارید، کتابخانه ملی ایران، سال ۱۳۸۵. صفحه ۲۱
۴. روهي، محمد صديق.د ژبښوونې مسئلې، (ـــ): (ـــ)، ۱۳٦۱ کال ۲۷ مخ
۵. شريفي، فاضل. تأملی برجایگاه ادبیات در نصاب درسی معارف، مجله خراسان، شماره ۱۱۵ ، اکادمی علوم افغانستان، ریاست اطلاعات و ارتباط عامه: کابل، سال ۱۳۹۳ صفحه ۸۲.
٦. غضنفر، اسدالله. د نثر ليکلو هنر، مومند خپرندويه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۸۹ کال، ۱۵٦ مخ.
۷. فيضي، راز محمد. پيداگوژي، هاشمي خپرندويه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۹۵ لمريز کال، ۲٦ مخ

**مرکې**

۸. ديدار، محمد سهراب. د پوهنې وزارت د تعليمي نصاب پراختيا عمومي رياست متقاعد علمي غړی، ٦۷ کلن، ماستر، ((د اووم ټولګي په پښتو مضمون کې ښوونيزو ادبياتو ته کتنه))، څېړندوی خالد تکل، د افغانستان د علومو اکاډمی: کابل، ۱۴۰۲/۸/۱۹ل کال.
۹. نثار، نور الحبيب. د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي غړی، ٦۰ کلن، دوکتور، ((د اووم ټولګي په پښتو مضمون کې ښوونيزو ادبياتو ته کتنه))، څېړندوی خالد تکل، د افغانستان د علومو اکاډمی: کابل، ۱۴۰۳/۵/۸ ل کال.

څېړندوی محمد اسحاق مومند

# د ګل محمد مالګيري د ديوان شننه او انتقادي څېړنه

# Analysis and Critical Study of Gul Mohammad Malgiri's Diwan

Assistant prof. M. Ishaq Momand

## Abstract

The classical period of Pashto literature contains a number of rare Diwans, many of which remain unpublished and unstudied. One such Diwan that has recently been published is that of the prominent classical Pashto poet Gul Mohammad Malgiri. The publication of this Diwan helps fill an important gap in the scholarly understanding of classical Pashto literary heritage.

Gul Mohammad Malgiri is recognized as one of the celebrated poets of the classical Pashto literary period. His Diwan contains a collection of refined and excellent poetry, demonstrating his mastery of poetic forms such as the ghazal and quatrain. Malgiri's poetic themes span religious, social, and romantic subjects, and his style is influenced by the renowned poet Pir Mohammad Kakar.

This paper provides a critical analysis of Gul Mohammad Malgiri's Diwan based on established principles of literary research. It examines the historical

and cultural context of the work, evaluates its poetic qualities and themes, and assesses its significance within the classical Pashto literary period.

## لنډیز

د پښتو ادبیاتو کلاسیکه دوره کې خورا نادر دیوانونه شته دي چې ځینې یې چاپ شوي او ځینې یې لا هم بې څېړنې او بې چاپه پراته دي. د دغو دیوانونو له جملې څخه یو هم د گل محمد مالگیري دیوان دی چې په دې وروستیو کې په کندهار کې چاپ شوی دی. د دې په چاپېدو سره زموږ په دیواني ادب کې یوه تشه ډکه شوه او که خدای کول دا لړۍ به همداسې روانه وي. گل محمد مالگیري د کلاسیکې دورې نومیالی شاعر دی چې په دیوان کې یې ډېره ښه شاعري را ټوله شوې ده. د پیر محمد کاکړ د سبک پیرو و. په غزل، رباعي او نورو فورمونو کې یې شاعري کړې ده. د نوموړي اشعار د موضوع له اړخه دیني، ټولنیز او عشقي رنګ لري. دلته به په دې لیکنه کې به وربانديې د څېړنې اصولو سره سم خبرې اترې وشي.

## سریزه

موږ د پښتو ادبیاتو کلاسیکې دورې له گڼ شمېر شاعرانو سره پېژنو، د ډېرو چاپ شوي آثار تر موږ را رسېدلي، د دوی د دیوانونو په هکله بېلا بېلو لیکوالو په کافي اندازه مقالې او رسالې لیکلي او خپرې کړې دي، یعنې دا هغه شاعران دي چې دیوانونه یې چاپ شوي او په پراخه کچه یې د ژوند او آثارو په هکله مأخذونه پیدا کیږي؛ خو په زیات شمېر داسې شاعران هم شته چې یوازې یې په نومونو سره پېژنو؛ که څه هم گل محمد مالگیري اوس په دې کتار کې نه راځي، خو څو کاله وړاندې دی هم د دې لړۍ له شاعرانو څخه شمېرل کېده، اما اوس گل محمد مالگیري د کلاسیکې دورې په مخکښو دیوان لرونکو شاعرانو کې حسابولی شو. نوموړی مو تر ډېره وخته یوازې په نوم او څو شعرونو پېژنده، خو له ښکه مرغه د ده دیوان د مطیع الله روهیال په زیار او هڅو له رشاد اکاډمۍ څخه ترلاسه شوی او بیا یې همالته په کندهار کې چاپ کړی دی. که څه هم استاد روهیال دا خپله لومړنۍ هڅه بولي خو وروسته په مقاله کې به ورته کتنه وشي.

## د څېړنې ارزښت او اهمیت

لکه څنګه چې پورته  په سریزه کې مو یادونه وکړه د گل محمد مالگیري دیوان په دې وروستیو کې چاپ شوی، نو واضحه خبر ده چې د نوموړي په دیوان باندې تر ډېره کچه څېړنه نه ده شوې او که شوې هم وي په نشت کې حساب ده. د گل محمد مالگیري په دیوان کې د بیاني علومو ډېرې ښې ښېلګې موندلی شو او همدارنګه د نوموړي د سبک په اړه هم تر اوسه پورې څېړنې نه دي ترسره شوي. د څېړنې اهمیت او مبرمیت د موضوع په ندرت او نوي والي کې ده.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې د گل محمد مالگیري دیوان شننه او څېړنه وشي چې دا چاره تر دې وړاندې زما مخې ته نه وه راغلې. دویم دا چې پښتو ژبې ته د نوو موادو ورکړه او په  ذخیره کې یې یو څه زیاتوالی راوستل او له بله پلوه گل محمد مالگیري ته د هغه  حق او برخه ورکول دي؛ په دې معنا چې گل محمد مالگیري  په نه امکاناتو سره خپلې پښتو او آن دري ژبې لپاره داسې یو کتاب ډالۍ کړی دی چې حساب پرې کېدای شي، نو له دې امله خو یې څه ناڅه دومره حق پر موږ شته چې د خپلو  مقالو سرلیک یې وګرځوو او د پښتو ژبې ځوانو ادیبانـو او څېړونکو ته یې ور وپېژنو.

## د څېړنې پوښتنې

١ .گل محمد مالگیري څوک دی او د کوم ځای اوسېدونکی دی؟

٢ .زموږ په کلاسیکه شاعرۍ کې گل محمد مالگیري د کوم سبک شاعر و؟

٣. د گل محمد مالگیري په اشعارو کې کومو ادبي صنایعو ته تر کومې کچې پاملرنه  شوې ده؟

## د څېړنې میتود

په دې مقاله کې له تشریحي، تحلیلي او په ځینو برخو کې له انتقادي میتود څخه کار اخیستل شوی دی. د څېړنې ډول یې  کتابتوني دی.

## د مقالې متن

ګل محمد د ګلزار زوی دی، د ده د پیدایښت په باب کوم واضح سند نشته، خو استاد عبدالحی حبیبي یې د خپلو څېړنو له مخې د احمد شاه بابا (۱۱۶۰ ـ ۱۱۸۶هـ. ق) تر تخت نشینۍ وروسته بولي. استاد مطیع الله روهیال د استاد حبیبي په قول په دې اړه لیکي: ((له دغه حسابه موږ دا تخمین کولای شو چې ګل محمد به د احمد شاه بابا په عصر کښې تر (۱۱۶۰هـ. ق) وروسته زوکړی وي)). (۴:۹مخ)

استاد زلمی هېوادمل د ګل محمد مالګیري په اړه لیکي: د پیر محمد په پیروانو کې بل سړی چې د هېرې نه دی، هغه د ګلزار زوی د هلمند په مالګیر کې اوسېدلی شاعر ګل محمد دی. ادبي مؤرخانو لیکلي دي چې ګل محمد نورزی د هلمند دی، د احمد شاه بابا په زمانه کې زوکړی دی او د شاه زمان په عصر کې ژوندی و. ده د خپل ژوند یوه موده په هندوستان کې تېره کړې ده. (۵: ۲۴۱مخ)

د ګل محمد مالګیري د ژوند په ځینو نورو اړخونو باندې پوهاند صدیق الله رښتین په پښتانه شعرأ (دویم ټوک) کې لیکي: د ګل محمد د عمر ډېره برخه د هلمند د غاړو په کلیو کې تېره شوې او دی هغه ځایونه په خپلو اشعارو کې ډېر یادوي. ګل محمد، یو مین سړی و، د ده معشوقه د شاه زمان په نوکرۍ کې له کندهاره کابل، پېښور او کشمیر ته تللې وه، نو ګل محمد هم بېلتون نه شو کولای، نو د هند سفر یې کړی دی. ګل محمد د وزیر فتح خان په نهضت کې ژوندی و، د ده عمر د شاه محمود سدوزي تر عصره پورې اوږد شوی او یقیناً تر ۱۲۱۶هـ. ق پورې لا ژوندی و. (پښتانه شعرأ: (۲: ۴۳۲مخ)

د استاد حبیبي، پوهاند رښتین او استاد هېوادمل له لیکنو خو معلومه شوه چې ګل محمد د هلمند اوسېدونکی دی، په خپله ګل محمد د ځان په اړه داسې لیکي:

راسه وګوره په خپله سیدو جانه
په هلمند کې تر تا کم مهروی بهتر
(۴:۹مخ)

آهنک دې الله نه کړي بې له تانــه
ای د درست هلمند سلطانه تر تا جار سم
(۴:۹مخ)

که یې تر دې نور هم مشخصې سیمې ته منسوب کړو، نو ویلای شو چې گل محمد د هلمند د مالگیر کلي اوسېدونکی دی. استاد حبیبي دغه کلی د هلمند رود پر غاړه د گرشک سوېل خواته بولي. په مالگیر کې د گل محمد د اوسېدو په باب د ده په دیوان کې ډېر بیتونه شته:

ستا په سر ږو که باور کړې ځما جانــه
په مالگیر کښې تر ما نور څوک غمناک نه سته
(۴ :۱۰مخ)

مالگیر څه ویران ولات دی پُر په غم
په کوښښ مې پیدا نه کړ خپل همـدم
(۴ :۱۰مخ)

چې له عشقه په فریاد یم په مالگیر کښې
په ولا ږو لوی نعمت رامعلومیــــــږي
(۴ :۱۰مخ)

دا معلومه شوه چې گل محمد مالگیري د هلمند ولایت د مالگیر اوسېدونکی دی او مالگیر په هلمند کې یوه مشهوره سیمه ده. په دې اړه استاد روهیال د مالگیر کلي د جغرافیې په هکله وایي: ما د مالگیر په باب د افغانستان په جغرافیوي قاموس کې څه ونه موندل، د ځینو هلمندي دوستانو سره تر معلوماتو وروسته فقط دونه راته ثابته شوه چې د هلمند یوه لویه سیمه د مالگیر په نامه یادیږي ، د دغې سیمې لوی والي او پراخوالي ته گل محمد هم اشاره کړې ده:

که هر څو پراخ ولات مالگیر باله شي
بې له تانه پر ما تنــگ دی تر زندان
(۴ :۱۰مخ)

یو ځای د آهنک نومې سیمې یادونه هم کوي او وایي:

آهنــــک دې الله نه کړي بې له تانــــــه
اې د درست هلمند سلطانه تر تا جار سم
( ۴:۱۰مخ)

له پورته تشریح څخه معلومېږي چې گل محمد د هلمند په بېلابېلو کلیو کې استوگنه لرلې ده.

د گل محمد د زوکړې دقیق کال معلوم نه دی خو د اوسېدو زمانه یې د احمد شاه بابا د پاچاهۍ وخت گڼل شوی دی .

که گل محمد تر ۱۱۶۰ کال وروسته زوکړی وبولو، نو ویلای شو چې د برندې ځوانۍ وخت یې د احمد شاه بابا د زوی تیمورشاه ( ۱۱۸٦ ـ ۱۲۰۷ هـ ق) د پاچاهۍ کلونه وو؛ خو د ده په دیوان کې د تیمور شاه د دورې جزئي یادونه هم نه موندل کیږي، اما د شاه زمان د پاچاهۍ یادونه د گل محمد په اشعارو کې شوې ده او داسې ښکاري چې د شاه زمان د پاچاهۍ په وخت کې دی پوخ سنه او د هیواد له سیاسي حالاتو څخه باخبر سړی و. گل محمد، شاه زمان څو وارې په خپلو اشعارو کې یاد کړی دی:

ډمامې د شاه زمان دي گــــډې وډې
که نارې ستا د هجران دي گډې وډې
(۲ :۱۱مخ)

شکر خدای لره چې شاه یې شاه زمان دی
پاچاهي پر کنــدهــار د دراني ده
(۴ :۱۱مخ)

د گل محمد مالگیري له اشعارو څخه داسې معلومېږي چې نوموړي ښه ډېره مسافري هم کړې او له وطنه لرې آن تر هندوستانه تللی دی او له اشعارو یې داسې ښکاري چې هند ته به هم د پښتونخوا له لوړو ژورو څخه تېر شوی وي او ان تر دې چې د ننني کشمیر او اوسني پاکستان ډېرې سیمې یې تر پښو تېرې کړې دي او بیا تر هندوستانه رسېدلی دی. په یوه شعر کې داسې لیکي :

گل محمده چې مسکن دې هندوستان سو
نا گزیره یې احتیاج کړه و زنهـار ته
(۴ :۱۱مخ)

د گل محمد مالگیري دیوان په وروستیو کلونو کې موندل شوی او بیا چاپ شوی دی، تر دې پخوا استاد هېوادمل او استاد حبیبي په خپلو کتابونو کې د یوه دیوان لرونکي شاعر په حیث معرفي کړی او نور یې په اړه کافي معلومات نه درلودل، په دې اړه استاد

روهیال د گل محمد مالگیري په دیوان کې لیکي: د گل محمد د دیوان حاضره نسخه د مولانا صاحب سوغات دی چې هغه مهال یې د پښتو یو بل خواخوږي او لوی حقدار علامه عبدالشکور رشاد ته ورکړې وه. د گل محمد مالگیري خطي دیوان د حیدر آباد په دکن کې د حضرت مولانا ابوالوفاء الافغاني په کتابتون کې خوندي وه، دغه نسخه ۲۲۲ مخه ده. د گل محمد د دیوان بله خطي نسخه نه ده را معلومه .

له دې ځایه داسې معلومېږي چې استاد روهیال د علامه رشاد له اکاډمۍ څخه د مالگیري دیوان خطي نسخه ترلاسه کړې او بیا یې په هماغه یوه نسخه باندې کار کړی دی چې د متن پوهنې د اصولو له مخې دا د متن د تصحیح وروستۍ طریقه ده چې څېړونکی یې کاروي او په دې څېړنه کې له مقابلې څخه پرته یو متن تصحیح کول دي او څېړونکی مجبور دی چې یواځې له قیاس څخه کار واخلي .

## د گل محمد مالگیري شعري سبک

استاد هېوادمل د پښتو ادبیاتو تاریخ کې لیکي: مالگیري د دوو زرو بیتونو یو دیوان لري . . . خو د پښتنانه شعرأ په دویم ټوک کې د مالگیري د دیوان د بیتونو شمېر بیا تر درې زرو پورې یاد شوی دی. د ده عاشقانه احساسات تاوده او د مینې د حالاتو په تصویر کې پیاوړي دي او د پیر محمد کاکړ سبک یې ډېر ښه پاللی دی .

راسه بلبله په ژړا ژاړه
بهار د گلو له خدایه غواړه
زاغان که ډېر سي نصیب یې خار دی
غونچه د گلو ستا ده ولاړه (۵: ۲۴۱مخ)

استاد روهیال د گل محمد مالگیري په کتاب کې د استاد حبیبي په حواله لیکي: دی کله په رحمان او کله په عبدالقادر پسې په خپل شعر کښې تللی دی او په دغو قالبونو کې یې د خپل زړگي ترجماني کړې ده او غالباً د پیر محمد د سبک پیرو گڼل کیږي.» (۴: ۱۴مخ)

استاد هیوادمل یې په اړه په خپل اثر ((فرهنگ زبان و ادبیات پشتو)) لومړي ټوک کې لیکلي دي: گل محمد شعر پر سوز عشقي گفت و بحیث بلبل خوشنوایی در مکتب ادبي پیر محمد کاکړ نغمه سرود.» (٦: ۴۱۱مخ)

نوموړی د مالگیري د سبک په اړه زیاتوي: د ده عاشقانه احساسات تاوده او د مینې د حالاتو په تصویر کې پیاوړي دي او د پیر محمد سبک یې ډېر ښه پاللی دی. (۵: ۲۴۱مخ)

د گل محمد مالگیري د دیوان په بېلا بېلو برخو کې د رحمان بابا، عبدالقادر خان ختک او خواجه محمد بنگښ د غزلو پر طرز غزلې ویلی شوې دي لکه :

رحمان بابا وایي:

دا څه مخ دی منور

چې هم شمس دی هم قمر

دا څه زلفې دي مُشکینې

چې هم مښک دی هم عنبر

دا څه پیوسته ابرو دي

چې هم نېش دی هم نشتر

دا څه شونډې دي می گونې

چې هم می دي هم شکر

دا څه سپین سپېڅلی غاښ دی

چې هم دُر دی هم گوهر

دا څه شعر دی رحمانه

چې هم گنج دی هم هنر (۱: ۵۴، ۵۵مخونه)

دا د رحمان بابا یو له مشهورو غزلو څخه یو غزل دی او د هنر په دنیا کې یې لوی نوم پیدا کړی دی، د همدغې غزلې پر ځمکه گل محمد مالگیري داسې لیکي :

دا څه مخ دی ښایستــه

چې هم نمر دی هم ډېوه

دا څه زلفې دي خوشبویې

لکه گوی د لخلخه

دا څه شونډې دي شیرینې

چې هم می دي هم پیاله

دا څه سترگې دې ساحرې

چې هم زور کړي هم حیله
دا څه سپین سپېځلي غاښ دي
چې هم دُر دي هم ژاله
دا څه عشق دی گل محمده
چې هم تخت دی هم دوهه (۴: ۱۱۴مخ(
رحمان بابا په یوه بل غزل کې داسې وایي:
چېرې د یار شونډې چېرې غم د دل و جان
چېرې کټې لال او چېرې لعل د بدخشان
(۱ :۱۱٦مخ)

گل محمد وایي:

چېرې د یار څونې چېرې ښاخ دی د ریحان
چېرې د یار سترگې چېرې گل د بدخشان
(۴ :۱٦مخ)

په همدې ډول د مالگیري په دیوان کې استاد روهیال د سبک پرتلنه ډېره ښه کړې ده چې د عبدالقادر خان خټک او خواجه محمد بنگښ ځینې شعرونه یې را اخیستي دي او بیا یې ورپسې د مالگیري څو شعرونه چې د نوموړي په ځمکه یې لیکلي دي راوړي دي چې د یو دوه بیتونو سبک یې داسې لیکلی دی:
عبدالقادر خان خټک وایي:

سرې سرې اوښې دې پر مخ عبدالقادره
نن ویار ته د یاقوتو مهمـاني ده
(۴: ۱٦مخ)

گل محمد وایي:

چې هیڅ نه لرم په لاس کې حیرانیږم
گل محمده د آشنای څه مهمانــي ده
(۴ :۱٦مخ)

خواجه محمد بنګښ وايي:

روغ عالم ته د زړه حال ويلای نه شم
که يې نه وايمه درد زغملای نه شم
(۴ :۱٦مخ)

ګل محمد وايي:

له ادبه دې نامه اخيستای نه سم
له حيرته دې تعريف کولای نه سم
(۴ :۱٦مخ)

له پورتنيو بيتونو څخه داسې معلومېږي چې ګل محمد مالګيري يو داسې شاعر و چې د پخوانيو شاعرانو له شعرونو باخبره، مطالعه کوونکی او عالم شاعر و. موږ دا ويلای شو کېدای شي تر خپل عصر د مخکينيو شاعرانو ديوانونه يې مطالعه کړي وي او د هغو له افکارو څخه متأثره شوی وي. بل دليل يې دا هم کېدای شي چې کله ناکله ځينې شاعران تر دې مخکې چې د يوه مشخص شاعر لار خپله کړي، په نورو شاعرانو پسې وي او يا دا چې دی به د نورو شاعرانو له شعرونو څخه متأثره شوی وي. که د سبک په اړه يې خبره سره راټوله کړو، د استاد حبيبي، استاد رښتين او استاد هېوادمل په وينا د هلمند ګل محمد مالګيري د پير محمد کاکړ پيرو شاعر دی.

**د ګل محمد مالګيري شاعري**

د ګل محمد مالګير له ديوان څخه داسې معلومېږي چې دی په دري ژبه هم پوهېده ځکه چې د ده په ديوان کې پر پښتو غزلو سربېره دري غزلې هم شته او دا چې ګل محمد هند، کشمير او پېښور ته هم سفرونه کړي، کېدای شي چې په نورو ژبو به هم پوهېده، خو په دې هکله ترلاسه شوي اسناد نه لرو چې خپله خبره پرې ثابته کړو. د ګل محمد په ديوان کې دوه شيرو شکر (پښتو او دري) او يوه بشپړه دري غزله را غلې ده چې دلته به يې سره وګورو :

هستم غلام آنکه کند از تو بشارت — پر ما دا ستا له لوري که مې وي د زړه غارت
ذکر تو صبح و شام شده ورد زبانم — فکر تو مؤنس است بهر لحظه قرارت
دا د ښو خيال دې مرا کرد ديوانه — هر دم په ژړا ژاړم خوښ يم دېر په شرارت
کردم فدای آن ګل زيبای باغ تو — جانم ثمن اوست که دې نيت د تجارت

دا ستا د خولو بوی دی، مرا کرد معطر　　هر دم يې شمال راوړي خطاب کړي په اشارت
نعت جمال تو مگر کلک خدا کشد　　آدم نتـوانـد که آرد  به  شمـارت
ښادي پکښې کم يافته غم اندوه دی فراوانه　　دا ځما د خاطر خونه زندان رنگه عمارت
دی وعده داده بودي هنوز است منتظر　　در خواب پري چهر که بودم  به نظـارت
پر سر څه گل محمده که يار حکم وکړي کله　　دستور د عاشقانـو هسې وي د زړه زيــارت
(۱۷:۴مخ)

د گل محمد بشپړه پارسي غزل :

گر شوی واقف زرای من آغای میر مــن　　بی شکی آیی برای من آغای میر مـــن
من نپرهیزم ز دشنامت ذبیب است و ذبیب　　از برای من برای من آغای میر مــــن
بیتو نتوان کرد علاج من حکیمان جهــان　　وصل تو هستند روای من آغای میر من
نیست بختم اینقدر تا باتو نشینم دمـی　　بخت من گشته بلای من آغای میر مـــن
من ندارم  از تو شکوه هر چه کرده است خدای　　هر چه کرده است خدای من آغای میر من
همچو زلف خویش پیچا پیچ باشی المـدام　　گر رسد گوشت  صدای من آغای میر من
مبتلای عشق تو جانا من گل محمـدم　　پس رضای تو رضای من آغای میر من
(۴ :۱۸مخ)

د گل محمد دري غزله هم د پښتو غزلو په شان خپل کوايف او مزيتونه لري او الفاظ يې په منظم ډول  اوډل شوي دي. پورته شعر د فورم له مخې  غزل دی، قافيه او رديف لري او عين قافيه د غزلې تر پايه په  منظم ډول مراعت او تعقيب شوې ده  او د محتوا له اړخه  يوه عشقي  غزله ده چې  يو ښکلی تصوير په کې پروت  دی  چې  په دري ژبه د گل محمد پوره  ورتيا  او برلاسی  ښيي .

**د فورم له پلوه د گل محمد مالگيري شاعري**

د شکل له پلوه د گل محمد مالگيري په ديوان کې غزلې، مخمسات او رباعيات راغلي دي. د هغه په ټولو اصنافو باندې خبرې کېدای شي، خو دلته د يوې علمي مقالې غوښتنه دا نه ده چې په ټولو برخو دې خبرې او شننه وشي، دلته به له هر فورم څخه د بېلگې په ډول يوه او يا دوې بېلگې را واخلو.

## غزل

د گل محمد مالگیري له دیوان څخه داسې معلومېږي چې  د غزل په لیکلو کې یې لوی لاس درلوده او په دیوان کې یې تر نورو اصنافو د غزل برخه قوي ده. د گل محمد د دیوان په ۲۷مخ کې لومړی غزله لیکل شوې او دا شمېره بیا په ۱۳۹مخ کې په ۲۴۱ غزل باندې پای ته رسېدلې ده. دلته به د بېلگې په ډول یو غزل سره ولولو:

هر چې زړه یې بند د زلفو په کمند وي
همېشه به په غمونو کې خرسند وي
چې په عشق کې سرنگون شي ستا له غمه
هم هغه به په عالم کې سر بلند وي
چې د عشق تلخي یې تېره شي تر ستوني
عاقبت بې خوراک ستا د شونډو قند وي
و شکرو و نبات ته کله گوري
هر سړی چې خبردار د عشق په خوند وي
دا یې واړه نادانې راته ښکارېږي
هر عاشق چې له معشوقه گیله مند وي
له هغو زلفو به هر کله بېرېږم
چې سل زړونه یې پیودلي په هر بند وي
چې ساکن ور په کې دا خوار گل محمد وي
هم هغه به په نامه رود ایلبند وي
(۴ :۱۳۸مخ)

د مالگیري له دیوان څخه داسې را معلومېږي چې دی په غزل کې یو سوزنده شاعر تېر شوی دی او لکه څنگه چې مو وړاندې هم یادونه کړې، د عاشقۍ دار و مدار یې له ورایه په کې ښکاري.

## مخمسات

د گل محمد مالگیري د دیوان دویمه برخه د مخمساتو ده چې د دیوان له ۱۴۰ مخ څخه پیلېږي او په ۱۴۲مخ باندې پای ته رسېږي. په دې کې دوه مخمسونه راغلي دي چې د یوه مخمس یوه برخه به دلته سره ولولو:

خراب زړه مې په ديدن پسې بـلا که
شپه و ورځ له خپله خدايه استدعـا که
چې يو دم مې له آشنايه خوا په خوا که
له غه پسه مې د ده د سر فدا که
بس دی بس دی ژوندون نه غواړم تر ډېره

***

ډېر ژوندون هاله په کار دی چې واصل وي
ذوق و شوق و تماشا ځينې حاصـــل وي
هر سړی به دا حال غواړي چې عـاقل وي
له دې کاره به ابا کړي چې غافـل وي
خوشحالي يې وي د وصل له زړه هېره
(۴:۱۴۰مخ)

په پورته دويم نيم بيتي کې «غه» د پښتو په کلاسيکو متونو کې د اشاري ضمير لپاره راوړل کېده چې اوسنی معادله بڼه يې «هغه» ده. البته يادونه بايد وکړم چې دا کلمه ډېرې وخت په منظومو متونو کې کارول شوې ده. دلته که مونږ اوسنی بڼه «هغه» ورته وليکو د شعر وزن او رواني ماتوي .

**رباعيات**

د ديوان درېيمه برخه د رباعياتو ده چې د ديوان له ۱۴۲مخ څخه پيلېږي او تر ۱۵۰ مخ پورې دوام کوي چې په دې کې د ۷۵ په شاوخوا کې رباعيات راغلي دي. دلته به يې يو دوه رباعياني سره ولولو:

هغه خدای چې دا ستا اسم مظفر کـړ
تاج د حسن يې دا ستا ظالم پر سر کـړ
گل محمد هغه دم خاورې پر سر دود کړې
چې پنهان يې ځينې ستا زيبا بشر کړ
(۴ :۱۴۲ مخ)

تعجب مې ستا د زلفو پر کثرت شي
له تورو الي مې هر گوره ډېر هيبت شي

په ځیر ځیر چې ورته ګورم حیرانېږم
هم حیرت مې پر حیرت باندې حیرت شي
(۴ :۱۴۹مخ)

د دیوان په وروستیو برخو کې یو ځو ترجیع بند ډوله شاعري هم راغلې چې شمېر یې پنځو ته رسېږي او بیا له هغې وروسته د مدون له خوا یوه لنډه یا وړه غوندې لغتنامه راغلې ده او بیا نو په ۱٦۰ مخونو کې دا دیوان پای ته رسېږي.

**د محتوا له پلوه د ګل محمد اشعار**

د ګل محمد اشعار بېلا بېل عشقي، دیني، ټولنیز او سیاسي موضوعات رانغاړي. د ننګ، غیرت او مېړانې خبرې کوي، بېلګه به یې دلته سره ولولو:

وېره هغه کړي چې سر ورباندې ګران وي زه تر سر و تر مـــال تېر یم د لالانـــو
(۴:۸۷مخ)

د ګل محمد د اشعارو ژبه ساده او روانه ده د خپلې سیمې دودیز لغات یې کارولي دي.

**د ګل محمد په اشعارو کې لفظي او معنوي ښایستونه**

د ګل محمد مالګیري په اشعارو کې لفظي او معنوي ښایستونه تر یو حده تر سترګو کیږي، لکه: هجو، تلمیح طباق او نور .

خو د تشبیهاتو تله په کې ډېره درنه ده، دلته به یې د ادبي صنایعو ځو ډولونه سره ولولو:

که مدد دې سیدو جانه ما ســره وو
محمود طوره به ژر فتح قندهار کړم (۴:۷۹ مخ)

د ګل محمد پورته بیت کې د تلمیح معنوي صنعت کارول شوی دی چې د محمود د پاچاهۍ دورې ته یې اشاره ده. د تلمیح یو بل بیت یې په دې ډول سره ویلی دی:

تېر مې عمر بېهوده شو
بې له تانه لکه باد
ځو راغلی پر دنیا یم
ستا له وصله یم نامراد
که عشق نه وای د شیرینې
همت څه وو د فرهاد
(۴ :۴۵مخ)

دلته به د گل محمد مالگيري له ديوانه يو بل ادبي صنعت سره ولولو :

که لایق دې د  دیدن نه یم د لبره

لکه سپی خوښ یم مدام ستا په درگاه

(۴ :۹۳مخ)

په پورتني بيت کې د تحقير يا سپکاوي ادبي صنعت راغلی دی چې  خپل ځان په سپکو الفاظو يادوي او ځان ته د سپي خطاب کوي .
دلته به د مالگيري ديوان هغه بيتونه سره ولولو چې د عکس او تبديل ادبي صنعت په کې دی:

سر ځما افسر ځما جار شه تر دلبر ځما

جار سه تر دلبر ځما سر ځما افسر ځما

درس ځما دفتر ځما ستا د عشق غمونه دي

ستا د عشق غمونه دي درس ځما دفتر ځما

عيد ځما اختر ځما دواړه دا ستا وصل دي

دواړه دا ستا وصل دي عيد ځما اختر ځما

لار ځما گودر ځما ولې ستا پر لور نشته

ولې ستا پر لور نشته لار ځما گودر ځما

نېش ځما نشتر ځما ستا د بڼو غشي دي

ستا د بڼو غشي دي نېش ځما نشتر ځما

شام ځما سحر ځما ستا رخسار او زلفې دي

ستا رخسار او زلفې دي شام ځما سحر ځما (۴ :۳۰مخ)

د گل محمد مالگيري له پورتنيو بيتونو څخه داسې ښکاري چې ده په ادبي صنعتونو کې هم لوی لاس درلوده او د هغې دورې لويو شاعرانو څخه و او له عروضي شاعرۍ سره يې پوره پوره بلدتيا درلوده.
د گل محمد مالگيري په ديوان کې خورا نور ادبي صنعتونه هم موجود دي چې په ډېر ښه انداز يې کارولي دي. زما په اند په دې اړه يوه بله ښه څېړنه کېدای شي او دلته يې په همدومره يادونې بسنه کوم.

**د گل محمد مالگيري د ديوان ليکدود ته انتقادي کتنه**

د استاد روهيال په اند چې د ديوان د قلمي نسخې په ليکدود کې ځينې کلمې په ((غه)) شکل سره ليکل شوي دي چې دلته به د استاد روهيال ليکنه سره ولولو: د (ښ) توری په اوسني ليکدود ليکي. (ځ) د (څ) په شان ليکي، (ڼ) د (نړ) په شکل ليکي. پښتو (ټ) په ځينو ځايونو کې په همدغه شکل ليکل شوی خو په ځينو ځايونو کې يې تر (ط) لاندې گردک ورکړی دی. د مفرد غايب کومکي فعل (و) په ډبل (وو) سره ليکي. د پښتو (پ) ډېرو ځايونو کې د عربي (ف) په شکل ليکي. (گ) د (ک) په شکل ليکي چې په قلمي ديوان کې د گل محمد نوم د ( کل محمد ) په شکل ليکل شوی دی، خو ځای ځای بيا په (گ) هم ليکل شوی دی. د (سر تر پا) عبارت د (سر ته فا) په ډول ليکي . . . د (نه، په، مه، له، څه) سرېښې له راتلونکو کلماتو سره يو ځای کوي او په يو ځايي شکل يې ليکي. (۴: ۲۵مخ)

راځو دې ته چې د گل محمد مالگيري ديوان اوس په کوم ليکدود ليکل شوی دی او ايا ليکښه يې معياري ده او که غير معياري؛ په دې اړه به د ديوان د سريزې لومړۍ کرښه سره ولولو: (د پښتو او پښتنو له پاره دولسمه هجري صدۍ له څو جهتو د اهميت وړ ده. د دغې سليزې د دوهمې لسيزې . . .). (۴: ۷مخ)

د ښاغلي روهيال له خوا ليکل شوې لومړۍ کرښه کې د دري ژبې دا کلمې (هجري، صدی، جهتو، دوهمې) راغلي دي چې د دې پر ځای موږ په مروجه پښتو کې (د هجري پرځای موږ اوس که شمسـي وي نو لمريز کال او که قمري وي نو بيا سپوږميز يا قمري کال ليکو، د صدی پرځای پېړۍ لرو او ليکو يې. جهتو ته خو بيا څو وييونه لرو، له اړخونو، له خواوو، چار چاپېر . . . د سليزې لپاره پېړۍ مروجه بڼه ده. د دوهمې پرځای اصلي بڼه دويمې ليکو او داسې نور. د ديوان سريزه کې د دري او عربي ژبو لغات زيات کارول شوي دي چې بېلگې يې وړاندې شوې. دا خبرې مې د دې لپاره دلته نقد کړې چې د پښتو ژبې د ساتلو لپاره موږ بايد خپلې کلمې ورغوو، جوړې يې کړو او شته کلمات خو بايد بالکل له لاسه ور نه کړو.

د موجوده چاپ شوي ديوان سريزه په کندهارۍ لهجه ليکل شوې ده چې ځينې بېلگې به يې دلته سره ولولو: «چې» يې په «چي» ليکلې، «دی» يې په «دئ» ليکلی دی، «يې» يې په «ئي» ليکلی دی، «شو» يې په «سو» ليکلی دی، «ربښتيا» يې په «رشتيا» ليکلی

دی، «تصوير کښنه» يې په «تصوير کشنه» ليکلی دی، «منظره کښنه» يې په «منظره نمايي» ليکلی دی. . . که چېرې دې ډول لهجوي او يا غير پښتو کلمو ته دوام ورکړو، نو زما په اند څو مخونه به ونيسي. بله لويه تېروتنه چې ښاغلي روهيال کړې هغه دا چې د پښتانه شعرأ دويم ټوک يې بار بار استاد عبدالحی حبيبي ته منسوب کړی دی، د ديوان مرتبونه يو لوی مسئوليت دی، څېړونکی بايد دې څېړونو ته متوجه شي چې د پښتو ژبې دا او هغه تذکره چا ليکلې او چا په کې کار کړی دی چې يو له هغو هم د پښتانه شعرأ دويم ټوک دی چې پوهاند صديق الله رښتين ليکلی او لومړی هغه يې استاد حبيبي ليکلی دی، همداسې استاد بېنوا، استاد رشاد او استاد بختاني يې ورپسې نور ټوکونه ليکلي دي. د چاپ شوي ديوان وييپانگه هم پوره نه ده، د کلاسيکې دورې د شاعرانو په اشعارو کې داسې لغات کارېدلي دي چې اوس زموږ په زمانه کې نه ويل کېږي او تر ډېره يې په معنا نه پوهېږو. د دې ديوان وييپانگه ډېره کمه ده. د بېلگې په ډول پنځه هغه لغتونه راوړو چې په وييپانگه کې نه دي راغلي:

١ .اضطراب: پرېشاني، بې تابي، لړزېدل.

٢ .الغياث: فرياد

٣ .منهاج: سمه لاره، ښکاره لاره او رښتينې لاره

۴. ولات: حاکمان، واليان

## پايله

لکه په پورتنۍ څېړنه او شننه کې مو ولوستل چې گل محمد مالگيري د هلمند اصلي اوسېدونکی دی او د احمدشاه بابا د زامنو په زمانه کې يې ژوند کاوه، د ژوند بېل بېل پړاوونه يې تېر کړي دي، د پښتو ژبې يو ښه ديوان ترې پاتې دی، په دې ديوان کې ډېر ښه ادبي صنعتونه موجود دي، د بديع او بيان له مخې يې په اشعارو ډېره ښه څېړنه کېدای شي .

له بلې خوا د فورم له پلوه گل محمد مالگيري په غزل، رباعي، مخمس او ترجيع بند کې اشعار ويلي دي او د محتوا له پلوه يې اشعار ديني او عشقي دي. د پير محمد کاکړ د سبک پيرو دی خو تر اخره مو د ده د مړينې نېټه پيدا نه کړه او نه مو دا وموندل چې دی چېرته وفات شوی او چېرته خاورو ته سپارل شوی دی.

## مأخذونه

۱. رحـمان بابـا. د رحمـن بابـا ديـوان د محمـد عـارف غـروال پـه اهـتمام، پښــتو ټولنه، دولتي مطبعه: کابل، ۱۳۵٦ل کال.

۲. رښتين، صديق الله. پښتانه شعرأ (دويم ټوک) پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۲۱ل کال.

۳. شـېرزاد، پښــتون آقـا. پښــتو ادبيــاتو تـاريخ (کلاسـيکه دوره)، نويسـا خپرندويـه ټولنـه: کابل ۱۳۹۹ ل کال.

۴. مالگيري، گل محمد. ديوان ، رشاد خپروندويه ټولنه: کندهار، ۱۳۹۳ ل کال.

۵. هېوادمــل، زلمــی. د پښــتو ادبيــاتو تــاريخ (لرغــونې او منځنــۍ دوره)، دانــش خپرندويه ټولنه: پېښور، ۱۳۷۹ل کال.

٦. هېوادمــل، زلمــی. فرهنــگ زبــان و ادبيــات پشــتو (لــومړی ټــوک)، دولتــي مطبعه: کابل، ۱۳۵٦ل کال.

پوهنمل گل رحمن رحماني

# د پوهنتون چاپېريال کې د ادبي او فرهنگي فعاليتونو اړتيا او اغېزې

# The Need for Literary and Cultural Activities in the University Environment and Their Impacts

Assistant Prof. Gul Rahman Rahmani


## Abstract

The main responsibility of a university is not only the formal education of a student and his graduation from the faculty, and this should not be the only expectation from a university professor, but the important and effective work is that the student, professor, and leadership of the university and also every employee They join hands for creative education and to transfer social knowledge to him, which is done through the planning and management of scientific, cultural and university programs.

In this article, the focus is on the nature and positive effects of these activities in the university environment, which, like the academic process, is very important and significant, which at the same time affects the student, the external image of the university environment, the teaching process, the academic reputation and the quality of the university. and has desirable achievements.

Among the students, those students who are active in scientific, cultural, literary activities or social affairs during their university studies, participate in special events and cultural conferences and take major responsibilities in this matter, As a result, after graduating from the university, in the job market, based on the reputation gained and cultural relations, the professors who are active in this field are more prominent than other professors and are involved in other professional programs and projects. can be in addition, in everyday teaching topics, he is successful and a pioneer based on establishing a relationship between theory and practice, and he is still right about the nature of teaching compared to others.

## لنډیز

د پوهنتون اصلي مسئولیت یوازې محصل ته رسمي زده کړه او له اړوند پوهنځي څخه د هغه فراغت نه دی او له استاد یې هم یوازې د همدې چارې د تر سره کېدو تمه نه شي، بلکې مهم او اغېزناک کار یې دا دی چې محصل، استاد، د پوهنتون مشرتابه او هر کارمن د خلاق محصل د روزلو او د هغه د ټولنیزې پوهې لپاره سره لاس یو کړي چې دا کار په پوهنتون کې د علمي، فرهنګي او ادبي پروګرامونو د طرحه کولو او مدیریت له لارې کېږي، اغېزې یې هم ببرته د دغه مثلث پر زاویو محسوسېږي.

په دې مقاله کې د پوهنتون په چاپېریال کې د همدې فعالیتونو په نوعیت او مثبتو اغېزو تمرکز شوی، چې د تحصیلي بهیر په څېر مهمې او د پاملرنې وړ دي، چې هم مهاله پر محصل، د پوهنتوني چاپېریال پر بیروني تصویر، تدریسي بهیر او د پوهنتون پر علمي اعتبار او کیفیت مثبت اغېز پرېباسي او مطلوبې لاسته راوړنې لري.

کوم محصلین چې د پوهنتوني تحصیل یا زده کړو پر مهال په علمي، فرهنګي او ادبي فعالیتونو یا ټولنیزو چارو کې فعال دي، ادبي ناستو، مناسبتي ورځو او ورکړل شویو فرهنګي کنفرانسونو کې فعال ګډون کوي او مسئولیتونه پر غاړه اخلي؛ نو د پوهنتون د تحصیلي دورې بهیر او له فراغت وروسته د کار بازار کې د خپلو اړیکو او شهرت پر مټ ژر جذب شوي او په همدې ډول د دې برخې فعال استادان هم د نورو په نسبت مطرح، پېژندل شوي او په نورو مسلکي پروژو کې د همکارۍ له پراخه

چانسونو سره مخامخ شوي دي. د دې تر څنګ په ورځینو درسي مضامینو کې په دې سبب بريالي او مخکښ دي چې د تیوري او عمل تر منځ يې اړیکه ټینګه کړې او په تدريسي ماهیت تر نورو ښه پوهېدلي دي.

## سريزه

د یوه پوهنتون دنده یوازې دا نه ده چې خپل محصل ته د تدريس په برخه کې د تحصیلي نصاب له مخې د استاد پر مټ تدريسي کربډېټ بشپړ کړي، بلکې تر ټولو ستر مسئولیت يې دا دی چې خپل هر محصل او د هر مسلک خاوند په خپل مسلکي چاپېريال کې په عالي روحیه، انګیزه او هیله وروزي او ټولنې ته يې د یوه مثبت شخصیت په توګه وړاندې کړي.

د مثبت شخصیت روزنه یوازې په ټولګې کې ممکنه نه ده، بلکې هغه مهال شونې ده چې استاد، ځانګه، پوهنځی او په ټوله کې پوهنتون د خپلو اړوندو کمېټو او اداري پرسونل د همکارۍ له لارې په پوره همغږۍ سره له خپل مسئولیت ور ها خوا د محصل د روزنې او هڅونې لپاره نور فعالیتونه هم ولري، بېلابېل علمي پروګرامونه طرحه کړي، د بېلابېلو پوهنځیو زده کوونکي له خپل ټولګي او پوهنځي بهر د نورو پوهنځیو له محصلانو او استادانو سره په ټولنیزو فعالیتونو کې یو ځای شي. د مقالې، شعر، انځورګرۍ، وینا فن، جرایدو، د پروګرامونو د سناریو جوړونې، مدیریت او وینا فن له لارې د هغوی پټې وړتیاوې را بهر کړي او خپل هغه ځواک ته يې جوړ کړي چې دوی لا هم ورڅخه نا خبره دي.

دا چې پوهنتون د خلکو له منځه له ممتازو وګړو (استاد او محصل) څخه جوړه شوې ټولنه ده؛ نو طبیعي ده چې پر ټولنه خپل اغېز لري او مثبت رغون او بدلون رامنځته کولی شي. دا مقاله د پوهنتون په چاپېریال کې علمي، فرهنګي او ادبي فعالیت یا ناستو مسئله د یوه اغېزناک مثلث په ډول مطرح کوي چې یوه زاویه يې محصل، بله يې استاد او دریمه يې هم د پوهنتون رهبري یا اداري تشکیل دی .

مشرتابه باید د فعالیت اجازه او زمینه رامنځته کړي، اړوند بهرني بنسټونه را ښکېل کړي، استاد باید له تدريسي مسئولیت بهر د لارښود او ګډنوال رول ولوبوي یا د علمي او فرهنګي ناستو مدیریت وکړي او محصل باید د اصلي فعالیت یا سناریو مخته وړلو محور وي.

کله چې د پوهنتون کلمه ذهن ته راولو او په اړه یې تصور کوو، نو د خوښۍ، درناوي او هیلو یو ډول احساس ورسره تړلی دی چې انسان ته د سکون، سیالۍ او ارمانونو د پوره کېدو خوند او جذبه وربښي. د افغانستان ګڼ خلک لا هم نالوستي دي، د ډېرو کمو ځوانانو په برخه یې دا ویاړ نصیب کېږي چې تر دوولسم پوري رسمي زده کړې وکړي او بیا له خپل دولس کلن زیار وروسته د پوهنتون تر چاپېریاله ورسېږي او ټولنې ته د یوه مسلکي او په لوړه پوهه د روزل شوي ځوان په توګه خدمت ته وړاندې شي .

په پوهنتونونو کې د علمي ټولشموله کنفرانسونو کمی محسوس دی او په ځینو شته پروګرامونو کې د محصلینو شتون یا ښځې نشته یا هم کم دی او یوازې د پوهنتون استادان او چارواکي (مشرتابه) په کې ونډه لري .

د هغو پوهنتونونو محصلین، چې دا ډول فعالیتونه په کې عام او معمول وي، هم د تحصیل په بهیر کې او هم له فراغت وروسته د کار بازار کې د خپلو اړیکو پر بنسټ ژر د کار لپاره جذب شوي او هم د دې فعالیتونو مخته وړونکي استادان تر نورو مطرح او اجتماعي دي چې په ټولنیز بدلون کې خورا مهم او رغنده رول لري.

په دې مقاله کې همدې موضوعاتو ته په پام سره لومړی د علمي، بیا فرهنګي او وروسته هم د ادبي فعالیتونو نوعیت او بیا مثبتې اغېزې څېړل شوي چې په ټوله کې د پوهنتون او محصل دواړو د پرمختګ سبب ګرځي او پایله یې د یوه خلاق او پر ځان باورمن محصل فراغت دی.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې مقالې د لیکنې پر مهال مې یوازې هغه راپورونه او خپرنیز مواد مخې ته راغلل چې د پوهنتون په چاپېریال کې له علمي، فرهنګي او ادبي فعالیتونو څخه د فرهنګي چارو مدیریتونو او د پوهنتونونو رسمي پاڼو ورکړي دي، خو د پوهنتون پر چاپېریال د مثبتو اغېزو په اړه له څو محدودو یادونو څخه پرته بله کومه رسمي، منظمه او مستقله څېړنه نه وه شوې. دې ته اړتیا حس کېده چې د پوهنتون هر استاد په ځانګړي ډول د ادبیاتو استاد یوازې په متن لوستنه، شعر پېژندنه او نظري کارونو بسنه ونه کړي، بلکې د ادبیاتو لپاره په پوهنتون کې عملي چاپېریال هم را منځته کړي.

بله دا چې په پوهنتون کې له نوي چاپېريال سره اکثره محصلين، چې لـه کليـو او لرې پرتو سيمو راځي؛ نا اشنا وي. په ډېرو کمو پوهنتونونو کې هغوی ته د هر کـلي، د پوهنتون د سيستم په اړه د پوهاوي او ښه راغلاسـت فرهنګـي او ادبي ناسـتې نـه جوړېږي او په اکثره علمي پروګرامونو کې بيا د لومړي ټولګي محصل ته ونډه نه وي، حال دا چـې د علمـي، فرهنګـي او ادبي فعـاليتونو مثبـت اغېـز کـې محـوري نقـش محصل لري. بله دا چې په پوهنتونونو کې د فرهنګي چارو او اړيکـو دفترونـه پـه دې چـاره کـې ډېـر فعـال نـه دي، يـوازې رسـمي مسـئوليت تـر سره کـوي، همداسـې د پوهنځيو او پوهنتون په کچه فرهنګي کمېټې هم دا ډول فعاليتونه د يوه منظم او پـر پايلو ولاړ مهال وېش له مخې نه تر سره کوي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې په پوهنتوني چاپېريال کې د نوي راغلي محصل فکري استقامت د علمي، فرهنګي او ادبي پروګرامونو له لارې بايد دې ته سوق شي چې په راتلونکي کې د يو بامسئوليته او مسلکي کادر په حيث ټولنې ته وړاندې شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ -د پوهنتون د اړيکو او فرهنګي چارو مديريت او فرهنګي کمېټې دا کار کړی دی که نه؟

۲ -پوهنتون د ورته علمي، فرهنګي او ادبي پروګرامونو لپاره څومره واک او امکانات لري؟

۳ -وزارت او مشرتابه هغه پوهنتونونه او فعال محصلين کله ستايلي او ملاتړ يې کړی دی چې په دا ډول فعاليتونو کې فعال وو او ښې لاسته راوړنې لري؟

۴ -ولې ځينې استادان له دې وېره لري چې محصل يې له ټولګي بهر په دريځ، کنفرانسونو او سيمينارونو کې مطرح شي او ادبي – فرهنګي نوم دې خپل کړي؟

۵- ايا پوهنتونونو تر دې دمه خپل دغه ادبي او فرهنګي مسئوليت تر سره کړی دی که نه؟

## د څېړنې ميتود

د دې علمي – تحقيقي مقالې د څېړنې نوعيت کيفيتي دی او د ترتيب پر مهـال يـې لـه تشريحي او ساحوي روش څخه کار اخيستل شوی دی.

## د مقالې متن

پوهنتون او د پوهنتون چاپېریال په پیل کې یوه محصل ته له هره اړخه متفاوت وي، له دولس کلن زیار څخه وروسته ورته د یوه محصل راتګ او په نوي چاپېریال کې اېښودل په فزیکي او رواني لحاظ د هغه لپاره نوې خبرې لري. که لومړی تصویر یې د هغه په خوښه او مثبت و، تل یې په ذهن او خاطرو کې پاتې کېږي او په زړه را ښکون سره ورته د خپل نوي ښوونیز کور په سترګه ګوري، خو که چېرته ورته جالب نه و، یا یې تحمیلي بڼه درلوده، چاپېریال یې په زړه ونه لګېده؛ نو دا کار د هغه په راتلونکو زده کړو منفي اغېز لري، ګڼ داسې ځوانان شته چې له لومړي سره یې د تاجیل، تبدیلۍ او حتا منفکۍ اخیستلو تصمیم نیولی دی .

د ارواپوهنې له اړخه تفاوتونه د شخصیت په جوړونه کې خورا مهم دي، تفاوتونه د پرمختګونو فرصتونه یا چانسونه دي. په فطرت کې تنوع او اختلاف د کایناتو د جوړولو یو اصل دی. د نړۍ هر انسان له بل انسان سره متفاوت دی، د نړۍ هېڅ دوه انسانان یو ډول نه دي، د هر یوه خیالونه، احساسات، تجربې، پوهه، فطرت او میلان سره جلا دي. یو کس د نړۍ ټول هنرونه او علوم نه شي تر لاسه کولی، یو انجینر وي، بل ډاکټر شي، بل ښوونکی او قاضي، یا نور کسبونه غوره کړي، دغه تنوع د دې لامل ګرځي چې انسانان د یوه او بل اړتیاوې پوره کړي. ( ارچیوال،۱۳۹۴: ۳۱مخ)

په عمومي ډول د پوهنتون چاپېریال له څو اړخونو د یوه تازه راغلي محصل لپاره متفاوت او نا اشنا دی چې څو اړخونه یې دادي :

### فزیکي چاپېریال

په افغانستان کې اکثره خلک په کلیو او لرې پرتو سیمو کې ژوند کوي، کم یې په ښارونو کې دي، کله چې یو ځوان له دولس کلنو زده کړو وروسته د ښوونځي له وړوکي چاپېریاله راوځي او د پوهنتون په لویه دروازه ورننوځي، پراخه تشکیلات، ودانۍ او داسې دفترونه ګوري چې د ښوونځي خلاف او متفاوت وي، ګڼ کسان په کې خپل مسئولیتونه مخته وړي او ده ته معلوم نه وي چې له کومو خدمتونو څخه څه ډول ګټه واخلي، طبیعي ده چې بل ډول او کله ناکله د نا اشنایۍ احساس کوي. دلته حتا ښار مېشتي ځوانان هم تر یو څه وخته نا اشنا او سرګردانه وي چې

د دغې سرگردانۍ لرې کول يې په علمي او فرهنگي پروگرامونو کېږي. دوی بايد لومړی له دې نوي چاپېريال سره عادت او په کې جذب شي، ځکه چې د عادت ځواک انسان خپلو هيلو ته رسولی شي.

د عادت ځواک اثر ليکوال د کورنل پوهنتون د يوه پروفيسور په قول ليکي: کوچنۍ برياوې په اصل کې لکه څنگه چې ښکاري، د محوري عادتونو په واسطه د پراخو بدلونونو په رامنځته کولو کې برخه لري، ډېرو څېړنو ښودلې ده چې کوچنۍ برياوې ډېر ځواک لري، داسې يو اغېز لري چې په خپله له برياوو تر لاسه کولو سره نا متناسب دی. کوچنۍ برياوې د يوې کوچنۍ گټې دوامداره پلي کوونکي دي، کله چې يوه کوچنۍ بريا تر لاسه شي، قوې په حرکت راځي ، څو بله کوچنۍ بريا هم تر لاسه شي، کوچنۍ برياوې په داسې بېلگو کې د کوچنيو گټو په واسطه بدلېدونکي بدلونونه تحريکوي چې دغه بېلگې خلک قانع کوي او لا سترې برياوې تر لاسه کېدی شي( دوهېگ، ۱۳۹۸: ۱۴۵ مخ)

**له کوره لرې والی**

گڼ افغان محصلين د تحصيل پر مهال له کوره لرې کېږي، د پوهنتون په ليليو او کرايي خونو کې اوسېږي، نو طبيعي ده چې د کورنۍ په غېږ کې را لوی شوی ماشوم او بيا تنکی ځوانی ته رسېدلی زده کوونکی چې د تحصيل لپاره له کورنۍ، خپلوانو او خپلو ملگرو را لرې شي، نو د هغه په روان او طبيعت اغېز لري، د هغوی يادونه او جدايي ورته د څه وخت لپاره گرانه تمامېږي، چې پوهنتون او درسونو ته د هغه پر پاملرنه يا په نوي پوهنتوني ټولنه کې د هغه پر جذب منفي اغېز لري .

تحصيلي او تدريسي سيستم: هغه درسي سيستم چې ځوان په خپل ښوونځي يا بل ښوونيز مرکز کې تجربه کړی وي، د تحصيلاتو او پوهنتون په اصولو کې طبيعاً چې متفاوت دی، اصلاً تر ټولو ستر تفاوت خو دا دی چې يو ځوان له تعليم څخه د تحصيل کچې ته بدلون مومي، د پوهنې وزارت نه د لوړو زده کړو وزارت تر قوانينو لاندې راځي. دا دوه جلا وزارتونه دي او تعليم او تحصيل خپل اصول لري، دلته خامخا يو ځوان د نا اشنايۍ احساس کوي، درسي ساعتونه، کرېډېټ سيستم، چانس، ډراپېدل، د ازموينو مهال، د هر مضمون ځانگړې حاضري، لکچرونه او د پروژو يا اړوندو سيمينارونو ورکړه د هغه لپاره متفاوته وي. د دې لپاره چې ورسره

اشنا شي او عادي حالت ته را وګرځي، خامخا وخت غواړي او کله ناکله دا روږدېدنه اوږد مهال اخلي، خو ، علمي، ادبي او فرهنګي پروګرامونه دا موده را لنډولی شي. د پوهانو په اند ښوونه او روزنه په خپل پراخ مفهوم سره یوه ټولنیزه پدیده ده چې د ټولنې د نشتوالي په صورت کې خپل ځاني او ځانګړی مفهوم له لاسه ورکوي، ټولنیز چاپېریال د ټولنیزو انساني اړیکو یوه مجموعه ده چې انسان په کې وده کوي او روزل کېږي. همدارنګه انسان د ټولنې او چاپېریال محصول دی. (ملکزی، ۱۳۹۵: ۱۷۲ مخ)

**اختصاص یا مسلکي توب**

پوهنتون د تخصص او مسلکي کېدو ځای دی، کله چې یوه محصل عمومي زده کړې کړې وي او دلته د یوه ځانګړي مسلک او پوهې الف با او اساسات پیل کړي، دا ورته په پیل کې ګران تمامېږي. که څه هم دغه ځانګه او مسلک هغه د خپل کانکوري انتخاب له مخې کړی وي، خو په اړه یې د هغه د مخکنیو معلوماتو او پوهاوي کم والی د دې لامل ګرځي چې په اوږد مهال کې ورسره اشنا او په ابتدایي ژبه یې پوه شي. دا په ټوله کې یوه ستونزه ده، مثلاً موږ په ښوونځي کې ډېر کم زده کوونکي پوهولي وي چې بیولوژي مضمون د کوم مسلک په درد خوري، مثلثات او ریاضي په کوم پوهنځي کې کارېږي؟ جغرافیه او ټولنیز علوم د څه لپاره لولو؟ دلته باید محصل د یوه نوي مسلک د خپلولو لپاره چمتو شي. د اروا‌پوهنې له اړخه د زده کړې په تعریف کې راځي چې زده کړه د افرادو د چلند او سلوک د پېژندلو اساس تشکیلوي، فرد د زده کړې له لارې د خپل محیط سره اشنا او د خپل ژوند د تأمین لپاره ورڅخه استفاده کوي. (ملکزی، ۱۳۹۵: ۳۰ مخ)

**د استاد چلند**

په ښوونځي کې د استاد چلند ډېر له مهربانۍ ډک وي، زده کوونکي ته ډېره پاملرنه کوي او یو څه ورباندې حتا په زاریو هم زده کوي، خو په تحصیلي سسیستم او بیا کریډېټ بڼه کې د استاد چلند د هغه د ښوونځي له استاد سره متفاوت دی او دلته نوی راغلی محصل خامخا د نا اشنايۍ او کله کله د پرېښانۍ احساس کوي، د پوهنتون له استاد یې تمه دا وي چې د ښوونځي د ښوونکي غوندې ورسره چلند وکړي، خو هسې نه وي، فکر کوي چې استاد ته محصل اهمیت نه لري او یوازې خپل

تدريس ورته مهم دی. په ډېرو پوهنتونو کې ښځينه استادانې او هغوی څخه د درس تر لاسه کول هم ورته نوي وي، که څه هم اوس په دې چاره کې بدلون راغلی دی .

د استاد چلند بايد د محصل پر کړو وړو او عادتونو کې هم بدلون راولي، د ښوونځي دورې ښوونکی او د پوهنتون استاد توپير لري، د پوهنتون استاد بايد د خپل محصل هغه عادتونه درک کړي چې لا هم نه دي بدل شوي او هغه ته د مثبتې مسلکي پوهې د ور لېږدولو لپاره يې بدلون ته اړتيا ده .

«په ورځني ژوند کې عادات د اجتماعي کارونو په ارتباط د مهمو فکتورونو څخه دي کوم چې د هغه په نه موجوديت کې د انسان سلوک، مناسبات او فعاليتونه په عادي ډول د امکان وړ نه دي، بايد پام وکړو چې منفي عادات د رواني خصوصياتو د انکشاف مانع کړي، د رواني مثبتو خصوصياتو عدم انکشاف په حقيقت کې د انسان په شخصيت کې د مثبتو خواصو د تشکيل لپاره ستر مانع دی. د مثبتو عاداتو د تشکيل لپاره او برعکس د منفي عاداتو د محوه کولو په منظور مبارزه د شاگرد د شخصيت د تکامل په اعتبار د هغو معاملاتو څخه عبارت دی چې شاگر د کورنۍ د غړو، اجتماع او گډ ښوونيز نهاد ته ضرورت لري، ښوونکی د شاگردانو د مثبتو عاداتو په راژوندي کولو کې بايد فعاله ونډه ولري.» (ملکزی،۱۳۹۵: ۸۰ مخ)

د ملگرو وضعيت: په پوهنتون کې يو محصل له گڼو نورو ځوانانو سره مخامخ کېږي، دوی يا ورسره په يوه ټولگي کې وي يا د نورو څانگو او پوهنځيو وي چې د پوهنتون چاپېريال کې ورسره مخامخ کېږي، دوی د بېلابېلو ولايتونو، قومونو او حتا ژبو لرونکي وي، له دوی سره تعامل او بيا يې له منځه د ځانگړو ملگرو انتخاب خامخا هغه ته د يوه نوي چاپېريال تصور ورکوي او د ځان عيارولو لپاره يې را بولي، حال دا چې هغه په خپل ښوونځي او کليوالي چاپېريال کې تقريباً د يوه کلي او سيمې ملگري تجربه کړي وو، حتا د جنسيت له لحاظه د ښځينه زده کوونکو ليدل او بيا په ټولگي کې د هغوی حضور هم د محصل لپاره نوې پېښه وي .

استاد ملکزی په دې اند دی چې « اجتماعي شخصيتونه تل د ټولنې د خير او مصلحتونو لپاره کار کوي، له دې امله په ټولنه کې مخور وي، خبره يې منل کېدونکې او د درناوي وړ وي، کولی شي چې ټولنيزو ذهنيتونو کې د مثبت بدلون لپاره کار

وکــړي او د ټــولنې مصــلحه وګـــړو رول ادا کولـــو سره مثبتـــه هڅونـــه وکـــړي.»
(ملکزی،۱۳۹۵: ۱۳۰ مخ)

له مسلکي ملګرو سره د مسلکي ډيالوګ او چلنـد بـل غـوره هـدف دادی چـې د دواړو تـر مـنځ د افهـام او تفهـيم فرهنـګ تـه زمينـه مسـاعدوي او افهـام او تفهـيم د مبارزې د بريالیتوب او موخې ته د رسېدو يو غوره اصل بلل شوی دی.

افهام او تفهیم د ولسي مبارزې د ستراتیژۍ یوه مهمـه برخـه ده، همـدا افهـام او تفهيم زموږ ټولو اړخونو ته د مبارزې د پيغام رسولو لاره راښـيي. پـه ننـنۍ نـړۍ کـې ټول هېوادونه يو پر بل متکي دي، نړۍ د يوه کلي حيثيت لري، چـې ورسره د افهـام او تفهيم ارزښت نور هم زيات شوی دی، خو افهام او تفهيم بايد هـم مهالـه عمـودي او افقي دوام پيدا کړي، افهام او تفهـيم پـه کـارونو کـې د ګـډوډيو او ځنـډ مخنيـوی کوي. (ارچيوال، ۱۳۹۴: ۷۱ مخ)

**دود او فرهنګ**

دود او فرهنګ د يوه انسان په شخصـيتي بـدلون او عـادتونو کـې خـورا مهـم رول لري، په پوهنتوني ټولنه کې د ګڼو ولايتونو او رواجونو لرونکي ځوانـان سره يـو ځـای کېږي، دوی ټول د جامو، کـړو وړو او عـادتونو لـه مخـې متفـاوت وي، يـو بدخشـانی ځوان د هراتي او يو کندهاری ځوان د بلخي ځوان تر څنګ کېني، يو باميانی ځوان د هلمندي ځوان کړه او وړه، جامې او ژبه ګوري، دا چاره به په پيـل کـې هغـه تـه نـا اشنا وي، خو بايد ورسره عادت شي او خپل يو بل هېوادوال وپېژني .

د اروپاپوهنې د يوه متخصص په اند زده کوونکي بايد فرهنګي توپيرونه پـه پـام کـې ونيسي، ځان ورڅخه خبر کړي، د فرهنګي ډولونو څخه پيدا شويو فـردي توپيرونـو د ليدلو لپاره لارې موجودې دي، فرهنګ ته ورتـه والـی د ارزښـتونو، بـاورونو، ليـدنو او قواعدو په ډولونو کې منعکس کېږي، فرهنګي تنوع د زده کـوونکي د روزنـې او اخـذ ښه فرصت رامنځته کوي. ( ملکزی،۱۳۹۵: ۲٦مخ)

**علمي او تحصيلي مواد**

پوهنتـون د څېړنـې او علمـي پرمختګونـو ځـای دی، يـوه محصـل تـه بايـد يـوازې موضوعات ورکړل شي او استاد د يوه مدرس نه زيات، د لارښـود اسـتاد رول ولوبـوي،

هغه ته د مخکې تګ او نوو معلوماتو د موندلو او پایلې ته د رسېدو لاربښوونه وکړي، خو په افغانستان کې لا هم پوهنتون په یوه بشپړ څېړنیز چاپېریال ځکه نه دی بدل شوی چې زموږ له ښوونځیو څخه ورته لا هم شاګرد په هغه کچه نه معرفي کېږي چې پوهنتون ورته د خپلو معیارونو له مخې اړ دی .

استاد اړ دی چې په لومړي او حتا دویم سمستر کې هم له محصل سره د ښوونځي ژبه او چلند وکاروي. په ښوونځي کې زده کوونکي ته کتابونه ورکول کېږي او د معمول له مخې ازموینه په کې اخلي، خو پوهنتون کې د یوه چپټر یا کتاب تر څنګ څو نور ممد (مرستندوی) او معلوماتي اثار هم ور معرفي کېږي او محصل باید د مضمون د کورس پالیسي پر بنسټ مخته لاړ شي. په پوهنتوني چاپېریال کې محصل ته د پروژې، سیمینار او له لکچرونو څخه د جزییاتو د اخیستنې او یادښت اخیستنې یا مباحثو چمتو کول نا اشنا او نوي وي، ځکه اړتیا شته چې د مقالې د موضوع له مخې ورته مخکنی پوهاوی ورکړل شي .

هر محصل په ذهن کې یوه ایډیاله نړۍ او راتلونکی لري چې د اراوپوهنې عالمان یې د هغه د خوبونو ښار او مدینه فاضله هم بولي او د ور رسېدو لارې یې له همدې چاپېریاله روښانه او څرګندې ښکاري. د مدینه فاضلې مفکوره د انسانانو لپاره یو دفاعي اند دی، د ستونزو او روزګار د مشکلاتو پر وړاندې د یوه ډول ټینګار بېلګه هم ده. د خیالي دنیا جوړښت په بشري تمدن کې ډېره لرغونې ماضي لري، داسې یو ځای او محل دی چې لاس رسی ورته نه کېږي، خو تصویر یې تل د بشر په هیلو او ارزوګانو کې د یوه عالي خیر او ښکلا او ازادۍ په توګه موجود و، د بشر ـ یوه تاریخي هیله او ارزو هم داده چې په هغه کې خپلو هیلو ته تحقق ورکړي. ( کرګر، ۱۳۹۹: ۱۲۲مخ)

د تعلیم او تحصیل یو توپیر هم په دې کې دی چې تحصیل کې باید یو کس په استاد پسې وي، مسلکي پوهه او فکر حاصل کړي او د خپلو زده کړو د څانګیز یا اختصاصي کولو لپاره پر له پسې کار وکړي او په یوې برخې پورې محدود شي. که د نړۍ په کچ پوهنتونونو ته پام وکړو، معلومېږي چې پوهنتونونه په هغه هېوادونو او ټولنو کې د مثبت بدلون او لیدلوري د رامنځته کولو ډېر غوره ځایونه دي چې په ټولنه کې یې خپل موقف او اعتبار ثابت کړی دی .

علمي، فرهنګي او ادبي فعالیتونه د هر پوهنتون له امکاناتو او چاپېریال ته په پام سره توپیر مومي او له دې اړخه کابل پوهنتون او د پکتیکا یا دایکنډي پوهنتون په یوه تله نه شو تللی، د دې تر څنګ د هر پوهنتون ولایتي چاپېریال هم په کې رول لري .

**علمي ناستې**

د پوهنتون په څانګه (ډیپارټمنټ)، پوهنځي او بیا د پوهنتون په عمومي کچ علمي پروګرامونه مطرح کېږي، علمي مسایل په هره زمانه کې اپډېټ او څېړنه غواړي او زموږ چلند ورسره د اشنایی تر کچې دی، خو تولید کې یې له بده مرغه چې کمه ونډه لرو. د استادانو علمي کنفرانسونه، څېړنې او په عمومي موضوعاتو د پوهنتون په تالار کې د علمي موضوعاتو په اړه غونډه جوړول او په کې د زده کوونکو ګډون د علمي مسایلو پر وړاندې د هغوی لیدل لوری بدلوي او هڅه کوي چې خپله هم د دې بهیر یوه برخه وګرځي. د دې مثبت اغېز به دا وي چې هم استاد محصل ته د قناعت وړ او نوي پوهې د ځواب لپاره لا نوره هڅه وکړي او هم زده کوونکي د نویو علمي مسایلو په باب فکر او مطالعې ته اړ شي چې دا د پوهنتون اصلي مسئولیت او هدف هم دی. انسان دوه ډوله وده لري، یو په جسمي یا بدني لحاظ ده چې یوه دروني او بیولوژیکي پروسه ده چې په طبیعي ډول مخته ځي، بله یې د هغه د عادتونو او خویونو وده ده چې د ده معنوي اړخ په کې وده مومي.

د تربیتي ارواپوهنې یو متخصص وایي که د ځمکې پر مخ یوازې ظاهري څېرو ته توجه وکړو، نو موږ نه شو کولی څو کسه پیدا کړو چې ورته والی او مشابهت ولري، اشخاص د قد جګوالي، ټیټوالي، قوت، ضعیف والي او نورو جسمي ځانګړتیاوو له امله سره توپیر لري، جسمي اختلافات د وراث او محیطي دواړه عواملو محصول دی، د جینیټیک علما دې پایلې ته رسېدلي دي چې کروموزومونه سره له مشابهت واقعي اختلافات لري چې د اثري اختلافاتو سبب ګرځي. محیطي عوامل د انسان د شخصیت په وده او ټاکنه کې خورا مهم دي. ( ملکزی، ۱۳۹۹: ۲۰ مخ)

**فرهنګي ناستې**

د فرهنګ دایره ډېره پراخه ده، زموږ د ژوند لویه برخه رانغاړي، فرهنګ د یوې ټولنې هغه تصویر دی چې د تاریخ، سکښت، جغرافیې او ټولنپوهنې رنګونه په کې هم مهاله ځرک وهي او له اوږدو زمانو راهیسې د ټولنې په وجود کې تشکیل شوی وي.

په يوه پوهنتون کې د دروازې له ډيزاين او رنګ نه نيولې، د پوهنتون او دفترونو تر جوړښت، د ودانيو رنګ او نظم، د مسئولينو چلند او خبرو، لوحو، بېنرونو، په دېوالونو ليکلو ويناوو او شعارونو، نومونو، د پارکونو ډيزاين او تصويرونو پورې ټول د فرهنګ يوه برخه ده چې مادي او معنوي برخې لري. د فرهنګ مادي برخه يا تمدن د انسان د ژوند او تهذيب محصول وي، سالم فرهنګي او ادبي چاپېريال يو له بل سره تړلی او نه بېلېدونکی تړاو لري. فرهنګي فعاليتونه او کارونه د رسنيو په ځانګړي ډول خواله شبکو په پراختيا سره هم پراخه شوي او هم د فرهنګي فعالانو مسئوليت ورسره زيات شوی دی .

د ولسي مبارزې اثر ليکوال په دې اند دی چې په اوس وخت کې د ټولنيز مثبت بدلون او سمون لپاره د ټولنيزو رسنيو له رول څخه انکار نه شي کېدلی، ځکه چې پيغامونه او خبرونه تر هر څه وړاندې په خواله شبکو کې مطرح کېږي او حتا نورو رسمي رسنيو ته سرچينې او مأخذونه برابروي. ( ارچيوال، ۱۳۹۴: ۸۴ مخ)

په کوم پوهنتون کې چې فرهنګي چاپېريال او فعاليتونه لکه د مناسبتي ورځو نمانځنه، د خلاقو او ممتازو زده کوونکو، استادانو او مديرانو ستاينه، د فراغت جشنونه او فرهنګي محفلونه او هڅې معمول وي؛ نو محصل په خوځښت راولي، له نا فعال يې په فعال شخص بدلوي، له بيرونۍ ټولنې سره يې اړيکې او پېژند پياوړې کېږي، خو که دا فعاليت نه وي، نو محصل يوازې محصل پاتې کېږي، درس او کتاب ورته خپل يوازينی مسئوليت ښکاري او له نورو فعاليتونو ګوښی پاتې کېږي.

د فرهنګي او ادبي فعاليتونو د اغېزناکو پايلو لپاره اړينه ده چې هر پوهنتون په خپل فرهنګي او علمي پلان کې ځانګړې لرليد ولري، يو ښه لرليد بايد د خيالاتو پر ځای پر حقايقو ولاړ وي، ټول ښکېل اړخونه بايد په لرليد پوه شي، جامع او هر اړخيز وي چې د ټولو د توافق او ملاتړ په صورت کې موخو ته رسېدنه ممکنوي. (ارچيوال: ٦۴ مخ)

### ادبي ناستې

ادبي هڅې يوازې د ادب پوهنځيو مسئوليت او اصلي کار نه دی، خو په مديريت او طرحه کې يې تر نورو پوهنځيو او کمېټو د مسئوليت اړتيا ډېره ده. مشاعرې، د کره کتنې ناستې، د کتابونو او مقالو چاپ، د کتابونو مخکتنه، ژباړې، نمانځغونډې،

تلینونه، د وینا فن زده کړه، جرات ورکول، ویاندویي، په راډیو او ټلویزیون کې فعالیت، په خواله شبکو او رسنیو کې د پوهنتون مثبت تصویر وړاندې کول، دېوالي جرېدې خپرول  او نور فعالیتونه پوهنتون ته مثبته څېره او خوځښت ورکوي .

په محصل کې د لیکوالۍ د وړتیا او ویناوالۍ یا بیان فن روزل په حقیقت کې پوهنتون ته ژبه ورکول دي چې بل اړخ یې هغه هڅوي چې خپل افکار او پوهه منسجم او بیان کړي، له پوهنتونه بهر په ټولنه کې د پوهنتون ښه استازولي او تصویر وړاندې کړلی شي، د همدې لپاره ګڼ پوهنتونونه د خپلو فارغانو ټولنې لري او دوی ته د خپلو مثبتو سفیرانو په سترګه ګوري او اړیکه ورسره نه پرې کوي. (رحماني، ۱۳۹۳: ۷۷ مخ)

د پوهنتون د  فرهنګي کمېټې د مسئول او غړي په توګه زما تجربه داده کوم محصلین چې په فرهنګي او ادبي فعالیتونو کې مخکښان وو، د بحث وړتیا یې درلوده او په خپله کمه پوهه یې ښه بحثونه کولی شول، په بیروني ادبي چاپېریال او ټولنو کې هم د جذب او درناوي وړ وو، بلنې ورکول کېدې او ستایل کېدل چې دا د پوهنتون لپاره یو مثبت کومنټ دی. دا ډول چاپېریال په رواني لحاظ هم محصل، استاد او د پوهنتون اداري پرسونل هڅوي چې په مثبتو فعالیتونو کې خپل نقش ولري او یاد شي.

مشهور ارواپوه زیګمونډ فروید وایي چې د انسان د شخصیت تکامل لومړۍ انګیزه  د هغه په ذهن کې رامنځته کېږي او تر څو چې انسان په خپل ذهن او روان کې د ځان لپاره کوم موقف او مقام ونه ټاکي، نو خپلې موخې ته نه شي رسېدلی. هغه په خپلو دې څېړنو سره په ادبیاتو، ټولنیزو څېړنو او فلسفي افکارو کې یو ستر بدلون رامنځته کړ.  دی وایي چې ادبیات او ارواپوهنه په ځانګړي ډول ارواشننه زموږ په پېړۍ کې دې واقعیت ته رسېدلې چې دواړه ګډ بنسټونه لري او دواړه د انساني انګیزو او چلندونو او بشري ځواکمنۍ سره ګډې بوختیاوې لري او په دې بهیر کې دواړه د انسان ذهني اړخونه مطالعه کوي. ( کرګر، ۱۴۰۰: ۸۴ مخ)

په ټوله کې د علمي، فرهنګي او ادبي فعالیتونو طرحه، غوره تنظیم او تر سراوی په محصل، استاد او پوهنتون خورا مثبت اغېز لري، د پوهنتون اعتبار لوړوي، د همغږۍ مثبت تصویر وړاندې کوي، د لوړو ادارو اعتبار خپلوي، په ټولنه کې خپل اعتبار او موقف خپلوي، په علمي او فرهنګي چاپېریال کې مطرح کېږي او پر ځایي فرهنګي او علمي ټولنو خپل اغېز پرېباسي، د دې تر څنګ يې هر فارغ له فراغت وروسته د استازي یا سفیر په توګه بدلون راولي چې کرېډېټ يې پوهنتون ته ورځي. بل مهم فکتور يې د محصلانو او د پوهنتون د هر کارکوونکي تر منځ د سالمې سیالۍ ډګر پرانېستل دي چې افهام او تفهیم او د متقابلو اړیکو او درناوي کلتور ورسره عامېږي .

## پايله

یوازې د معلوماتو او تیورۍ لېږد په محصل کې بدلون نه شي راوستلی، یا له دې لارې رامنځته شوی بدلون یوازې فردي ګټه لري او په ټولنیز بدلون او سمون کې يې نقش کمزوری یا هم په نشت حساب وي .

غوره پوهه او روزنه هغه ده چې د محصل په ټولنیز شعور او د مسئولیت په منلو کې مثبت بدلون راولي، فکري خوځښت ورکړي او د هغه د خلاقیت او مسلکي وړتیاوو په درک، پالنه او مثبت لور ته په سوق کولو کې اغېزناکه تمامه شي .

د پوهنتونونو په تحصیلي سیستم، کاریکولم او تدریسي بهیر کې ټوله کړنلاره یو ډول ده، یا یو قانون چې عملي کېږي، چې ښايي ډېر تفاوت ونه لري، خو هغه څه چې یو پوهنتون له بل پوهنتون څخه متفاوت کوي، هغه د پوهنتون د مشرتابه او استادانو د غوره همغږۍ پر مټ له تدریسي- سیستم لرې په ازاد چاپېریال کې عمومي علمي برنامې، فرهنګي او ادبي فعالیتونه، هڅونې او طرحې دي چې په محصل کې ټولنیز شعور روزي، د ټولنې، هېواد او مسلک پر وړاندې يې د مسئولیت، درک او احساس ځواک پیاوړی کوي او د ټولنیزو مثبتو شبکو په پیاوړتیا کې اغېزناک تمامېږي.

## مأخذونه

۱. ارچیوال، احمدالله. ولسي مبارزه، د افغانستان ملي تحریک- فرهنګي ټولنه: کابل، ۱۳۹۴ لمریز.
۲. دوهیګ، چارلېز. د عادت ځواک ( د افغان لیکوال د ژباړې ډله)، افغان لیکوال: کابل، ۱۳۹۸لمریز.
۳. رحماني، ګل رحمن. زرلټون، مومند خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۹۳ لمریز.
٤. کرګر، محمد اکبر. سیندونه او اندونه ، هاشمي خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۹۹لمریز.
٥. کرګر، محمد اکبر. انسان او جهان له عرفاني لیده، هاشمي خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۴۰۰لمریز.
٦. ملکزی، عبدالرشید. تربیتي ارواپوهنه، هاشمي خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۹۵لمریز.

څېړندوی فضل الرحمن علیزی

# حميد بابا؛ د فردي اصلاح او اخلاقي درسونو لارښود

# Hamid Baba; A guide to personal improvement and moral lessons

Assistant Prof. Fazal Rahman Alizai


## Abstract

Hamid Baba is one of the founding figures of the Indian style during the classical period of Pashto literature. Through his exceptional talent and poetic intuition, he not only introduced delicate imagination, high literary metaphors, and rare similes to Pashto poetry but also enriched the content of Pashto poetry with themes that are essential for the moral improvement of individuals within society. This writing analyzes and examines Hamid Baba's poems, focusing on the personal improvement and moral lessons imparted to society's individuals. The analysis demonstrates that Hamid Baba's poetry covers not only various themes related to love and affection but also provides compelling moral lessons on fulfilling one's responsibilities and promoting a better, more peaceful life within society. The study discusses and researches some of these themes in detail.

## لنډیز

حمید بابا د پښتو ادبیاتو په کلاسیکه دوره کې د هندي سبک له بنسټګرو څخه هغه څوک دی چې د خپل لوړ استعداد او شعري قریحې په مټ یې نه یوازې دا چې د پښتو شعر لمنې ته نازکخیالۍ، لوړې ادبي استعارې او نادر تشبیهات راوړل، بلکې د پښتو د شعر منځپانګې ته یې ځینې داسې موضوعات هم راوړل چې د یوې ټولنې د وګړو په اصلاح کې ورته اړتیا وه او ده. په دې لیکنه کې د ټولنې وګړو ته د حمید بابا په اشعارو کې د فردي اصلاح او اخلاقي درسونو تحلیل او شننه شوې ده. د دې شننې په ترڅ کې ثابته شوې ده چې د حمید بابا په شعرونو کې نه یوازې دا چې د عشق او محبت اړوند بېلابېل مضامین را وړل شوي، بلکې د خپل مسئولیت د اداء کولو او د ټولنې پر وګړو باندې د خپلې غاړې د خلاصولو لپاره یې د فردي اصلاح او په ټولنه کې د ښه او آرام ژوند کولو لپاره په زړه پورې اخلاقي درسونه هم وړاندې کړي دي، چې دلته یې په اړه بحث او څېړنه شوې ده.

## سریزه

د نازکخیال او بارکبین شاعر عبدالحمید بابا له نامه سره نه یوازې دا چې د پښتو ادبیاتو شاګردان او محصلین پېژندګلوی لري، بلکې د پښتو ژبې او ادبیاتو هر لوستونکی یې له نامه سره اشنا دی، ځکه له خوشحال خان خټک او عبدالرحمن بابا څخه را وروسته یې په پښتو ادبیاتو د خپل شعري قوت او متانت په زور د یوه نوي سبک ډېره کېښوده چې وروسته یې د پیروانو له لوري په ادبي ښوونځي یا مکتب تبدیل شو او په پښتو کې د هندي ادبي مکتب یا هم د عبدالحمید د نازکخیالي ادبي مکتب په نامه سره یادېږي. حمید بابا هغه نازکخیال او نکته دان شاعر دی، چې په خپلو شعرونو کې یې بېلابېل عشقي، تصوفي، ټولنیز مضامین د ډېرو لوړو ادبي استعارو، تشبیهاتو او نازکخیالۍ په جامه کې نغښتي راوړي دي او له همدې امله ورته د وېښته چوونکي(موشګاف) لقب ورکړل شوی دی او دا لقب مفت نه دی ورکړ شوی، ځکه: «د حمید شاعرۍ د استادۍ شاعري ده، د آزاد تخیل او ابتکار شاعري ده. د ده په شاعرۍ کې د دریاب د شګو شمېرل اسان دي. دلته پر اسمانونو ګرځېده د سترګو د رپ کار دی، دلته د تخیل دروازې ډېرې لوړې او دنګې دي. دلته د قدرت او طبیعت ټول مناظر غوړېدلي او تر

سترګو لاندې پراته دي. حمید د نازکخیالۍ او خیال پالنې نوی مکتب پرانیستی دی، ځکه ورته د پښتو بېدل وايي». (۱)

عبدالحمید بابا نه یوازې د هندي سبک ټول خواږه او د هندي سبک لوړې استعارې، کنایې او تشبیهات د پښتو شعر په شعري کالبونو کې ځای کړل، بلکې ترځنګ یې په خپلو شعرونو کې د خپلې ټولنې د وګړو لپاره ځینې داسې اخلاقي درسونه هم وړاندې کړي دي چې که چېرته عمل ورباندې وشي، نو پرته له شکه چې له هر ډول ټولنیزو نیمګړتیاوو څخه به وژغورل شي او یوه پاکه ټولنه به ولرو. په دې لیکنه کې د ده په شعرونو کې د همدې فردي اصلاح او اخلاقي درسونو په اړه بحثونه شوي او څو بېلګې یې را وړل شوې دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

کله چې د حمید بابا د شاعري منځپانګې ته سرې ځیر شي، نو پرته له شکه چې د نازکخیالي او نادرو تشبیهاتو په ترڅ کې یې ځینې داسې موضوعات بیان کړي دي چې لوستونکی ورته ګوته په غاښ پاتې شي؛ د دغو موضوعات له جملې څخه یو هم د ده په شعرونو کې د ټولنې د وګړو د فردي اصلاح ترځنګ ځینې په زړه پورې اخلاقي درسونه دي، خو تر اوسه یې په اړه زما مخې ته څه نه دي را غلي، نو له همدې امله دا څېړنه اهمیت او مبرمیت مومي چې هم د ټولنې د اصلاح پیغامونه د حمید بابا په اشعارو کې شته او هم دا موضوع چا پخوا نه ده څېړلې.

## د څېړنې موخه

له دې لیکنې او څېړنې څخه لومړۍ موخه دا ده چې له یوې خوا به د پښتو هندي سبک د شاعرانو په شعرونو کې د موضوعاتو تنوع ته زموږ څېړونکي متوجه شي او له بلې خوا به د عبدالحمید بابا په شعرونو کې د ټولنې او د ټولنې د وګړو پر وړاندې د خپل مسئولیت، یعنې د خپلې ټولنې د فردي او له فردي اصلاح څخه وروسته د ټولنې د اصلاح او سمون مسئولیت اداینې څخه لوستونکي خبر شي او دې ته ورته د ځینو نورو موضوعاتو څېړلو ته به څېړونکي وهڅېږي. له بده مرغه زموږ د کلاسیکې دورې د شاعرانو په شعرونو کې یوه اړخ ته پاملرنه اوښتې ده او نور دې ته ورته نور اړخونه یې لا هم په خپل ځای پاتې دي، چې باید څېړنې ورباندې وشي.

## د څېړنې پوښتنې

حمید بابا نه یوازې دا چې په خپلو شعرونو کې یې په زړه پورې تشبیهات او استعارې را وړې دي، بلکې د همدې استعارو او تشبیهاتو په پایله کې یې په خپلو شعرونو کې بېلابېل ټولنیز او اخلاقي موضوعات، داسې موضوعات چې که په فردي او ټولنیز ژوند کې عملي او ګټه ترې واخیستل شي، نو د فرد او ټولنې د اصلاح سبب ګرځي. کله چې د حمید بابا په شعرونو کې عشق، مینه، خال او خط مضامینو ته وکتل شي، نو طبعاً له لوستونکي سره پوښتنه پیدا کېږي چې:

۱. ایا حمید بابا په خپلو شعرونو کې د ټولنیزې او په ټولنه کې فردي اصلاح ته هم پاملرنه کړې ده؟

۲. تر ټولو مهمه لا دا چې ایا حمید بابا په شعرونو کې اخلاقي درسونه هم وړاندې کړي دي؟

۳. څرنګه چې لیدل کېږي د حمید بابا تر ډېره سرو کار له عشق او محبت سره و او په اثارو کې یې د عشق او محبت تله درنه ده، خو ایا ده د ټولنې د فردي اصلاح لپاره هم څه وړاندې کړي دي؟ دا او دې ته ورته هغه پوښتنې دي چې په دې لیکنه کې یې ورته د ځواب ویلو هڅه شوې ده.

## د څېړنې میتود

په دې لیکنه کې له تشریحي او تحلیلي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې او د دې موضوع بېلابېل اړخونه روښانه شوي دي، د دې څېړنې ډول کتابتوني دی.

## د مقالې متن

### د عبدالحمید بابا پېژندنه

حمید بابا په پښتو ادبیاتو کې د هندي سبک د بنسټګرو له ډلې څخه هغه څوک چې د خپل شعري قوت او لوړې شاعرانه قریحې له امله د وښته چوونکي (موشګاف) لقب ورکړل شوی او لقب ځکه هم ورکړل شوی چې: « د حمید شاعرۍ د استادۍ شاعري ده، د آزاد تخیل او ابتکار شاعري ده. د ده په شاعرۍ کې د دریاب د شګو شمېرل اسان دي. دلته پر اسمانونو ګرځېده د سترګو د رپ کار دی، دلته د تخیل دروازې ډېرې لوړې او دنګې دي. دلته د قدرت او طبیعت ټول مناظر غوړېدلي او تر سترګو لاندې پراته دي. حمید د نازکخیالۍ او خیال پالنې نوی مکتب پرانیستی دی، ځکه ورته د پښتو بېدل وایي». (۲)

د ځینو نورو پښتنو شاعرانو په څېر د عبدالحمید مومند د ژوند او مړینې کره نېټې نه دي معلومې، خو «د ده د آثارو د داخلي شهادتونو له مخې دومره پته لګېږي چې حمید بابا د (۱۰۸۰هـ.ق) په شاوخوا کې د پېښور – کوهاټ سړک او باړي رود پر ښي غاړه په پراته کلي ماشوکګر کې زېږېدلی دی او د «شرعة الاسلام» له مخې چې د حمید بابا له عربي ژبې څخه په خوږه او روانه پښتو ژبه ژباړلی، د ده ژوند تر (۱۱۴۸هـ.ق) کال پورې یقیني ښکاري... ښایي چې د (۱۱۵۰ هـ ) شاو خوا کې به مړ شوی وي. حمید بابا د ماشوکګر کلي په خپله هدیره کې ښخ (دفن) دی، چې د پښتو شاعرانو او ادیبانو له لوري د ده پر مزار کله کله مشاعرې هم جوړېږي او یاد یې تازه کوي». (۳)

له حمید بابا څخه د شعرونو یو بشپړ دیوان را پاتې دی، چې په ادبي حلقو کې د (دُر و مرجان) په نامه مشهور دی. د حمید بابا دیوان لومړی ځل په ۱۸۷۵ ز کال د بمبیي د حیدر آباد په مطبعه محمدي کې د ملا محمد یحیی په اهتمام چاپ شوی او له هغه وروسته اته ځله نور چاپ شوی دی. د استاد محمد آصف صمیم په خبره: «د عبدالحمید مومند وروستی او تر ټولو چاپ شویو دیوانونو بشپړ دیوان همدا د سرمحقق هېوادمل په زیار دیوان دی چې (۲۹۰) غزلې او قصیده ډوله غزلې، قصیدې، یو مخمس، یو ترکیب بند او دوې څلوریزې لري، چې د ټولو بیتونو شمېر یې (۲۹۳۲) ته رسي».(۴)

د حمید بابا د آثارو منځپانګه په حقیقت کې له بېلابېلو ټولنیزو، سیاسي، روزنیزو، اخلاقي او عشقي موضوعاتو څخه رغېدلې ده، په آثارو او شعرونو کې د پورته یادې شوې موضوع په اړه خورا ډېرې څرګندونې لري، په ټولنیز او د ټولنیز ژوند د څرنګوالي په اړه یې ډېر هغه څه ویلي دي چې انسانان یا د یوې ټولنې وګړي د عدالت لوري ته را بولي، په سیاسي برخه کې د خپل وخت پر سیاسي شرایطو پټه خوله نه دی پاتې شوی، ګوته یې ورته نیولې او نیمګړتیاوې یې په ګوته کړې دي. په روزنیز او اخلاقي اړخ کې یې ډېر داسې نصیحتونه ویلي دي چې په تمامه معنا له اسلامي اصولو او اخلاقي نورمونو سره سم دي، د اولاد روزنې ته یې په شعرونو کې ځانګړی ځای ورکړی او عشقي اړخ خو یې نو هغه دی چې کتاب کتاب خبرې وربانديې کېدای شي، خو موږ دلته غواړو چې د حمید بابا د فردي اصلاح او اخلاقي درسونو په اړه څه خبرې وکړو او څو بېلګې یې وړاندې کړو.

حمید بابا هم د نورو ټولنیزو او په ټولنه کې د با احساسو او حساسو شخصیتونو له جملې څخه دی چې د خپلې ټولنې افرادو ته یې د ټولنیزو ارزښتونو د پاللو درسونه

وړاندې کړې دي او د خپلې ټولنې افراد يې ځينو ټولنيزو ارزښتونو لکه: علم، پوهې، ښو اخلاقو، احترام، يووالي، د پاکې او سوتره ټولنې لرلو ته را بللي دي. لومړی يې د امکان تر حده ده خپله پاللي او په پاللو يې ټينگار هم کړی دی. د حميد بابا په نظر په ټولنه کې يو فرد ته او د فردي اصلاح لپاره تر ټولو لومړی علم او پوهه ده چې بايد د يوې ټولنې وگړي، په تېره مور و پلار يې په خپلو اولادونو باندې تر سره کړي، ځکه د فرد اصلاح له علم او تعليم څخه پيلېږي، نو ځکه په خپلو شعرونو کې د علم او تعليم پر زده کړه ټينگار کوي او د يوه اخلاقي درس په توگه د خپلې ټولنې وگړو ته وايي:

نازولی زوی نه اخلي ادب
او د سيوري نخل نه نيسي رطب
ونيو مه شه هغه زويه په خوا پورې
چې يې نه نيولی درس وي نه مکتب
په غوجل کې باري خر او کچر ښه دی
نه په خونه کې جاهل او بې طلب
چې پيدا شي يو ناکس په قبيله کې
وړاندې وروسته حبطه کاندي نسب
د پسر په ښکو بدو پلار يادېږي
دا خبر دی په جهان کې مجرب
په سواره باندې يې گوته شي اېښووه
چې يې آس برابر نه ځي په جلب
په زړه مهر په خوله قهر زوی ته بويه
څه ښه وايي چېرته ډب هلته ادب
يوسف هاله شه لايق د بادشاهيه
چې يې وخوړې څپېړې د غضب (۵)

عبدالحميد بابا په پورته شعر کې مور ته د څو اخلاقي مسئوليتونو او مسايلو، لکه: پر خپلو ماشومانو باندې د زده کړې د حاصلولو درس را کوي؛ دی پوهېږي او د ده د خپلو تجربو له مخې مور ته دا خبره کوي، چې تاسو بايد پر خپلو اولادونو د علم او پوهې زده کړه وکړئ، بې سواده او بې تعليمه انسان د ټولنې او د ټولنې د وگړو درد نه شي دوا

کولای، خو ضمناً موږ ته دا خبره هم کوي چې تر بې تعلیمه اولاد او شخص یو تعلیم یافته انسان د خپلې قبیلې او پلار نوم ښه لوړولای شي او طبیعي خبره ده چې د علم او پوهې تر لاسه کول اسانه او ارزانه نه دي، دا لاره له ډېرو ستونزو او مشکلاتو څخه تېره شوې ده. د حمید بابا په پورته شعر کې د ټولو، په تېره د میندو او پلرونو لپاره یوه اخلاقي دنده ور یاده شوې او یو اخلاقي درس ورکړل شوی دی.

که د حمید بابا د ژوند سیاسي، ټولنیز او فرهنګي شرایطو ته پاملرنه وشي، نو سړی پوهېږي چې دی په داسې یوه جنګ او ظلم ځپلي چاپېریال کې پیدا او رالوی شوی، چې په هغې ټولنه کې د واک او ځواک د تر لاسه کولو لپاره یا هم واکمنانو د واک غځولو په موخه د هغې ټولنې پر خواره او غریبه طبقه ډېر ظلمونه کول؛ حمید بابا د خپل وخت او شرایطو هرې برخې ته متوجه و، ځکه خو یې په خپلو شعرونو کې د ظلم د مخنیوي په موخه، د ټولنې ځینو هغو وګړو او طبقې ته چې د وخت له حاکمانو سره په ظلم کې شریک دي، ځینې داسې درسونه ورکړي دي چې په هغو د هرې ناروا، لکه :کبر، غرور او ظلم و ستم او نورو ټولنیزو فسادونو څخه د مخنیوي درسونه ورکړي او په دې درسونو کې یې د خپلې ټولنې وګړو ته په زړه پورې لارښوونې کړې دي، لکه وايي چې:

هغه سروې چې سر پورته کا آسمان ته
د خپل ځان په دود یې ځمکې ته نسکور کا
ظالمان چې بډایي په ظلم زور کا
هر چې کا په جهان نه کا په خپل ځان کا
چې یې ختې د مظلوم په اوښو کېږي
دغه کور به زمانه د ظلم ګور کا
نن له چا سره ښوک ښه کوي که بد کا
په وعده د سبا ورځې واړه پور کا
اوره ما اوره وینه مه وینه حمیده
د ړندو په کلي کور عالم ځان کور کا (٦)

حمید بابا په خپلو شعرونو کې د خپلې ټولنې د وګړو لپاره بېلابېل درسونه ورکړي دي او د سرمحقق دولت محمد لودین په خبره: «عبدالحمید مومند ظالم ته وايي چې د

نورو مالونه په زور خوړل به دې یوه ورځ په نس کې اړم شي، د مظلوم ډوډۍ خوړل داسې دي، لکه خپله بوټۍ غوښه خوړل، نو ځکه ورته وایي چې په دغه ډول خوړو خوړو مه خوشحالېږه، حرام خورګي دې داسې ده لکه څوک چې مار او لړم په لاس کې را اخلي او په خپلې خولې یې منډي. هغه شته او کوم چل چې ظالم یې په دې برخه کې لري، هغه پرته له کومه شکه مار او لړم دی».

د دولت محمد لودین پورته ټولې خبرې سمې دي، ځکه حمید بابا په خپلو شعرونو کې دغه ډول اخلاقي درسونه وړاندې کړي دي، خپل دیني او وجداني مسئولیت یې دا کړی دی، لکه په لاندې شعر کې چې وایي:

څو به خورې پردي مالونه په ستم
یوه ورځ به دې په نس کې شي اړم
د مظلوم د مال روټۍ خپله بوټۍ خورې
مه شه هېڅ په دا خوراک خوښ و خورم
ماته ستا حرام خورګۍ هسې لیده شي
لکه څوک په مشت منډي مار و لړم
بې شبهې مار و لړم دي نور څه نه دي
را څکولي په ستم دام و درم
د ستم په دام درم مه هوسېږه
مه کړه خدای مار و لړم د چا همدم (۸)

د حمید بابا په پورته شعر کې که له یوې خوا د فردي اصلاح هڅه شوې ده، نو له بلې خوا په ټولنه کې له ظلم او ستم څخه د مخنیوي یو لوی درس نغښتی دی او دی د خپلې ټولنې وګړو ته د خپلو خبرو په ترځ کې څرګندوي چې هر هغه څوک چې د خپلې ټولنې پر وګړو ظلم کوي، د هغو بېړۍ بالاخره غرقېږي او د ظلم ماڼۍ یې ړنګېږي، لکه وایي چې:

زر په زر به دې دېوال د عمر پرېوځي
چې یې زدویې د مظلوم د اښو زېم
په حرام دنیا ساز مه شه یو کار ستا
چې سل نور درڅخه وران کاندې برهم

چې یوه کوډۍ د ظلم پکې ودري
په شومیت یې ښهر وران شي چم په چم
د ظالم د وداني مخ په ورانۍ دی
دا خبر دی په جهان کې مسلم
دا چې ازمېي ته زور نن په کمزوري
دغه زور به شي سبا درڅخه زم
زمانې دي ډېر مزري هسې خوار کړي
وهلی و پیشو ته نه شي دم...
چېرې نه شې د هاتي تر قدم لاندې
په عاجز مچ و مېږي مه ږده قدم
د مجلس د نا اهلیو هسې تښته
لکه خوري ترهند آهو له سپیو رم...
هغه مه پسنده په بل باندې انصاف کړه
چې یې نه پسندې په ځان باندې ماتم (۹)

د حمید بابا په پورته شعر کې د ټولنیزې اصلاح لپاره داسې اخلاقي درسونه وړاندې شوي دي، چې نه یوازې ښتني ټولنه، بلکې که د نړۍ د هرې ټولنې وګړي دغه ټول اخلاق او رویه په خپل ټولنیز ژوند کې اختیار کړي، هغه ټولنه به هېڅکله هم برباده نه شي. په پورته شعر کې موږ وینو چې د انساني ټولنې وګړو ته په کې یو لړ اخلاقي مسایل، لکه: په کمزوري باندې باید ظلم ونه شي، په حرام مال او دنیا باندې خپل ټولنیز ژوند نه ښېرازول، د نا اهلو له مجلس څخه تېښته کول او هغه څه چې د ځان لپاره خوښوې، نو د بل انسان او ورور لپاره هم باید خوښ شي؛ دا په حقیقت کې له یوې خوا د فردي اصلاح او له بلې خوا د همدې فردي اصلاح او د انساني ټولنیز ژوند د سمون لپاره په زړه پورې اخلاقي درسونه دي.

حمید بابا په خپلو اشعارو کې د ټولنې وګړو ته په ټولنه کې له ظلم او ستم څخه د ډډې کولو او ځان ساتنې درس ورکوي او دا درس ځکه مهم دی، چې په واقعیت کې هم هغه ټولنې تباه شوې دي چې وګړي یې یو پر بل باندې د رحم او ترحم پر ځای ظلم او

ستم کوي. حمید بابا د ټولنې وګړو ته دا درس ورکوي چې د ظلم انجام ښه نه دی او باید ځان ورځنې وژغورل شي، لکه وایي چې:

په غرور د توان تېری په ناتوان مه کړه
چې د منه توله سپکېږي په سېر ګوره
چې پیشو شي ډېره ګېره په سپي ترپلي
ډېر په ظلم کې ځوک مه لره ګېر ګوره
ماشي مړ کاندي هاتي چې سره ټول شي
په یوه وجود سپک مه ګڼه ډېر ګوره
په نیمګړي داد د دهر مه نازېږه
په ګړۍ کې سپینه ورځ کا اندهېر ګوره
لړې لړې اوبه ټولې شي ملک وران کا
په لړ جبر چرې نه شي دلېر ګوره (۱۰)

حمید بابا د خپلو اخلاقي درسونو او لارښوونو په لړ کې د ټولنې وګړو ته دا درس هم وړاندې کوي چې انسان باید په خپله ټولنه کې خپل حیثیت او عزت ته پاملرنه وکړي، داسې نه وي چې د نس د مړولو لپاره د هر کس او ناکس منت پر ځان قبلوي او د نس په خاطر د هر چا منتبار وي. حمید بابا د ټولنې وګړو ته له حرص او د خپل نفس له غوښتنو څخه د ځان ساتنې درس وړاندې کوي، هغه ځوک، که هر څو وږی او تږی وی، تر هغه چا ښه ګڼي چې په خوړو خوړو یې نس موړ وي، خو خلک ورته بد او رد وایي :

کوڼ او ړوند کړي هسې رنګ د نس هوا
چې لړي سره روا او ناروا...
چې د نس په زېرمه خدای تر څخه هېر شه
دا له چا شوې وابسته له چا سوا
نه به ته سرکشه نس په بدو موړ کړې
نه به شي زهر قاتل د چا دوا
څو تیار خوان و الوان درسره نه شي
په یوه طعام دې نه پخېږي خوا
وړې هزار تروه ترخه د ناکسانو

وايه ولې په يوه نمړۍ حلوا
چې طلب درڅخه نس خواږه ترخه کا
زېرموې سبا حلوا، بېگا ښوروا
په حيا کې سړی وږی تږی ښه دی
نه په شهد و شکر موړ په بد رسوا (۱۱)

حمید بابا د فردي اصلاح او اخلاقي درسونو په اړه د دولت محمد لودين دا خبرې سمې دي چې وايي: «عبدالحميد مومند حرص کوونکو ته چې د حرص په کولو دومره شوخ او بې پروا شوي اوسي چې خدای يې هم هېر کړی وي په دغه شان لارښوونه کوي، چې که د حرص په پلوي څوک د خزانو څښتن شي، بيا هم د يوه گدا په څېر برېښي، په پای کې ورته خبرتيا ورکوي چې حرص به دربانديې داسې کانې وکړي چې په هېڅ شوي نه وي، بيا به نو پېښمانې او لاسونه مروړل څه گټه درته ونه کړي، لکه په خپلو شعري وينااوو کې چې وايي:

شوخ بې شرمه کړلې حرص تر هسې حده
چې نه شرم کړې له خدايه نه پروا
چې په نغوته د حرص او د هوا يې
که څښتن د خزانو شې خوار گدا يې
هسې چارې به حرص در باندې وکا
چې په هېڅ شوې نه وي بيا به وايې (۱۲)

حمید بابا د خپلو تجربو او مشاهدو په پايله کې د خپلې ټولنې د وگړو د ژوند بېلابېلو اړخونو ته په ډېر دقيق او ژور نظر کتلي، د ټولنې د وگړو د ژوند پر نيمگړو اړخونو باندې تر خبرو او څرگندونو وروسته يې په ټولنه کې د فردي اصلاح له لوري هڅه کړې ده چې د ټولنې د اصلاح او سمون په موخه يو لړ اخلاقي درسونه هم وړاندې کړي. له پورته بېلگو څخه داسې څرگندېږي چې حميد بابا د ټولنيزې اصلاح، په تېره د فردي اصلاح لپاره ډېرې هڅې کړې دي او په دې برخه کې يې خپل انساني او وجداني مسئوليت په ښه ډول ادا کړی دی.

## پایله

د حمید بابا په شعرونو کې د ټولنې وګړو ته له هر ډول فساد، ځانغوښتنې، تکبر، حسد او په انسانانو پورې اړوندو ټولنیزو ناروغیو څخه د ځان ساتنې اخلاقي درسونه موندل کېږي. که چېرته یې د یوې ټولنې افراد په خپل ټولنیز ژوند کې عملي کړي ، نو پرته له شکه چې هغه ټولنه او د هغې ټولنې افراد به له هر ډول فساد، ظلم او ناروا څخه د یوې پاکې ټولنې او خوشحاله ژوند څښتنان شي. د عبدالحمید بابا په دېوان او اشعارو کې د فردي اصلاح او اخلاقي مسایلو په اړه ډېر درسونه وړاندې شوي دي؛ ده په خپلو اشعارو کې د فردي اصلاح هڅه کړې ده او دا ځکه چې د فرد اصلاح په حقیقت کې د یوې ټولنې اصلاح ده. حمید بابا د خپلو شعرونو په ترڅ کې هڅه کوي چې تر ټولو لومړی باید په ټولنه کې فردي اصلاح ته پاملرنه وشي، د ده په اند ټولنه له همدې افرادو څخه تشکیلېږي، نو کله چې د یوې ټولنې افراد اصلاح شي، ټولنه په خپله د اصلاح لوري ته ځي، نو ځکه حمید بابا تر ډېره د خپلې ټولنې د وګړو د فردي اصلاح هڅې کوي او د دې هڅو په ترڅ کې یې د ټولنې د وګړو او افرادو لپاره په خپلو شعرونو کې د هر ډول ظلم، ناروا، فساد، بې انصافي، کبر او غرور نه کولو، د بل حق نه خوړلو، د نفس او هوا نه منلو، د بل په غم خوشحالي نه کول او په خوشحالۍ یې نه خپه کېدل او دې ته ورته نور اخلاقي درسونه وړاندې کړي دي. د دې لیکنې په پای کې غواړم یو وړاندیز وکړم او هغه دا چې د پښتو ادبیاتو د کلاسیکې دورې د شاعرانو په آثارو او اشعارو کې ډېر داسې موضوعات او مسایل پاتې دي چې تر اوسه یې هم په څېړنو لاس نه دی پورې شوی؛ ښه بېلګه یې هم د حمید بابا په اشعارو کې د فرد او ټولنې اصلاح ده، نو وړاندیز مو دا دی چې څېړونکي په خپلو څېړنو کې دې ته ورته د موضوعاتو او مسایلو په څېړلو لاس پورې او نور لوستونکي ورڅخه خبر کړي.

## مأخذونه

۱. مومند، عبدالحمید. د عبدالحمید مومند کلیات، سریزه څېړنه، اوډون او وییپانګه: محمد آصف صمیم ، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸٦ ل کال، سریزه (ب) مخ.
۲. پورتنی مأخذ، (ب) مخ.

۳. علیزی، فضل الرحمن. د پښتو هندي سبک تنقیدي شاعري (د ماسټري تېزس)، ناچاپ، ۱۴۰۲ ل کال، ۷۲ مخ.

٤. د عبدالحمید مومند کلیات، سریزه (څلورم) مخ.

۵. پورتنی مأخذ، ۲۹ مخ.

٦. مخکینی مأخذ، ۲۹ مخ.

۷. لودین، دولت محمد. «د حمید مومند په شعر کې د ده د عصر- د ټولنیز ژوند څېره»، د عبدالحمید مومند یاد (د مقالو ټولګه)، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، دولتي مطبعه: کابل، ١٣٦٦ ل، ۱۲۰ مخ.

۸. مومند، عبدالحمید. د عبدالحمید مومند دېوان، سریزه: زلمی هېوادمل، د افغانستان د علومو اکاډمي، پښتو ټولنه: کابل، ١٣٦٣ل کال، ۱۳۹ مخ.

۹. د عبدالحمید مومند کلیات، ۱۲۳ مخ.

۱۰. پورتنی مأخذ، ۱۷۷ مخ.

۱۱. مخکینی مأخذ، ۱۲ مخ.

۱۲. لودین، دولت محمد. «د حمید مومند په شعر کې د ده د عصر د ټولنیز ژوند څېره»، د عبدالحمید مومند یاد (د مقالو ټولګه)، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، دولتي مطبعه: کابل، ١٣٦٦ ل، ۱۲۴ مخ.

څېړندوی مطیع الله ساحل

# د ماشومانو د فولکلوري ادبیاتو د پنځېدلو موخې

# The goals of creating children's folk literature

Assistant Prof. Matiullah Sahil

**Abstract**

folk literature of the adults has rich wealth, similarly, the children of every society have their own folk literature, a part of which is the good education of children by adults, familiarity with social life, religion, faith and God Almighty. strengthening the mental and physical strength of children, awakening the spirit of unity, etc. In children's literature, there are sweet words, poetic and melodious sentences, sweet and melodious sentences and short prose sentences that they say at different times while playing. A child needs these sweet words and phrases as much as a human needs healthy food. There are different types of children's literature that have become popular in different regions with more or less variation. According to the form, the types of children's folk literature are similar to poetry, stories, dramas and jokes.

**لنډیز**

لکه څنگه چې د لویانو ولسي ادبیات بډایه شتمني لري همدغه شان د هرې ټولنې ماشومان هم ځان ته خاص ولسي ادبیات لري چې یوه برخه یې د لویانو له لوري د ماشومانو د ښې روزنې، تربیې، ټولنیز ژوند سره د بلدتیا، د دین، ایمان او خدای تعالی د پېژندنې، د ماشومانو د رواني او جسمي قوې د پیاوړتیا، د یووالي د روحیې بیدارولو او نورو په موخه پنځېدلي دي او یوه لویه برخه یې په خپله د ماشومانو له لوري دوی له خپل ذهن او سویې سره سم رامنځته کړې دي. د ماشوم په ادبیاتو کې خواږه الفاظ، شاعرانه او سندریزې جملې، خواږه او آهنگ

لرونکي عبارتونه او لنډې منثورې جملې شته چې دوی یې په بېلابېلو وختونو کې د لوبو پر مهال وايي، ماشوم دغو خوږو الفاظو او جملو ته دومره اړتیا لري لکه انسان یې چې صحي غذا ته لري. د ماشوم ادبیات بېلابېل ډولونه لري چې په لږ او ډېر تغییر سره په بېلابېلو سیمو کې عام شوي دي، د شکل له مخې د ماشوم د فوکلوري ادبیاتو ډولونه، شعر، کیسې، ډرامې او ټوکو ته ورته دي.

## سریزه

د پښتو شفاهي ادبیات یا فولکلور د پښتون قوم آئینه ده. که څوک غواړي چې دغه قوم وپېژني، په ځانگړې توگه د دوی پر ټولنیز جوړښت باندې ځان و پوهوي، نو د ژوند د نورو اړخونو تر څنگ دې پښتو ادب او فولکلور ته مراجعه وکړي، ځکه هرکله چې موږ د یو قوم، هېواد یا یو ملت د تهذیب او تمدن یعنې د هغوی د خوراک، لباس، د فکر طرز ، دودونو، دستورونو او نورو ټولنیزو کړو وړو په هکله یې څه ویل غواړو، نو په دغه لړ کې د عام ولس د ژوند نقشه وړاندې کوو او هغه څه بیانوو چې د عوامو له ژوند سره تړلي وي چې په دې لړ کې ماشومان هم د ټولنې د یوې برخې په توگه د پښتني دود و دستور تر څنگ د پښتني فولکلور په رامنځته کولو کې فعاله ونډه لري، د ماشوم هېلې، خوبونه، اهداف او لرلید د یو قوم او ملت د راتلونکي د ځرنگوالي ښکارندویي کوي ځکه همدا ماشومان دي چې د ملت راتلونکې ورپورې تړلې ده او سبا به د خپلې ټولنې رهبري پر غاړه لري، له همدې امله په معاصره دوره کې هغه ملتونه د قدرت، پرمختگ او نوې ټکنالوژۍ خاوندان دي، چې ماشوم او په ټوله کې د نوي نسل لپاره موثر او دقیق تعلیمي، تحصیلي او روزنیز پلانونه او برنامې لري او د دې تر څنگ د ماشوم د ادبیاتو منځپانگه یې داسې مواد لري چې ماشوم هڅې، کوښښ، علم، خلاقیت، پرمختگ او فکر ته هڅوي.

د ماشوم د شخصیت او فکر په جوړولو کې کورنۍ، دوستان او تعلیمي او تحصیلي نصاب رغنده رول لري، خو پر دې سربېره د ماشوم ادبیات د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د فکر او شخصیت په جوړولو کې هم تر یو حده رول لري، ځکه د انسان په ژوند کې هر څه چې خدای تعالی پیدا کړي دي په یو نه یو ډول یې د بشر د گټې لپاره پیدا کړي دي او انسان ته یې دا توانایي هم ورکړې ده چې د خپل ذهن احساس او عاطفې له مخې داسې څه رامنځته کړي چې په ټولنه کې د یوې ځانگړې طبقې د غوښتنو پر اساس وي، نو ځکه د ماشوم د ادبیات په اوسني وخت کې د ماشوم د فکري روزنې، ښې تربیې، رواني پیاوړتیا او د نورو غوښتنو او اړتیاوو پر اساس پنځېدلي او یا رامنځته کېږي، چې په دې علمي ـ څېړنیزه مقاله کې به هم پر همدې موضوع بحث او څېړنه و شي چې د ماشومانو د فولکلوري ادبیاتو د

پنځېدلو اصلي موخې کومې دي، خو وړاندې تر هغې لومړی باید د ماشوم ادبیات و پېژنو او بیا به پر اره موضوع بحث او خبرې وکړو.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې د ماشومانو لپاره د فولکلوري ادبیاتو د پنځېدلو موخې راجوتې شي او ښکاره شي چې په بېلابېلو سیمو کې د ماشومانو د فولکلوري ادبیاتو بڼې توپیر کوي تر څو دا توپیرونه وڅېړل شي. او د دې څېړنې مبرمیت په دې کې دی چې په دې څېړنه کې به جوته شي چې د ماشوم ادبیات د ماشوم د ښې روزنې په موخه بېلابېل اهداف لري چې د هرې موخې لپاره به یې بېلابېلې بېلگې راوړل شي.

## د څېړنې موخه

د  دې علمي – څېړنیزې مقالې موخه دا ده چې د ماشوم ادبیات و پېژندل شي او دا روښانه شي چې د ماشوم ادبیات نه یوازې د لویانو له لوري، بلکې لویه برخه یې په خپله د ماشوم له لوري پنځېدلې ده.

## د څېړنې پوښتنې

په دې علمي ـ څېړنیزه مقاله کې تر ډېره حده لاندې پوښتنې ځواب شوي دي:

د ماشوم ادبیاتو کومو ادبیاتو ته ویل کېږي؟

د ماشوم ادبیات د کومو موخو لپاره پنځېدلي دي؟

د ماشوم ادبیات څو او کومې برخې لري؟

## د څېړنې میتود

په دې علمي ـ څېړنیزه مقاله کې له تحلیلي ـ تشریحي  میتود څخه استفاده شوې ده او ډول یې کتابتوني او په ځینو ځایونو کې ساحوي دی.

## د مقالې اصلي متن

 د پښتو ادب د نورو برخو په څېر د ماشوم ادب هم کومه ځانگړې پېژندنه نه لري ، بلکې بېلابېلو لیکوالو له خپله لیده تعریف کړی دی، چې دلته یې موږ ځینې لنډې پېژندنې را اخلو.
په پښتو ادب کې د ماشوم ادبیات اثر لیکوال یې داسې را پېژني: د ماشومانو ادبیات هغه ژبه، اصطلاحات، منظومې، منثورې او شفاهي ویناوې، لیکنې او پنځونې دي چې په ماشومانو پورې اړه لري.

د همدغه آثر لیکوال  د ایراني لیکوال علي اکبر شعاري نژاد په حواله د ماشوم ادبیات داسې راپېژني: د ماشوم ادبیات د هغو آثارو، کتابونو  او مقالو مجموعې ته ویل کېږي چې د متخصصو

لیکوالو له لورى د ماشوم د ازادې مطالعې لپاره لیکل کېږي او د ماشومانو خوښه، ذوق او د ودې کچه پکې په پام کې نیول کېږي. ( ۷: ۱٦ مخ)

دوکتور عبدالظاهر شکیب په یوه مقاله کې (( پښتو فولکلور او د ماشومانو ادبیات)) کې هم د ماشوم د ادبیاتو د پېژندنې په اړه بېلابېل تعریفونه کړي دي چې ځینې یې داسې دي: د ماشومانو ادبیات د هغو شعري او نثري لیکنو او ویناوو ټولګه ده چې په ټولنه کې د لویانو له خوا د ماشومانو د بوختیاوو او استفادې لپاره ایجادېږي او په خپله د ماشومانو تر منځ هم پنځېږي یا هغه منظومې او منثورې شفاهي ویناوې او لیکنې په ماشومانو پورې اړه لري. یا په په بل عبارت هغه نثري لیکنو ویناوو او منظومو سرودونو مجموعې ته ویل کېږي چې د ټولنې د لویانو له خوا د ماشومانو د ګټې اخیستنې لپاره چمتو کېږي.( ۳: ۳ مخ )

پهپورتنیو ټولو پېژندنو کې راغلي چې د ماشومانو ادبیات هغو منظومو او منثورو لیکنو، ویناوو، سرودونو او شعرونو ته ویل کېږي چې د ماشوم عمر او سویې ته په کتو د ماشومانو د ګټې په موخه د لویانو له خوا پنځول کېږي په داسې حال کې چې په پښتو شفاهي ادبیاتو کې د ماشوم د ادبیاتو ډېره برخه په خپله د ماشوم له لوري را منځته شوې ده چې دوی هغه خواږه الفاظ، شاعرانه او سندریزې جملې، خواږه او اهنګ لرونکي عبارتونه د لوبو او ساتېرۍ پر مهال وايي، نو دې ته په کتو د ماشومانو ادبیات داسې تعریفولای شو چې د ماشوم ادبیات هغه منظومې او منثورې لیکنې، ویناوې، کیسې، ډرامې،ټوکې، شاعرانه او سندریزې جملې او خواږه الفاظ دي چې ماشومانو د خپل فکر او ذوق له مخې د خپلو لوبو او ساتېریو د رنګینیو په موخه را منځته کړي دي او یا هم د ماشوم د فکري روزنې، ښې تربیې، د ماشوم د معلوماتي پانګې د غني کېدلو او د ټولنیز ژوند له بېلابېلو اړخونو سره د آشنایۍ په موخه د لویانو له لوري پنځېدلي وي.

د ماشوم ادبیات موږ پر دوو برخو ویشو چې یوه یې د فولکلور برخه ده او بله یې هم د لیکني ادب برخه ده د فولکلور برخه یې بیا په دوه ډوله ده چې لومړۍ یې هغه سندرې او غږونه دي چې په خپله د ماشوم له لوري رامنځته شوي وي چې بېلابېل ډولونه لري چې په خپل ځای کې به پرې خبرې وشي او دویم ډول یې هغه دي چې د لویانو لکه: د میندو، خویندو پلرونو، نیکونو او نورو له خوا رامنځته شوي وي چې د ماشوم د ادبیاتو تر ټولو په زړه پورې او غني برخه همدغه فولکلوري برخه ده، ځکه چې په دغه برخه کې د ماشومانو غږونه او سندرې له هغه وخت څخه شروع کېږي چې ماشومان په زانګو کې وي، بیا د خبرو کولو یا غږېدلو چل زده کوي، تر دې چې په خپلو کې سره ګډې لوبې کوي، موږ هم په خپل وخت دا نعرې او غږونه او دا بیانونه اورېدلي او زده کړي دي، د ماشومانو په دغو غږونو او سندرو کې د ټولو هغو شیانو

یادونه کېږي چې د ده په چاپېریال کې شته او د ده لپاره محسوس وي او دی یې عملاً گوري او د دغو سندرو او غږونو په وسیله له دغو شیانو سره اشنا کېږي. دی د لوبو پر وخت دغه سندرې او نارې وایي او په لوبو کې ور څخه هغه څه زده کوي چې په دغو غږونو او سندرو کې خوندي دي. ماشومان په دغو غږونو او سندرو کې ځانونه د کرکټرونو او کردارونو په توگه څرگندوي. ځکه دوی دې ته ډېر لېوال وي چې د لویانو په شان په هر څه کې ځان شریک و گڼي او د ټولنې ټول کړه وړه پر ځان پلي کړي، نو ځکه په دغو ادبیاتو کې ځوک پاچا وي؛ ځوک پړانگ وي؛ ځوک زمری؛ ځوک یو څه او ځوک بل څه.

اوس راځو دې ته چې د ماشوم ادبیات د کومو موخو لپاره پنځول کېږي چې په دې برخه کې به یې ځینې موخې له بېلگو سره وړاندې کړو، البته د یادونې ده چې په دې علمي ـ څېړنیزه مقاله کې د ماشوم ادبیاتو د پنځېدلو پر اهدافو سربېره د ځینو بېلگو بېلابېل وریانتونه چې په بېلابېلو سیمو کې په لږ او ډېر تغیر سره عام شوي دي هم راوړو. هغه خواږه، شاعرانه، سندریز او آهنگ لرونکي الفاظ چې په لومړي ځل ور سره ماشوم اشنا کېږي او په اورېدو یې رواني او جسمي ارام مومي، هغه د ماشوم د مور او خور له لوري رامنځته شوي دي چې په بېلابېلو سیمو کې په لږ او ډېر توپیر سره ویل کېږي، لکه لاندې الفاظو کې:

اللهو شه اللهو

للی للوو،للی للو، للی للو

تاسو مه راځئ غلو

هلته یو صندوق دی هغه ډک دی د مصرو

اللهو شه اللهو

اللهو شه اللهو

په دې لار مه راځئ غلو

زما بچی داسې ویده دی لکه گوډی د اوړو

اللهو شه اللهو

للی للو للی للو للی للو

په دې لار مه راځئ غلو

زما جانان داسې اوده دی لکه پنډ د پتاسو... (۷: ۸۸مخ)

په ډېرو سیمو کې میندې د ماشوم د ارامولو او ویده کولو په موخه همدغه الفاظ تکراروي،خو یوازې وروستی بند یې پر بېلابېلو بڼو وایي لکه ، زما جانان داسې ویده دی، لکه گوډی د مصرو، زما جانان داسې ویده دی لکه گوډی د رنجو او داسې نور، البته دغه سندرې د میندو له

لوري ماشوم ته هغه وخت ویل کېږي چې ماشوم په زانګو یا د مور په غېږ کې پروت وي او د دې الفاظو پر اورېدو سره ارامېږي او ویده کېږي، دغه راز دغه سندره بېلابېلو سیمو ته په لړ او ډېر بدلون سره انتقال شوې ده چې دلته یې ځینې بېلګې را اخلو:

اللو للو للو

پیشو مه راځه له غرو

ملوک جان داسې ویده دی لکه ګوډی د رنجو

بل ډول یې داسې دی

آللو للو للو زویه

سر د شازلمو زویه

آللو للو للو زویه ( ۱: ۹۷ مخ)

بله بڼه یې داسې ده

اللهو شه، اللهو

زما جانه، اللهو

یوه ځرې دې ده مور

پلار دې نشته دی په کور

نه مې مور شته نه مې خور

هم صحرا کوم، هم کور

اللهو شه، اللهو

للې للو، للې للو، للې للو

ته ویده شه زما ځان

مور دې شه درنه قربان

ټول کارونه مې دي وران

شپه او ورځ مې دی په ځان

اللهو شه، اللهو

للې للو، للې للو، للې للو

پلار دې تلی دی په جنګ

بڼه تېره توره تر څنګ

سر به ورکاندې په ننګ

په وطن راغی پرنګ

اللهو شه، اللهو
للې للو، للې للو، للې للو ... (۸: ۲۹ مخ)
دغه سندرې پر دې سربېره چې ماشوم کراروي، ماشوم ته رواني او جسمي ارام ور بخښي، بلکې په دې کې هم ونډه لري چې ماشوم له خبرو سره اشنا کوي او ژر يې په خبرو راولي، البته چې په دې برخه کې ځينې نورې سندرې هم شته چې دغه سندرې د ليکوالو له لوري د ماشومانو لپاره ليکل شوي دي.
آصف خانه ښايسته ښه دې توره ښه وسله په ښايسته نيلي سپره
يا ماشوم ته داسې ويل چا وهلی چا وهلی هلکانو جينکو په صحرا وهلی د مور او پلار نه يې په غلا وهلی. (۲: ۳٦ مخ)
د ماشوم ادبياتو بله موخه دا ده چې ماشوم د خپلې ټولنې له ديني او ټولنيزو ارزښتونو سره اشنا کوي چې په دې برخه کې داسې نکلونه، کيسې او نور ډولونه شته چې ماشوم يې په ويلو سره دې ته هڅول کېږي چې د خپلو ديني ارزښتونو د پوهېدلو لپاره هڅه وکړي او په دې توګه دين ايمان او خدای تعالی (ج) و پېژني، لکه په لاندې بېلګه کې:
ورور مې تلی دی درې ته - رابه شي غرمې ته
ما له به پلي راوړي - پلي به ورکړم غوا ته
غوابه ماته پۍ وکړي - پۍ به ورکړم سيند ته
سيند به ماته کاڼی راکړي - کاڼی به ورکړم خدای ته
خدای به ماته ورور راکړي. (۵: ۳۰ مخ)
په دې برخه کې ماشوم د نورو ديني باورونو تر څنګ په دې پوهېږي چې د خپلو غوښتنو لپاره د خدای تعالی په نامه نذر ورکول کېږي او په دغه پورتني شعر کې ماشومان له الله تعالی څخه د ورور غوښتلو په موخه نذر ورکوي.
پورتنۍ بېلګه بېلابېل ډولونه لري چې په بېلابېلو سيمو کې ويل کېږي، دلته يې ځينې نور وريانټونه را اخلو:

پلار مې تللی دی کامې ته

| | |
|---|---|
| را به شي غرمې ته | ماته به الو راوړي |
| الو به ورکړم غوا ته | غوا به ماته پۍ (شودې) راکړي |
| شودې به ورکړم خدای ته | خدای به ماته ورور راکړي |
| وه وروره بيداره شه | پاس په غونډۍ ډزې دي |

ګډې وډې ورځې دي

****

بابا مې تلی محکمې ته　　　را به شي غرمې ته
ماته به آلو راوړي　　　آلو به ورکړم غوا ته
غوا به ماته پی راکړي　　　پی به ورکم خدای ته
خدای به ماته ورور راکي　وه وروره بیداره شه ستا په لونګی جنګ دی
لاس کې دې ترې ترې بادرنګ دی　( ۷: ٦۷) مخ

لکه څنګه مو چې وړاندې وویل د ماشومانو په ادبیاتو کې ټول هغه څه شامل دي چې دوی یې په خپل چاپېریال کې ګوري او محسوسوي یې، نو له همدې امله د ماشومانو د ادبیاتو یوه موخه دا هم ده چې ماشومان د خپل چاپېریال له ژوو او الوتونکو سره په مینه او عاطفي چلند عادت کوي او له ډېرې مینې د دې ارمان کوي چې د هغو په څېر و اوسي چې دا ارمان بیا په لوبو کې داسې بیانوي.

کاشکې زه کوتره وای　　غاړه مې کمره وای
ناسته په ډبره وای　　پښې مې د سرو زرو وای
ژوند مې بې خطره وای　(۴: ۳۲مخ )

یا هم دا بله بېلګه:

کاشکې زه هیلی وای　غاړه مې نری وای
ناسته پر هګی وای　　شېرکي لالا

همدا راز د اوښ په اړه داسې وایي:

اوښه اوښه ډانګه　　هسکه دې غړانګه
کوچی ماما نارې وهي　　په سر دې نغارې وهي

****

وروره وروره ستا یمه　بلبله د تېرا یمه　　چرګه درته پیایمه
دلته که مړه نه شوه　　پټو ته به یې بیایمه　(پورتنی اثر: ۴۵مخ )

دا چې په پښتو ادب کې د ماشوم　د لوبو مراسم او دود خاص ځای لري، ځینې الفاظ یې ډراماتیک وي چې دوی یې په لوبو کې وایي، دا الفاظ کومه معنا نه لري، لکه په ځینو لوبو کې ماشومان　په ډلو وېشل کېږي او د دوی تر منځ لنده وچه اچول کېږي　او یا دوه کسان سره یو ځای کېږي او هغوی د دوو شیانو په انتخاب کې چې یو یې یو څه او بل یې بل څه انتخابوي　او بیا　د لوبډلې مشرانو ته چې میران ورته ویل کېږي راځي　او داسې الفاظ ورته بیانوي.

لپ لپړي　　دوه دې غړي

لنده اخلې که وچه؟

یا هم د خپلو خوښیو لپاره پر ځانونو بېلابېل نومونه ږدي، لکه یو غوا وي بل خوسی بیا وایي چې غوا اخلې که خوسی. دلته د دغو الفاظو او یا هم د دغو لوبو یوه موخه په ماشوم کې دا روحیه پیدا کوي چې هر کار او هره ډلگۍ یو مشر باید ولري چې هر څه یې د هغه مشر له لوري رهبري شي او دوی هم د مشر د خبرو تابع وي.

د ماشومانو په لوبو کې یوه بله لوبه ده چې پټ پټونی ورته وایي، زموږ په سیمه کې ورته ایس پیلس هم وایي دغه لوبه کې د ماشومانو یو ډلگۍ را ټولېږي یو یې سترگې پټوي او تر ټاکلې اندازې حساب کوي چې سترگې به یې د حساب تر پای ته رسېدو پټې وي، نور ماشومان په بېلابېلو ځایونو کې ځانونه پټوي چې د حساب له پای ته رسېدو وروسته یې په لټه کې کېږي، څوک یې چې لومړی پیدا کړ او غږ یې پرې وکړ، نو بیا به هغه سترگې پټوي او که دده پام نه و او یو ماشوم پرې غږ وکړ او دی و وېرېده، نو بیا به له سره دی سترگې پټوي او لوبه به تکراروي، دلته په لوبه کې د لومړي نوبت لپاره چې یو ماشوم سترگې پټې کړي، دوی ځینې الفاظ لري چې دغه الفاظ یو کس تکراروي چې په هر چا دا الفاظ پای ته ورسېده هغه به له قطاره ووځی په پای کې چې څوک اخر کې پاتې شو هغه به اول سترگې پټوي او حساب به کوي.

دا الفاظ داسې دي:

اټا بټا د گیدړې لمن خټه

سویې بوي ډب

بل ډول یې داسې دی :

اېټا بېټا ټندا خبټا

د جوارو وږی چرت او پرت (۱۳)

د غه ادبیات د ماشوم په روزنه کې ډېر ارزښت لري، ځکه د ماشوم شخصیت ته ډېره گټه رسوي، ماشومان له ناوړه کلمو لکه کنځاوو او بدو ردو ویلو او زده کولو څخه ژغوري.

د ماشومانو په لوبو کې یوه لوبه چې تر ټولو ډېره عامه او پېژندل شوې ده هغه د اکوبکو لوبه ده دغه لوبه که څه هم کوم خاص نوم نه لري، خو په دې لوبه کې چې ماشومان کوم الفاظ وایي هغه په ډېرو سیمو کې په بېلابېلو شکلونو ویل کېږي او بېلابېل ډولونه لري. په دې لوبه کې ماشومان سره را ټولېږي او ټول ماشومان یو یا دواړه لاسونه چپه نیسي او یو ماشوم بیا دا لاندې الفاظ وایي:

اکو بکو سر سیندکو

غوا مې لاړه په دربکو

اباسین بېږی بېږی
پکې ناسته درخانی
اله شرنگه ډبېلی (۱۰)
بل شکل یې داسې دی:
اکو بکو سر سیندکو
غوا مې لاړه په ترپکو
ترپک پټی پټی
پکې ناسته مینجوړی
مینجوړی څلور بچیانه مړه
په پینځمه یې زنکدن
ابی ماته گل بدن (۱۲)
یا دا بېلگه:
اکو بکو
دنبالکو
غواوې ولاړې دسیکو
یو ملوک و ، یو نندان
غشي ولي په میدان
میدان یې داسې روڼ کړ لکه ستوری د اسمان
یوه بله بېه یې هم ما د کلي له ماشومانو اورېدلې چې داسې ده
اکو بکو سر سیندکو
غوا مې لاړه په دربکو
دربک پټی پټی
پکې ناسته مینجوړی
دا کلا د چا ده ادم خان که درخانی
میری چونگې بوډیالی (۱۳)

دا سندره زموږ په سیمو(لغمان) کې زیاتره د ژمي په اوږدو شپو او باراني ورځو کې ماشومان یا تنکي ځوانان سره راټول شي او په بړستن کې یې پښې غځولې وي او یا هم د تناره پر غاړه ناست وي که تنور لږ سوړ وي پښې یې تناره ته ښکته کړي وي په دغه وخت کې دغه لوبه کوي چې ټولو لاسونه پر زنگنو ایښي وي او دا الفاظ پرې وايي د هر چا په لاس چې ختمه شي هغه

به لاس لرې کوي همداسې تکرار د هر چا لاس چې اخر پاتې شي هغه ته به سزا ورکوي زموږ په سیمو کې یې سزا داسې ده چې هغه شخص به ټيټېږي نور به یې لاسونه پر ملا یو د بل له پاسه ږدي او له هغه ځخه به پوښتنه کوي چې پاس لاس د چا دی که جواب یې سم و نو له سزا خلاص دی کنه و نو بیا یې ټول پر ملا ډبونه ورکوي. د دې سندرې د رامنځته کېدو موخه دا ده چې ماشومان په یو ټغر سره راټول شي په اتفاق او اتحاد په مینه محبت او خوشالۍ له یو بل سره کښېني او په خوښۍ مجلسونه وکړي، بله دا چې په اخره برخه کې چې کله ماشوم ته سزا ورکوي، دغه وخت کې ماشوم خپل ذهن په کار اچوي او فکر کوي چې پاس لاس به د چا وي چې دا په خپله د ماشوم د ذهني پیاوړتیالامل کېدای شي.

پر دې سر بېره د ماشوم د ذهني ودې لپاره په بېلابېلو سیمو کې ځينې نورې سندرې هم ویل کېږي لکه:

چم چم چم
ونې ته ختی شم　　بېرته کوزېدای شم
ونې لاندې مار دی　　د مار په خوله کې تار دی
تار زما په کار دی　　نه ځښم د جبې اوبه
خوله به تناکې شي　　کابل به رانه پاتې شي.

ماشومان د ټولنې یوه داسې برخه ده چې په هر وخت او هر حالت کې د ځان د خوشالۍ لپاره یوه پلمه لټوي، نه باران ګوري او نه هم سور لمر بس دوی په خپله دنیا کې ورک وي، همدا لامل دی چې په باراني موسم کې هم دوی ځانته د لوبو بېلې سندرې لري لکه دا لاندې بېلګې.

ووري باران ووري　　د چرګې لکۍ ښوري
مرک په تېره ناست دی　　د مستو بدلې وايي　　(۱۱)

یا دا سندره :

میده میده باران دی　　بابا مې را روان دی
کټ لاندې پیشو ده　　پیشو ته وایې پیشې
بابا سترې مه شې　　(۹)

د ماشومانو د فولکلوریک ادب بله خوږه او په زړه پورې برخه کیسۍ یا چیستانونه دي چې پښتانه یې په بېلابېلو سیمو کې په ځينو نورو نومونو سره هم یادوی لکه: کیسۍ، اړ، دوړې، سوکړې، ټکونه، پړوکې او داسې نور دي چې زیات مستعمل او مروج دي او ډېری ماشومان یې له نوم سره اشنا دي، کیسۍ د ماشومانو په فولکلوریک ادب کې خاص ځای لري او د ماشومانو

يوه فوق العاده سرگرمي ده، کله چې ماشومان د خوښيو په محفلونو او د لوبو په وخت کې سره يو ځاى کېږي، نو پر همدغو کيسيو ساعت تېروي. د کيسى د پېژندنې په اړه د بېلابېلو ليکوالو ځانگړي تعريفونه شته، خو په ټوله کې کيسى هغه خبره يا شعر دى چې د يو څيز ځينې داسې نښې نښانې صفات، خصوصيات د اشارو او کنايو په مرسته له نوم اخيستو پرته بيان شي او له اورېدونکي څخه د ځواب په تمه وي. (٦: ٢۴ مخ)

دغه برخه د ماشومانو د ښوونې او روزنې مهمه برخه جوړوي چې گڼ شمېر ټولنيز، ښوونيز او روزنيز، اخلاقي، ديني او مذهبي ارزښتونه هم رانغاړي او تر ډېره يې موخه په ځيرکتيا او هوښيارتيا سره د ماشومانو روزل دي. همدا راز په ماشوم کې د پوښتنې کولو او ځواب ويلو جرأت پيدا کوي، د فکر کولو حس يې پياوړى کوي او د ماشوم ذهن ته وده ورکوي. دماشوم ادبياتو دغه برخه دوه ډوله ده چې هم پکې منظومې کيسى شته او هم پکې منثورې. چې لاندې يې څو بېلگې را اخلو:

پوښتنه ځواب

له پاسه کلمه راغله په ټول عالم خوره راغله (روژه)

همدا راز د روژې په لومړيو ورځو کې د ساتېرى په پار داسې نارې وهي:

راغله روژه راغله ډانگ پيه لاس غټ وهي واړه ترې خلاص

په ټوپک نه ماتېږي په نخود ماتېږي ( روژه)

تور ببړو موږ يې کندې ته شړو (د اوبو را وېستلو ډولچه)

کېږي په پټې کې پخېږي په بټى کې ( گوړه)

وچ کلک له کولمو ډک (کټ)

هغه څه شى دى چې سيورى نه لري ( لمر)

غاښونه لري خوراک پرې نه شي کولى (ږمنځ)

يوه ستنه درې يې بامه (شفتل)

هغه څه شى دى چې ځې در سره ځي چې درېږي در سره درېږي (سيورى)

يوه کوزه ده دوه رنگه اوبه لري (هگۍ) (٦: ٧٩ مخ)

په دغه برخه کې ځينې نور داسې الفاظ هم شته چې ماشوم يې د لوبو پر مهال د سوال او جواب په بڼه وايي چې دا هم د کوچنيانو د ذهنې استعدادپه لوړولو، د کوچنيانو فکري وسعت او پراخوالي ته په وده ورکولو او د چاپېريال له اشياوو سره د ماشومانو په اشنا کولو کې پراخه ونډه لري، دا الفاظ د لوبو پر مهال د پوښتنې او ځواب په ډول وايي، په دې برخه کې لومړى يو

ماشوم د یو څیز د نوم په اړه وایي چې پوښتل شوی ماشوم دهغه څیز نوم تکراروي او پوښتونکی ماشو بېرته په هم وزنه توګه ډېر جالب جواب ورکوي، لکه په لاندې بېلګو کې:

لومړی ماشوم – ته وایه چیلمچي

دویم ماشوم – چیلمچي

لومړی ماشوم – شاته دې واړه واړه بچي

لومړی ماشوم – ته وایه غنم

دویم ماشوم – غنم

لومړی ماشوم – خبرې دې منم

لومړی ماشوم – ته وایه جوار

دویم ماشوم – جوار

لومړی ماشوم – خبرې دې په وار

لومړی ماشوم – ته وایه اوربشې

دویم ماشوم – اوربشې

لومړی ماشوم – خبرې دې په خوشې (۳: ۹ مخ)

پورته مو چې د ماشوم د ادبیاتو کومې بېلګې را اخیستې دي ځینې بېلګې یې دلویانو له لوري او ځینې یې هم د ماشوم له لوري پنځېدلي دي چې هر ډول یې ځان ته د یوې ځانګړې موخې لپاره پنځېدلی دی، نو له همدې امله ویللی شو چې ماشوم په لوبو یا په ګروپي او ډله ییزه توګه د دغو شعرونو، کیسیو، موزونو او لنډو کلمو په ویلو سره، مینه ناک او له ذهني پلوه پیاوړی روزل کېږي، په ماشوم کې د مینې او ملګرتیا حس پیاوړی کوي له خپلو همزولو سره ښې اړیکې پیدا کوي.د دین ایمان او خدای تعالی له نومونو سره یې اشنا کوي، له چاپېریال او د چاپېریال له اشیاوو سره بلدېږي، له مطالعې سره اشنا کېږي، عاطفي او رواني اړتیاوې یې پوره کېږي،د تجسس او لټون قوه یې را بر سېره کېږي، پر خپل نفس یې اعتماد پیدا کېږي، پټ استعدادونه یې را بر سېره کېږي او داسې نورې ډېرې موخې هم لري چې د یوې مقالې تر حده یې دلته همدومره بسنه کوي.

## پایله

پښتو ادب تر ټولو ژبو بډایه فولکلور لري چې په دې برخه کې نه یوازې لویان ونډه لري، بلکې په پښتو فولکلوري ادب کې ماشومان هم پوره ونډه لري او د ماشومان د فولکلوریکو ادبیاتو ډېره برخه خپله د همدغو ماشومانو له لوري د دوی د ذهن او سویې سره سم رامنځته شوې ده او پښتو فولکلور ته یې ځانګړی خوند وربخښلی دی،د ماشوم د دغو ادبیاتو بېلابېل ډولونه په لږ

او ډېر بدلون سره له یوې سیمې څخه بلې ته تللي او هلته د ماشومانو تر منځ عام شوي دي. د ماشوم ادبیات د ادبیاتو یو ډول دی چې د ماشومانو غوښتنې د ماشومانو لپاره بیانوي، فولکلور او شفاهي ادبیات چې د ټولو هنرونو پیلامه او منشا ده همدا راز د ادبیاتو او په ځانګړې توګه د ماشوم د ادبیاتو ځکه په فولکلوریکوو ادبیاتو کې ټول هغه څه لکه متلونه، فولکلوریکې سندرې، حماسي او روماني کیسې، افسانې، اسطور ې او نور چې ټول د خلکو د تخیل او تفکر زېږنده دي، د ماشوم د ادبیاتو بنیاد او اساس دی، ځکه دغه سندرې او داستانونه ماشوم د لویانو له خولې اوري او د هماغو پر اساس دی د خپل فکر او خیال له سویې سره سم یې خپله رامنځته کوي. دا هغه څه دي چې د تاریخ په اوږدو کې سینه په سینه خوله په خوله له یوه نسل څخه بل نسل ته لېږدېدلي دي، او دا هر څه د ماشوم په رواني حالت او ښوونیز ډګر کې ډېره مرسته کوي او هره برخه یې د یوې موخې په پار پنځېدلې ده چې پورته پرې په هر اړخیزه توګه خبرې و شوې.

## وړاندیزونه

۱ـ د پښتو په فولکلوري ادب کې د ماشـوم ادبیـات لویـه برخـه او اوږد تـاریخي بهیـر لـري او پـه بېلابېلو سیمو کې د شکل او محتوا له مخې ډېر ډولونه لـري ، نـو ددې لپـاره چـې دغـه پانګـه لا ډېره غني شي او له ورکېدو و ژغورل شي، نو د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت په ځانګړې توګـه د فولکلور او شفاهي ادبیاتو څانګې ته مې وړانـدیز دی چـې د دغـې برخـې د راټولولـو او خونـدي کولو په موخه دې خپلو غړو ته دنده و سپاري تر څو د پروژو، کنفرانسـونو او مقـالو پـه توګـه دغـه کارونه را غونډ او په اړه یې هر اړخیزې څېړنې وکړي.

۱ـ د افغانستان د علومو اکاډمۍ د مشرتابه مقام ته مې وړانـدیز دی چـې لـه پوهنې وزارت سره په همغږۍ په ښوونځیو کې دې له لومړي تر اووم ټولګي پورې د ماشومانو د ښوونې او روزنې پـه موخه په درسي نصاب کې د ماشوم د ادبیاتو برخه غني کړي او په دې برخه کې دې د ښـوونکو لپاره د ماشومانو د ذهني پیاوړتیا په برخه کې د ماشـومانو د ادبیـاتو د ارزښـت او اهمیـت پـه اړه ورکشاپونه او سیمنارونه جوړ کړي.

## مأخذونه

### الف) کتابونه او مجلې


۱ـ بهاند، محمد آصف. په فولکلور کې د کوچنیانو د ادبیاتو څرک، کابـل مجلـه، شـپږمه ګنـه، د افغانستان د علومو اکاډمي،د ژبو او ادبیاتو مرکز، (ـــ): کابل، ۱۳۹۵ ل کال.

۲ـ خاورې، غوټۍ. د پښتو شفاهي ادبیات (شکل او مضمون)، د افغانستان د علومـو اکـاډمي، د ژبنیو او ادبي څېړنو مرکز، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه: کابل، ۱۳٦٦ ل کال.

۳ـ شکیب، عبدالظاهر. پښتو فولکلور او د ماشومانو ادبیات پښتونخوا انلاین ژورنال، د خپرېدو نېټــــه، جنـــوري، ۲۰۲۴ م کـــــال د اخیتنــــــې نېټـــــه ۱۴۰۳/٦/۲۲ ل کـــــال ( https://pukhtunkhwajournal.org

۴ـ کاکړ، سیال. د کوشنیانو ادب، بولان بک کار پورېشن: کوېټه، ۱۹۷۹ م کال.

۵ـ مومند، حسنزی، نـرگس. د ماشـوم ادبیـاتو لیکلاربنـود، دافغانسـتان د ماشـوم ادبیـاتو مـلي بنسټ: کابل، ۱۴۰۱ل کال.

٦ـ نـوري، بي بي شـفیقه، چیسـتانونه او د هغـو د ټـولنیز او ښـوونیز ارزښـت تحـلیلي څېړنـه، د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، لایف سـټار مطبعـه: کابـل، ۱۴۰۱ ل کال.

۷ـ نیازی، رفیع الله. پـه پښـتو ادب کـې د ماشـومانو ادبیـات، مصـور خپرندویـه ټولنـه، د میونـد خپرندویې ټولنې مطبعه: پېښور ، ۱۳۸۹ ل کال.

۸ـ طائر، محمد نواز. په پښتو کې د ماشومانو سندرې او صوتونه، پښتو مجلـه، پـر لـه پسـې گڼـه ٤۲۳، پېښور: پښتو اکاډمي.

**ب) مرکې**

۹ـ حمیده ۱۵ کلنه، د کور ښځه ، نالوستی، په تحریري بڼه د ماشوم د ادبیـاتو د ځینـو بېلگـو را ټولول، لغمان، قرغه یي، میا خان کڅ، ۱۳۹۸/۷/۱۰

۱۰ـ سردار ولي، دوکاندار، ۴۰ کلن نالوستی، په تحریري بڼه د ماشوم د ادبیـاتو د ځینـو بېلگـو را ټولول، لغمان، قرغه یي،زېړانی، ۱۳۹۸/۷/۵

۱۱ـ شکیلا ۱۵ کلنه، د کور ښځه ، نالوستی، په تحریري بڼه د ماشوم د ادبیاتو د ځینـو بېلگـو را ټولول، لغمان، قرغه یي، میا خان کڅ، ۱۳۹۸/۷/۱۰

۱۲ـ عرفان، زده کوونکی، ۱۴ کلن لوستی، په تحریري بڼه د ماشـوم د ادبیـاتو د ځینـو بېلگـو را ټولول، لغمان، قرغه یي، میا خان کڅ، ۱۳۹۸/۷/۵

۱۳ـ عزیز الله ۴۰ کلن، کلیوال، نا لوستی، په تحریري بڼه د ماشـوم د ادبیـاتو د ځینـو بېلگـو را ټولول، لغمان، قرغه یي، میا خان کڅ، ۱۳۹۸/۷/۱۰)